

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۲ په متن کار کول	- زده کوونکي/ ښوونکی د متن پر پاتې برخه تر پایه کار کوي. (زده کوونکي د مني او ژمي آب وهوا او نورو خصوصیاتو په باب په خپله ژبه معلومات ورکوي .)	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی یو یو زده کوونکی د کال د یوې میاشتې له پاره ټاکي او ورڅخه غواړي چې په ترتیب سره د حمل له میاشتې څخه د حوت تر میاشتې پورې د هرې میاشتې د ورځو شمېر په جنترۍ کې پیدا کړي ؛ د میاشت نوم او د هغې د ورځې شمېر څنګ په څنګ ولیکي.  - په پای کې ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې پر تخته باندې جدول ته وګوري او د میاشتو د ورځو د شمېر توپیر ته متوجه شي.	جنتري تخته
۴ لنډیز ارزیابي	- ښوونکی تخته پاکوي او غواړي چې زده کوونکی د هرې میاشت د ورځو شمېر ووایي. کورنی کار : زده کوونکي دې [غوره دُعا] په کورکې ولولي .	

غوره دعا



یوه سړي کیسه کوله :
یوه شپه مې په یوه جومات کې له یوه نا آشنا مسافر سره وه. چې شپه پخه شوه، ناڅاپه راویښ شوم.
د جومات له ګوټ نه مې د ناآشنا مسافر له خولې دا دعا تر غوږو شوه :
خدایه، ما ته قوت راکړې چې چېرته تیاره وي، هلته رڼا، چېرته ظلم او زیاتی وي، هلته عدل او انصاف او چې چېرته غم وي، هلته ښادي او خوشحالي راولم.
خدایه، ما ته دومره قوت او طاقت راکړې چې چېرته نا امیدي وي، هلته امید، چېرته نفاق وي، هلته اتفاق او چې چېرته کرکه او کینه وي، هلته مینه او محبت پیدا کړم.
پروردګاره، ما ته د هغه چا سره د مرستې توان راکړې چې پرته له تا نه یې ملاتړ او مرستندوی نه وي.

نوي لغتونه

زیاتی ناامیدي کینه توان مرستیال ملاتړ ګوټ


۳۸

د کتاب مخ : ۳۸
عنوان : غوره دعا
د درسونو شمېر : ۳
هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن سم او روان ولولي.
- د ګرانو لغتونو په معنا وو پوه شي.
- د متن مطلب په خپله ژبه ووایي.
- د متن متضاد لغتونه وپېژني.

درسي پلان : ۱

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی پوښتنه کوي : • موږ او تاسې کله دعا کوو ؟ زده کوونکي فکر کوي او په نوبت سره ځوابونه وايي. بحث او تبصرې کوي. ښوونکی/ زده کوونکي ځینې مطلبونه پر تخته لیکي. - بیا پوښتنه کوي : • له الله ج څخه په دعاګانو کې څه غواړو ؟ • زده کوونکي ځوابونه وايي. بحث او تبصرې کوي. ښوونکی مرسته کوي. ښوونکی/ زده کوونکي ځینې مطلبونه پر تخته لیکي.	تخته
۲ په متن کار کول	- د تېرو درسونو د هدې پړاو په شان په ټول متن باندې کار کیږي. زده کوونکو متن په کورکې لوستی دی؛ کورنی کار یې و. کېدای شي د متن لوستل په پټه خوله تطبیق نه کړي.)	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- څو زده کوونکي د دعا مطلبونه په خپله ژبه بیانوي. زده کوونکي بحث، تبصرې او سموني کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی پر تخته باندې د غه لاندې کلمې لیکي او زده کوونکي په ګروپونو ویشي.  - زده کوونکو ته وایې چې د دغو کلمو په معناوو باندې فکر وکړي او په متن کې همدغسې کلمې پیدا او په کتابچو کې ولیکي چې معناوې یې یو د بل په ضد وي. - زده کوونکي په خپلو ګروپونو کې متن په غور سره لولي او دغسې کلمې پیدا کوي. بیا د ګروپونو مشران په نوبت سره د خپل کار نتیجې ټولګیوالو ته وړاندې کوي او متضادې کلمې پر تخته لیکي. ټول زده کوونکي هغه په خپلو کتابچو کې نقلوي.	تخته کتابچې کتاب
۴ لنډون ارزیابي کورنی کار	- ښوونکی پوښتنې کوي. زده کوونکي ځوابونه وایي او بحث کوي: - مسافر د کومو شیانو لپاره دعا کړې وه؟ نوموونه یې واخلئ. زده کوونکي په نوبت سره ځوابونه وایي. ښوونکی یې پر تخته لیکي. - د مسافر په دعا کې ستاسو کوم شیان خوښ شول؟ زده کوونکي تبصرې کوي. - د مسافر شپه چیرته وه؟ - د خپل پلار، ورور یا جومات له ملا سره مشورې وکړئ د ښخې شپې د لمانځه او دعا په باره کې معلومات ولیکئ او بله ورځ یې په ټولګي کې ووایئ.	تخته

درسي پلان ، ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- څو زده کوونکي په نوبت سره د ټولګي مخې ته ورځي او خپل کورنی کار بیانوي.	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ــ نور زده کوونکي تبصرې بحث او سمونې کوي. ــ ښوونکی غلطې کلمې او جملې پر تخته لیکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې سمې یې کړي. ــ ښوونکی پوښتنه کوي چې مرسته له چا سره په کار ده؟ ــ زده کوونکي ځوابونه وايي، بحث کوي. ښوونکی لارښوونه، مرسته او سمون کوي. ــ زده کوونکي ځینې مطلبونه، د ښوونکي په لارښوونه له تختې څخه په خپلو کتابچو کې لیکي.	تخته کتابچې
۲ په متن کارکول	ــ ښوونکی زده کوونکي په درې ګروپونو ویشي او سرګروپونه ټاکي. ګروپونو ته لارښوونه کوي چې پر متن باندې په دې ډول کار وکړي:	کتاب
۳ مشق او تمرین (په ګډه)	لومړی ګروپ: پر ۸ - ۹ - ۱۰ کرښو باندې دویم ګروپ: پر ۱۲ - ۱۳ - ۱۴ کرښو باندې دریم ګروپ: پر ۵ - ۱٦ کرښو باندې هر ګروپ دې خپله برخه په دقت سره ولولي او ودې ګوري چې مسافر څو شیان او کوم شیان غوښتي دي. په خپلو کې دې بحث، مذاکره او مشوره وکړي. هر مطلب دې په لنډه توګه تشریح کړي او په ګډه سره دې پرې اتفاق وکړي. سرګروپ دې هغه په کتابچې ولیکي. مثلاً: لومړي ګروپ دغه شیان پیدا کوي (د ښوونکي د سمې لارښوونې له پاره معلومات) ــ د تیاره پر ځای رڼا راوستل، ــ د ظلم پر ځای عدل، د زیاتي پر ځای انصاف راوستل، ــ د غم پر ځای ښادي (او خوشحالي) راوستل. همدغسې نور ګروپونه خپل خپل موضوعات پیدا کوي. ــ د ګروپونو مشران په نوبت سره د ټولګي په مخ کې د خپل ګروپ کار بیانوي. ــ نور زده کوونکي بحث، تبصرې او سمونې کوي. ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي. ــ غوره مطالب پر تخته لیکل کېږي.	کتاب کتابچې تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ـ زده کوونکي د تختې مطلبونه په خپلو کتابچو کې لیکي .	
۴ لنډیز ارزیابي	ـ ښوونکی شفاهي پوښتنې کوي : ـ د تیاره پړاو رڼا راوستل څه معنی لري ؟ ـ د نفاق ضررونه وښیئ . په کورنیو او ټولنه کې چې اتفاق وي څه ګټه لري ؟ ـ له محتاجانو سره مرسته کوم دنیایي ګټې او دیني ثوابونه لري . زده کوونکي په نوبت سره جوابونه وایي ، بحثونه کوي ، مطلبونه توضیح کوي . ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي .	

درسي پلان : ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی پوښتنه کوي : مسافر په دعا کې څه وغوښتل ؟ زده کوونکي په نوبت سره ځوابونه وایي . ستا سو د مسافر کومه دعا ډېره خوښه شوه او ولې ؟ ـ زده کوونکي په نوبت سره ځوابونه وایي ، بحث کوي ، تبصرې کوي . تشریح ورکوي . ـ ښوونکی مرسته ، لارښوونه او سمونه کوي مهم مطلبونه پر تخته لیکل کیږي . ـ زده کوونکي ځینې مهم مطلبونه له توري تختې نه خپلو کتابچوته رسوي.	تخته کتابچې
۲ په متن کار کول	ـ ښوونکی د کتاب د ۳۸ مخ ټول متن په برخو برخو پر زده کوونکو لولي . ـ زده کوونکي د یوبل غلطۍ سموي . ـ ښوونکی / زده کوونکی له لوستونکو څخه په ځینو برخو کې توضیحات غواړي ، د لغتونو د معناوو پوښتنه کوي . ګران لغتونه یوځل بیا له معناوو سره پر تخته لیکي . ـ لوستونکی / نور زده کوونکي ځوابونه وایي ، بحث او مذاکره کوي . په پای کې ښوونکی له یوه زده کوونکي څخه غواړي چې ټول متن په مناسب	کتاب تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	آواز او لحن ولولي . ـ نور زده کوونکي د هغه لوستل په پټه خوله تعقیبوي . (ښوونکی څارنه کوي) ـ یو زده کوونکی د [غوره دعا] ټول مطلب په خپله ژبه وایي . نور زده کوونکي بحث کوي . ښوونکی مرسته لارښوونه او سمونه کوي .	
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی زده کوونکي پر دریو ګروپونو ویشي . ـ له اول ګروپ څخه غواړي چې د هغه هر غړی دې په خپله د ظلم په ضررونو او د عدل په ګټو باندې څو کرښې مقاله و لیکي . ـ له دویم ګروپ څخه : د کرکې او کینې په ضررونو او د سولې او محبت په ګټو . ـ له دریم ګروپ څخه : له یو بل سره د مرستې په ګټو . ـ کله چې کار خلاص شي ، د هر ګروپ غړي خپلې کتابچې یو بل ته ورکوي چې ویې لولي او اصلاحات په کې وکړي . ـ د هر ګروپ مشر د خپل ګروپ کار تنظیموي یوه لنډه مقاله د ټول ګروپ په ګډه مرسته ور څخه جوړوي او په نوبت سره یې د ټولګي په مخ کې لولي . ـ نور زده کوونکي غلطۍ سموي ، تبصرې او بحثونه کوي .	کتابچې
۴ لنډیز / ارزیابي	ـ ښوونکی لاندې کلمې پر تخته لیکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره یوه یوه کلمه معنی او مفهوم یې توضیح کړي : دعا ، غوره ، مسافر ، ظلم ، زیاتی ، عدل ، انصاف ، غم ، امید ، نفاق ، کرکه ، مینه ، مرستندوی ، . . . . . ـ زده کوونکي کلمې معنی کوي . ښوونکی دې پاملرنه وکړي چې زده کوونکي د یوې کلمې په باره کې توضیحات ورکړي او مثالونه یې ووایي . کورنی کار : نشته .	تخته



د وطن ترانه

اې زما وطنه ، د لالونو خزانې زما
ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما

زه یم ستا د خاورې، ته زما د مینې جوړ یې
ته مې د غیرت او د عزت رنګینې جوړ یې
ته مې د نیکه او د بابا د وینې جوړ یې
ستا زړه کې ویدې دي تېرې تللې زمانې زما
اې زما وطنه ، د لالونو خزانې زما

سترګې مې لګې شه ستا د غرونو له کوږونو نه
عقل مې ایرې شه ستا له پاړو له لکروړونو نه
ځار شمه، قربان شم ستا د غرونو د سیندونو نه
ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما
اې زما وطنه ، د لالونو خزانې زما

۲۹

ستا عزت چې نه وي، زه به څوم او عزت څه کړمه
ته چې خوار و زار یې، زه به خوب او راحت څه کړمه
ستا سر چې وي ټیټ، خو زه به شان او شوکت څه کړمه
ستا به دې خاوره کړم په وینو، مستانې زما
اې زما وطنه ، د لالونو خزانې زما

یا خو به دې سیال کړمه، وطنه، د جهان
یا به ستا په ښخو کې، تورې خاورې کړمه ځان
زه به ذړې وړې شم، خو تا به کړم ودان
تر یمه، افغان یم، تا ته یاد دي افسانې زما

اې زما وطنه ، د لالونو خزانې زما
ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما

نوي لغتونه
دره رنګینې خوار و زار شان شوکت سیال ذړې وړې
افسانې

۴۰

دکتاب مخونه: ۲۹-۴۰
عنوان: دوطن ترانه
د درسونو شمېر: ۲
هدفونه: زده کوونکی باید:

● متن سم روان او په شعري انداز ولوستلای شي.
● د لغتونو په معنا وو يې وپوهېږي.
● د ترانې په مطلبونو پوه شي.
● مطلبونه يې په خپله ژبه وویلای شي.
● له وطن سره د تعلقاتو په لرلو پوه شي.
● له وطن سره د مینې او محبت په مفهوم پوه شي.

درسي پلان: ۱

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې ترانه يې لوستې ده که نه؟ که چېرې لوستې وي لاسونه جګ کوي. ښوونکی هغه زده کوونکي چې کار يې تر سره کړی نه وي په خوږه ژبه تشویقوي چې خپل کورني کارونه سرته ورسوي که نه وي په درس ښه نه پوهېږي.	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	● ښوونکی زده کوونکي پوه کوي او تشویقوي. ● ښوونکی پوښتنه: ترانه موخوښه شوې ده، که نه؟ ● ګوندې زده کوونکي هو/نه ووایي. ● ښوونکی دې توضیح وغواړي چې ولې موخوښه شوې/نه ده خوښه شوې. ● زده کوونکي خپل دلیلونه وایي، بحث کوي، د ترانې خصوصیتونه بیانوي. ښوونکی لارښوونه/مرسته/سمونه کوي.	
۲ په متن کار کول	زده کوونکي/ښوونکي د متن پر ۳۹ مخ د پخوانیو درسي پلانونو له لارښوونو سره سم بشپړ کار کوي او ټول قدمونه په نظر کې نیسي او عملي کوي یې.	کتاب
۳ مشق او تمرین	ښوونکی زده کوونکي په دوو (یا زیاتو) ګروپونو ویشي او په ترانه باندې په لاندې توګه کار کوي: لومړی ګروپ د ۲ بند پر ۵ کرښو، دویم ګروپ د ۲ بند پر ۵ کرښو هر ګروپ په خپله برخه کې دا پیدا کوي چې په هره کرښه کې څو مطلبه بیان شوي دي. هغه جلا جلا په خپلو کتابچو کې لیکي. د مثال په توګه د لومړي بند (دوو کرښو) په لومړۍ کرښه کې دوه مطلبه دي: ۱- ته زما وطن یې. ۲- ته زما د لالونو خزانه یې. په دویمه کرښه کې یو مطلب دی: ۱- ستا په هره دره کې زما د تورو نښانې دي. د ښوونکي له پاره: (ښوونکی کولای شي چې له زده کوونکو سره مرسته وکړي	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۳ مشق او تمرین	او ورته ووایي چې: په کرښوکې لاندې شمېر مطلبونه دي زده کوونکي دې هغه پیدا او سره بېل کړي او ودې لیکي. په دریمه کرښه کې: ۲ مطلبه په څلورمه کرښه کې: ۲ مطلبه (۱- له غیرت نه جوړ یې، ۲- له غیرت نه جوړ یې. د قوس خبره دې زده کوونکوته په ابتداء کې نه وایي چې په خپله دا پیدا کړي. په آخر کې دې ورته ووایي.) په پنځمه کرښه کې: ۲ مطلبه (زما دنیکه له وینې ځمځه جوړ یې ۲- زما دنیکه له وینې ځمځه جوړ یې) په شپږمه کرښه کې: ۱ مطلب په شپږ سه کرښه کې: ۱ مطلب په اومه کرښه کې: ۱ مطلب په اتمه کرښه کې: ۱ مطلب (ستا له خاورینو کورونو نه دی زما ستر کې لوګی شه) په نهمه کرښه کې: ۱ مطلب په لسمه کرښه کې: ۲ مطلبه (۱- ستا له غرونو نه ځار شم؛ ۲- ستا له سیندونو نه قربان شم) په یوولسمه کرښه کې: ۱ مطلب په دوولسمه کرښه کې: ۲ مطلبه — (د هر ګروپ زده کوونکي شعرونه لولي، په معنی یې ځان پوه کوي. مطلبونه یې په ګډه سره په فکر او مشوره جلا کوي.) (که په خپل کار کې ښخې بند شي او یا کوم ضروري معلومات یې په کار وي، له ښوونکي ځخه پوښتنه کوي. ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي). — کله چې کار بشپړ شي، د ګروپونو مشران په نوبت سره د ټولګی په مخ کې تشریح کوي. دیو ګروپ زده کوونکی د بل ګروپ د زده کوونکو پر نتایجو بحث کوي، مشوره ورکوي، سموی کوي. ښوونکی مرسته کوی، لارښوونه او قضاوت کوي. ښوونکی/ زده کوونکی د هر ګروپ د کار نتیجه پر تخته باندې لیکي چې یو ګروپ د بل ګروپ نتیجې په خپلو کتابچو کې نقل کړي.	کتابچې کتابچې تخته
۴ لنډیز ارزیابي	که وخت نه وي، ښوونکی له دې پړاو ځخه تېرېږي. کورنی کار: زده کوونکي دې ترانه بیا په غور سره په کور کې ولولي او د نن ورځې کارونه دې هم په خپل کتاب او کتابچو کې تکرار کړي.	کتاب کتابچې

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی دې له زده کوونکو څخه وغواړي چې که کومه ترانه یې، دیني وي که وطني، زده وي هغه دې د ټولګي په مخ کې ووایي. د زده کوونکو حتمًا ځینې ترانې یادې وي. هریو دې خپله ترانه ووایي؛ خو تکرار دې په کې نه وي. که د بل زده کوونکي هم تا کلې ترانه یاده وي، خو ویونکی غلطي په کې وکړي، هغه دې ورته سمې کړي.	
۲ په متن کارکول	- د مخکېني لوست په شان دې کار وشي - د ترانې پاتې برخه (۴۰ مخ) دې د تېر درس په شان تدریس شي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	د دې ترانې د لومړي درس په شان دې کار وشي.	کتابچې
۴ لنډیز/ ارزیابي	- له زده کوونکو څخه دې وغوښتل شي چې د ځینو کرښو مطلبونه توضیح کړي چې څو او کوم دي. کورنی کار: زده کوونکي دې کوښښ وکړي چې ترانه یاده کړي	

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی دې پوښتنه وکړي: که چا ترانه (ټوله او یا یې کومه برخه) یاده کړې وي د ټولګي مخې ته دې ورشي او ودې وایي. - ټوله ترانه د څه شي په باره کې ده؟ - کوم مهم مطلبونه په کې بیان شوي دي؟ - په ترانه کې څوک له چا سره خبرې کوي؟ - زده کوونکی جوابونه وایي، تبصرې کوي؛ یو د بل غلطي سموي. - ښوونکی مرسته/ لارښوونه کوي.	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	غواړي چې [یو ولاړ لاس په دعا - مدعا ده زموږ دا] څخه تر آخره پورې ټول درس په پټه خوله ولولي، سخت لغتونه یې په نښه کړي. ښوونکی/ زده کوونکي لغتونه په توره تخته لیکي. - ښوونکی/ زده کوونکي لغتونه معنا کوي او په توره تخته یې د لغتونو سره یوځای لیکي. - ښوونکی متن په لوړ مناسب شعري لهجه لولي. زده کوونکي یې تعقیبوي او خپلې غلطۍ سموي. - زده کوونکي متن په مناسب لوړ آواز لولي. ښوونکی/ زده کوونکي غلطۍ سموي.	کتاب توره تخته
۳ مشق او تمرین	ښوونکی دوه دوه زده کوونکي جګوي او ورڅخه غواړي چې یو بل ته پوښتنه وکړي او بل ځواب ووایي. - ښوونکی یوه یوه کلمه [ته، تا، ستا، زموږ، ستاسې] زده کوونکو ته وایي، زده کوونکي دغه کلمه په خپله پوښتنه کې راوړي بل زده کوونکی له پوښتنې سره سم ځواب وایي. د اقلم (زما، زموږ، ستا، ستاسې) دي، او نور. - زده کوونکي دا جملې له تورې تختې څخه په خپلو کتابچو کې لیکي. - ښوونکی یو یا دوه تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي چې د حضرت محمد (ص) په باره کې خبرې وکړي او په ساده ژبه د درس مطلب او مفهوم بیان کړي.	توره تخته کتابچه
٤ ارزیابي	ښوونکی پوښتنه کوي: د بشوستر لاربود او د خدای (ج) پیغمبر څوک دی؟ - په دین او دنیا زموږ مدعا څه شی دی؟ موږ او تاسې دې خدای (ج) له څه شي څخه وساتي؟ - یو یو زده کوونکی په خپل نوبت سره ځواب وایي. کورنی کار: د کور له مشرانو یا د کلي له امام سره د حضرت محمد (ص) په باره کې پوښتنې وکړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.	


پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۲ په متن کار	- ښوونکی پر هر زده کوونکي باندې د ترانې یوه یوه کرښه وایي او د نمونې او مطلب توضیح ورځخه غواړي. - په آخر کې ټوله ترانه یوځل په طبیعي ځګ آواز او شعري لحن او انداز (نه په سُر او آهنگ سره) او په احساس سره لولي. - بیا دوه تنه / درې تنه زده کوونکي په نوبت سره ټوله ترانه لولي. ښوونکی دې په ځغو زده کوونکو ترانه ولولي چې پوه شي چې د لوستلو مهارت یې ضعیف یا بې جرئته دي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- زده کوونکي د ترانې له مطلبونو ځخه په استفادې سره له وطن سره د مینې په باب په خپلو کتابچو کې څوکرښې مقالې لیکي. - زده کوونکي خپلې کتابچې دوه په دوه سره بدلوي او یو د بل مقالې لولي او اصلاح کوي یې. بیا کتابچې بېرته یو بل ته ورکوي. - زده کوونکي په نوبت سره خپلې مقالې لولي. یو د بل پر مقالو بحث، تبصرې او سمونې کوي. - ښوونکی مرسته / لارښوونه کوي.	کتابچې
۴ ارزیابي	- زده کوونکي پر دوو ګروپونو ویشل کېږي: د الف ګروپ ا د ب ګروپ او د ب ګروپ د الف ګروپ ته د تختې پر سر املا وایي. یو یو زده کوونکی یې پر تخته او نورې یې په خپلو کتابچو کې لیکي. کورنی کار نشته.	تخته کتابچې

د چاپ فن

د سعید پلار اخبار لوست. سعید هم ورسره ناست و. د سعید سره دوه کتابونه وو. هغه کتابونه په غور وکتل او بیا په فکر کې شو.



پلار یې ورڅخه پوښتنه وکړه: "څه فکر کوې؟" سعید وویل: "ما دا کتابونه کتل! وګوره، څومره ښکلي چاپ شوي دي." د سعید پلار وخندل او ویې ویل: "زویه، د نن څخه په زرګونو کلونو پخوا خلکو لیک نه پیژاند. د یوه کار یا د کوم خبر رسولو لپاره به یې سړی یو ځای بل ځای ته لیږل. په دې کې یو لوی نقص دا و چې د خبرو اصلي مقصد به ورک شو. بل نقص یې دا و چې دا خبر به هم څو نفرو ته رسېده او هغه خلک چې لیرې اوسېدل، له دې خبرو څخه به نه خبرېدل.



بیا داسې وخت هم راغی چې خلکو لیکل زده کړل خو د لیکلو لپاره ډېر کوښښ او وخت په کار و. خلکو فکر وکړ چې کتابونه باید ژر ولیکل شي او ارزان هم وي.

د ټولو نه وړومبی چا چې د بېل‌بېل تورو په یوځای کولو سره د چاپولو

۴۱

طریقه پیدا کړه هغه "ګوتنبرګ" نومېده. ګوتنبرګ لومړی د لرګي څخه توري جوړ کړل او د هغو په واسطه یې کتابونه چاپ کړل. خو ډېر ژر هغه ته معلومه شوه چې د لرګو دا توري خرابېږي او بیا کتابونه دومره صفا نه چاپېږي. د دې لپاره ګوتنبرګ له یو بل سړي څخه مرسته وغوښته. هغه ګوتنبرګ ته د یوه قالب او د اوسپنې د تورو د جوړولو طریقه زده کړه. په دې ډول یوه وړه چاپخانه جوړه شوه او یو کتاب یې چاپ کړ. وروسته دا کار ورو ورو پرمخ تګ وکړ.

د ګوتنبرګ د خدمتونو څخه انسانانو ډېره ګټه واخیسته. اوس په هرهېواد کې لکونه کتابونه او ډېرې ښایسته او رنګینې مجلې چاپېږي چې ځوانان، زاړه، ماشومان، زده‌کوونکي، نر او ښځې یې په ډېره مینه لولي، خپله پوهه زیاتوي او له هغو څخه په خپل ورځني ژوند کې ګټه اخلي. په چاپخانو کې هره ورځ ورځپاڼې هم چاپېږي چې د دنیا له حالاتو څخه مو خبروي. که چاپخانې موجودې نه وای نو موږ به له علم څخه بې برخې او ناخبره وو.

نو، لازمه ده چې خپلو کتابونو ته ډېر پام وکړو او هغه ښه وساتو. د کتابونو په لوستلو او له هغو څخه د مطلب اوګټې په اخیستلو کې کوښښ وکړو. سعید چې له پلار څخه دا خبرې واورېدې، ډېر خوشحال شو او ویې ویل: پلاره، زه به دا ټولې خبرې خپلو ملګرو ته هم وکړم ترڅو د پوهې اوکتاب په اهمیت پوه شي.

نوي لغتونه

فن توري مجلې اخبار غور

۴۲

د کتاب مخونه: ۴۱ - ۴۲

عنوان: د چاپ فن

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن سم او روان ولولي.
- د متن په لغتونو او په معنی او مفهوم پوه شي.
- د متن مطلب په خپله ژبه ووايي.
- ځیني هم معنی لغتونه زده کړي شي.
- د چاپ د فن مخترع وپېژني.
- د چاپ د فن په اهمیت پوه شي.

درسي پلان: ۱:

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ مخونه	- ښوونکی وايي: تاسې کله په اخبارونو، مجلو، جنتریو، کتابونو باندې فکر کړی دی چې داڅنګه میدان ته راوتلي دي؟ موږ اوتاسې په خپلو کتابچو کې په خپلو لاسونو له قلم سره لیک کوو. پرتخته باندې هم په لاس څه شی لیکو. تاسې به د تایپ ماشین لیدلي وي، ځیني لیکونه د تایپ له ماشین سره تایپ کیږي.	اخبار مجله

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ستاسې کتابونه د څه شي په واسطه لیکل شوي دي ؟ ـ زده کوونکي فکر کوي. مشوره سره کوي. بحث کوي. جوابونه وايي. ګوندې څوتنه زده کوونکي ووايي چې د دوی کتابونه «چاپ شوي دي» که زده کوونکو دا خبره ونکړه، ښوونکی بحث داسې رهبري او اشاره دې/ مرسته کوي چې زده کوونکي د «چاپ» خبره رامنځ ته کړي. ـ بیا ښوونکی د درس عنوان «د چاپ فن» پر تخته لیکي. زده کوونکو ته وايي د کتاب د ۴۱ مخ دویم (کېڼتني) تصویر ته ځیر شي. دا د چاپ یو وړوکی ماشین دی. موږ نن د چاپ له فن سره اشنا کیږو.	کتاب تخته
۲ په متن کارکول	ـ ښوونکی/ زده کوونکي د کتاب د ۴۱ مخ پر متن باندې، د پخوانیو درسونو د همدې پړاو له لارښوونو سره سم کار کوي.	کتاب تخته
۳ مشق او تمرین	۱ـ که ښوونکی وکولای شي د ټایپ یو ماشین دې ټولګي ته راوړي. هغه دې زده کوونکو ته وښيي او له دوی نه دې وغواړي چې څو توري/ کلمې ټایپ کړي ترڅو د چاپولو په مفهوم پوه شي. ۲ـ که کومه چاپ خانه چیرته نږدې موجوده وي، زده کوونکي دې چاپ خانې ته بوځي. چې ماشینونه او د چاپولو جریان په خپلو سترګو وګوري. ۳ـ که هیڅ شی نه وي یو «مُهر» دې ټولګي ته راوړي او مُهر کول دې عملاً له چاپولو سره مقایسه کړي او په دې توګه دې د چاپولو مفهوم ماشومانو ته توضیح کړي. ۴ـ ښوونکی کولای شي چې د صابون په یوه ټوټه باندې د ښوونځي نوم یا کومه بله کلمه د چاکو په واسطه جوړه کړي. بیا رنګ پرې ووهي او ماشومانو ته دې ورکړي چې هغه کلمه «چاپ کړي». ۵ـ پرخاوره، یا نمجنه ځمکه باندې، د شیانو د ټاپو پاتې کېدل هم له چاپولو/ چاپېدلو سره عملاً مقایسه کېدای شي. ښوونکی کولای شي په دې طریقو سره او په نورو طریقو چې پخپله فکر کولای شي/ ماشومانو ته په عملي توګه د چاپولو مفهوم توضیح کړي دغه تجربې دې پر ماشومانو باندې په عملي توګه اجرا شي.	د ټایپ ماشین مهر صابون چاقو

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۴ لنډیز ارزیابي	ـ که ښوونکی او زده کوونکي له پاسنیو تجربو نه یو یا څو سرته رسولي وي ، ښوونکی دې وغواړي چې زده کوونکي د هغو قصه وکړي پر هغو تبصره او بحث وکړي. ښوونکی مرسته کوي ، غلطۍ سموي. کورنی کار : زده کوونکي دې د متن پاتې برخه ولولي.	

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنه کوي : ـ د لیک له پیدا کېدو څخه مخکې خلکو خپل خبرونه او پیغامونه څنګه کورونو ته رسول ؟ ـ زده کوونکي ځوابونه وايي . بحث او تبصرې کوي. ښوونکی غوږ نیسي. مرسته او سمونې کوي ـ ښوونکی پوښتنه کوي : د چاپ فن چا او په څه ډول منځ ته راووړ؟ ـ زده کوونکي خپل معلومات ، چې په کتاب کې یې لوستی دي ، بیانوي. یوله بل سره بحث کوي . یو د بل غلطۍ سموي . یو د بل سره مرسته کوي.	
۲ په متن کار کول	ـ د تېرو درسونو په شان دې د کتاب د ۴۲ مخ پر متن کار وشي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی زده کوونکي پر دوو ګروپونو وېشي . د هر ګروپ له پاره مشرټاکل کېږي. ـ ښوونکی پر تخته باندې د هر ګروپ له پاره لاندې سوالونه لیکي چې حل یې لومړی په خپلو کتابچو کې ولیکي . ـ زده کوونکي د سوالونو د ځوابونو د پیدا کولو له پاره له کتاب څخه استفاده کولای شي .	تخته کتابچې کتاب

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>

دالف گروپ	د ب گروپ
• گوتنبرگ توري له څه شي څخه جوړ کړل؟	• گوتنبرگ څپله وړ چاپخانه کې څه وکړل ؟
• بیا وروسته یې له څه شي څخه توري جوړ کړل؟	• دگوتنبرگ له خدمتونو څخه موږ څه گټه اخلو؟
• دا نوي توري یې ولې بجوړ کړل ؟	• د مجلوله لوستلو څخه موږ ته څه گټه رسیږي؟
• نوي توري یې په کومه طریقه جوړ کړل ؟	• د اخبارونو له لوستلو څخه څه گټه اخلو ؟
• موږ باید خپل کتابونه څنگه وساتو؟	• موږ باید خپل کتابونه څنگه وساتو؟

</td><td>تخته</td></tr>
<tr><td></td><td>ـ زده کوونکي سوالونو ته ځواب پیدا کوي او په خپلو کتابچو کې یې لیکي .
ـ بیا دگروپونو مشران د خپل تمرین نیتجې د ټولگي په مخ کې په نوبت سره له خپلې کتابچې څخه لولي .
ـ دیو گروپ غړي د بل گروپ له غړو څخه پوښتنې کوي ، توضیحات ورڅخه غواړي . بحثونه سره کوي . د یو بل غلطۍ سموي . ښوونکی/ زده کوونکي ځوابونه پر تخته لولي اوگروپونه د یو بل ځوابونه له تختې څخه خپلو کتابچو ته نقلوي .</td><td>کتابچې</td></tr>
<tr><td>۴
لنډیز / ارزیابي</td><td>ـ یو زده کوونکی د چاپ د فن ټوله قصه بیانوي .
ـ نور زده کوونکي غوږ نیسي . د خپل ملگري نیمگړتیاوې بشپړوي . غلطۍ یې سموي . توضیحات ورکوي . پوښتنې کوي .
ـ هر زده کوونکی چې هرخبره کوي له ښوونکي څخه اجازه غواړي . ځوتنه زده کوونکي په یو وخت کې او بې له اجازې نه ږغیږي .

کورنی کار:
ـ زده کوونکي د چاپ د فن ټول متن کورکې لولي اودگوتنبرگ د کارونو په باب یوه لنډه مقاله لیکي .</td><td></td></tr>
</table>

درسي پلان: ۳

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td>۱
هڅونه</td><td>ـ ځو زده کوونکي د ټولگي مخې ته راځي اوله کتابچو څخه خپل کورني</td><td></td></tr>
</table>

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>کارونه لولي.
ـ نور زده کوونکي / ښوونکی غلطۍ سموي او پر تخته یې لیکي.
ـ زده کوونکی / ښوونکی د بېلابېلو زده کوونکو له جملې څخه یو پر تخته باندې لنډه صحیح مقاله جوړوي.
ـ زده کوونکي خپلې مقالې د هغې له مخې سموي، یا ټوله مقاله په خپلو کتابچو کې لیکي.</td><td>تخته
کتابچې</td></tr>
<tr><td>۲
په متن کارکول</td><td>ـ ښوونکی متن پر ټولو زده کوونکو، څو څو جملې لولي. له هرې یوې څخه د څینو لغتونو د معناوو پوښتنه کوي. په څینو برخو کې د مطلب توضیح غواړي. که یو زده کوونکی ونه پوهیږي له داوطلب زده کوونکو څخه غواړي چې مرسته وکړي.
ـ ښوونکی په پای کې ټول متن په خپله په لوړ مناسب آواز لولي.
ـ له یو داوطلب زده کوونکي څخه غواړي چې د متن د ټولو مطالبو خلص په خپله ژبه ووایي.
ـ نور زده کوونکي تبصرې او سمونې کوي.</td><td></td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرین</td><td>ـ ښوونکی پر تخته باندې لاسې یو جدول جوړوي:
<table>
<tr><th>الف</th><th>مثال</th><th>ب</th></tr>
<tr><td>۱- له خوا -</td><td>وطن ـ هېواد</td><td>۱- غږېږي</td></tr>
<tr><td>۲- دین -</td><td>فصل ـ موسم</td><td>۲- فکر</td></tr>
<tr><td>۳- په شان -</td><td></td><td>۳- لاندې</td></tr>
<tr><td>۴- دوبی -</td><td></td><td>۴- له لورې</td></tr>
<tr><td>۵- خبرې کوي -</td><td></td><td>۵- افسانې</td></tr>
<tr><td>۶- ټیټ -</td><td></td><td>۶- قربان</td></tr>
<tr><td>۷- قوت -</td><td></td><td>۷- په توګه</td></tr>
<tr><td>۸- عقل -</td><td></td><td>۸- توان</td></tr>
<tr><td>۹- قصې -</td><td></td><td>۹- مذهب</td></tr>
<tr><td>۱۰- ځار -</td><td></td><td>۱۰- اوړی</td></tr>
</table></td><td>تخته</td></tr>
</table>

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- بیا زده کوونکي په دوو ډلو ویشي او مشران ورته ټاکي. - له لومړۍ ډلې نه غوښتنه کوي چې د الف له جدول څخه هغه کلمې چې معناوې یې سره نژدې وي، یو د ب د جدول د کلمو څخه په خپلو کتابچو کې ولیکي. - له دویمې ډلې څخه غوښتنه کوي چې د ب له جدول څخه د هغه راز کلمې د الف د کلمو له جدول سره ولیکي. - یوه ډله، په کلمو باندې غور کوي او یو د بل په مشوره تمرین سرته رسوي. ښوونکی څارنه او لارښوونه کوي. - بیا د ډلو مشران په نوبت سره د ټولګي مخې ته ورځي او د خپلو ډلو د کار نتیجه د تختې په جدولونو کې رسوي. - د یو ګروپ زده کوونکي د بل ګروپ تېروتنې سموي؛ بحث کوي یو بل ته قناعت ورکوي. - ښوونکي څارنه او لارښوونه/ قضاوت کوي. - زده کوونکي د تختې د جدولونو اصلاحات خپلو کتابچو ته رسوي.	کتابچې
۴ لنډیز/ ارزیابي	- د جوړ شوي ګروپ غړي په نوبت سره یو له بل څخه لاندې پوښتنې کوي. هر څوک چې صحیح جواب ووایي هغه د مقابل ګروپ له غړي څخه پوښتنه کوي او کار په همدې توګه دوام کوي: لومړی ګروپ — دویم ګروپ - لیک څنګه منځ ته راغی؟ ←——— جواب - جواب ———→ خلکو پیغامونه او خبرونه څنګه یو بل ته رسول؟ - ګوتنبرګ کوم مهم کار کړی دی؟ ←——— جواب جواب ———→ د چاپ د فن منځ ته راتګ انسانانو ته څه ګټه ورسوله؟ - زده کوونکي/ ښوونکی دې د درس په اړوند د غسې نور سوالونه جوړ کړي. کورني کار: ماشومان دې د مسجد له امام یا د کور له کوم مشر یا د کلي/ کوڅې/ محل له یوه پوه نه د «حدیث» په باب معلومات ترلاسه کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.	

د نبوي ارشاداتو تاثیر

په یوه اداره کې څو تنو کار کاوه. یوه ورځ توریالي د ادارې آمر ته ولاړ او ورته وې ویل: "دا زلمی چې موږ سره دلته کار کوي، ښه سړی نه دی، په کار هم نه پوهېږي. ښه به دا وي چې له دې ادارې څخه وشړل شي."

د ادارې آمر د زلمي په باره کې پوښتنې وکړې او د هغه د پوهې او سلوک په باب یې صحیح معلومات راټول کړل. معلومه شوه چې توریالي دروغ ویلي وو او له زلمي سره یې کینه او دښمني لرله.

بله ورځ توریالی جومات ته تللی و. د جومات له امام څخه یې د موعظې په ترځ کې دا حدیث شریف واورېد:

"حقیقي مسلمان هغه دی چې خلک د هغه د ژبې او لاس له شر څخه په امن وي."

توریالي چې دا حدیث شریف واورېد، توبه یې وایسته او وعده یې وکړه چې هیچا ته به د ژبې او لاس ضرر نه رسوي.

یو سړي خپلې غواګانې د بل چا په شنو غنمو کې خروړلې. یوه پوه سړي ورته وویل: "دا به ته خوښ کړې

۴۳

چې بل څوک ستا په شنو غنمو کې غواګانې وڅروي؟"

سړي ورته وویل: "نه، نه یې خوښوم."

نو پوه سړي ورته وویل: حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "کوم شی چې د ځان لپاره خوښوې، هغه نورو ته هم خوښ وه، چې کامل مؤمن شې."

سړي سمدستي خپلې غواګانې له شنو غنمو څخه وایستلې او له ځان سره یې ژمنه وکړه چې چا ته ضرر ونه رسوي.

د ناروغتیا رقعه

ښاغلی د . . . ښوونځي سرښوونکی صاحب!

السلام علیکم و رحمة الله وبرکاته

زه ناروغ یم او ښوونځي ته د لوست لپاره نه شم راتلی. هیله ده چې ناروغ وشمېرل شم.

په احترام

نېټه: ....

اجمل د کریم زوی

د ځلورم ب ټولګي زده کوونکی

نوي لغتونه

ارشادات سلوک باب موعظه ترځ ژمنه

۴۴

دکتاب مخونه: ۴۳ - ۴۴

عنوان: د نبوي ارشاداتو تاثیر

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن ولوستلای شي.
- د ګرانو کلمو په معناوو پوه شي.
- د متن په مطلب او مفهوم پوه شي.
- د متن مطلب په خپله ژبه وویلای شي.
- په جمله کې د فاعل او فعل په مفهوم پوه شي.
- د حدیث په مفهوم پوه شي.
- په ژوندانه کې د اسلام د پیغمبر حضرت محمد ص په وینا وو عمل وکړي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی وایي: په تېر درس کې تاسې ته وظیفه درکړه شوې وه چې د مسجد له امام یا د کور له مشر یا یو بل عالم څخه د حدیث په باره کې معلومات ترلاسه کړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ. دغه کورنی کار چا مشرته رسولی دی؟ • ما شومان په نوبت سره خپل کورني کارونه لولي. • نور زده کوونکي بحث او تبصرې کوي.	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	• په پای کې زده کوونکي/ ښوونکی د زده کوونکو له معلوماتو نتيجه اخلي او د دوی د بحثونو او خبرو خلص پر تخته ليکي : حديث د اسلام د پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم عملونو او وينا وو ته وايي .	توره تخته
۲ په متن کار کول	ـ ښوونکی/ زده کوونکی دې د ۴۳ مخ د متن پر ۱۷ کرښو باندې د ښوونيو درسي پلانونو د همدې پړاو له لارښوونو سره سم کار وکړي.	کتاب
۳ مشق او تمرين	ـ ښوونکی پر تخته باندې لاندې جملې او کلمې ليکي : ـ په يوه اداره کې څو ـــ کار کاوه ـــ آمر ـ يو سړي خپلې غواګانې د يل چا په ـــــ غنمو کې څرولې ـــ حديث شريف ـ د موعظې په ترڅ کې يې دا ـــــ وا ورېد . ـــ خوشبويي ـ توريالي وعده وکړه چې هيڅ کله به ـــــ نه رسوي . ـــ شنو ـ بله ورځ توريالی ـــــ ته تللی و . ـــ ضرر دروغ ـ کوم شی چې د ځان له پاره ـــــ ، هغه نورو ته هم خوښوه . ـــ دښمني ـ دا داری ـــــ د ظلمي په باره کې پوښتنې وکړې ـــ شر ـ رښتونی مسلمان هغه دی چې خلک د هغه د ژبې او لاس له ـــــ په امن وي. ـ معلومه شوه چې توريالی ـــــ ويلي وو . ـ له ظلمي سره يې کينه او ـــــ لرله . ـ بيا ښوونکی زده کوونکي په دريو ګروپونو وېشي او غوښتنه کوي چې هر ګروپ دې د تختې ناقصې جملې د جدول د مناسبو کلمو په استعمال په ګډه سره بشپړې کړي او په کتابچو کې يې وليکي. ـ د ګروپونو مشران په وار سره د ټولګي مخې ته ورځي او د خپل ګروپ کار ټولګيوالو ته وړاندې کوي. ـ نور زده کوونکي بحث او سموني کوي. ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي.	توره تخته کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۴ لنډیز ارزیابي	- ښوونکی غوښتنه کوي چې دوه زده کوونکي په نوبت سره د متن غونډ مطلب په خپله ژبه ووايي . - نور زده کوونکي غوږ نیسي . بحث او سمونې کوي. ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي . کورنی کار ، زده کوونکي د حدیث شریف ترجمه چې په متن کې راغلې ده په خپلو کتابچو کې ولیکي او یاده دې کړي .	کتاب

درسي پلان ، ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی له زده کوونکو څخه شفاهي پوښتنې کوي : په اداره کې څه خبره شوې ده؟ توریالی د زلمي په باب څه غوښتل چې باید وشي ؟ - څو زده کوونکي خپل کورني کارونه لولي . - څو نور زده کوونکي د مبارک حدیث ترجمه له یاده وايي . - ښوونکی پوښتنه کوي پر چا تومت کول ، دروغ ویل او نورو ته ضرر رسول کوم دیني او دنیايي تاوانونه لري ؟ - څو زده کوونکي په وار سره ځوابونه وايي . - نور زده کوونکي بحث کوي . ښوونکی اصلاحات او مرسته / لارښوونه کوي .	کتابچې
۲ په متن کارکول	- ښوونکی / زده کوونکي دې د متن پرپاتې برخه له تېرو لارښوونو سره سم کار وکړي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکي پر ګروپونو ویشي ، د هر ګروپ له پاره مشر ټاکي . - د الف ګروپ هرغړی د متن مطلب په خپله ژبه په کتابچو کې لیکي . - د ب ګروپ هرغړی د ۴۳ مخ د متن مطلب په خپله لیکي . ښوونکی	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی د څو تنو زده کوونکو کورنی کار ګوري. د څو تنو زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره له کتابچو څخه خپل کورني کارونه ولولي ښوونکی/زده کوونکي غلطۍ سموي. ښوونکی پوښتنه کوي: همیشه له خدای څخه څه غواړو؟ یو زده کوونکی ځواب وایي او لیکي یې. - تاسو ته د حضرت محمد (ص) د ژوند په باره کې څه یاد دي؟ څو زده کوونکی یوه یوه جمله وایي. - د څه له پاره باید توبه وباسو؟ زده کوونکی ځواب وایي. ښوونکی/زده کوونکي مرسته کوي.	
۲ په متن کارکول	د لومړي لوست (مسلمان د خدای بنده یم) دریم درسي پلان (په متن کارکول) په شان دې کړنه او عمل وشي.	
۳ مشق او تمرین	ښوونکی/ زده کوونکي په توره تخته یو شمېر جملې لیکي. هره جمله له لیکلو څخه وروسته په نوره زده کوونکو لولي. بیا چې جملې پوره شوې، ښوونکی لارښوونه کوي چې اوس یې په خپلو کتابچو کې ولیکی او په جملو کې د [ستا، زموږ، ترې، ته، دی] کلمو څخه کرښه چاپېره کړئ. کله چې دا مشق وشو بیا یو زده کوونکی تختې ته راځي او داسې جملې لیکي چې دا ضمیرونه په کې راشي. په پښتو کې: زه، ته، دی، دا، موږ، تاسې، دوی، زما، زموږ، ستا، ستاسې، ستاسو، دده، ددې، دهغه، دهغې، دهغوی ضمیرونه دي. ضمیرونه د نومونو په ځای استعمالېږي. - زده کوونکی د څو کاټ کلمې او جملې په خپلو کتابچو کې لیکي.	توره تخته کتابچه توره تخته
۴ ارزیابي	- زموږ د پیغمبر (ص) نوم څه دی؟ - د بشر ستر لارښود څوک دی؟ - زموږ مدعا له لوی خدای (ج) څخه څه ده؟ - دا دنیا د چا له نور څخه پیدا شوه - د دې له پاره چې پاک او بې ضرره اوسو، باید له څه شي څخه ځان وساتو؟ - زموږ پناه په چا ده؟	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	د ټولګي ځارنه او له زده کوونکو سره مرسته کوي. د الف ګروپ غړي خپلې کتابچې د ب ګروپ ته او د ب ګروپ د الف د ګروپ غړو ته، دوه په دوه، ورکوي چې ویې لولي او اصلاح یې کړي. د هر ګروپ مشر د خپلو ملګرو له لیکونو څخه یو انتخابوي او د هغه لیکونکی یې ټولګیوالو په نوبت سره لولي. - زده کوونکي ورباندې بحث او تبصره کوي. ښوونکی مرسته او سمونې کوي.	کتابچې
۴ لنډیز ارزیابي	- ښوونکی پوښتنه کوي: • حقیقي مسلمان څوک دی؟ • کامل مؤمن څنګه انسان وي؟ • د کرکې او نفرت په باب خپلې نظریې وواییٔ. - زده کوونکي په نوبت سره ځوابونه وایي او بحث کوي. کورنی کار: زده کوونکي دې ټول متن په کور کې ولولي.	

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی غوښتنه کوي چې څوتنه زده کوونکي له متن څخه څو څو جملې په نوبت سره ولولي. (ښوونکی دې د متن جملې پر هغو زده کوونکو ووايي چې په لوستلو کې ښه نه دي.) - بیا پوښتنه کوي چې حدیث څه ته وایي؟ - زده کوونکي ځواب وایي.	کتاب
۲ په متن کار کول	- ښوونکی له متن څخه دغه لاندې جمله پر تخته لیکي. - په یوه اداره کې څوتنو کار کاوه.	توره تخته

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>
- بیا زده کوونکوته وایي چې پر دغو جملو باندې ښه فکر وکړئ او پیدا کړئ چې هره جمله څو مهم مطلبونه لري.
- زده کوونکي فکر او له یو بل سره مشوره کوي او جواب ویلوته آماده کیږي.
- ښوونکی پوښتنه کوي: څوک به ووایي چې لومړۍ جمله څو مطلبه لري؟
- زده کوونکي لاسونه جگوي او په نوبت سره ځوابونه وایي. ښایي چې زده کوونکو سم ځواب پیدا کړی وي/ یا پیدا کړی نه وي.
- په هرصورت، ښوونکی د جملې مطلبونه داسې سره جلا کوي:
الف: څو تنو ب: په یوه اداره کې ج: کارکاوه.
- ښوونکی پوښتنه کوي: دا درې مطلبه په دې جمله کې یو له بل سره څه ربط لري؟
- زده کوونکي مشوره/ بحث او ځوابونه وایي.
- ښوونکی وایي:
«څو تنو» څه کول؟ ← کار دې، کاوه.
کار چا کاوه؟ ← څو تنو
په کوم ځای کې یې کاوه؟ ← په یوه اداره کې.
د دې مطلبونو ربط یو له بل سره داسې دی چې:
«څو تنو» یو عمل سرته رسولی دی. «څو تنو» ته د جملې «فاعل» وایي «کارکاوه» ته د جملې «فعل» وایي.
«په یوه اداره کې» د فعل د اجرا کیدو ځای دی.
</td><td></td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرین</td><td>
- زده کوونکي د دغه لاندې جملې زده کوونکوته ورکوي (شفاهي یې ورته وایي یا یې پر تخته لیکي. چې د هرې یوې «فاعل» او «فعل» معلوم کړي او په کتابچو کې یې ولیکي:

مثال: زه راغلم ← زه - فاعل، راغلم - فعل
</td><td>توره تخته

کتابچې:</td></tr>
</table>

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- توریالی ولاړ ــــــــ ← فاعل ــــــــ ، فعل ــــــــ - داداري آمر پوښتنې وکړې. - توریالي دروغ ویلي وو. - زلمي د ښمني کوله . - توریالي منډه وکړه . - یوه سړي کیسه کوله . (یوه سړي ← فاعل ، کیسه کوله ← فعل) - ښوونکی درس ورکوي . - ښوونکي وویل . - مالمونځ وکړ . - خالد درس وایي . - اکرم خبرې واورېدې (اکرم ← فاعل ،(خبرې) واورېدې ← فعل) - ماکتل . هر زده کوونکی خپله کتابچه هم څنګ ملګري ته ورکوي چې د یوبل کار وګوري او تصحیح یې وکړي. په پای کې څوتنه زده کوونکي خپل کارونه ټولګیوالو ته وایي . - زده کوونکي بحث/ سموني کوي . ښوونکی لارښوونه/ مرسته کوي .	کتابچې
۴ لنډیز ارزیابي	- ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکي ځوابونه وایي : - حدیث څه ته وایي ؟ - واقعي مسلمان څوک دی ؟ - کامل مؤمن څوک دی ؟ - موعظه څه معنی لري ؟ او نور . کورنی کار نشته .	

د کتاب مخ : ۴۴

موضوع : د ناروغتیا رقعه

د درسي پلان نومبر : ۱

هدفونه :

که زده کوونکی ناروغ وي او ښوونځي ته تللای نه شي، رقعه ولیکلای شي.

چې بل څوک ستا په شتون غندنو کې غواګانې وڅړوي ؟"
سړي ورته وویل : "نه ! نه یې خوښوم."
نو پوه سړي ورته وویل : حضرت محمد صلی‌الله‌علیه‌وسلم فرمایلي
دي : "کوم شی چې د ځان لپاره خوښوې ، هغه نورو
ته هم خوښوه ، چې کامل مؤمن شې."
سړي سمدستي خپلې غواګانې له شتون غندنو څخه وایستلې
او له خپل سره یې ژمنه وکړه چې چا ته ضرر ونه رسوي.

د ناروغتیا رقعه

ښاغلی د . . . ښوونځي سرښوونکی صاحب !

السلام علیکم و رحمة الله وبرکاته

زه ناروغ یم او ښوونځي ته د لوست لپاره نه شم
راتلی. هیله ده چې ناروغ وشمېرل شم.

په احترام

نېټه : ....

اجمل د کریم زوی

د څلورم ب ټولګي زده کوونکی

نوي لغتونه

ارشادات   سلوک   باب   موعظه   ترغ   ژمنه

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې شا و خوا وګوري چې څوک نه دی راغلی. - زده کوونکي وایي : اجمل (د خپل ملګري اصلي نوم وایی) نه دی راغلی. - ښوونکی : ولې نه دی راغلی ؟ - زده کوونکي : ناروغ دی. - ښوونکی : رقعه یې رالېږلې ده ؟ - زده کوونکی : نه. - ښوونکی : ستاسې د ناروغۍ له امله ښوونځي ته د نه راتګ لپاره رقعه لیکلای شئ ؟ - زده کوونکي : ځینې هو ، ځینې : نه - ښوونکی : نو راځئ چې د ناروغتیا له امله ښوونځي ته د رقعې لیکل زده کړو.	
۲ پر موضوع کار کول	- ښوونکی/ زده کوونکي د رقعې پر متن باندې کار کوي.	
۳ تمرین	- ښوونکی غوښتنه کوي چې زده کوونکي کتابونه وتړي او د متن په شان په خپله ځ به یوه رقعه ولیکي. - په رقعه کې دې د خپل ښوونځي نوم په خپل ځای ولیکي.	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- همدغسې خپل نوم ، د خپل پلار نوم او نېټه دې په خپلو ټاکلو ځايونوکې و ليکي . - زده کوونکي خپلې کتابچې يو له بل سره بدلوي، د يو بل ليکلې رقعې لولي او که لازم وي اصلاحات په کې کوي . - دوه درې تنه زده کوونکي خپلې ليکلې رقعې لولي . زده کوونکي بحث/ سمونې کوي . - ښوونکی مرسته/ لار ښوونه کوي .	کتابچې
۴ لنډيز/ ارزيابي	- د متن په رقعه کې د څه شي هيله شوې ده ؟ - رقعه چا ته ليکل شوې ده ؟ - د ناروغۍ او ضروري کار رقعې څه توپير لري ؟ - په رقعه کې السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته چا ته ليکل شوی دی؟ کورنی کار : نشته	

گلان او مېوې



زموږ په گران هېواد افغانستان کې رنگارنگ گلان او راز راز مېوې پيدا کېږي ، لکه د گلاب گل ،کشمالي، ياسمن شبو ، نرگس ، چنبېلي ، فرشي، پتېني داودي، لمرگلی او داسې نور .

گلان په چمنونو ، باغونو او کورونو کې د ښايست لهپاره کرل کېږي .

خلک د سيل او تفريح لهپاره ورځي او د نارينهوو ، ښځو ، ورو او زړو روح تازه کوي .

له ځينو څخه عطر هم جوړېږي او له ځينو نورو څخه په ډول ډول دارو جوړولو کې کار اخيستل کېږي. لکه بنفشه ،خطمي او غواژبې .

زموږ په هېواد کې تازه مېوې لکه شفتالو ، زردالو ، الوبالو ليمو، کينو ، انار ، انځر ، انگور ، سنتره ، مالټه ، الوچه مڼه ، هندوانه ، خټکی ، ناک ، نارنج او داسې نور په زياته اندازه پيدا کېږي چې د کال په مختلفو فصلونو کې ترې استفاده کېږي .

بوټي او گلان زموږ د روغتيا لهپاره ډېره گټه لري او هوا صفا

کوي .

همدارنگه وچې مېوې هم زموږ په هېواد کې ډېرې پيدا کېږي لکه چارمغز ، جنغوزي ، بادام . پسته ، مميز ، کشمش ، سنځلې او داسې نور .

د ځينو مېوو خوړل ناروغي پيدا کوي ، کله چې پخې شي بيا خوړل کېږي .

زموږ د گران هېواد څخه وچې او تازه مېوې نورو هېوادونو ته د خرڅولو لهپاره استولې کېږي ، او زياته گټه ورڅخه په لاس راځي ، نو ضروري گڼل کېږي چې د مېوهلرونکو او بېمېوو ونو ايښودلو او ساتلو ته پوره پام ولرو . کال په کال نوې ونې کېږدو او کومې ونې او بوټي چې لرو د هغو ښه ښارنه او پالنه وکړو .

دا ټولې ونې او بوټي چې گورو ، زموږ د ټولو دي؛ ځکه له مېوو څخه يې گټه اخلو او هوا راته پاکه او صفا کوي .

نوي لغتونه

تفريح ښارنه پالنه استول

دکتاب مخونه : ۴۵ - ۴۶

عنوان : گلان او مېوې

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن په سمه توگه ولولي ، ويې ليکي
- د متن مطلب په خپله ژبه بيان کړي
- واړه متنونه وليکلای شي
- د گلانو ډولونه وپېژني
- له گلانو څخه په گټې اخيستلو پوه شي
- د گران هېواد تازه او وچې مېوې وپېژني
- د ونو او بوټو په گټه پوه شي .

درسي پلان : ۱

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۱ ځخونه	• څو تنه زده کوونکي د ټولگي مخې ته ورځي او خپل کورنۍ کارونه لولي ، نور زده کوونکي/ ښوونکی بحث ، تبصرې او سمونې کوي . يو زده کوونکی يوه صحيح رقعه پرتخته ليکي . زده کوونکي يې خپلو کتابچو ته نقلوي . • بيا ښوونکی له څو تنو زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره	کتابچې تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	سره خپل معلومات او تجربې د ګلانو په باره کې بیان کړي. - څو تنه زده کوونکي خپل معلومات بیانوي. نور زده کوونکي بحث او پوښتنې کوي. - ښوونکی د بحث څارنه او لارښوونه/ مرسته کوي.	
۲ پرمتن کارکول	ښوونکی/ زده کوونکي دې د کتاب ۴۵ مخ د متن پر ۱۲ کرښو باندې د همدې پړاو د مخکېنیو درسي پلانونو له لارښوونو سره سم کار وکړي.	کتاب
۳ تمرین	- زده کوونکي د لوستل شوي متن د مطالبو په اړوند خپل معلومات په کتابچو کې لیکي. - زده کوونکي کتابچې له همځنګ ملګري سره بدلوي. هر زده کوونکی د بل د مقالې د املایي او انشایي تېروتنو سمونې کوي. - څو تنه زده کوونکي خپلې مقالې لولي. - نور زده کوونکي/ ښوونکی بحث، تبصرې او سمونې کوي. زده کوونکي/ ښوونکی د املایي او انشایي غلطیو صحیح شکلونه پر توره تخته لیکي. زده کوونکي یې په خپلو کتابچو کې لیکي.	کتابچې تخته
۴ لنډیز/ ارزیابي	ښوونکی پوښتنه کوي: - ګلان چېرته کرل کېږي؟ - د څومره ګلانو نومونه چې پېژنئ ووایئ! - له ګلانو څخه څه شی جوړېږي؟ - له کومو ګلانو څخه دارو جوړېږي؟ کورنی کار: نشته	

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی له زده کوونکو څخه شفاهي پوښتنې کوي: څو ډوله ګلان پېژنئ؟ آیا ستاسو په باغچه کې ګلان شته؟ آیا تاسو په ګلدانیو کې ګلان کرلي دي که په چمن کې؟ کوم ډول ګلان مو ډېر خوښېږي؟	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	زده کوونکي هریو په خپل نوبت سره ځواب وايي. ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي: هغه څه شی دی چې په خوړلو سره يې زموږ بدن قوي کېږي او موږ ورته زيات ضرورت لرو؟ بنايي زده کوونکي د خوراکي شيانو نومونه واخلي. که ښوونکی ورته ووايي چې پر ته له خوراکي شيانو، لکه: شيدې، مستې، غوښه او داسې نور. د کومو شيانو خوړلو ته ضرورت لرو؟ زده کوونکي بېلا بېل او ډول ډول ځوابونه ورکوي او بحثونه کوي. بنايي څوک ووايي د «مېوو» خوړلو ته هم ضرورت لرو؟ ښوونکی پر توره تخته ليکي: «مېوې»	تخته
۲ پر متن کارکول	پر متن باندې د کتاب د ۴۵ مخ له ۱۴ کرښې څخه د ۴۶ مخ تر پايه پورې له پخوانيو لارښوونو سره سم کار کوي.	کتاب
۳ تمرين	- ښوونکی زده کوونکي په دوو ګروپونو ويشي. مشران ورته ټاکي. - له لومړي ګروپ نه غوښتنه کوي چې د تازه مېوو نومونه او د هغو په باب خپل معلومات سره شريک کړي او په خپلو کتابچو کې يې وليکي. - له دويم ګروپ نه غواړي چې د وچو مېوو نومونه او د هغو په باره کې خپل معلومات په شريکه وليکي. - د هر ګروپ مشر د خپل ګروپ کار ټولګيوالو ته لولي. زده کوونکي بحثونه او تبصرې کوي. ښوونکی مرسته/ لارښوونه کوي او غلطۍ پر تخته باندې سموي.	کتابچې
۴ لنډيز ارزيابي	ښوونکی په شفاهي ډول له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي: - مېوې بايد څه وخت وخوړل شي؟ - د خامو مېوو خوړل ګټه لري که ضرر؟ - د مېوو زر پاکولو له پاره بايد څه وشي؟ - د وچو مېوو نومونه واخلئ. - د تازه مېوو نومونه واخلئ. - د ګلانو نومونه واخلئ. زده کوونکي هريو د يوې مېوې او ګل نوم اخلي چې زياتره زده کوونکي د فعاليت فرصت ومومي.	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي: - تاسو کوم ګلان په خپله لیدلي دي؟ ګلان او بوټي څه ګټې لري؟ د دې له پاره چې د استوګنځي هوا موصافه او پاکه وي څه وکړو؟ میوې څه ګټې لري؟ د میوو او بوټو اقتصادي ګټې څه دي؟ زده کوونکي هر یو په خپل وار سره پوښتنو ته ځوابونه وایي. نور زده کوونکي بحث، تبصرې او سمونې کوي. ښوونکی مرسته/ لارښوونه کوي.	
۲ د متن تکرار	- زده کوونکي په نوبت سره د متن یوه یوه برخه لولي. ښوونکی د لغاتو د معناګانو پوښتنې ورڅخه کوي. - په پای کې ښوونکی ټول متن په مناسب جګ آواز لولي. د افغانستان د بوټو او میوو د اقتصادي ګټو او دا چې خارج ته صادرېږي توضیح کوي. بیا وروسته له دوو تنو زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې هر یو یې د متن نیمایي برخه ولولي. - ښوونکی د متن مطلبونه په ۳ یا ۴ برخو ویشي او ۴ تنه زده کوونکي انتخابوي چې هر یو یې یو مطلب په خپله ژبه بیان کړي (ګلان، وچې میوې، تازه میوې، د میوو او بوټو اقتصادي ګټې)	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی پر تخته باندې لاندې جملې او کلمې لیکي: لومړی ګروپ: ۱- ګلان د ــــ له پاره کرل کېږي. ۲- د ګلانو رنګ او بوی د انسان ــــ تازه کوي. ۳- له ګلانو څخه ــــ هم جوړېږي. ۴- لېمو ــــ خوند لري. ۵- زموږ له هېواد څخه ــــ نورو هېوادو ته د خرڅولو له پاره استول کېږي. دویم ګروپ: ۱- موږ باید ــــ ونو ایښودلو ته هم پام ولرو. ۲- دا ټولې ــــ چې دي، زموږ د ټولو دي ۳- له ځینو بوټو څخه ــــ جوړېږي ۴- له بېلابېلو ــــ څخه د کال په مختلفو فصلونو کې استفاده کېږي. (په چوکاټ کې: میوې، دارو ګان، میوه لرونکو، داوبې میوو، میوو، ښایست، ونې او بوټي، تشویش، سیل او تفریح، روح، بوټي او ګلان، رنګارنګ، ناروغی)	تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۵- ـــــــ زموږ د روغتیا له پاره ډېره ګټه لري. عطر ښه ځانګړنه پاکه او صفا دریم ګروپ: ۱- زموږ په هواد کې ـــــــ ګلان پیدا کېږي. ۲- خلک د ـــــــ لپاره باغونو ته ځي ۳- موږ باید د ونو او بوټو ـــــــ وکړو. ۴- بوټي هوا راته ـــــــ کوي. ۵- د خامو مېوو خوړل ـــــــ پیدا کوي. بیا زده کوونکي پر درې ګروپونو ویشي او غوښتنه ترې کوي چې هر ګروپ د لغاتو له فهرست څخه مناسبې کلمې د خپلې برخې د جملو خالي ځایونو کې په کتابچو کې ولیکي. - د ګروپو مشران د خپل ګروپ کړ کار په نوبت سره ټولګیوالو ته ولولي. نور زده کوونکي سمونې کوي. - ښوونکي مرسته/ لارښوونه کوي.	کتابچې
۴ لنډیز ارزیابي	ښوونکی په شفاهي ډول پوښتنې کوي: د تازه مېوو نمونه واخلئ. د وچو مېوو نمونه واخلئ په دوبي کې کومې مېوې پخېږي؟ مېوې باید کله وخوړل شي؟ د مېوو پرېمینځل څه ګټه لري؟ کورنی کار: زده کوونکی په کور کې د دروغو په ویلو باندې فکر کوي او په دې برخه کې د کور له مشرانو څخه معلومات غواړي.	



بنسه کول

یوه ورځ اکرم له خپل پلار سره په ځنګله کې کار وکړ او ډېر ستړی شو. د شپې یې ډېر کوښښ وکړ چې ویده شي، خو خوب نه ورته. مور یې پوه شوه او غږ یې ورو کړ:

"اکرم جانه، ولې خوب نه درځي؟"

اکرم وویل: "نه پوهېږم چې ولې شپه خوب نه راځي. لکه چې ډېر ستړی شوی یم." مور یې وویل: "د دې له پاره چې ویده شې، زه به یوه ډېره ښه قصه درته وکړم." اکرم وویل: "ډېره ښه، مورجانې."

مور یې قصه پیل کړه:



یوه ورځ یو ځوان په ځنګله کې له غله سره مخ شو. غله غوښتل، چې د ځوان څخه کالي ورباسي. ځوان چیغې کړې چې څوک یې مرستې ته راشي. هغه ته نژدې یو کلیوال سړی د لرګیو په ماتولو بوخت و. د هغه ځوان غږ یې واورېد او ډېر ژر یې ځان ورورساوه. غله چې هغه ولید نو وتښتېد او ځوان یې له شر څخه خلاص شو.

ځوان ډېر بډای سړی و. د کلیوال سړي د نېکۍ او اخلاقي مرستې

۴

څخه مننه وکړه او ورته یې وویل:

"زه ستا نه غواړم. ما له تا سره د مال او پیسو له پاره مرسته نه ده کړې. ما ولیدل چې غل تا ربړوي، ستا کالي او پیسې اخلي، د یوه انسان په توګه مې له تا سره مرسته وکړه."

ځوان حیران شو او ورته یې وویل:

"زه دې له مرګ څخه ژغورلی یم. له ما نه یو څه وغواړه چې ستا د مرستې او انسانیت حق پر ځای کړم."

کلیوال سړي ځواب ورکړ:



"زه د خپلو متو په زور بازو لرم او په خپلو متو ګټلې ډوډۍ خورم. له همدې امله د چا پیسو ته ضرورت نه لرم. خو له تا نه دا غوښتنه کوم لکه څنګه چې ما له تا سره مرسته وکړه، داسې ته هم له نورو لږو او محتاجو خلکو سره مرسته وکړه."

نوي لغتونه

بوخت شر مننه ورل انسانیت

۵

دکتاب مخونه: ۴ - ۵ عنوان: بنسه کول ددرسونو شمېر: ۳ هدفونه: زده کوونکي باید: ● په متن کې مترادف لغتونه وپېژني. ● دکیسې مفهوم په خپله ژبه بیان کړي. ● داحسان اوبنسه کولو په مفهوم اوګټو پوه شي.	● د [، - کامې، ؟ - د پوښتنې نښه] داستعمال ځایونه وپېژني.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	●- یو زده کوونکی له خپلو کتابچو څخه د حضرت محمّد (ص) په باره کې معلومات چې د جومات له عالم یا نورو څخه یې اخیستي دي، لولي. یو زده کوونکی یې له خپلو معلوماتو سره مقایسه کوي او پرې بحث کوي.	

دروغجن اخر شرمیږي



د یوه سړي اس ورک شو. ډېر ورپسې وګرځېد، پیدا یې نه کړ. اخر د اسونو پر بازار برابر شو. ګوري چې یو سړي څلور اسونه د خرڅلاو له پاره درولي دي. د ده اس هم په کې دی. ورغی او خرڅوونکي ته یې وویل: "دا اس زما دی، له پرون راهیسې را نه ورک دی، زما اس راوسپاره." خرڅوونکي وویل: "ته تېروتی یې، دا زما پر خپل اخور لوی شوی اس دی." د اس خاوند ورورړاندې شو، د اس پر دواړو سترګو یې څادر کېښود او خرڅوونکي ته یې وویل: ښه، دا که ستا اس وي نو ما ته ووایه چې کومه سترګه یې ړنده ده؟ خرڅوونکي وویل: "کینه سترګه." د اس خاوند وویل: "دروغ وایې. کینه سترګه یې روغه جوړه ده." خرڅوونکي وویل: "نه، رښتیا پام مې نه و، ښۍ سترګه یې ړنده ده." د اس خاوند وویل: "دروغ وایې، دواړه سترګې یې روغې جوړې دي. که اس ستا پر اخور لوی شوی وي، تا به ښۍ او کینه سترګه نه وه ته ړندوله."

خرڅوونکي سترګې ښکته واچولې او د اس څښتن تری خپل اس رواسکړ.

نوي لغتونه

تېروتی اخور خرڅلاو

۴۷

دکتاب مخ: ۴۷

عنوان: دروغجن اخر شرمیږي.

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن سم او روان ولوستلای شي.
- په مطلب یې وپوهېدای شي.
- مطلب یې په خپله ژبه وویلای شي.
- په متن کې داسې جملې وپېژني چې فاعل، مفعول او فعل ولري.
- د غه کیسه یا یوه ورته کیسه په خپله (په خپلو عباراتو) ولیکلای شي.
- د دروغ ویلو په ضررونو وپوهېدلای شي.

لومړی درسي پلان:

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي: ـ دروغ ویل څه معنی لري؟ ـ دروغ ویل کوم ضررونه لري؟ ـ دروغجنو کسانو ته خلک په کوم نظر ګوري؟ ـ زده کوونکي په نوبت سره ځوابونه وایي، د یوبل په خبرو بحث او تبصرې او نیاتونې کوي. ښوونکی مرسته/ سمونه کوي. ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې دکتاب (۴۷) مخ پرانیزي او وایي چې په تصویر کې څه وینئ. ـ زده کوونکي فکر کوي او ځوابونه وایي.	کتاب
۲ په متن کارکول	ـ وروسته تر هغه پر متن باندې تر پایه پورې کار کوي: ۱ـ زده کوونکي متن په پټه خوله لولي. ښوونکی څارنه کوي. ۲ـ سخت لغتونه په نښه کوي.	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۳- زده کوونکي متن په برخو برخو په نوبت سره په جګ آواز لولي. ښوونکی زده کوونکي سخت لغتونه له معنی سره پر تخته لیکي. ۴- ښوونکی ټول متن لولي او توضیحات ورکوي، زده کوونکی د ښوونکی لوستل تعقیبوي او مطالب یې ذهن ته سپاري. ۵- د متن یوه نیمایي یو زده کوونکی او بله نیمایي بل زده کوونکی لولي. ۶- د متن ټوله کیسه یو/ دوه زده کوونکي په خپله ژبه وایي. نور زده کوونکي بحث، پوښتنې / سمونې کوي.	
۳ مشق او تمرین	– ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د متن کیسه په خپلو عباراتو په کتابچوکې په لنډه توګه ولیکي. – زده کوونکي کتابچې بدلوي او سموني. کتابچې له یو بل نه بېرته اخلي غلطۍ او سمونې یې ګوري. – له یو بل سره په نوبت بحث کوي. د یو بل قناعت حاصلوي. زده کوونکي دوه په دوه بحث کوي.	کتابچې
۴ لنډیز ارزیابي	– ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي تر څو د درواغو ضررونه بیان کړي. هر زده کوونکی یو ضرر وایي. کورنی کار: زده کوونکي دې دې کیسې ته ورته نورې کیسې پیدا او زده کړي. (د کور له مشرانو/ خپلو همزولو څخه دې مرسته وغواړي)	

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	– ښوونکی د درس تر پیل کولو مخکې د معمولو مراسمو تر پر ځای کولو وروسته کورنی کار ګوري؛ – له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره د دروغ ویلو او د هغو د نتیجو په باب کیسې (چې په کور کې یې زده کړې دي) ووایي. – زده کوونکي غوږ نیسي/ یو بل سره مرسته او بحث کوي. – ښوونکی لارښوونه کوي/ غلطۍ سموي/ توضیحات ورکوي.	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۲ په متن کارکول	- زده کوونکي متن په برخو برخو د تکرار په توګه په لوړ آواز لولي. - زده کوونکي/ ښوونکی غلطۍ سموي . ښوونکی نوبت ورکوي/ لاربښوونه او مرسته کوي ، د ځینو لغتونو د معناوو پوښتنه کوي	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی دا جمله پر تخته لیکي : یو سړي آسونه درولي دي . - له زده کوونکو څخه غواړي چې پر جمله باندې فکر وکړي او ووايي چې دغه جمله څو مطلبه لري ؟ - زده کوونکي فکر او مشوره کوي . خپل نظریات وایي . - (د ښوونکي په مرسته) دا نتیجه به ترې لاس ته راشي : لومړی مطلب (جزء) : یوسړي ، چې د درولو کار یې کړی دی ← فاعل دویم مطلب (جزء) : آسونه ، چې درول شوي دي (کار ورباندې واقع شوی دی ← مفعول دریم مطلب (جزء) : درولي دي ، هغه کار چې شوی دی ← فعل - ښوونکی توضیح ورکوي ، په دې ډول جملو کې درې برخې موجودې وي (۱) فاعل (۲) مفعول (۳) فعل د فعل او فاعل په باب مو په مخکینو درسونو کې معلومات تر لاسه کړي دي . نن به کوښښ وکړو چې په جملو کې د مفعول د پېژندلو او پیدا کولو مشق وکړو . - ښوونکی زده کوونکي پر ګروپونو ویشي او ور څخه غواړي چې هر ګروپ دې په ګډه سره د دې لاندې جملو « مفعول » پیدا کړي او په کتابچو کې دې ولیکي (جملې پر تخته لیکي) الف ګروپ : (۱) داس پر سترګو یې څادر کېښود . (۲) ما هندوانه وخوړله . (۳) ګلان د انسان روح تازه کوي . (۴) یوسړي خپلې غواګانې په شنو غنمو کې څرولې . د ب ګروپ (۱) خلکو لیکل زده کړل . (۲) ما کتاب ولوست (۳) باغوانانو نوي نیالګي کېښودل . (۴) بزګران مځکو کې سره اچوي .	تور تخته کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد

(۵) سعید کتابونه وکتل (۵) مونږ خپل کالي پاک ساتو

(٦) خلکو پخوا زمانو کې لیک نه پېژاند. (٦) مونږ خپله خپلواکي وګټله.

د ښوونکي له پاره، دالف ګروپ:

ځوابونه: (۱) سترګو (۲) هندوانه (۳) دانسان روح (۴) غواګانې

(۵) کتابونه (٦) لیک

د ښوونکي له پاره، د ب ګروپ:

(۱) لیکل (۲) کتاب (۳) نیالګي (۴) سره (۵) کالي (٦) خپلواکي

- د هرګروپ مشر په نوبت سره دخپلو ملګرو دکار نتیجه نورو زده کوونکوته بیانوي.
- دمقابلو ډلو زده کوونکي یو پر بل تبصرې / سموني کوي او د هر ګروپ مشر د مقابل جدول کتارونه ډکوي.

فاعل	فعل	مفعول

- ښوونکی مرسته / سمونه / لارښوونه کوي.
- زده کوونکي خپلې غلطۍ په خپلو کتابچوکې سموي.

کتابچې

۴ لنډیز / ارزیابي

- ښوونکی پوښتنې کوي:
- داس خاوند خپل اس چیرې پیداکړ؟
- د اس غل د اس خاوند ته څه وویل؟
- د اس خاوند پر اس څه وکړل؟
- د اس خاوند څنګه ثابته کړه، چې اس یې غلا شوی و؟
- زده کوونکي پر ځوابو باندې تبصرې کوي.

کورنی کار:

زده کوونکي د لاندې جملو فاعل، مفعول، فعل له مثال سره سم په کورکې پیدا کوي او په کتابچوکې یې لیکي.

مثال: یوه سړي خپل اس ورک کړ.

فاعل - یوه سړي

مفعول - خپل اس

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	فعل ـ ورک کړ ـ ماخپل کالي وګنډل . ـ تا ډېر رخت اخیستی دی . ـ حمید اکرم ولید . ـ ډاکتر ناروغان وکتل . ـ فاطمه خپل کتابونه پاک ساتي .	

درسي پلان :۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ څوتنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته ورځي او خپل کورني کارونه له کتابچو څخه لولي او دغه مقابل جدول له خپل کورني کار څخه په مناسبو کلمو ډکوي : ـ ښوونکی څارنه / مرسته / لارښوونه / سمونه کوي .	کتابچې
۲ په متن کارکول	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې دکتاب ۴۷ مخ پرانیزي . یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او له متن څخه یوه یوه برخه په لوړ مناسب آواز لولي . ښوونکی / زده کوونکي غلطۍ سموي . ښوونکی هڅه کوي هغه شاګردان په لوستلو کې زیاته برخه واخلي چې د لوستلو جرئت نه کوي . د غسې زده کوونکي د لوستلو له پاره زیات تشویقوي .	
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی لاندینۍ جملې او کلمې پر تخته لیکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې د هرې جملې په تش ځای کې له جدول څخه مناسبه کلمه ولیکي : (۱) دیو سړي اس ورک ـــــ . (۲) شو ، شوه ، شول	

فاعل	مفعول	فعل

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	(۲) سړی پېر ورېږي ـــ . (۲) وګرځېدله، وګرځېد، وګرځېدم (۳) څلور اسونه یې ـــ . (۳) درولې ده، درولې وم، درولې دي. (۴) د ده اس هم په کې ـــ . (۴) ده، دي، وو. (۵) خرڅوونکو ـــ . (۵) وویله، وویل، ووایه (۶) داس خاوند ور وړاندې ـــ . (۶) شو، شوه، شول (۷) ښه سترګه یې ـــ . (۷) ړوند دی، ړانده دي، ړنده ده. (۸) خرڅوونکي سترګې ښکته ـــ . (۸) واچول، واچولې، واچوله ـ زده کوونکي په دوو ګروپونو کې هرګروپ پر ۴ سوالونو کار کوي. ـ د هرګروپ مشر په نوبت سره، د خپل ګروپ د کار نتیجه اعلانوي. د بل ګروپ زده کوونکي سموني کوي. ـ دګروپ مشر د تختې هره جمله په اړونده نمرو په مناسبو کلمو ډکوي.	
۴ لنډیز ارزیابي	ـ زده کوونکي د متن یوه یوه برخه لولي. ښوونکی دمتن له کلمو څخه ورته املا وايي چې پر تخته یې ولیکي. نو زده کوونکي سموني کوي. غلطې او صحیح کلمې څنګ په څنګ په کتابچو کې لیکي. کورنی کار: ـ زده کوونکي خپل نني مشق په کورکې مطالعه کوي.	کتاب تور تخته کتابچې

ګډ کار

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د خپلو درېیو تنو یارانو سره په یوه سفر کې ملګری و. دوی وغوښتل چې د خوراک له پاره کوم مال حلال او پوخ کړي.

یوه وویل: "زه به یې حلال کړم."

دویم وویل: "زه به یې پوټکی وباسم."

درېیم وویل: "زه به یې پوخ کړم."

کله چې دوی ټولو په خپله خوښه ځانته دندې وټاکلې. حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "پر ما د لرګیو او سوو شیانو راټولول دي."

ملګرو یې وویل: "یا رسول الله صلی الله علیه وسلم، موږ دې کارونو ته رسېدلای شو، تاسو ته ضرورت نشته."

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "زه پوهېږم چې تاسو دې کارونو ته رسېدلای شئ؛ خدای جل جلاله داسې بنده نه خوښوي چې په خپلو ملګرو کې ځان اوچت وګڼي. زه هم دا نه خوښوم چې تر تاسو ځان اوچت وګڼم."

ملګرو یې قناعت وکړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله دنده په پوره خوشحالۍ تر سره کړه.

نوي لغتونه

پوټکی سوب اوچت وفرمایل

۴۸

د کتاب مخ: ۴۸

عنوان: ګډ کار

د درسونو شمېر: ۲

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن سم او روان ولولي او په معنی یې پوه شي.
- د متن مطلب په خپله ژبه ووېلای شي.
- د ګډ کار په مفهوم او ګټو پوه شي او په ژوند کې ورڅخه کار واخلي.
- د وینا نقلولو نښې وپېژني.
- له فاعل سره د فعل په مطابقت پوه شي او د هغه مشق وکړي.

درسي پلان: ۱

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکي له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنه کوي: - که څوک خپل ځان تر نورو وچت وګڼي او نورو ته په سپک نظر وګوري هغه به څنګه انسان وي. - زده کوونکي له ځان سره فکر کوي، له ملګري سره مشوره کوي. - ښوونکي څو زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي چې پر موضوع باندې خپل نظر څرګند کړي. - نور زده کوونکي د دوی پر نظریو باندې بحث او تبصرې کوي. - بیا پوښتنه کوي چې که یو د پر عالیشانه انسان له نورو سره عملاً په ګډه کار وکړي، ستاسو په نظر به څنګه انسان وي؟ - زده کوونکي خپل نظریات وایي. - ښوونکي مرسته / سمونه او لارښوونه کوي.	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۲ په متن کارکول	ښوونکی/ زده کوونکی د ۴۸ مخ پر متن باندې کارکوي اوتولې مرحلې تطبیقوي.	کتاب تخته
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکو ته وایي چې متن په غور ولولئ او هغه ځایونه نښه کړئ چې دغه علامات پکې راغلي دي: « :» - زده کوونکي متن لولي او دغه علامه نښه کوي. - ښوونکی وایي: اوس یو ځل بیا متن ولولئ او وګورئ چې دغه علامې په کومو ځایونوکې لیکل شوي دي. آیا هغه ځایونه چې دا علامې پکې لیکل شوي دي سره ورته مطلبونه لري که نه؟ - زده کوونکي بیا متن لولي او ګوري چې ددغو علامو په منځ کې هغه وینا راغلې دي چې د حضرت محمد(ص) او د هغه د اصحابو له خولو څخه مستقیمًا نقل شوې دي (ښوونکی په دې برخه کې له زده کوونکو سره مرسته کوي چې په مقصد پوه شي او تمرین سرته ورسولی شي.) - ښوونکی خپل نظریات وایي/ بحث کوي. - ښوونکی وایي: ددې علامو: « » په منځ کې هغه وینا وې لیکل کېږي چې د چا له خولې څخه مستقیمًا نقل شوې وي او ورته «د وینا د نقلولو نښې» وایي.	کتاب
۴ لنډیز/ ارزیابي	- ښوونکی پوښتنه کوي: حضرت محمد(ص) له خپلو ملګرو سره کوم کار سرته ورساوه؟ ملګرو یې کوم کارونه وکړل؟ ملګرو یې چې حضرت محمد(ص) کار ته پرې نښود، ده مبارک څه وفرمایل؟ - زده کوونکي ځوابونه وایي. - کورنی کار: نشته.	


درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي: - کوم کار د چا له خوا پیل شوی و؟ - څه ډول کار و؟	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- زده کوونکي ځوابونه وایي/ بحث کوي. - ښوونکی لارښوونه کوي او د زده کوونکو ځینې خبرې پرتخته لیکي.	تخته
۲ د متن تکرار	- ښوونکی متن پر زده کوونکو تکراروي. لومړی متن په برخو برخو پر زده کوونکو لولي او د ځینو لغتونو معناوې او د ځینو مطلبونو توضیح ورځخه غواړي. - ښوونکی ټول متن لولي. - پرځوتنو زده کوونکو ټول متن لولي. - له یوه زده کوونکي څخه غواړي چې ټوله قصه په خپله ژبه ووایي. نور زده کوونکي په ټولو مرحلوکې ونډه اخلي، پوښتنې کوي. یو بل ته ځوابونه وایي، سمونې کوي. - ښوونکی لارښوونه او مرسته کوي.	کتاب
۲ مشق او تمرین	- ښوونکی څو جملې پرتخته لیکي چې فعلونه غلط استعمال شوي وي. له زده کوونکو څخه غواړي چې د جملو غلط شکلونه او د جملو صحیح صورتونه چې فعلونه پکې سم شوي وي، په خپلو کتابچوکې ولیکي. مثال: زه به یې [وخوري] (غلط) — زه به یې [وخورم] (صحیح) ۱- زه به یې پوخ [کړه]. ۲- حضرت محمد (ص) له یارانو سره ملګری [وم]. ۳- یوه وویل: « زه به یې حلال [کړې] ۴- زه به یې پوټکی [وباسی] ۵- په خپله خوښه یې د نده [وتاکلی] ۶- ملګرو یې [ووایم] ۷- موږ دې کارونو ته رسېدلای [شم] ۸- ملګرو یې قناعت [کوم] ۹- زه د سوي شیان [راټولنولم] ۱۰- زه هم دا [نه خوښولای] د ښوونکو لپاره صحیح شکلونه ۱- کړم ۲- و ۳- کړم ۴- وباسم ۵- وټاکله ۶- ملګرو یې وویل ۷- شو ۸- وکړه ۹- راټولوم ۱۰- نه خوښوم - څو تنه زده کوونکي تختې ته ورځي او خپلې سمې کړې جملې ټولګیوالو ته لولي. - زده کوونکي بحث/ سمونې کوي. - ښوونکی پرتخته باندې د جملې د فعلونو په څنګ کې صحیح شکلونه لیکي.	تخته کتابچې

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
	- زده کوونکي خپلې جملې ورسره مقایسه کوي او که غلطي وي سموي يې.	
	ښوونکی شفاهي پوښتنې کوي : - حضرت محمد (ص)، چېرته روان و؟ - څوک ورسره وو؟ - د وی غوښتل چې څه وکړي. - د حضرت محمد (ص) یارانو کوم کارونه په غاړه واخیستل؟ - حضرت محمد (ص)، په خپله کوم کار وکړ؟ - یارانو یې څه ورته وویل؟ - ده مبارک ورته څه وفرمایل؟ کورنی کار : د متن کیسه دې درې لنډه په خپله ژبه په کتابچو کې ولیکی.	۴ لنډیز/ ارزيابي

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	•- ښوونکی مختلف ضمیرونه بېل بېل په توره تخته لیکي. لکه: زه ، ته ، دی ، دا ، موږ ، تاسې ، دوی . . . •- زده کوونکي په خپل نوبت سره دا ضمیرونه په ساده جملو کې استعمالوي. لکه: زه کورته ځم ، تاسې ډوډۍ وخورئ . . .	توره تخته
۲ په متن کار کول	•- ښوونکی وایي چې کتابونه پرانیزئ او څلورم مخ ترا خره پورې په پټه خوله ولولئ ، سخت یا نوي لغتونه په نښه کړئ . •- زده کوونکي درس لولي ، سخت یا نوي لغتونه په نښه کوي . •- ښوونکی په ټولګي کې ګرځي او د زده کوونکو د لوستلو څارنه کوي. •- کله چې درس ولوستل شو ، زده کوونکي یو نوی لغت په خپل نوبت سره وایي او ښوونکی یې په تخته لیکي . •- ښوونکی هڅه کوي چې سخت لغتونه په خپله زده کوونکي معنی کړي . ښوونکی د زیات سخت لغت د معنی کولو له پاره مثالونه یا اسانې جملې وایي لکه : سړی د لرګیو په ماتولو بوخت و . یعنې : سړی د لرګیو په ماتولو (کارکولو ، خبرې کولو) اخته (مشغول ، مصروف ، لګیا) و . کله چې ټول لغتونه معنی شول بیایې زده کوونکي کتابچو ته نقلوي . •- ښوونکی په خپل طبیعي او مناسب جګ آواز متن لولي، زده کوونکي غوږ نیسي . •- زده کوونکي په خپل نوبت سره د متن یوه ، یوه برخه لولي .	کتاب توره تخته
۳ مشق او تمرین	۳ - ښوونکی ځینې مترادفې کلمې په ګډوډ شکل په توره تخته لیکي او ددې له پاره چې په جملو کې د مترادفو کلمو په اهمیت او استعمال پوه شي ځینې مثالونه ورکوي . لکه :	توره تخته



سید جمال الدین افغان



سید جمال الدین افغان د سید صفدر زوی دی. په ۱۲۵۴ هجري قمري کال د کنړ ولایت په اسعد آباد کې زیږېدلی دی.

لومړنۍ زده کړې یې له خپل پلار څخه وکړې. وروسته د نورې زده کړې لپاره کابل ته ولاړ. په ۱۸ کلنۍ کې د لوړو زده کړو لپاره هند ته ولاړ.

له هند څخه د حج د ادا کولو لپاره بیت الله شریف ته ورغی. بیا خپل هېواد افغانستان ته ستون شو.

نوموړی لوی عالم او د افغانستان له مشهورو خلکو څخه و. دی په افغانستان کې د رسمي ښوونځي مؤسس دی.

سید جمال الدین افغان له امیر شېر علي خان څخه د ځینو نورو اصلاحاتو غوښتنه وکړه؛ خو قبوله نه شوه. نو د خپل هېواد پرېښودلو ته اړ شو؛ مصر ته ولاړ.


سید جمال الدین افغان عربستان، مصر، ایران، ترکیې روسیې، فرانسې، انګلستان او جرمني ته سفرونه وکړل.

۴۹

په دې ټولو هېوادونو کې به د مسلمانانو د آزادۍ لپاره تبلیغ کاوه؛ زده کوونکي یې روزل؛ د نورو مسلمانانو یې له استعمار سره مقابلې ته بلل.

سید جمال الدین افغان د اسلام او مسلمانانو لپاره ډېر خدمتونه کړي دي چې د نړۍ مسلمانان وربانديې ویاړي.

سید جمال الدین افغان په ترکیه کې وفات او هلته ښخ شو. څو کاله وروسته یې بیا تابوت افغانستان ته راوړل شو او د کابل پوهنتون په انګړ کې خاورو ته وسپارل شو.



د سید جمال الدین افغان مقبره

نوي لغتونه

زیږېدلی اصلاحات تبلیغ ویاړ انګړ تابوت

۵۰

دکتاب مخونه: ۴۹ ــ ۵۰

عنوان: سید جمال الدین افغان

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن سم او روان ولولي، په مطلب یې پوه شي.
- د متن مطلب په خپله ژبه ووېلای شي.

- سیّد جمال الدّین افغان وپېژني.
- د سید جمال الدین افغان په کارنامو وپوهېږي.
- د سید جمال الدین لنډې سوانح ولیکلای شي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ څخونه	ـ ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنې کوي: ـ سید جمال الدین افغان د چا زوی و؟ ـ د کوم ځای و؟ ـ کومو ملکونو ته یې سفرونه کړي وو؟ ـ زده کوونکي نوبت اخلي. د ټولګي مخې ته ځي او سوالونو ته جوابونه وایي.	

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
	ـ نور زده کوونکي بحث کوي.	
کتاب	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې دکتاب ۴۹ مخ پرانیزي. ښوونکی وایي : داتصویر پېژنئ ؟ ښه فکر وکړئ چې څوک دی؟ ښایي زده کوونکي ځواب ووایي ؛ ـ ښوونکی/ زده کوونکی پرمتن باندې تر ۱۷ کرښې پورې دمتن لوستلو له لارښوونو سره سم ، مرحله په مرحله کار کوي.	۲ په متن کارکول
کتابچې	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې لاندې لغتونه په جملوکې راوړي او کتابچوکې یې ولیکي. غوښتنه ، افغان ، زده کړه ، مؤسس ، عالم ، اصلاحات، هېواد، پرېښودلو. ـ زده کوونکي یوبل (د څنګ ملګري) ته کتابچې ورکوي چې اصلاحات وکړي. ښوونکی لارښوونه اومرسته کوي. ـ څوتنه زده کوونکي څو څو جملې له خپلو کتابچوڅخه لولي . نور زده کوونکي سمونې کوي . ښوونکی مرسته لارښوونه کوي.	۳ مشق او تمرین
	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي. سید جمال الدین افغان په کوم کال کې زېږېدلی دی ؟ چیرته زېږېدلی دی؟ له هند څخه چیرته ولاړ؟ دڅه له پاره ؟ سید جمال الدین کوموهېوادونو سفر وکړ ؟ ـ زده کوونکي جوابونه وایي بحثونه او سمونې کوي . کورنی کار : راتلونکی درس په کورکې ولولي .	۴ لنډیز ارزیابي

درسي پلان : ۲

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي : ـ سید جمال الدین افغان دچا زوی و ؟	۱ هڅونه

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- د کنړ ولایت په کوم ښار کې زیږېدلی و؟ - کله او د څه له پاره کابل ته ولاړ؟ - دی زموږ په ګران هېواد کې د څه شي مؤسس دی؟ - څوک به راته ووايي چې سید په سفر کې څه کول؟ - چېرته وفات شو؟ - اوس یې مقبره په کوم ځای کې ده؟	
۲ په متن کار کول	- د متن د ۴۹ مخ د وروستیو کرښو څخه د ۵۰ مخ تر آخره پورې د منځکینو لوستونو پر متن کار کیږي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی غوښتنه کوي چې زده کوونکي خپلې لنډې سوانح ولیکي. ښوونکی په پیل کې لارښوونه کوي او زده کوونکي پوهوي چې د دغه لاندې مطلبونه په ترتیب په خپلو سوانحو کې ولیکي. نوم ، د پلار نوم ، د زیږېدلو (صحیح یا اټکلي) نېټه ، د زیږېدو ځای ، کلی ، کمپ ، ولسوالي ، ولایت ، هېواد ، اوس چېرې اوسیږي ، مکتب ته د شاملېدو نېټه ، لومړی ځل کوم مکتب ته ورغلی ، پلار یې څه کار کوي ، څو ورونه لري ، ورونه یې څه کوي ، د دوی کورنۍ / ده په خپله کومو ځایونو ته تللی دی. په ژوند کې یې کومه مهمه واقعه پېښه شوې چې پر ده (دې) باندې ډېر تاثیر کړی دی ، او داسې نور - څو زده کوونکي په نوبت سره خپلې سوانح لولي. نور زده کوونکي / ښوونکی جملې سموي او بحث کوي. ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي.	
۴ لنډون او ارزیابي	- ښوونکی پر توره تخته باندې ګډې وډې جملې لیکي. یو یو زده کوونکی توره تخته ته غواړي ترڅو یې سم او په ترتیب ولیکي. وروسته له پاره زده کړې کابل ته د نورې ولاړ. ۲- لوی عالم نوموړی او له مشهورو خلکو د افغانستان وڅخه. ۳- خپل هېواد ته افغانستان ستون بیا شو. کورنی کار: د سید جمال الدین لنډې سوانح لیکل.	توره تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ــ ښوونکی د زده‌کوونکو کورني کارونه ګوري. ــ ښوونکی یو یو زده‌کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي چې له کتابچو څخه د خپلو کورنیو کارونو څو څو جملې داسې ولولي چې یو د بل پسې د سیدجمال الدین سوانح بشپړې کړي. ــ نور زده‌کوونکي مطلبونه او جملې سموي. ښوونکی لارښوونه/ مرسته کوي.	کتابچې
۲ په متن کارکول	ــ زده‌کوونکي/ ښوونکی د ټول متن لوستل تکراروي. زده کوونکي د متن بشپړ مطلب په خپله ژبه بیانوي او بحثونه سره کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	ــ ښوونکی زده کوونکي په دوو ګروپونو ویشي. د هر ګروپ یو غړی له بل ګروپ څخه د سیدجمال الدین افغان د سوانحو په اړوند پوښتنه کوي. د مقابل ګروپ هر غړی چې صحیح ځواب ووایي له بل ګروپ څخه یوه پوښتنه کوي. سوال او ځواب په همدې توګه سلسله پیدا کوي ترڅو د سید سوانح او کارنامې بشپړې شي. کوښښ دې وشي چې په سوال او ځواب کې ټول زده کوونکي ونډه واخلي. د تکرار په صورت کې دې زده‌کوونکي خپل ځواب د ګروپ یو غړي ته ورو ووایي چې هغه یې په زوره ووایي. زده‌کوونکي بحثونه او سمونې کوي. ښوونکی د مسابقې لارښوونه او له زده‌کوونکو سره مرسته او ضروري سمونې کوي.	
۴ لنډیز ارزیابي	ــ ښوونکی زده کوونکي پر دوو ګروپونو ویشي. پوښتنې: د الف ګروپ: د ب ګروپ څخه: څوک به خپله د زېږېدو نېټه ووايي؟ د ب ګروپ: د الف ګروپ څخه: څوک به ښوونځي ته خپل د اخلېدو نېټه ووايي. او همداسې نورې اړوندې پوښتنې. کورنی کار: متن په بشپړه توګه ولیکي (د کتاب رسم الخط مراعات کړي)	

د کتاب مخ : ۵۱

عنوان : بې پروايي

د درسونو شمېر : ۲

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن په سمه توګه ولولي .
- د متن په معنی او مطلب پوه شي .
- د متن مطالب له یاده ووايي .
- په متن کې [اداتونه] وپېژني .

بې پروايي

د زلمي مور به تل زلمي ته نصیحت کاوه چې د کېلې منډوانې او داسې نورو شیانو پورتکي بېځایه مه غورځوه. په یوه لوښي کې یې واچوه . بیا یې د کوررونو څخه لیرې



په خپل تاکلي ځای کې وغورځوه .

یوه ورځ زلمي باندې مکتب ته ټګ نارخته شوی و . په ډېر تلوار یې د خوړل شوو کېلو پوتکي له کړکۍ څخه لارې ته وغورځول . څو شیبې وروسته ، کله چې د زلمي پلار کور ته راته ، پام یې نه و . پښه یې د کېلې په مغه پوتکي کېښوده چې زلمي لارې ته غورځولی و . پښه یې وښویېده او ولوېد . لاس یې مات شو .

له دې پېښې څخه زلمی خواشینی شو . ډېر یې وژړل ځکه چې د مور خبره یې نه وه منلې . د پلار لاس یې مات شو . له ځان سره یې وعده وکړه چې د مور او پلار له خبرو به سر نه غړوي . هیڅ شی به بېځایه نه غورځوي .

نوې لغتونه

نصیحت وعده سرغړونه ضرر

۵۱

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	— ښوونکی په نوبت سره لاندې پوښتنې کوي : • کله چې له ښوونځي څخه غیرحاضر شئ ښوونکی څه درته وايي ؟ • کله چې له ښوونځي څخه کورته او یا له کور څخه ښوونځي ته ځئ ، ښوونکی ، مور یا پلار څه درته وايي ؟ • کله چې د سړک له یوې خوا څخه بلې خواته ځئ ، څه کول په کار دي ؟ • زده کوونکي ځوابونه وايي / بحث کوي . ښوونکی لارښوونه ، مرسته سمونه کوي (بحث د [بې پروايي] د مفهوم د پوهولو خوا ته رهبري کوي)	
۲ په متن کارکول	— پر ټول متن د پخوانیو درسي پلانو له لارښوونو سره سم کار کیږي .	کتاب

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
کتاب کتابچې	— ښوونکی زده کوونکي پر دریو گروپونو ویشي او ورځنه غوښتنه کوي چې : دري واړه گروپونه دې بېلا بېلا ، د خپل گروپ له ملگرو سره په گډه متن په دې توگه لولي : ۱- لومړی گروپ : د متن د پیل ۱۵ کرښې دویم گروپ : د متن د منځ ۱۵ کرښې دریم گروپ : د متن وروستۍ ۱٦ کرښې ۲- هرگروپ دې په خپله برخه کې تر [اداتونو] لاندې کرښې وکاږي . د ښوونکي له پاره : [ادات] ، جمع یې [اداتونه] داسې کلمو ته وایي چې په ژبه کې کلمې، عبارتونه او جملې یوله بل سره تښلوي . په ځانگړي صورت نه استعمالیږي او معنی یې هم نه معلومیږي ، تر هغه چې له نورو کلمو سره راشي ، لکه : د ، په ، ځنې ، کې ، تر ، پر ، او ، خو ، چې ، که او داسې نور مثال : د زلمي مور ، له کړکۍ ځنې وکتل • بیا دې وگوري چې کوم ادوات تر نورو کلمو مخکې او کوم ورځنې وروسته راځي . او هغه دې په کتابچو کې په لاندې ډول فهرست کړي : مثال : ترکلمو مخکې (سرینه) ترکلمو وروسته (پسینه) د (زلمی) (زلمی) نه • د گروپونو مشران په نوبت سره د خپل گروپ د کار نتیجه اعلانوي. د نورو گروپونو غړي پوښتنې / تبصرې / سموونې کوي او یو بل ته قناعت ورکوي . ښوونکی مرسته / لارښوونه کوي. زده کوونکي خپلې غلطۍ سموي. — ښوونکی په پای کې وایي :	۳ مشق او تمرین

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	دغه ډول کلموته چې تاسې پیدا کړې [ادات] وایي. اداتونه په ژبه کې په ځانګړي توګه نه ویل کیږي. څوک نه وایي چې په، کې، تر، پر، او دغه ډول کلمې ته تل له نورو کلمو سره راځي، ځینې یې د کلمو څخه وړومبی ځینې ورځنه وروسته. هغه چې تر کلمو مخکې راځي [سرینه] نومیږي او هغه چې تر ې وروسته راځي [پسینه] بلل کیږي.	
۴ لنډیز / ارزیابي	ــ ښوونکی پوښتنې کوي: • بې پروایي څه معنی لري. د هغې مثالونه ووایئ. • تاسو که بې پروایي کړې وي، د هغې قصه ووایئ. • دیو څو سرینه وو او پسینه وو مثالونه له اړوندو جملو سره ووایئ. کورنی کار: دالغتونه په جملو کې استعمال کړئ: نصیحت، وعده سرغړونه، ضرر، تلوار.	

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ــ څو زده کوونکي په نوبت سره د ټولګي مخې ته راځي او دکورنۍ وظیفې جملې نورو زده کوونکو ته لولي. زده کوونکي بحث او سمونې کوي. • ښوونکی پوښتنې کوي: څه ډول بې پروایي تاوانونه رسوي؟ زده کوونکي ځوابونه ورکوي. • څو زده کوونکي د ټولګي مخې ته راځي او د [بې پروایي] په باب داسې قصې کوي چې لوی تاوان یې ورته رسولی دی. که د بل چا په باب کې وي هغه هم ویلای شي.	کتابچې

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td>۲
په متن
کارکول</td><td>ـ څو زده کوونکي په نوبت سره د متن مطالب په خپله ژبه وایي .
ـ ښوونکی هڅه کوي چې ډېرو زده کوونکو ته موقع ورکړي</td><td>کتاب</td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرین</td><td>ـ له زده کوونکو څخه دوه ګروپه جوړېږي او مشران ورته ټاکل کېږي . ښوونکی لاندې ناقصې جملې پرتخته لیکي . هرګروپ د خپلې برخې د جملو تش ځایونه پرتخته باندې د لیکل شوو سرینو او پسینو په لیکلو په خپلو کتابچوکې ډکوي .

لومړی ګروپ
(۱) ــ یوه سرې اس ورک شو.
(۲) زموږ په هېواد ــ کې هرډول مېوې پیدا کېږي .
(۳) دا اس ــ پروت راهیسې رانه ورک دی .
(۴) پوټکي یې له کېکه ــ لارې ته وغورځول .
(۵) زلمي ډېر وډېل ــ چې د مور خبرې یې نه وې منلې .

ته / چې / د / څکه / څخه / د / پر

دویم ګروپ
(۱) داسونو ــ بازار برابر شو.
(۲) دا ټولې ونې ــ بوټي د ټولو دي .
(۳) ــ زلمي مور به تل ورته نصیحت کاوه .
(۴) زلمي باندې مکتب ــ تګ ناوخته شوی و .
(۵) زلمی ــ ښوونځي ته ورسېد ناوخته شوی و..

• دهرګروپ مشر د خپل ګروپ د کار نتیجه په نوبت سره د ټولګي په مخ کې اعلانوي .ګروپونه بحث کوي . یوبل غلطۍ سموي . ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي .
• زده کوونکي غلطۍ او د هغو درست شکلونه پرتخته لیکي . ټول زده کوونکي دواړه صورتونه په خپلو کتابچوکې په دې ډول لیکي .</td><td>تورهتخته

کتابچې</td></tr>
<tr><td>۴
لنډیز
ارزیابي</td><td>ـ زلمي کومه بې پروایي کړې وه ؟
ـ زلمی ولې ډېر خواشینی شو ؟
ـ زلمي د چا خبرې نه وې منلې ؟
ـ له ځانه سره چا وعده وکړه ؟
ـ پسینه او سرینه څه توپیر لري ؟
کورنی کار ، نشته .

<table><tr><th>صحیح</th><th>غلط</th></tr><tr><td>دیوسري اس ورک شو</td><td>په یوسري اس ورک شو</td></tr><tr><td>ـ</td><td>ـ</td></tr><tr><td>ـ</td><td>ـ</td></tr><tr><td>ـ</td><td>ـ</td></tr><tr><td>ـ</td><td>ـ</td></tr></table></td><td></td></tr>
</table>

د مور خدمت

ټولو مسلمانانو ته په کار دي چې د خپل مور او پلار خدمت وکړي. د هغو د نېکو او اسلامي امرونو اطاعت وکړي. کله چې هغوی بېوسه شي د هغوی لاس نیوی او مرسته وکړي تر څو دنیا او آخرت یې روښانه وي.

کله چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم رحلت کاوه، حضرت علي رضی الله عنه ته یې وویل: "زما څادر واخله او په پلانکي ځای کې یې شپون ته ورکړه. حضرت علي رضی الله عنه هغه ځای ته ولاړ.

پوښتنه یې وکړه چې پلانکی شپون چیرې دی؟

چا ورته وویل: "هغه په غره کې رمه پیایي." حضرت علي رضی الله عنه شپون ته ورغی او ورته یې وویل: "حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم تا ته سلام ولېږه او دا څادر یې تا ته رالېږلی دی."

شپون وویل: "کله چې زه خبر شوم، د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم قلبي شهید شوی دی، ما خپل غلتونه ملت کړل، بیا مې غوښتل چې د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضور ته ورشم. خو زما مور ډېره زړه او ضعیفه ده. ما د هغې خدمت کاوه."

حضرت علي رضی الله عنه ورته وویل: "څرنګه چې تا د


۵۲

خپلې مور خدمت کړی دی، د الله جل جلاله او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په حضور ستا ټول خدمتونه قبول دي، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خپل څادر تا ته سوغات رالېږلی دی.

بیا شپون هغه څادر واخیست او له ځان سره یې وساته.

د اسلام پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلي دي،

"جنت د مور او پلار تر قدمونو لاندې دی."



نوي لغتونه

اطاعت رحلت حضور قبول سوغات

۵۳

دکتاب مخونه: ۵۲ - ۵۳

عنوان: د مور خدمت

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن سم او روان ولوستلای شي
- د متن مطلب په خپله وویلای شي
- په متن کې ماضي فعلونه او د حال فعلونه وپېژني.
- د مور د حق په ادا کولو پوه شي.
- پوښتنو ته سم ځوابونه وویلای شي
- د خبرو کولو جرأت پیدا کړي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي. - د زلمي د پلار لاس ولې مات شو؟ آیا تاسو ته د بې پروایۍ له امله کوم تاوان رسېدلی دی؟ - آیا تاسو بل څوک پېژنئ چې د بې پروایۍ له امله څه ضرر ورته پېښ شوی وي. - زده کوونکي لاس پورته کوي یو یو د ټولګي مخې ته راځي خبرې	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	کوي. - ښوونکی پوښتنه کوي: زلمي د چا خبره نه وه منلې؟ زده کوونکي جواب ورکوي (د مور خبره) - ښوونکی وايي: څوک چې د مور خبره نه مني داسې سزا به ويني موږ بايد د مور خبرې ومنو او هڅه يې پرځای کړو.	
۲ په متن کار کول	- ښوونکی، زده کوونکي د ۵۲ مخ پر متن باندې "تر . ما د هغې خدمت کاوه" پورې، د پخوانيو درسي پلانونو له لارښوونو سره سم کار کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرين	- د زده کوونکو څخه نوبت په نوبت غوښتنه کيږي چې د ټولګي مخې ته راشي او متن په مناسب جګ آواز ولولي. - ښه لوستونکي تقديرېږي او نورې يې په توره تخته ليکل کيږي. ښوونکی، زده کوونکي غلطۍ اصلاح کوي. زده کوونکي له يو بل څخه پوښتنې کوي: - موږ د چا اطاعت وکړو؟ د مور او پلار خدمت کول په دنيا او آخرت کې څه ګټې لري؟ - حضرت رسول اکرم (ص) د څه له پاره شپانه ته خادم استولی و؟ شپون څه عقيده درلوده؟ - شپون د چا خدمت کړی و؟ زده کوونکي جوابونه وايي بحث کوي. يو د بل غلطۍ سموي. ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي. - ښوونکی، زده کوونکي د سوالونو جوابونه پر تخته ليکي او زده کوونکي يې په خپلو کتابچو کې نقلوي.	کتاب توره تخته توره تخته کتابچې
۴ ارزيابي	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې دغه لاندې کلمې په شفاهي توګه په جملو کې استعمال کړي: خادم، اطاعت، شپون، غاښونه، مور، خدمت، جنت، . . .	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ـ زده کوونکي هر ځلې د جملې په معنی بحث کوي او وایي چې د دواړو کلمو مطلب د جملو په استعمال کې توپیر نه کوي . • ښوونکی زیات مثالونه ورکوي . بیا یې زده کوونکي په کتابچو کې لیکي .	کتابچه
۴ لنډیز ارزیابي	• [لګیا] څه معنی لري ؟ (بوخت ، مشغول ، مصروف ، اخته) • اکرم ته چا قصه وویله ؟ • اکرم چیرته کار کړی و ؟ (له خپل پلار سره په ځمکه کې) • مورې اکرم ته څه غږ وکړ ؟ « اکرم جانه ولې خوب نه درځي ؟ • اکرم د خپلې مور په ځواب کې څه وویل ؟ (ځکه چې ډېر ستړی شوی یم) کورنی کار : • زده کوونکي دا لغتونه په کتابچو له تختې څخه لیکي او بیا یې په جملو کې استعمالوي . کار ، کوښښ ، غر بیل ، خوب ، شپه ، ورځ .	کتابچې

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	• څو زده کوونکي په نوبت سره د کورني کار جملې ټولګي ته لولي ، نور زده کوونکي یې له خپلو جملو سره مقایسه کوي . • زده کوونکي ، کتابچې یو بل ته ورکوي چې د کورني کار جملې وګوري او اصلاح یې کړي . • ښوونکی له زده کوونکو څخه شفاهي پوښتنې کوي . تاسو کوم ښه او نیک کارونه کړي دي ؟	کتابچې
۲ په متن کار کول	• زده کوونکي جوابونه ورکوي (ما جنګ نه دی کړی ، ما لمونځ کړی دی ، ما خپل کورني کارونه کړي دي ، ۲ـ ښوونکی دې د متن پاتې برخه (۵ مخ) د تېر درس له لارښوونو سره سم تدریس کړي .	تور تخته

پراوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	کورنی کار: د متن پاتې برخه ولولئ.	

درسي پلان: ۲

پراوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی په شفاهي ټوګه له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي: ـ تاسو د خپلې مور څه خدمت کړی دی؟ زده کوونکي په نوبت ځواب وايي. مثلاً مور مې کالي مينځل ما اوبه ورته راوړې. ـ ما د مور له لاسه جارو واخيسته ځای مې ښه جارو کړ. ـ ښوونکی د زده کوونکو ځينې جملې په توره تخته ليکي. ـ ښوونکی د څو تنو زده کوونکو بېلې بېلې نظريات اوري. ـ څوک به راته ووايي چې جنت د چا د پښو لاندې دی.	توره تخته
۲ په متن کار کول	ـ ښوونکی، زده کوونکی د متن له ۲۵ مخ [حضرت علي رض ورته ووېل] څخه د بلې صفحې تر پايه پورې د پخوانيو درسونو په شان لولي.	کتاب
۳ مشق او تمرين	ـ ښوونکی زده کوونکو ته وايي چې په نوبت سره يوه يوه جمله ولولي. نور زده کوونکي ورته په دقت غوږ ونيسي او په نوبت سره په جمله کې هغه فعلونه ونيسي چې په ماضي (تېره زمانه) کې تر سره شوي وي، لکه: لومړنی زده کوونکی: ټولو مسلمانانو ته په کار دي چې د خپل مور او پلار خدمت وکړي. بل زده کوونکی: ماضي فعل ـ نشته. بل زده کوونکی: د هغو د نېکو او اسلامي امرونو اطاعت وکړي. بل زده کوونکی: ماضي فعل نشته. بل زده کوونکی: کله چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم رحلت کاوه،...	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	بل زده کوونکی : ماضي فعل رحلت کاوه په همدې توګه د ټول متن هره جمله يو زده کوونکی لولي، او بل زده کوونکی ماضي فعل په کې ښيي او بيا په خپله بله ورپسې جمله لولي او بل زده کوونکی يې ماضي فعل ښيي. که ماضي فعل په جمله کې نه وي، وايي نشته ، او ورپسې جمله لولي، تر اخره پورې. ماضي فعل هغه دی چې په تېره زمانه کې واقع شوی وي ، لکه ؛ رحلت کاوه، راغی ، ولوست او داسې نور.	
۴ ارزیابي	- ښوونکی لغتونه په تور تخته ليکي. زده کوونکي يو يو تن د ټولګي مخې ته راځي لولي يې ، معنی کوي يې او په جملو کې يې ليکي. اطاعت ، رحلت ، حضور ، قبول ، سوغات مثال : اطاعت ، معنا يې تابع او سپړل ؛ په جمله کې : موږ بايد د خپلې مور اطاعت وکړو. کورنی کار : (جنت د مور او پلار تر پښو لاندې دی)، په دې هکله څو کرښې مقاله وليکئ.	تور تخته کتابچې

درسي پلان : ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی له څو تنو زده کوونکو څخه غواړي چې له خپلو کتابچو څخه خپلې مقالې په نوبت سره ولولي. نور زده کوونکي په ځير سره غوږ نيسي. ښوونکی / زده اصلاحات کوي، د لوستونکي له متن څخه ځينې جملې په تور تخته ليکي.	کتابچې تور تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ـ ښوونکی هغه کوي چې زده کوونکي د لیکلو په وخت کې د کتاب رسم الخط په پام کې ونیسي.	
۲ په متن کارکول ۳ مشق او تمرین	ـ لومړی ګروپ دې د ۵۲ مخ د متن اته کرښې په غور په ټیټ آواز ولولي. دویم ګروپ دې له نهمې کرښې څخه تر دیارلسمې کرښې پورې؛. دریم ګروپ دې له څوارلسمې کرښې څخه تر نولسمې کرښې پورې څلورم ګروپ دې د متن پاتې برخه ولولي. هرګروپ دې د خپلې برخې ماضي فعلونه چې په تیر درس کې یې لوستي وو په اولنی زمانه (حال) بدل کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي. ښوونکی څارنه او د ضرورت په وخت مرسته او لارښوونه کوي، مثالونه په خپله ورته تشریح او د ماضي او حال توپیرونه ورته بیانوي بیا دې د هرګروپ مشر، د خپل ګروپ د کار نتیجه په نوبت سره د ټولګي په مخ کې له کتابچې څخه ولولي. نور زده کوونکي دې بحثونه، سمونې او تبصرې وکړي او خپلې تېروتنې دې اصلاح کړي. ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي. مثال: ماضي — حال رحلت کاوه — رحلت کوي وویل — وایي ولاړ — ځي پوښتنه یې وکړه — پوښتنه یې کوي / وایي ترپایه پورې ______ د ماضي فعل هغه دی چې په تېره زمانه کې ترسره شوی وي لکه ولاړم، ډوډۍ مې وخوړه، موږ سبق وایه. د حال فعل هغه فعل دی چې په اولنۍ زمانه کې ترسره کیږي، لکه، زه ځم، زه ډوډۍ خورم، موږ سبق وایو.	کتاب کتابچې
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی د هغه لاندې کلمې پرتخته لیکي: تلل، خوړل، ویل، لیږل (او دغه راز نور مصدرونه) له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره، لومړی د هرې کلمې د حال فعل او بل زده کوونکی یې ماضي فعل په شفاهي جملو کې ووايي، تلل، لومړی زده کوونکی زه ځم بل زده کوونکی - زه ولاړم. کورنی کار نشته	توره تخته

د حضرت علي رضی الله عنه اخلاق

حضرت علي رضی الله عنه د ابو طالب زوی دی. دی د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم د تره زوی، زوم او ځانګړی یار دی. حضرت علي رضی الله عنه د لوی فکر څښتن، لوی عالم، زړور او د غوره اخلاقو خاوند و. له حضرت محمد صلی الله علیه و سلم سره یې ډېره مینه درلوده. د ځنګړو سره به یې ښه رویه کوله. په اخلاص توریالی او د اسلام په خدمت کې یې ستړیا نه درلوده. ځکه یې د اسد الله لقب ګټلی و. کله چې به د اسلام له دښمنانو سره مخامخ شو، الله اکبر به یې کړل، د کفارو زړونه به وښوېدل او ورې به د مسلمانانو په برخه شو.

یوه ورځ حضرت علي رضی الله عنه پر لاره روان و. د اسلام یو دښمن په مخه ورغی. سمدلاسه یې له حضرت علي رضی الله عنه سره جګړه پیل کړه. حضرت علي رضی الله عنه ورته ووېل چې غالبه، مسې راته اوره ولې ځوروې. څه ځیل کار کوې. الله جل جلاله دې پر سمه لار روان کړي. هغه سړي ورته په سپکو سپورو خبرو پیل وکړ. نور نو د حضرت علي رضی الله عنه حوصله خته شوه او توره یې ته لاس کړ. هغه هم خپله توره راوویسته.

۵۴

پر حضرت علي رضی الله عنه یې ګذار وکړ. حضرت علي رضی الله عنه ځان وژغوره. بیا دواړه ښه په جګړه شول. آخر یې هغه کافر راوغورځاوه او پر سینه یې ورته کېناست. په دې وخت کې هغه کافر د حضرت علي رضی الله عنه پر مخ لاړې تو کړې. حضرت علي رضی الله عنه سمدلاسه د هغه له سینې څخه پاڅېد او توره یې په تېکي کې کېښوده.

کافر حیران شو او له حضرت علي رضی الله عنه څخه یې پوښتنه وکړه چې ولې دې پرېښودم؟ حضرت علي رضی الله عنه ځواب ورکړ: "اول مې ستاسره ځان د الله جل جلاله د رضا د حاصلولو له پاره ښکېل وو او اوس چې دې پر مخ لاړې راتو کړې نو ګله زما په نفس کې غوسه پیدا شوه. که اوس دې ووژنم نو دا به د الله جل جلاله د رضا له پاره نه وي."

کافر چې دا خبره واورېده، له وارو یې کلمه ووېله او مسلمان شو.

نوي لغتونه

رویه ورې وژغوره تېکی خلاص رضا

۵۵

د کتاب مخونه: ۵۴ – ۵۵

عنوان: د حضرت علي رض اخلاق

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن په سمه توګه ولوستلای شي.
- د متن په مطلب او مفهوم پوه شي.
- د متن مطلب په خپله ژبه وویلای شي.
- په متن کې د [صفت] او [نوم] کلمې وپېژني او ویې لیکي.
- د حضرت علي رض په کارنامو او اخلاقو پوه شي.

درسي پلان: ۱

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	– ښوونکی په تور تخته لیکي: «جنت د مور او پلار تر پښو لاندې دی». – یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي په لوړ آواز یې لولي. – ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې یو، یو د ټولګي مخې ته راشي او په دې باب خپل نظریات بیان کړي. – ښوونکی پوښتنه کوي: د حضرت پیغمبر ص ځو یاران وو	تور تخته

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>نومونه یې واخلئ. زده کوونکي ځواب وايي.</td><td></td></tr>
<tr><td>۲
په متن
کارکول</td><td>- ښوونکی / زده کوونکی د کتاب ۵۴ مخ پر متن تر [په سپکو سپورو خوله پرانیسته] پورې د پخوانیو درسونو په شان کار کوي.</td><td>کتاب</td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرین</td><td>- ښوونکی زده کوونکي پر ګروپونو ویشي. د هرګروپ له پاره مشر ټاکي.
د الف ګروپ زده کوونکي له متن څخه د صفت کلمې په خپلو کتابچو کې لیکي.
د ب ګروپ زده کوونکي له متن څخه نومونه په خپلو کتابچو کې لیکي.
د هرګروپ مشر د ټولګي مخې ته راځي او د خپل ګروپ کار کړدګي بیانوي.
زده کوونکي خپلې غلطۍ سموي.
مثال:
<table><tr><th>نوم</th><th>صفت</th></tr><tr><td>فکر ، مینه
اسلام</td><td>لوړ ، لوی، زړور
غوره</td></tr></table></td><td>کتاب
کتابچې</td></tr>
<tr><td>۴
ارزیابي</td><td>- زده کوونکي یوه یوه برخه متن په لوړ آواز لولي.
لاندې سوالونو ته شفاهي ځواب وايي.
۱- حضرت علی رض د چا زوی دی؟
۲- حضرت علي رض څنګه د اسدالله لقب ګټلی و؟
۳- حضرت علي رض له حضرت محمد ص سره څه اړیکې درلودلې؟
۴ . . . .
۵ . . . .</td><td>کتاب</td></tr>
</table>

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی په شفاهي توګه له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي: حضرت علي رض د چا زوی و؟ حضرت علي رض د حضرت محمد ص څوم یار و؟ له حضرت محمد ص سره یې څه اړیکې لرلې؟ حضرت علي رض څنګه سړی و؟	
۲ په متن کار کول	- د متن پر پاتې برخه په ۵۴ - ۵۵ مخونو کې د تېرو درسي پلانونو په شان کار کېږي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د متن مطلب په خپله ژبه په لنډه توګه په کتابچو کې ولیکي. یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او لیکل شوی مطلب ټولګیوالو ته بیانوي زده کوونکي بحث او سمونې کوي. ښوونکی شفاهي پوښتنې کوي: حضرت علي رض له کافر سره په څه شخړه وه؟ د حضرت علي رض په څه باندې له کافر سره ذاتي شخړه پیدا شوه؟ حضرت علي رض د کافر په هکله څه وکړل. حضرت علي رض ځواب ورکړ: اول مې درسره خاص د الله ج د رضا د حاصلولو له پاره شخړه وه او اوس دې چې پر مخ لاړې را تو کړې نو شخصي دښمني مې درسره پیدا شوه. - زده کوونکي جوابونه وایي، بحث کوي. ښوونکی لارښوونه کوي.	کتاب کتابچې
۴ ارزیابي	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د متن یوه یوه برخه ولولي زده کوونکي پر دوو ګروپونو ویشي: د الف ګروپ د ب له ګروپ څخه او د ب ګروپ د الف له ګروپ څخه پوښتنې کوي چې د لوستل شوي متن صفتونه او نومونه (یو زده کوونکی یو نوم یا صفت) په شفاهي توګه وښیي. کورنی کار: زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په مناسبو جملو کې ولیکي. دویه - بری - وژغوره - تېکې - خاص - رضا.	کتاب کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- څو زده کوونکي په نوبت سره د تختې مخې ته راځي او خپل کورني کارونه لولي. ښوونکی / زده کوونکی ځینې جملې پر تخته لیکي زده کوونکي / ښوونکی غلطۍ سموي. رویه - کردار : سلوک زه له هرچا سره ښه رویه کوم. رضا - خوشحالي : زه هر کار د خدای ج د رضا له پاره کوم.	کتابچې تور تخته
۲ په متن کارکول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب ۵۴ مخ پرانیزي - هر زده کوونکی په مناسب جګ آواز د متن څو جملې لولي. ښوونکی / زده کوونکی غلطۍ سموي. - ښوونکی هڅه کوي چې هغه زده کوونکي د متن په لوستلو کې برخه واخلي چې لاس نه پورته کوي. نور زده کوونکي متن تعقیبوي	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي چې د درس مطلب په خپله ژبه ووایي. ښوونکی/زده کوونکی غوږ نیسي او د لوستونکو غلطۍ سموي. - ښوونکی د دې تمرین له پاره هغه زده کوونکي غوره کوي چې د خبرې کولو مهارت یې ښه وده نه وي کړې.	
۴ ارزیابي	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي د مفعولونو د معناوو پوښتنه کوي چې د دې درس په ټول متن کې ګران او نوي بریښیدلي دي. کورنی کار : زده کوونکي دې د ښو اخلاقو په باره کې څو څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکي.	کتاب کتابچې

بي بي خديجه رضی الله عنها

بي بي خديجه رضی الله عنها د حضرت محمد صلی الله عليه و سلم مشره مېرمن وه. دا لومړنۍ ښځه وه چې د حضرت محمد صلی الله عليه و سلم په پيغمبرۍ باندې يې ايمان راوړ. دا د قريشو يوه بارسوخه مېرمن وه. د پوهې، هوښيارۍ، ښو اخلاقو، مال او دولت په لحاظ يې ښه نوم او شهرت درلود. له بېوزلو سره يې مرسته کوله. ډېره مهربانه او زړه سواندې وه.

بي بي خديجې رضی الله عنها له حضرت محمد صلی الله عليه و سلم سره تر واده دمخه سوداګري کوله. خپل مالونه به يې بېوزلو خلکو ته ورکول چې خرڅ يې کړي.

حضرت محمد صلی الله عليه و سلم هم په ځوانۍ کې سوداګري کوله. د نورو خلکو مالونه به يې هم کله کله د خرڅلاو لپاره ورل راوړل.

بي بي خديجې رضی الله عنها هم خپل مال حضرت محمد صلی الله عليه و سلم ته ورکړ چې تجارت پرې وکړي او خپل يو مريی يې هم ورسره کړ. بېرته چې راغلل، مريي يې ورته د حضرت محمد صلی الله عليه و سلم د صداقت، ښو اخلاقو او امانتدارۍ قصې وکړې. بي بي خديجه رضی الله عنها دې ته مايله شوه چې واده ورسره وکړي. پيغام يې

٥٦

ور واستاوه. حضرت محمد صلی الله عليه و سلم له خپل تره، ابو طالب، سره تر مشورې وروسته له هغې سره واده وکړ. دغه وخت حضرت محمد صلی الله عليه و سلم پنځه ويشت کلن و او بي بي خديجه څلوېښت کلنه وه.

دکتاب مخونه: ٥٦ - ٥٧

عنوان: بي بي خديجه رض

د درسونو شمېر: ٣

هدفونه: زده کوونکي باید:

- بي بي خديجه رض د پېژندنې د هغې د شخصيت، او شخصي ژوند په باب معلومات پيداکړي.
- متن په سمه توګه ولولي
- د متن د کلمو په معناوو پوه شي.
- د متن مطلب په خپله ژبه وويلای شي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
١ هڅونه	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې يو يو تن د ټولګي مخې ته راشي او خپل کورنی کار ولولي. ښوونکی / زده کوونکی غوږ نيسي ښوونکی د زده کوونکو ځنې جملې په توره تخته ليکي. ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي تا سو د اسلام	کتابچې توره تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	د نومیالیو ښځو (بیبیانو) نومونه واخلئ ؟ ـ زده کوونکي لاس پورته کوي ځواب وایي . ـ که چا د بي بي خدیجې رض نوم واخیست ښوونکی هغه په تور تخته لیکي . که یې چا نوم وا نه خیست ، په خپله ښوونکی وایي له بیبیانو څخه یوه بي بي خدیجه رض ده او دغه نوم پر تخته لیکي . مونږ باید ښه سلوک او اخلاق تر هرڅه غوره وګڼو . اخلاق د ژوند لوی بریالیتوب دی اخلاقي هلك هرڅوک خوښوي .	تور تخته
۲ په متن کارکول	ـ زده کوونکي متن تر [خرڅلاو له پاره ورل راوړل] پورې د پخوانیو درسونو په شان لولي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی لاندې نیمګړې جملې او د کلمو فهرست پر تخته لیکي. ـ له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د جملو په خالي ځایونو کې په خپلو کتابچو کې ، مناسبې کلمې ولیکي او جملې بشپړې کړي . ـ دا لومړنۍ ــــــ وه چې پر حضرت محمد ص باندې یې ایمان راوړ . ـ دا د ــــــ یوه با رسوخه مېرمن وه . ـ د ښو اخلاقو په لحاظ یې ښه ــــــ درلود . ـ بي بي خدیجې ــــــ کوله . ـ خپل مالونه به یې ښوږلوته ورکول چې ــــــ یې کړي . ـ دا مهربانه او ــــــ وه . ـ له ښوږلو سره یې ــــــ کوله . ـ بي بي خدیجه رض د حضرت محمد ص مشره ــــــ وه . ـ دې د حضرت محمد ص پر ــــــ باندې ایمان راووړ . خرڅ سوداګري مېرمن ښځه شهرت قریشو زړه سواندې مرسته پیغمبرۍ	تور تخته کتابچې کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې دوه په دوه خپلې کتابچې بدلې او خپلې جملې سره مقایسه کړي او خپلې غلطۍ سمې کړي.	کتابچې
	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره خپلې جملې ولولي . ښوونکی سمې کلمې د تختې د جملو په تشو ځایو کې لیکي.	کتابچې توره تخته
	ـ زده کوونکي خپلې غلطې جملې په خپلو کتابچو کې سموي.	کتابچې
۴ ارزیابي / لنډیز	ـ ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکي ځوابونه وایي. ـ بي بي خدیجه رض د حضرت محمد ص. څو ومه مېرمن وه؟ ـ بي بي خدیجې رض په څو کلنۍ کې له حضرت محمّد ص سره واده وکړ؟ ـ حضرت محمّد ص څو کلن و چې لومړی واده یې وکړ؟ او داسې نور ... کورنی کار : دلوست پاتې برخه په کور کې ولولئ گران لغتونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.	کتابچې

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توگه پوښتنې کوي: ـ هغه بي بي څوک وه چې په ښځو کې لومړی په پیغمبر ص ایمان راوړی و؟ ـ تاسو د همدغې مېرمنې صفتونه ووایئ. ـ حضرت محمّد ص په ځوانۍ کې څه کول؟ ـ د حضرت محمّد ص اړیکې له بي بي خدیجې سره څنگه پیدا شوې؟ د کورني کار کتل : ښوونکی دې غوښتنه وکړي چې زده کوونکي هغه کلمې له خپلو کتابچو څخه ولولي چې په خپلو کتابچو کې یې په	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۳ مشق او تمرین	• زده کوونکي د متن هغه سخت یا نوي لغتونه چې معنی شوي دي او په تخته لیکل شوي دي . په خپل نوبت سره یو ، یو ، په جملو کې استعمالوي . • ښوونکی د متن څخه څو کرښې املا وایي ، زده کوونکي يې په کتابچو کې لیکي. بیا کتابچې د خپلو انډیوالانو سره تبادله کوي ، یو د بل غلطۍ سموي. ښوونکی د هغو کلمو سمه املا پر تخته لیکي چې ډېرو زده کوونکو غلطۍ لیکلې وي .	توره تخته کتاب کتابچې
۴ ارزیابي	• زده کوونکي د متن یوه یوه برخه لولي ، ښوونکی غلطۍ سموي او مرسته کوي . - ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي . - څوک به ټوله کیسه په خپله ژبه ووايي . - زده کوونکي په نوبت سره کیسه وايي . - ښوونکی د متن د نویو کلمو د معنی پوښتنه کوي (بوخت ، مشر ، منښه ...) - زده کوونکي د لغتونو معناوې وايي (مشغول ، بدي ، تشکر ...) کورنی کار: زده کوونکي د کیسې څخه د خپلې خوښې جملې په خپلو کتابچو کې لیکي.	کتاب کتابچې

درسي پلان : ۳.

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	• هر زده کوونکی د خپل انډیوال سره د خپل کورني کار کتابچې بدلوي . • ښوونکی او زده کوونکي غلطۍ سموي . • څو تنه زده کوونکي په خپل نوبت سره د ټولګي مخې ته راځي او د متن یوه ، یوه برخه لولي . • ځینې زده کوونکي د ټولګي مخې ته راځي ، د قصې مطلب بیانوي.	کتابچې کتاب
۲ په متن کار کول	• ښوونکی په توره تخته د غه علامې [. ، ؟] لیکي . • ښوونکی زده کوونکو ته وايي چې دا علامې په متن کې پیدا کړئ. • زده کوونکي د متن په سم لوستلو سره پیدا کوي چې کله جمله	توره تخته کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	کورکې لیکلي دي. ښوونکی/ زده کوونکي هغه کلمې پر توره تخته له معناوو سره لیکي او زده کوونکي یې په کتابچوکې لیکي.	توره تخته
۲ پر متن کارکول	ـ څو زده کوونکي په نوبت سره د متن څوڅو جملې په لوړ مناسب آواز لولي (د متن پاتې برخه) ښوونکی ټول متن لولي او زده کوونکي په پټه خوله خپل ښوونکی تعقیبوي ښوونکی مشکل عبارتونه تشریح کوي. ـ څو زده کوونکي د متن مطلب په خپله ژبه وايي. نور زده کوونکي بحث او سمونې کوي. ښوونکی مرستې کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ زده کوونکي پر دوو ګروپونو کې کار کوي. د هر ګروپ له پاره مشر ټاکل کیږي: ـ د الف ګروپ: د نني درس مطلب په خپله ژبه په کتابچوکې لیکي. ـ د ب ګروپ: د پروني درس مطلب په خپله ژبه لیکي. ـ ښوونکی د ټولګي څارنه کوي په دغه وخت کې زده کوونکي کولای شي چې په ډېره نرمۍ او پټه خوله (خفیه آواز) د څنګ له انډیوال څخه مرسته وغواړي. خولیکل به یې خپل وي ـ د هر ګروپ زده کوونکي یو بل ته (د څنګ انډیوال) کتابچې د غلطۍ د سمولو له پاره ورکوي. ـ د هر ګروپ مشر (سرګروپ) د ټولګي مخې ته راځي او د خپل ګروپ کار لولي	کتابچې کتابچې کتابچې
	کورنی کار: د کتاب د لیکنې په پام کې نیولو سره د متن ۷ کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکي. (د ښه لیکلو مشق)	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ــ ښوونکی د زده کوونکو کورني کارونه ګوري. ښوونکی پر تخته باندې غلطۍ سموي او د ښه لیکلو طرز ښیي. ــ ښوونکی له ځینو زده کوونکو څخه غواړي چې ځینې کلمې په ښه خط پر تخته ولیکي.	کتابچې تور تخته تور تخته
۲ په متن کارکول	ــ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب ۵۶ مخ پرانیزي. ــ ښوونکی له زده کوونکي (د ټول متن تکرار) څخه غواړي چې په نوبت سره د متن یوه یوه جمله ولولي. ــ نور زده کوونکي په پټه خوله لوستونکی تعقیبوي. که کوم زده کوونکی وغواړي چې د لوستونکي غلطۍ سمې کړي اجازه اخلي او جمله / کلمه په سمه توګه لولي. ــ کله چې ټول متن خلاص شي، یو زده کوونکی په نوبت سره یو پراګراف لولي. ــ ښوونکی باید متیقن شي چې ټول زده کوونکي په متن او هغه په معنی او مطلب پوهېدلي دي.	کتاب کتاب کتاب
۳ مشق او تمرین	(د متضادو کلمو پېژندل) متضادې کلمې دوو داسې کلمو ته وايي چې په معنا کې یوه د بلې ضد وي، لکه: شپه ؛ ورځ، تیاره ؛ رڼا ؛ نوی ؛ زوړ . . . ــ ښوونکی له متن څخه ځینې کلمې پر تخته لیکي، لکه: ښځه ؛ نر هوښیار ؛ ښه ؛ ښوزله ؛ مشر ؛ مهربان ؛ او نورې . . . ښوونکی له یو زده کوونکي څخه غواړي چې یوه کلمه ووايي ؛ بل زده کوونکی د هغې ضد وايي او دا اصلي کلمې په خوا کې یې لیکي. چاچې جواب ورکړی وي، بله کلمه لولي ؛ بل زده کوونکی ورته جواب وايي. د تختې کلمې چې خلاصې شي زده کوونکي له کتاب څخه کلمې انتخابوي او یو بل ته جوابونه وايي. اصلي کلمې او د هغو ضد پر تخته لیکل کېږي. زده کوونکي متضادې کلمې، په ترتیب سره خپلو کتابچو ته نقلوي.	کتاب تور تخته کتابچې
۴ ارزیابي	ــ ښوونکی د متن یوه برخه پر زده کوونکو لولي او د ځینو لغتونو د معنا وپوښتنه کوي: شهرت، بارسوخه، مرلې، صداقت، پیغام کورنی کار: د علم نظم مطالعه کړئ.	کتاب

دکتاب مخ: ۵۷

عنوان: علم

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- ● متن په سمه او روانه توګه ولوستلای شي.
- ● د هر بیت مطلب په خپله ژبه وویلای شي.
- ● د [علم] د شعر مطلبونه ولیکلای شي.
- ● د متن د لغاتو ضد لغتونه وپېژندلای شي.
- ● د علم او پوهې په باب څه ولیکلای شي.

علم

که انسان چیرې بې علمه بې هنر وي
نه له دین، نه له دنیا نه څه خبر وي
د جاهل مثال د هسې ړوند انسان دی
چې ماښام غونډې تیاره ورته سحر وي
له خپل ځان او له جهانه بېګانه وي
بې خبره له معنی د خیروشر وي
له عالم سره په جنګ او په کینه وي
د خپل ځان او نورو خلکو په ضرر وي
د جاهل په سترګو زر وي لکه خاورې
د عالم په لاس کې خاورې لکه زر وي
علم ښه دی چې عمل ورسره مل وي
که عمل نه وي نو علم بې ثمر وي

نوي لغتونه

بارسوخه مربی مایله پیغلم هنر بېګانه علم مل بې ثمر

۵۷

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	– ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکي ځوابونه وايي. ● ویلای شئ چې عالم سړی ښه دی که بې علمه؟ زده کوونکي په نوبت سره د خپلو تجربو له مخې نظر ورکوي. ● ویلای شئ چې ناپوهه سړی د چا په شان وي؟ زده کوونکي خپل نظر ورکوي. ښايي ووايي چې د ړوند او کوڼ په شان وي. ● ښوونځي ته د څه له پاره راځئ؟ زده کوونکي په نوبت سره د خپلو هیلو مطابق ځوابونه وايي. ● یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د علم د ګټو په باره کې خبرې کوي.	
۲ په متن کارکول	– ښوونکی وايي چې زده کوونکي دې متن تر پایه پورې په پټه خوله ولولي، نوي یا سخت لغتونه په نښه کړي.	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- زده‌کوونکي متن په پټه خوله لولي نوي یا سخت لغتونه په نښه کوي. - ښوونکی په ټولګي کې د زده‌کوونکو د لوستلو څارنه کوي او په ټولګي کې ګرځي. - زده‌کوونکي په نوبت سره یو، یو نوی لغت وایي. ښوونکی/ زده‌کوونکی یې پر تخته لیکي. - ښوونکی هڅه کوي چې نوي لغتونه د زده‌کوونکو په واسطه معنی کړي. - ښوونکی/ زده‌کوونکی د نویو لغتونو د معنی کولو له پاره آسانې جملې یا مثالونه وایي او د هر لغت معنی د هغه په څوا کې لیکي. - بیا یې زده‌کوونکي کتابچوته نقلوي. - ښوونکی په طبیعي جګ آواز متن لولي. زده‌کوونکي کتابونو ته ګوري غوږ نیسي. - بیا زده‌کوونکي په نوبت سره د درس یو یو بیت لولي.	کتاب تور تخته کتابچې کتاب کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده‌کوونکي په ۶ ګروپونو ویشي او په شعربانډې په لاندې توګه کار کوي. ۱ ګروپ پر اول بیت (دووګرښو) باندې؛ ۲ ګروپ پر دویم بیت؛ ۳ ګروپ پر دریم بیت؛ ۴ ګروپ پر څلورم بیت، ۵ ګروپ پر پنځم بیت؛ ۶ ګروپ پر شپږم بیت. - ښوونکی ګروپونو ته لارښوونه کوي چې هر یو دې خپل مربوط بیت په غور سره ولولي او په کراره (بې له شور ماشوره) دې مشوره وکړي، چې په بیت کې څو مطلبه بیان شوي دي مطلبونه دې په خپلو کتابچو کې ولیکي. د ښوونکي له پاره مثال: لومړی بیت دغه لاندې مطلبونه لري: ۱) که انسان بې علمه وي ، له دین نه خبرنه وي. ۲) که انسان بې علمه وي ، له دنیا نه خبر نه وي. ۳) که انسان بې هنره وي ، له دین نه خبر نه وي.	کتاب کتاب کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۴) که انسان بې هنره وي ، له دنیا نه خبر نه وي . ـ ښوونکی دې د بېتونو د مطلبونو د پیدا کولو طریقه زده کوونکو ته پر تخته باندې د مثال په شان وروښیي ، خودغه مثال دې ورنه کړي ، یو دوه نورې نمونې دې ورکړي (ښوونکی دې د لارښود د لومړۍ برخې ۱۰۶ ـ ۱۰۸ مخونه هم ولولي او مثالونه دې د کتاب له ۳۹ ـ ۴۰ مخونو ، د وطن ترانه څخه ، چې زده کوونکو مخکې لوستلي دې ورکړي .) ښوونکی د ټولګي څارنه کوي او که ضرورت وي زده کوونکو سره مرسته او ورته لارښوونه کوي . ـ کله چې زده کوونکي تمرین خلاص کړي ، د هر ګروپ زده کوونکي په نوبت سره ، د ټولګي مخې ته دریږي او د کار نتیجه له خپلې کتابچې څخه لولي . نور زده کوونکي بحثونه تبصرې او سمونې کوي . ښوونکی مرسته کوي .	کتاب تخته لارښود کتابچې
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی دوه ـ دوه زده کوونکو ته نوبت ورکوي ، یو زده کوونکی د کتاب له مخې دوه دوه مصرعې وایي او بل یې په خپله ساده ژبه مطلب وایي ، د دې له پاره چې نظم په نثر بدل شي . ـ له دین او دنیا څخه څوک بې خبره وي ؟ (زده کوونکي ځواب ورکوي چې بې علمه سړی) . ـ جاهل د څه رنګه انسان په مثال دی ؟ (زده کوونکي : د ړندو په مثال دی .) ـ څوک به له خپل خېر او شر څخه بې خبره وي ؟ (بې علمه سړی) کورنی کار : تاسو هم د خپل پلار یاد جومات له امام سره مشورې وکړئ او د علم ګټې په خپلو کتابچوکې ولیکئ . ـ د شعر دوه بیته یاد کړئ .	کتاب کتابچې کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ مخونه	ـ ښوونکی پوښتنې ، زده کوونکي جوابونه وايي : ـ په يوه ټولنه کې د عالم قدر زيات وي که د جاهل ؟ ـ ولې موږ او تاسو د علم د حاصلولو له پاره ډېر کوښښ کوو ؟ ـ عالم خپل ځان ، وطن ، کور او کلي ته څه گټه رسولی شي ؟ ـ يو يو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د علم گټې سره د مثالونو نورو زده کوونکو ته لولي . ـ ښوونکی له څو تنو زده کوونکو څخه غواړي چې خپل کورني کارونه په نوبت سره له خپلو کتابچو څخه ولولي . ـ زده کوونکي بحث تبصرې او سمونې کوي . ښوونکی مرسته کوي .	کتابچې
۲ په متن کارکول	ـ ښوونکی په طبيعي جګ آواز متن لولي او زده کوونکي غوږ نيسي . ښوونکی په عادي توګه او د شعر ويلو په طرز په فصاحت او بلاغت سره شعر لولي . ـ ښوونکی له زده کوونکو سره په لوستلو کې مرسته کوي . ـ په آخر کې يو زده کوونکی ټول شعر په سمه ، روانه او د شعر د لوستلو په طرز لولي ، نور ورته غوږ نيسي .	کتاب کتاب
۳ مشق او تمرين	ـ ښوونکی پر تخته باندې د « عالم » لغت ليکي او په خوا کې يې د هغه ضد لغت « جاهل » ليکي . ـ بيا يو زده کوونکی د کتاب له مخې يو لغت وايي ، بل زده کوونکی يې ضد لغت هم د متن څخه پيدا کوي او دريم زده کوونکی يې په تخته باندې ليکي . که د کلمې ضد په متن کې نه وي ، په خپله يې پيدا کوي . ـ ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي او ډېرو زده کوونکوته نوبت ورکوي چې دې مشق ته دوام ورکړي . ـ زده کوونکي نورې کلمې له متن څخه پيدا	کتاب توره تخته کتاب

لغت	ضديې
جاهل	عالم
گټه	
پړوند	
بې خبره	
جنګ	
کينه	
مينه	
تياره	
علم	
او نور ...	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	کوي اوبیا زده کوونکی یې د هر ستون لاندې لیکي . بیایې زده کوونکي کتابچو ته نقلوي .	کتابچې
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکي ځوابونه وایي . ـ څوک همېشه د خلکو سره په جنګ او په کینه وي ؟ (ښایي ووایي چې بې علمه او جاهل سړی) ـ جاهل د خپل ځان او نورو خلکو په ضرر وي که په ګټه ؟ ـ له سپېرو خاورو څخه زر جوړول څه معنا لري ؟ کورنی کار : ـ په خپل کورکې د پلار ، ورور سره دا درس ولولئ او مطلب یې په خپلو کتابچوکې ولیکئ . ـ د شعر ۴ بیته یاد کړئ .	

درسي پلان : ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکي جوابونه وایي . ـ د علم سره څه کول ضروري دي ؟ نور زده کوونکي جوابونه وایي (ښایي زده کوونکي ووایي چې : [عمل] ضرور دی) ـ څه باید وکړو چې د دین او دنیا له کارونو څخه خبر شو ؟ ـ د خپل ځان او نورو خلکو په ګټه د څه په واسطه راتلای شو ؟ ـ جنګ او کینه کول د چا کار دی ؟ ـ روښانه سحرونه چاته د ماښام غونډې تیاره ښکاري ؟ ـ یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او له خپلو کتابچو څخه د علم په باب خپله معلومات لولي .	
۲ په متن کارکول	ـ ښوونکی وایي چې کتابونه پرانیزئ ، بیا دوه دوه زده کوونکو ته نوبت ورکوي چې یو یو ، بیت ووایي اوبیا یې مطلب په ساده ژبه بیان کړي .	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ـ بیا څو تنه شاګردان په نوبت سره د علم په باب خپل معلومات په خپله ژبه وایي . نور زده کوونکي بحث او تبصره کوي .	
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی د شعر ۱۰ کرښې پر تخته لیکي او په هره کرښه کې د یوه لغت ځای خالي پرېږدي او له شعر څخه حذف شوي لغتونه د تختې په بله څنډه کې فهرست کوي . له زده کوونکو څخه غواړي چې مربوط لغت په خالي ځای کې په خپلو کتابچو کې ولیکي : ـ که انسان چېرې بې علمه بې ـــ وي نه له ـــ ، نه له دنیا څه خبر وي د جاهل مثال د هسې ـــ انسان دی چې ماښام غوندې ـــ ورته سحر وي له خپل ځان او له ـــ بېګانه وي بې خبره له معنی د ـــ و شر وي له عالم سره په ـــ او په کینه وي د خپل ځان او نورو ـــ په ضرر وي د جاهل په ـــ زروی لکه خاورې د ـــ په لاس کې خاورې لکه زر وي خلکو عالم تیاره خیر هنر جنګ جهان سترګو دین ړوند	تور تخته کتابچې
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکي ځوابونه وایي : • که عمل نه وي نو علم څنګه دی ؟ • بې خبره سړي چاته ویل کیږي ؟ • د جاهل په نظر سره زر څنګه ښکاري ؟ • که څوک بې علمه او بې هنر وي څه تاوان به وکړي ؟	

بې زحمته راحت نشته

زموږ په کلي کې یو خوان و. کار یې نه کاوه. تل به یې له خلکو څخه غلې، داني او پیسې پوروړلې.

یوه ورځ ډېر وګرځېد. هیچا پور ور نه کړ. له ځان سره یې وویل چې د محمود پلار پوشتمن او ښه سړی دی. ور به شم. څه به ځنې وغواړم.



ځوان د محمود پلار ته ورغی. خپلې ستونزې یې ورته ووېلې. هغه چې د ده له بېکارۍ خبر و، ورته یې وویل: "یوه خبره درته کوم، که ویې منې، لږ څه غله به درکړم."

ځوان ورته وویل: "منم یې، څه راته وایې؟"



د محمود پلار ورته وویل: "زما پنځه جریبه للمي مځکه ده، قلبه وکړه. چې حاصل یې وکړ، زیاته برخه به یې تا ته درکړم."

ځوان د محمود د پلار په خبرو ډېر خوشحاله شو. سمدلاسه یې له یوه بزګر څخه قولبه وغوښته.

مځکه یې واړوله راواړوله. کاڼي او ګیاګانې یې ځنې ټولې کړې او ویې کرله. د قولبې او تخم پیسې د محمود پلار ورکړې.



ځوان په مځکه کې غنم وکرل. ښه بارانونه وشول. غنمو ښه وده وکړه. چې پاخه شول ویې رېبل. درمند یې کړل، میده یې کړل، پاک یې کړل. د درمند د اخیستلو لپاره یې د محمود پلار تلې ته وروباله. د محمود پلار غنم ووېشل. خپل پور یې ورڅخه وګرځاوه او ورته ویې ویل: "دا مځکه هر وخت کره."

ځوان ته ښه ډېر غنم په برخه کې ورسېدل. څه یې خرڅ کړل او څه یې د خوراک لپاره وساتل. ځوان چې د خپل کار او زیار نتیجه ولېده، نو وپوهېده چې رښتیا هم بې زحمته راحت نشته.

نوي لغتونه

پوروړل   للمه   بزګر   تلی

دکتاب مخونه: ۵۸ - ۵۹

عنوان: بې زحمته راحت نشته

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- ● متن په سمه توګه ولولي.
- ● د متن په مطلب پوه شي او په خپله ژبه یې وویلای شي.
- ● د زحمت، او راحت، په مفهوم پوه شي.
- ● د زحمت او راحت په هکله څه ولیکلای شي.
- ● له متن څخه نیمګړې جملې بشپړې کړي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنې کوي: علم څه ګټې لري؟ څنګه کولای شو چې پوهه لاس ته راوړو؟ - زده کوونکي لاس پورته کوي. د ټولګي مخې ته یو یو راځي ځواب وایي. - ښوونکی پوښتنه کوي: هغه زده کوونکي چې په درسونو کې زحمت او زیار نه کاږي نتیجه به یې څه وي؟ زده کوونکي فکر	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	کوي ، ځوابونه وايي .	
۲ په متن کارکول	ـ زده کوونکي / ښوونکی د ۵۸ مخ پر متن تر (زیاته برخه یې تاته درکړم) پورې د پخوانیو درسونو په شان کار کوي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ زده کوونکي دې د چوکاټ له کلمو څخه نیمګړې جملې بشپړې کړي . (چوکاټ: وایي ، غله ، وګرځېد ، خبره ، کلي ، محکمه ، قولبه ، شتمن ، ځني ، پلار) یوه ـــــــ درته کوم . زموږ په ـــــــ کې یو ځوان و . یوه ورځ د پر ـــــــ ، هیڅ پور ورنکړ . زما پنځه جریبه ـــــــ ده . ځوان د محمود ـــــــ ته ورغئ . څه را ته ـــــــ ؟ چې د محمود پلار یو ـــــــ او ښه سړی دی . ـ سمدلاسه یې له یوه بزګر څخه ـــــــ وغوښته . ـ څه به ـــــــ وغواړم . ـ زده کوونکي د ښنګ ملګري ته کتابچې د اصلاح د پاره ورکوي ـ ښوونکی د ټولګي څارنه کوي او غلطۍ سموي .	تور تخته کتابچې
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی د متن یوه یوه برخه پر زده کوونکو لولي . ـ یو یا دوه تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راځي ، د متن مطلب بیانوي . کورنی کار : د متن پاتې برخه په خپل کور کې ولولئ .	کتاب کتاب

درسي پلان ۲ :

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی په شفاهي توګه له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي . ـ ځوان چا ته ورغی او د څه شي له پاره ؟ د محمود پلار ځوان ته	

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>ختمه شي نو [.] ، دیوې جملې د بېلو ، بېلو برخو تر منځ [،] او د پوښتنې په آخر کې [؟] نښه راځي .
• ښوونکی متن داسې لولي چې د هرې یوې نښې مراعات په کې وشي په متن کې د هرې نښې د استعمال اهمیت او ځای ښیي .</td><td>کتاب</td></tr>
<tr><td>۳
مشق او تمرین</td><td>• ښوونکی څو جملې له کتاب څخه واریه وار په توره تخته لیکي او د [. ، ؟] علامې په کې استعمالوي ، :
مثال<table><tr><td>اکرم جانه [ ] ولې خوب نه درځي [ ]
......،......،......
... .؟</td><td>..... ....
........،.....،.........
............؟</td></tr></table>• زده کوونکي د [. ، ؟] د استعمال په ځایونو بحث کوي .
ښوونکی د متن څو جملې پر زده کوونکو د املا په توګه پر تخته باندې ، واریه وار لیکي او غوښتنه کوي چې د [. ، ؟] نښې یې هم په خپلو ځایونو کې ولیکي زده کوونکي پر هغو باندې بحث کوي او غلطۍ سموي .</td><td>توره تخته
کتاب</td></tr>
<tr><td>۴
لنډیز او ارزیابي</td><td>ښوونکی پوښتنې کوي .
• داسې یوه جمله ووایئ چې په آخر کې یې دا نښه راشي .
• که ووایم چې تازه مېوې عبارت دي له ؛ انګور ، زردالو ، شفتالو ، هندوانه ، ام ، کیله ، امرود او توت .
د دوی په منځ کې کومه نښه په کار ده .

کورنی کار : د کیسې څخه څو جملې په کتابچو کې ولیکئ او خپلې نښې په کې استعمال کړئ .</td><td>کتابچې</td></tr>
</table>

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	څه وویل ؟ ځوان د محمود د پلار په ځواب کې څه وویل ؟ ځوان ته د قولبې او تخم پیسې چا ورکړې ؟ زده کوونکی لاس پورته کوي یو یو تن د ټولګي مخې ته راځي ځواب وايي.	
۲ په متن کارکول	ـ د منځکنیو درسونو په شان دې کار وشي.	
۳ مشق او تمرین	ـ زده کوونکي پر دوو ګروپونو تقسیمیږي. د الف ګروپ او ب ګروپ. ـ د الف ګروپ: د متن د لومړۍ برخې مطلب په خپله ژبه په کتابچو کې لیکي. ـ د ب ګروپ: د متن د دویمې برخې مطلب په خپله ژبه په کتابچو کې لیکي. ـ زده کوونکي یو بل (د څنګ انډیوال) ته کتابچې د غلطیو د سمون له پاره ورکوي. ـ هر یو زده کوونکی (د ګروپ مشر) د ټولګي مخې ته راځي د خپل ګروپ کار بیانوي. ـ د زده کوونکو ځینې ناسمې جملې د ښوونکي په وسیله په توره تخته لیکل کیږي. زده کوونکي بحث ورباندې کوي او سمومي یې. ـ زده کوونکي یې په خپلو کتابچو کې لیکي. ـ زده کوونکي د تورې تختې په سر لیکل شوې جمله لولي ـ سخت لغتونه یې په نښه کوي. لغتونه معنا کوي او ځان پرې پوهوي.	کتاب کتابچې کتاب کتابچې کتابچې کتابچې توره تخته کتابچې توره تخته
۴ ارزیابي	ـ لاندې متضادې کلمې د کرښې په وسیله ونښلوئ. [دا کلمې په توره تخته د ښوونکي له خوا لیکل شوې دي.] شپه ـ زحمت ـ للمي ـ خوشحاله ـ سرته رسول ـ رښتیا ـ راحت ـ خفه ـ ورځ ـ اوبلنه ـ دروغ ـ سرغړول. ـ زده کوونکي دا کلمې په خپلو کتابچو کې لیکي.	توره تخته کتابچو

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	کورنی کار: [بې زحمته راحت نشته] په باب څلور، څلور کرښې متن و لیکئ.	کتاب

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی پوښتنه کوي: ستاسو پخوانی کار څه و ؟ - زده کوونکي جواب وايي. - ښوونکی: چا خپل کورنی کار تر سره کړی؟ زده کوونکي لاسونه جګوي. - ښوونکی څو زده کوونکي د ټولګي مخې ته په نوبت سره غواړي او غوښتنه ورڅخه کوي چې خپل کورني کارونه ولولي. - ښوونکی/ زده کوونکي د مقاله ویونکی پر مطالبو، جملو او کلمو بحث کوي او غلطۍ سموي. ځینې موضوعات پر تخته باندې تشریح کوي. ښوونکی دې زیاترو زده کوونکو ته ونډه ورکړي. چپ او غیر فعاله زده کوونکي دې و هڅوي چې په زده کړه کې کافي ونډه واخلي او فعاله شي.	کتابچې توره تخته
۲ په متن کارکول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب ۵۸ مخ پرانیزي. - زده کوونکي په مناسب لوړ آواز د متن وړې وړې برخې په نوبت سره لولي. نور زده کوونکي لومړی غوږ نیسي او بیا بحث او سمونې او یاد سم لوستلو تصدیق کوي. - بیا دوه زده کوونکي ټول متن په مناسب آواز لولي. - ښوونکی/زده کوونکي غلطۍ سموي. - ښوونکی هڅه کوي چې یوزیات شمیر زده کوونکي په لوستلو کې برخه واخلي.	کتاب کتاب کتاب
۳ مشق او تمرین	- زده کوونکي پر دوو ګروپونو تقسیمیږي "الف" او "ب" ګروپ (وخت په دوو برخو ویشي) - د الف ګروپ: د متن په اړوند د "ب" له ګروپ څخه پوښتنې کوي.	

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
	- چې د "الف" د ګروپ د مشق وخت خلاص شي د "ب" ګروپ یو له بل څخه د لغتونو د معنا ګانو پوښتنه کوي . - د دواړو ګروپونو په مشق او فعالیت کې ټول زده کوونکي غوږ نیسي (او که وغواړي تبصره کوي) پوډول - للمه - بزګر - تلی . - زده کوونکي لغتونه پر توره تخته معنا کوي او په جملو کې یې کاروي .	
توره تخته		
	- ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي چې د درس مطلب په خپله ژبه بیان کړي . کورنی کار : - متن د کتاب د رسم الخط په پام کې نیولو سره په خپلو کتابچو کې لیکي (د ښه لیکلو مشق) .	۴ ارزیابي
کتاب کتابچې		

کليوالي ژوند



يوه ورځ ښوونکي له زده‌کوونکو څخه پوښتنه وکړه ؛ د کليوال په معنی پوهېږئ ؟ شفيق تر ټولو دمخه لاس پورته کړ ، ويې ويل، هو ، په هغه کلي کې چې موږ ژوند کوو ، شاوخوا ګاونډيان مو کليوال بلل کېږي .

ښوونکي وويل ؛ هو ، ښه‌پېژنو . موږ ټول په کليو کې اوسېږو . شاوخوا ګاونډيان مو ، خپل دي که پردي ، پر موږ د ګاونډيتوب يو شان حقونه لري . څنګه چې خپلې کورنۍ ته مسؤليت لرو ، داسې خپلو کليوالو ته هم مسؤله يو چې ورسره مينه او محبت ولرو ؛ د هغوی خدمت او ورسره مرسته وکړو . موږ بايد د خپلو کليوالو په غم او ښادۍ کې ځان شريک وګڼو . چې په خوشحالۍ او نېکمرغۍ ژوند وکړو .



نوي لغتونه

ګاونډيتوب   بېګانه   مسؤليت

٦٠

د کتاب مخ : ٦٠

عنوان : کليوالي ژوند

د درسونو شمېر : ٢

هدفونه : زده کوونکي بايد :


- متن روان او سم ولولي
- د متن مطلب په خپله ژبه ووايي (او ويې ليکي)
- د کلمو له مجموعو څخه جملې جوړې کړي .
- د کليوال او کليوالي ژوند په مفهوم وپوهېږي .
- په کلي کې خپل مسؤليت او خپلې دندې وپېژني .
- له کليوالو سره د ښه سلوک کولو په اهميت پوه شي

درسي پلان : ١

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
١ هڅونه	ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي : – د زيار او زحمت نتيجه څه شی ده ؟ زده کوونکي لاس پورته کوي – يو يو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي خبرې کوي . – ښوونکی پوښتنه کوي ؟ تاسو چيرته اوسېږئ ؟ ښار دی که کلی ؟ – څو زده کوونکي ځوابونه وايي .	
٢ په متن کارکول	– ښوونکی / زده کوونکي د ٦٠ مخ پر متن تر [يو شان د ګاونډيتوب حقونه لري] پورې د ښوونيز درسونو په شان کار کوي .	کتاب
٣ مشق او تمرين	– ښوونکی څو تنه زده کوونکي په نوبت د ټولګي مخې ته رابولي چې په تورو تخته دا کلمې وليکي : کليوال ، کليوالي ، ګاونډيان	تور تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ګاونډیتوب ، خپل ، بېګانه ، مسؤلیت له لیکلو څخه وروسته یو زده کوونکی له بل څخه پوښتنه کوي کلیوال څوک دي؟ کلیوالي ژوند څه ته وایي؟ ګاونډیان څوک دي؟ ګاونډیتوب څه ته وېل کېږي؟ زده کوونکي جوابونه وایي . یوله بل سره بحث کوي . د یوبل غلطۍ سموي / مطالب تکمیلوي . ښوونکی د اصطلاحاتو څرګندونه کوي او زده کوونکي د کلیوالي ژوند مسؤلیتونه او دندې په ګوته کوي . ښوونکی مرسته کوي .	
۴ ارزیابي لنډیز	ـ ښوونکی لاندې کلمې پر تخته لیکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې هغه په جملو کې استعمال کړي : مرسته ، مسؤولیت ، خدمت ، کورنۍ ، اوسیږو ، محبت ، شریک ، ګاونډیان . کورنی کار : کلیوالو سره څنګه ښه سلوک وکړو څو کرښې ولیکئ .	تور تخته کتابچې

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
هڅونه	ـ څو تنه زده کوونکي په نوبت سره خپل کورني کارونه له خپلو کتابچو څخه په لوړ او مناسب آواز لولي . ښوونکی / زده کوونکي غلطۍ سموي . نور زده کوونکي غوږ نیسي او یو د بل غلطۍ سموي . ـ ښوونکی د زده کوونکو ځینې جملې په تور تخته لیکي . ـ زده کوونکي د تورې تختې لیکنه په خپلو کتابچو کې لیکي . مثلاً :  	کتابچې تور تخته کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۲ په متن کارکول	- ښوونکی / زده کوونکي د ۶۰ مخ د متن پاتې برخه دېخوانیو درسونو په شان کار کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرين	- ښوونکی زده کوونکي پر ګروپونو ویشي. د هرګروپ له پاره مشر ټاکل کیږي. د الف ګروپ: د متن مطلب په خپله ژبه په کتابچو کې لیکي. د ب ګروپ: لاندې ګډې وډې جملې په ترتیب سره کتابچو کې ولیکي. ټول په وسیږو موږ کې په کلیو. پردې که دې خپل لري حقونه ګاونډیتوب - د موږ په دې پریو شان، خوشحالی چې او په ژوند نېکمرغي وکړو. - د یو ګروپ زده کوونکي خپلې کتابچې د بل ګروپ له زده کوونکو سره بدلوي او دیوبل غلطۍ سموي ترهغه وروسته له هر ګروپ څخه څو تنه زده کوونکي په نوبت سره خپل مشقونه له کتابچو څخه لولي ښوونکی / زده کوونکی غلطۍ سموي.	کتابچې کتابچې کتابچې
۴ ارزيابي	- ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي چې د درس مطلب په خپله ژبه بیان کړي. **کورنی کار:** زده کوونکي دې د ۶۱ مخ متن [پلار ته لیک] په خپلو کتابچو کې ولیکي.	کتاب کتابچې

پلار ته لیک

عزتمن او د قدر وړ پلاره،

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته !

زه الحمد لله د دې لیک تر لیکلو پورې روغ جوړ یم.

ستاسې روغتیا له لوی خدای جل جلاله څخه غواړم.

ګرانه پلاره !

زموږ څلور نیم میاشتینۍ آزموینه په خیر سره تېره شوه . ما د خپل زیار او کوښښ نتیجه واخیسته. ډېرې ښې نومرې مې واخیستې . په خپل ټولګي کې دویم لمبر کامیاب شوم. زما د روغتیا او بریالیتوب زېرې ګرانې مور او د کورنۍ ټولو غړو ته ورسوئ . انشاء الله زه به د اوړي په رخصتیو کې درشم.

په درنښت

ستاسو زوی

اجمل

نېټه : / /

نوي لغتونه

پلاره عزتمن وړ زېرې انشاءالله

٦١

دکتاب مخ : ٦١

عنوان : پلار ته لیک

د درسونو شمېر : ١

هدفونه :

زده کوونکي باید :


- متن په سمه توګه ولولي . د سختو لغتونو په معناوو پوه شي .
- د لیکونو د لیکلو په برخه کې معلومات پیدا کړي .
- پلار ته ، ورور ته ، انډیوال ته لیک ولیکلای شي .
- په لیکلو کې د لیک ښې نښاني په پام کې ونیسي .

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
هڅونه	– ښوونکی د زده کوونکو کورني کارونه ګوري . ښوونکی/زده کوونکي غلطۍ سموي .	کتابچې
	– ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي تر څو خپله لیکنه ولولي .	کتابچې
	– ښوونکی/زده کوونکي د لوستونکي لیکنې ته غوږ نیسي او په غور سره یې اوري .	
	– ښوونکی د لوستونکي ځینې جملې پر توره تخته لیکي .	توره تخته
	– ښوونکی شفاهي پوښتنې کوي : تاسو لیک لیکلای شئ ؟ زده کوونکي وایي ! هو .	
	– ښوونکی وایي چا ته لیک لیکلای شئ ؟ زده کوونکي ممکن ووایي : ښوونځي ته ، انډیوال ته رفیق ، پلار ته ، ورور ته،	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	او خپلوانو ته .	
۲ په متن کارکول	ـ ښوونکی / زده کوونکي ٦١ مخ د پخوانیو درسونو په شان لولي .	کتاب
۳ مشق او تمرین ۱	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې متن ولولي . د [، ! . : / /] نښوته چې په لیک کې راغلي دي ، ځیرشي . له څنګ ملګري سره په ټیټ بږغ (چې شورماشور جوړ نه شي) مشوره وکړي او پیدا کړي چې له دغو نښوڅخه هره یوه څوځلې اوپه کومو ځایونو کې راغلي دي . دوی به دا نتیجه واخلي : [،] یوځل : عزتمن او د قدر وړ پلاره ، د خطاب دجملې په منځ کې چیرته چې دوه مطلبه یوله بل څخه بېلیږي خونه ختمیږي [!] دوه ځلې ـ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! ـ ګرانه پلاره ! په دواړو ځایونوکې چیرته چې (پلارته) خطاب شوی دی . [.] اته ځلې : دبشپړو جملو په پای کې . [:] یوځل : نښه : چیرته چې شرح او تفصیل (د نښې) راځي . [/ /] یوځل : د نېټې د شمېرونو د لیکلو له پاره : دلومړی [/] څخه مخکې دمیاشتې د ورځې شمېره ، ترهغې وروسته دمیاشتې شمېره ، تر دویمې [/] وروسته دکال شمېره لیکل کیږي ، لکه د : دریم دجوزا ، ۱۳۷۴ پرځای : ۱۳۷۴ / ۳ / ۳ . ښوونکی دې له زده کوونکو سره مرسته وکړي او د نورو مثالونو په واسطه دې دغه لیک نښې زده کوونکو ته توضیح کړي .	کتاب
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکي جوابونه وایي . [.] په کوم ځای کې لیکل کیږي ؟ [!] په کوم ځای کې لیکل کیږي ؟ [/ /] په کوم ځای کې لیکل کیږي ؟ کورنی کار : خپل پلار ته لیک ولیکئ .	کتابچې

تلویزیون



د نن ورځې دا ټول پرمختګونه د انسانانو د زيار او کوښښ نتيجه ده. دا ټول شيان لکه برېښنا، کمپيوټر، راډيو، الوتکه موټر او داسې نور له زمکې د زمانې د طبيعي علومو څخه په استفادې سره جوړ شوي دي.

پوازې د آواز رسولو لپاره ډېرې ډول ډول وسيلې شته لکه تيلفون، تلګراف، راډيو، تلويزيون او داسې نور.


تلويزيون د خبر رسولو هغه وسيله ده چې د آواز برسېره تصوير هم ښيي. تلويزيون يو داسې بکس دی چې مخې ته يې شيشه لګېدلې ده. په دې شيشه باندې د وينګو او نورو شيانو تصويرونه ښکارې. د دې شا ته د ويړ ويړ پرزو يو جال دی.

تلويزيون د راډيو يو پر مخ تللی شکل دی. توپير يې دا دی چې موږ د راډيو نه يوازې غږونه اورو او په تلويزيون باندې له آواز سره تصويرونه هم راځي. موږ ته داسې ښکاري چې خبرې کوونکی زموږ سره ناست دی. بل توپير يې دا دی چې راډيو تر لرې ځايونو پورې اورېدل کېږي. مګر تلويزيون د خپل مرکز څخه تر ۸۰ کيلو متره لرې اورېدل او ليدل کيږي.

شي. خو اوس د پوسټرونو په جوړولو سره دا کار هم اسان شوی دی.

د هر ځای او هر هېواد په تلويزيون کې ډول ډول پروګرامونه خپرېږي چې د هغه هېواد يا نورو هېوادونو خلک ترې ګټه اخلي.

په تلويزيون کې د قرآن شريف ښوونه، تلاوت، تفسير او ترجمې او خبرونه خپرېږي. تعليمي، تربيتي، تفريحي، سپورټي او داسې نور پروګرامونه د قصو، ډرامو، ترانو سندرو، خبرونو، تقريرونو، مرکو، سپورټي لوبو او داسې نورو شکلونو سره خپرېږي. هر څوک د خپلې خوښې پروګرامونه په خپل وزګار وخت کې ګوري.



تلويزيون د تعليم او تربيې لپاره هم ګټور دی. پوازې ماشومان او زده‌کوونکي ترې ګټه نه اخلي، ټول ملت او ټولنه ورڅخه ګټه اخيستلای شي.


تلويزيون د ډول ډول ښارونو، هېوادونو او کليو تصويرونه ښيي. د ټولې دنيا له حالاتو څخه مو خبروي.


د قرآن شريف، ساينس او نورو علومو سبقونه راته ښيي.

په ځينو هېوادونو کې تلويزيون له سهار څخه تر ماښامه پورې د ښوونې او روزنې لپاره په کار وړل کېږي. زده‌کوونکي په ښوونځيو او کورونو کې له تلويزيون څخه ګټه اخلي.

موږ ته د تلويزيون کتل هغه وخت په کار دي چې وزګار يو او ښه پروګرام په کې خپرېږي.

ماشومانو ته په کار دي چې د تلويزيون تعليمي، تربيوي او تفريحي پروګرامونه وګوري. د تلويزيون د کتلو په وخت کې بايد لرې کېښېنو. ځکه چې نژدې ورته کېناستل سترګې خرابوي.





نوي لغتونه

برېښنا پرزه شکل توپير پوسټر

د کتاب مخونه : ٦٢- ٦٣ - ٦٤

عنوان : تلويزيون

د درسونو شمېر : ٣


هدفونه :

زده‌کوونکي بايد :

- متن په سمه توګه ولولي.
- د سختو لغتونو په معناوو پوه شي.
- د متن په معنا او مطلب پوه شي.
- په متن کې ځينې بسيط او مرکب فعلونه وپېژني.
- د تلويزيون په باب څه وليکلی شي.
- له متن څخه سمه املاء وليکلای شي.

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی وایي چې کتابونه پرانیزئ او د ۶۲، ۶۳، ۶۴ مخونو . زده کوونکي د هر تصویر نوم اخلي ، ښایي ووایي چې زه تلویزیون وینم یا .... تلویزیون د څه په وسیله غزیږي ؟ دبرق په وسیله . تاسو تلویزیون څه وخت وینئ ؟ . د تلویزیون کوم پروګرامونه موخوښ دي ؟ خبرونه ، ډرامې ، د قرآن شریف ترجمه ، دماشومانو پروګرام . . یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د تلویزیون د ګټې او تاوان په باب خبرې کوي .	کتاب
۲ په متن کارکول	- د متن سره دکار کولو طریقه پر متن تر [دا کار هم آسان شوی دی] پورې د پخوانیو درسونو په شان کار وکړئ .	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکي په دوو ګروپونو ویشي او ورته وایي چې لوستل شوی متن په غور سره ولولي . - لومړی ګروپ دې ټول هغه فعلونه په نښه کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي چې یوازې یوه کلمه وي ، لکه ددې لاندې جملو فعلونه : - دکلیوال په معنی پوهېږه ؟ پوهېږه : یوه کلمه - موږ ټول په کلیو کې اوسیږو . اوسیږو : یوه کلمه - دویم ګروپ دې ټول هغه فعلونه په نښه کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي چې تر یوې کلمې زیات وي ، لکه ددې لاندې جملو فعلونه : - ښوونکي له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړه ——— پوښتنه وکړه : دوه کلمې (پوښتنه + وکړه) - شفیق لاس پورته کړ . ——— پورته کړ : دوه کلمې (پورته + کړ) د ښوونکي له پاره : ● هغه فعل چې له یوې کلمې څخه جوړ وي ، [بسیط فعل] نومیږي . پوهېږه ● هغه فعل چې دوه کلمې وي ، لومړۍ کلمه یې فعل نه وي او دویمه کلمه یې له لومړۍ کلمې سره یو ځای	کتاب کتابچې کتابچې

پاکوالی



الله جل جلاله پاک او سوتره خلک خوښوي. زموږ پیغمبر، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هم پاکوالی خوښ کړی دی. پاکوالی د انسان د ښه صحت له پاره ډېر ضرور دی. پاک بدن، پاک خواړه، پاک کالي پاک کور، پاک کلی، پاک ښار، پاکه چاپېریال، پاکه او تازه هوا د انسان په تندرستۍ کې ډېره مرسته کوي. موږ باید لږ تر لږ خپل لاس ومینځو تر څو د بدن خیرې مو لیرې شي او زموږ د بدن کوچنې سوري د خولو د راوتلو له پاره خلاص وي.

همدارنګه د غاښونو د نه وینځلو څخه د خوراک ذرې په غاښونو کې پاتې کېږي. هغه بیا خوسا کېږي. د خولې بوی، د غاښونو او معدې ناروغتیاوې پیدا کوي.




د نوکانو پرې کول هم ضرور دی. ځکه چې د نوکانو لاندې خیرې ننوځي او بیا د خوراک پر وخت معدې ته ځي او ناروغي پیدا کوي.

د غوږونو، سترګو او پزې د نه پاکولو څخه هم راز راز ناروغي

٦

پیدا کېږي. د خوسا او خرابو مېوو خوړل هم ډېر ضررونه لري.

مچان د چټل شیانو په واسطه زیاتېږي. که ځای پاک وي، مچان به په خپله کم شي. پاکې اوبه هم د صحت له پاره ضرور دي. د استوګنې ځای او د اوسېدلو جامې هم باید پاکې وي. کړکۍ د کور له پاره ګټه رسوي، ځکه چې له هغو نه لمر او تازه هوا کوټې ته ورځي.



موږ هر څېړنه چې اوسېږو، ضروري ده چې د کلي، کور، کوڅو، شارخوا او چاپېریال پاکوالي او صفایي ته پوره پام وکړو. په کوم ځای کې چې د چټلو اوبو ډنډ وي هغه باید وچ یا ډک شي ځکه ملته ماشي پیدا کېږي او دا ماشي د ملاریا تبه خپروي.

د الله جل جلاله پاکوالی او نظافت ډېر خوښ دی، چې پرته د اودس او پاکوالي څخه لمونځ نه شي کېدای. پاکوالی د انسان بدن روغ ساتي. موږ باید د کورنۍ غړو، خپلوانو، ملګرو او ګاونډیانو ته د نظافت او پاکوالي په هکله لارښوونه وکړو. دا هغه وخت کولای شو چې په خپله مو خپل ځان، جامې او کور پاک ساتلی وي.

نوې لغتونه

سوتره صحت معده چټل. خیرې چاپېریال

٧

د کتاب مخونه: ٦ - ٧

عنوان: پاکوالی

د درسونو شمېر: ٣

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن سم او روان ولولي او په معنی یې پوه شي.
- د سختو لغتونو په معنی پوه شي.
- د متن مطلب په خپله ژبه ووایي.
- په متن کې مترادفې او متضادې کلمې وپېژني.

● په دې پوه شي چې که انسان پاک - خواړه وخوري، پاک کالي واغوندي، په پاک ځای کې استوګنه وکړي ښه صحت به ولري.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی د څو تنو زده کوونکو کورني کارونه ګوري. ښوونکی / زده کوونکي غلطۍ سموي. - د ښوونکي په بلنه څو تنه زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي له کتابچو څخه کورني کارونه لولي. - ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي:	د کورني کار کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	فعل جوړ کړي ، [مرکب فعل] نومیږي : پوړته + کړ	
	- ښوونکی د ګروپونو له مشرانو څخه غوښتنه کوي چې د خپل کار نتیجه نوروته ووایي . ښوونکی / زده کوونکي د بسیط فعلونه په یو ستون کې او مرکب فعلونه په بل ستون کې پرتخته ولیکی . - زده کوونکي بحثونه کوي . ښوونکی مرسته کوي او توضیحات ورکوي . - زده کوونکي بسیط او مرکب فعلونه له توري تختې څخه خپلو کتابچو ته وررسوي .	توره تخته توره تخته کتابچې
۴ ارزیابي	- ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي : • یوازې د آواز رسولو وسیلې کومې دي ؟ • راډیو له تلویزیون سره څه توپیر لري ؟ • تلویزیون څه رنګ شی دی ؟ • د طبیعي علومو څخه په استفادې سره کوم شیان جوړ شوي دي ؟ - زده کوونکي جوابونه وایي او تبصرې کوي ، ښوونکی مرسته او سموونې کوي . کورنی کار : د [تلویزیون] متن دې په کورکې ولوستل شي .	کتاب

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي : د تلویزیون ټول پروګرامونه یو قسم وي که څنګه ؟ (ځینو زده کوونکو به تلویزیون لیدلی نه وي . ښوونکی باید ځان په دې پوه کړي) - د تلویزیون د پروګرامونو ځینې نومونه که مو یاد وي وې وایئ . - له تلویزیون څخه یوازې لویان استفاده کوي که ماشومان هم ؟	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۲ په متن کارکول	- د ٦٣ مخ د متن پاتې برخه د پخوانیو درسونو په شان ولولئ.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی وايي چې کتابچې راواخلئ، ځانونه د املاء لیکلو ته چمتو کړئ. زده کوونکي ځانونه املا ته چمتو کوي. ښوونکی متن له «په تلویزیون کې د قرآن شریف ....» څخه شروع تر «اخیستلای شي» پورې ٦ کرښې املا وايي. کله چې املاء خلاصه شوه، بیا لارښوونه کوي چې اوس يې له کتاب سره ښه وګورئ او غلطۍ اصلاح کړئ. ښوونکی د نمونې په توګه د څو تنو املا ګوري او د نقطه ګذارۍ خواته د زده کوونکو پام اړوي.	کتابچې کتاب
۴ ارزیابي	- تلویزیون د تعلیم او تربیې له پاره ګټور دی که څنګه؟ • په تلویزیون کې د قرآن شریف سره، سره نور څه خپریږي؟ • تعلیمي، تربیتي، تفریحي او سپورتي پروګرامونه په کومو شکلونو خپروي؟ • هرڅوک د خپلې خوښې پروګرامونه په څه وخت کې ګوري؟ کورنۍ کار: - نن د راډیو یا تلویزیون خبرونه واورئ او څه چې ستاسو خوښ او یاد شول، په خپلو کتابچو کې يې ولیکئ.	کتابچې

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- څو زده کوونکي په نوبت سره خپل پرونی کار نورو ته لولي. نور زده کوونکي بحث او تبصرې / سمونې کوي. ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي.	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	• تلویزیونونه ټول یو قسم دي او که څنګه؟ (غټ ، واړه ، متوسط، مختلف رنګونه . . .) • د تلویزیون پروګرامونه تاسو سره د ښوونځي په درسونو کې مرسته کولای شي؟ څه ډول مرسته؟ • ټوله ورځ باید د تلویزیون پروګرامونه وګورو که څنګه؟ • زده کوونکي جوابونه وایي او تبصرې کوي. ښوونکی مرسته لارښوونه کوي. • یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او تلویزیون ته د همېشه کېښیناستلو په باب خپل تاوانونه بیانوي.	
۲ په متن کارکول	ــ د کتاب پر ۶۴ مخ د پخوانیو درسي پلانونو په شان کارکېږي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	ــ ښوونکی لاندنۍ کلمې پرتخته لیکي. مثال: پروګرامونه ــ په تلویزیون کې ډول ډول پروګرامونه خپرېږي یا-د راډیو او تلویزیون پروګرامونه توپیرلري. • نړۍ ــ • یوازې ــ • خبر رسولو ــ • بکس ــ • شیشه ــ • ویونکو ــ • شاته ــ • راډیو ــ • تلویزیون ــ • تصویرونه ــ	تورهتخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	• توپیر – • مرکز – • آواز – – له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې یو یو تن په نوبت سره تختې ته ولاړ شي. اول دې په شفاهي توګه یوه کلمه په مناسبه جمله کې راوړي او بیا دې د مربوطې کلمې مخې ته هغه جمله ولیکي. – ښوونکی نورې کلمې هم له متن څخه اخلي او پر تخته یې لیکي، تر څو ټول زده کوونکي دغه مشق وکړای شي. – زده کوونکي یو بل سره بحث کوي. د یو بل جملې سموي. او کله چې سمه جمله جوړه شي هغه پر تختې بندې اصلاح کوي او زده کوونکي یې په خپلو کتابچو کې لیکي.	تور تخته کتاب تور تخته تور تخته کتابچې
۴ ارزیابي	– ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکي ځوابونه وايي. په ځینو هېوادونو کې تلوېزیون له سهار څخه تر ماښامه پورې د څه له پاره په کار وړل کېږي؟ موږ ته د تلوېزیون کنټرول کله په کار دی؟ د تلوېزیون د کنټرول په وخت کې باید لېرې کېښېنو که نږدې؟ ولې؟ ماشومان باید د تلوېزیون کوم پروګرامونه وګوري؟ کورنی کار: – له خپل پلار یا مور سره مشورې وکړئ او د هغه شیانو نومونه ولیکئ چې تلوېزیون ورڅخه جوړ شوی دی.	کتابچې

څه چې وايې هغه به اورې



يوه ورځ اشرف د سيل لپاره صحرا ته ووت ، يوه غره ته ورغی . هلته په لوړو اخته شو . ناڅاپه يې له مخې څخه يوه مرغۍ والوته . اشرف شور او ماما وکړه . هر غږ چې ده له خولې څخه راايسته ، هماغسې به يې بېرته اورېده ، هېڅکله يې داسې پېښه نه وه ليدلې . ډېر حيران شو چې دا څوک د ده د آواز پېښې کوي .

اشرف غږ کړ : "چې څوک يې ؟ " آواز يې واورېد چې څوک يې ؟ اشرف په قهر شو او په لوړ آواز يې وويل : "ته ډېر بې‌عقل يې . " ځواب يې واورېد چې ته ډېر بې‌عقل يې .

د اشرف قهر زيات شو . په سختو خبرو يې پيل وکړ اخر پوه شو چې هر څه وايي ، ټکي په ټکي يې بېرته اوري . ناچار شو . په لټولو يې پيل وکړ چې غږکوونکی پيدا کړي . هر څومره وگرځېد هغه يې پيدا نه کړ ، په ډک زړه کور ته راغی .

پلار ته يې وويل : "باباجانه ، نن په غره کې يوه هلک زما د آواز پېښې کولې . سختې خبرې مې ورته وکړې . هغه هم همغسې سختې خبرې راته وکړې . هر څومره مې چې

ولټاوه . پيدا مې نه کړ . "

پلار يې وويل : "د زړه سره ، هر څه چې دې اورېدلي دي ، هغه ستا د خپل آواز آزانگې بېرته راگرځېدل دي . په غرونو او داسې نورو ځايونو کې چې نور آوازونه نه وي ، غږونه مخامخ ځي ، بيا بېرته راگرځي او اورېدل کېږي . "

او دا شعر يې ورته ولوست :

دا جهان په شان د غره دی زموږ فعل دی آواز
چې څه وايو هغه اورو . هغه دم ، په هغه راز



نوي لغتونه

پېښه پېښې پيل ناچار فعل دم آزانگه

دکتاب مخونه : ٦٥ - ٦٦

عنوان : څه چې وايې هغه به اورې

د درسونو شمېر : ٣

هدفونه : زده‌کوونکي بايد :

- متن صحيح او روان ولولي . د لغتونو په معناوو پوه شي .
- د متن په مطلب وپوهيږي اووېې ويلای شي .
- ځينې ناسمې جملې سمې کړای شي .
- په دې پوه شي چې هر ښه او بد عمل مکافات او مجازات لري .

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
١ مخونه	- ښوونکی له زده‌کوونکو څخه په شفاهي توگه پوښتنې کوي : پلار ته په کومو لقبونو ليک ليکئ ؟ زده‌کوونکي لاس پورته کوي . ځواب وايي : پلارجانه ، باباجانه ، عاليقدر ، د قدر وړ ، عزتمن ښوونکی دغه لقبونه او ځينې نور پر توره تخته ليکي . يو يو زده‌کوونکی د ټولگي مخې ته راځي او عبارتونه لولي . وروسته زده‌کوونکي هغه په خپلو کتابچو کې ليکي . ښوونکی	توره تخته کتابچو

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>پوښتنې کوي ، آیا کوم وخت مو په غره کې غږ کړی دی؟
آیا کله مو خپل غږ بېرته اورېدلی دی؟ چېرته ؟
ـ زده کوونکي جوابونه وايي او تبصرې کوي.</td><td></td></tr>
<tr><td>۲
په متن کارکول</td><td>ـ ښوونکی/زده کوونکي د کتاب د ۶۵ مخ پر متن تر [په ډک زړه کوڅه راغئ] پورې د پخوانیو درسونو په شان کارکوي.</td><td>کتاب</td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرین</td><td>ـ ښوونکی لاندې غلطې جملې پر تخته لیکي اوله زده کوونکو څخه غواړي چې د هرې جملې صحیح شکل له مثال سره سم په خپلو کتابچوکې ولیکي:
۱ـ یوه ورځ اشرف صحرا ته ووتم. ۲ـ زه یوه غره ته وخوت
۳ـ اشرف په لوبو اخته کېږو. ۴ـ آواز یې واورېدم.
۵ـ ته ډېر لږ عقل یو. ۶ـ په سختوخبرو یې پیل وکړم.
۷ـ هغه یې پیدا نه کړم. ۸ـ هېڅکله یې داسې پېښه نه وم لیدلې.
۹ـ څوک د ده د آواز پېښې کوم؟ ۱۰ـ اشرف شور او ها ها وکړ.
مثال:<table><tr><th>غلطه جمله</th><th>درسته جمله</th></tr><tr><td>اشرف غږ کوم.</td><td>اشرف غږ وکړ.</td></tr></table>ـ زده کوونکي په نوبت سره خپلې سمې کړې جملې وايي. نور زده کوونکي پرې بحث کوي او غلطۍ سموي. په آخر کې زده کوونکي خپلې ناسمې جملې په خپلو کتابچوکې سموي.</td><td>تورې تخته
کتابچې

کتابچې</td></tr>
<tr><td>۴
ارزیابي</td><td>ـ ښوونکی څو سمې او ناسمې جملې پر توره تخته لیکي. له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره جملې په لوړ آواز ولولي، د سمو جملو مخې ته د صحیح نښه [✓] اود ناسمې جملې مخې ته د غلط نښه [✗] ولیکئ اوبیا ناسمې جملې سمې کړئ، لکه:
ـ احمد شور او غوغا وکړې. [✗] ـ احمد شور اوغوغا وکړه
ـ په لښتولو یې پیل وکړ. [✓]</td><td>توره تخته</td></tr>
</table>

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
.	- - - کورنی کار: د متن پاتې برخه ولولي.	کتاب

درسي پلان ۲۰

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي. اشرف چیرته تللی و؟ په غره کې یې څه ولیدل؟ څه یې واوریدل؟ پلار ته یې څه وویل؟ زده کوونکي یو یو د ټولګي مخې ته راځي، ځواب وایي.	
۲ په متن کارکول	- ښوونکی / زده کوونکي د متن پاتې برخه تر پایه پورې کار کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی پر تور تخته لاندې دوه ستونه لیکي. له زده کوونکو څخه غواړي چې په ترتیب او نوبت سره د ښي لوري د کلمې شمېر د هم معنا کلمې مخې ته ولیکي. مثال: ۱- پېښې ( ) کرېنه ۲- پیل ( ) د ناروغۍ د علاج له پاره ۳- ناچار ( ) شبېه ۴- فعل ( ) د بدن یو غړی ۵- آزانګه مثال: (۱) تقلید ۶- دَم ( ) نا ببره ۷- پښه ( ) حادثه ۸- دارو ( ) انعکاس ۹- ناڅاپه ( ) د مجبوریت له مخې	تور تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱۰- پښبه ( ) شروع - ښوونکی مرسته لاربښوونه کوي. د ټولو زده کوونکو د برخې اخیستلو په خاطر نور د غسې سوالونه جوړوي. زده کوونکي مشق سرته رسوي او بیا د هرې کلمې معنا د هغې مخې ته په خپلو کتابچو کې لیکي.	کتابچې
۴ ارزیابي	- ښوونکی لاندې شعر داملا په توګه وایي: زده کوونکي یې په خپلو کتابچو کې ولیکي. دا جهان په شان د غرو دی زمونږ فعل دی آواز چې څه وایو هغه اورو، هغه دم، په هغه راز - زده کوونکي (د څنګ انډیوال) یوبل ته د غلطۍ د سمولو له پاره کتابچې ورکوي. په پای کې داملا شعر د ښوونکي / زده کوونکو په واسطه پر توره تخته لیکل کېږي. کورنی کار: وایې چې ښه کوې ښه به درسره کیږي که بد کوې بد. په خپلو کتابچو کې په دې هکله څو کرښې ولیکي.	کتاب کتابچې کتابچې/تخته کتابچې

درسي پلان ۳۰:

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د زده کوونکو کورنې کارونه ګوري. ښوونکی/زده کوونکي غلطۍ سموي. - ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته را غواړي. ترڅو خپلې مقالې له کتابچو څخه ولولي. - ښوونکی او نور زده کوونکي غوږ نیسي. ښوونکی/ زده کوونکي د لوستونکي څینې جملې په توره تخته او نوي لغتونه یې هم له معنا سره لیکي.	کتابچې کتابچې توره تخته
۲ په متني کارکول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره د متن یوه یوه جمله له پیل څخه ترپایه پورې په نوبت سره ولولي.	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ـ ښوونکی/ زده کوونکي غلطۍ سموي. له زده کوونکو څخه د ځینو لغتونو او جملو د معناوو پوښتنه کوي. ـ زده کوونکي یو یو د ټولګي مخې ته راځي د متن یوه یوه برخه په مناسب لوړ آواز لولي. ـ ښوونکی ټول متن په مناسب جګ آواز په فصاحت او بلاغت لولي. زده کوونکي په پټه خوله د ښوونکي لوستل په کتاب کې تعقیبوي.	کتاب کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی له یوه زده کوونکي څخه غواړي چې د متن ټوله قصه په خپله ژبه ووایي. ـ نور زده کوونکي لاسونه جګوي او سمونې کوي. ـ ښوونکی د متن د موضوع په اړوند یو بحث رهبري کوي. پر تخته باندې دغه لاندې جملې لیکي؛ خپل عمل د لارې مل. څه چې وایې هغه به اورې. څه چې کرې هغه به ربې. ـ ښوونکی پوښتنه کوي چې ددې دوو جملو اصلي مطلب څه دی؟ ـ زده کوونکي په نوبت سره خپلې نظریې وایي. ـ ښوونکی هڅه کوي چې زده کوونکي داسې رهنمایي شي چې دې مطلب ته ورسیږي، که له نورو سره ښه وکړو، له موږ سره هم ښه کیږي، که له نورو سره بد وکړو، له موږ سره هم بد کیږي. که ښه کارونه وکړو په دنیا او آخرت کې ثواب او اجر مومو. که بد کارونه وکړو په دنیا او آخرت کې به خپله جزا وو ینو.	توره تخته
۴ ارزیابی	ـ ښوونکی دې دغه پوښتنه وکړي؛ کوم کارونه ثواب او اجر او کوم کارونه ګناه او سزا لري؟ له زده کوونکو څخه وغواړي چې خپل نظریات ووایي.	

خپله ژبه هم کلا ده هم بلا

یو سړی یوه ورځ خپل آشپز ته ووېل چې نن د یوه ډېر ښه شي څخه راته خواړه پاخه کړه. آشپز د پسه ژبه ورته پخه کړه. هغه سړي پوښتنه ځینې وکړه: "څه شی دې پوخ کړی دی؟" آشپز ځواب ورکړ: "د پسه ژبه. ځکه تا ویلي وو چې ډېر ښه شی پوخ کړه. په دنیا کې تر ژبې بهتر څه شی دی!"

سړي بله ورځ بیا ورته ووېل: "نن غواړم، د یوه ډېر بد شي څخه راته خواړه برابر کړې." آشپز دا ځل هم د پسه ژبه پخه کړه. سړي چې دا خواړه ولیدل، پوښتنه یې ځینې وکړه: "دا خواړه دې د څه شي څخه برابر کړي دي؟" آشپز ځواب ورکړ: "د پسه له ژبې څخه. ځکه تا ویلي وو چې ډېر بد شی راته پوخ کړه. په دنیا کې تر ژبې بدتر څه شی دی!"



سړی حیران شو او پوښتنه یې ځینې وکړه: "دا څنګه کیدای شي چې ژبه هم تر ټولو ښه او هم تر ټولو بد شی وي."

۶۷

آشپز ځواب ورکړ: "ښکې او بدې ټوله له ژبې څخه ده. که په ښو خبرو وچلېږي، تر هغې ښه شی نشته او که په بدو خبرو وچلېږي، تر هغې بد بل شی نشته."

حضرت محمد صلی‌الله‌علیه‌وسلم فرمایلي دي:

"څوک چې ما ته د خپلې ژبې د ساتنې ضمانت راکړي، زه به د جنت ضمانت ورکړم."

یو متل هم دی چې وایي:

"خپله ژبه هم کلا ده هم بلا."

او یو شاعر بیا د ژبې اهمیت او قیمت داسې په ګوته کوي، وایي:

ژبه عادت کړه، په ښو خبرو
خبرې ښې دي، ښې تر شکرو
د خوند مثال یې، شکرې وایم
قدر یې ډېر دی، تر ملغلرو

نوې لغتونه

بلا   بدتر   ضمانت

۶۸

دکتاب مخونه : ۶۷ - ۶۸

عنوان : خپله ژبه هم کلا ده هم بلا.

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن سم او روان ولوستلای شي.
- د متن په مفهوم اومطلب پوه شي.
- د متن مطلب په خپله ژبه وویلای او ولیکلای شي.
- وپوهېږي چې دا عنوان یو متل دی.
- د متل په مطلب او مفهوم پوه شي.
- د ښو او بدو خبرو په مفهوم او د هغو پر تأثیر وپوهېږي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- ښوونکی عنوان پر تخته لیکي: "خپله ژبه هم کلا ده هم بلا". بیا پوښتنه کوي: تاسې د [متل] له کلمې سره اشنا یاست؟ زده کوونکي هو، یا نه وایي.	تور تخته
	- ښوونکی که دچا کوم متل زده وي، په نوبت سره دې اول ووايي بیا دې پر تخته ولیکي.	تور تخته
	- زده کوونکي په نوبت سره هغه متلونه وايي او پرتخته یې لیکي	تور تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	د دې له پاره چې ناروغه نه شو او صحت مو ښه وي باید څه وکړو؟ - ګوندې زده کوونکي ووايي او ودې هڅول شي چې ووايي: باید خپل ځان پاک وساتو او پاکوالي ته پاملرنه وکړو. - ښوونکی د [پاکوالی] عنوان په تورو تخته ليکي. زده کوونکي يې لولي. ښوونکی د اسلام له نظره د پاکوالي په باب خبرې کوي.	تور تخته
۲ په متن کار کول	ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب ۶ مخ پرانيزي. رسمونو ته وګوري، فکر وکړي او خپلې نظريې څرګندې کړي. د ۶ مخ متن تر آخره پورې په پټه خوله ولولي، سختې کلمې يې په نښه کړي. - ښوونکی/ زده کوونکي لغتونه په تور تخته ليکي. ښوونکی / زده کوونکي لغتونه معنی کوي، معناوې له لغتونو سره يو ځای ليکي. - ښوونکی متن په مناسب لوړ آواز لولي. ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې يوه يوه برخه متن په لوړ مناسب آواز ولولي. زده کوونکی متن تعقيبوي او مفهوم يې خپل ذهن ته سپاري. - يو زده کوونکی د متن مطلب په خپله ژبه بيانوي. نور زده کوونکي پوښتنې بحثونه او سمونې کوي. ښوونکی مرسته/ لارښوونه کوي.	کتاب تور تخته
۳ مشق او تمرين	ښوونکی پوښتنه کوي: د خپل بدن د غړيو نومونه واخلئ. يو زده کوونکی يو نوم اخلي وايي: (سترګې، پزه، لاسونه، غوږونه، پښې) - ښوونکی پوښتنه کوي: د ښه صحت له پاره کوم شيان ډېر ضرور دي؟ زده کوونکي ځوابونه وايي: پاک خواړه، پاک بدن، پاک کالي، پاک ښار، پاکه او تازه هوا. - ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د نومونو شيانو او ځايونو د پاکوالي په برخه کې خپلې نظريې ووايي. د مترادفو او متضادو کلمو ښوونه: ښوونکی دا کلمې پر تخته ليکي: پاک، چاپېريال، پاکوالی، تندرستي. بيا په ترتيب سره غوښتنه کوي چې زده کوونکي د هرې کلمې له پاره نورې کلمې چې په معنا کې ورته والی ولري، ووايي. زده کوونکي/ښوونکي يې ليکي: هدارنګه ښوونکی د [پاک، پاکوالی، روغتيا] کلمې په تخته ليکي، له زده کوونکو څخه پاک = سوتره، صفا، سپېڅلی چاپېريال = ماحول، شاوخوا، محيط پاکوالی = سوترتيا، صفايي، نظافت تندرستي = روغتيا، صحت، جوړوالی مترادف هغو کلمو ته وايي چې معنا يې سره نژدې والی ولري، لکه پاک - سپېڅلی، سوتر، صفا. متضاد هغه کلمې دي چې معناوې يې يو د بل ضد وي، لکه: شپه/ ورځ - تياره/ رڼا	تور تخته تور تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	چې زده یې دي. نور زده کوونکي بحث او سمونې کوي. زده کوونکي یې خپلو کتابچو ته نقلوي. - ښوونکی پوښتنه کوي چې [متل] څه ته وایي. زده کوونکي خپلې نظریې او معلومات بیانوي. بحث کوي ښوونکی لارښوونه کوي.	کتابچې
۲ په متن کارکول	- ښوونکی/ زده کوونکي د بې د ۶۷ مخ متن تر [تر ژبې بد تر څه شی دی] پورې د پخوانیو درسونو په شان کار وکړي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکي پر دوو ګروپونو ویشي لاندې متن پر تخته لیکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې لومړی ګروپ تر ۵ سواله پورې او بل ګروپ تر ۱۰ سواله پورې په مناسبو کلمو سره ډک کړي: ۱- یوه سړي یوه ورځ خپل ______ ته وویل چې یو ښه شی ورته یا خه کړي. ۲- آشپز د پسه ______ ورته پخه کړه. بله ۳- په دنیا کې تر ______ بهتر ښه شی نشته، وکړه ۴- سړي پوښتنه ______: څه شی دې- آشپز ورځ کړې دی؟ ۵- سړي بله ______ بیا ورته وویل ______ څه شی ۶- داخواړه له ______ څخه برابر شوي دي؟ ژبه ۷- هغه سړي ______ ځینې وکړه دپسه له ژبې څخه ۸- داخواړه مې برابر کړي دي پوځ ۹- سړي ______ ورځ بیا ورته وویل پوښتنه ۱۰- په دنیا کې تر ژبې څه شی دی؟ - د هر ګروپ زده کوونکي مشوره کوي (کتابونه تړلي وي) او جملې بشپړوي. - د هر ګروپ مشر د خپل کار نتیجې له خپلو کتابچو څخه په نوبت سره لولي. - نور زده کوونکي بحث کوي او غلطۍ سموي. ښوونکی/ زده کوونکي	توره تخته کتابچې توره تخته


پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	جملې پر تخته باندې سمې او زده کوونکي يې خپلو کتابچو کې اصلاح کړي.	
۴ ارزيابي	- له څو تنو زده کوونکو څخه غوښتل کيږي چې د متلونو د اهميت او مطلبونو په باب خپل نظريات ووايي. (ښه / بلا / پوخ / کلا) کورنۍ کار: د متن پاتې برخه تر آخره پورې ولولي.	کتاب

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي. سړي له آشپز نه څه وغوښتل؟ آشپز څه ورته پاخه کړل؟ - ډېر ښه شی څه و؟ ډېر بد شی څه و؟ ولې ژبه هم تر ټولو ښيانو ښه شی او تر ټولو شيانو بد شی دی؟ - زده کوونکي خپل نظريات وايي.	
۲ په متن کار کول	- د مخکنيو درسونو په شان دې د متن پر پاتې برخه کار وشي.	کتاب
۳ مشق او تمرين	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې هر يو په خپلو کتابچو کې دوه دوه پښتو متلونه وليکي او د هر يوه په باب دوې کرښې خپل نظريات وليکي او مفهوم يې واضح کړي. ښوونکی په ټولګي کې ګرځي راګرځي او مرسته کوي. - ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره خپل ليکلي متلونه او د هغو په باب خپل توضيحات له خپلو کتابچو څخه ولولي. - نور زده کوونکي بحثونه او تبصرې / سمونې کوي. ښوونکی لارښوونه او مرسته کوي	کتابچې کتابچې
۴ ارزيابي	- ښوونکی له يوه زده کوونکي څخه غواړي چې د ټول متن	کتاب


پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	قصه په خپله ژبه ووايي. کورنی کار: شعر معنا او هربیت یې په یوه یوه کرښه کې ولیکئ.	کتابچه

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي، تر څو خپل کورنی کار ولولي. ښوونکی د لوستونکو یوه یوه جمله په توره تخته لیکي. ـ زده کوونکي یو یو د ټولګي مخې ته راځي په مناسب لوړ آواز د تورې تختې جملې لولي او بیا یې خپلو کتابچو کې لیکي.	توره تخته کتابچې
۲ په متن کارکول	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب ۶۷ مخ پرا نیزي. ـ څوتنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته ورځي، شعر په مناسب لوړ آواز لولي. ـ ښوونکی شعر په سمه او د شعر ویلو په طریقه لولي او معناکوي یې. ـ ښوونکی پوښتنه کوي د شعر مطلب څوک په ساده ژبه بیانوي؟ ـ زده کوونکي لاس پورته کوي ځوابونه وايي ښوونکی/ زده کوونکي مرسته کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	 ـ ښوونکی شعر پرتخته لیکي: ـ له زده کوونکو څخه غواړي چې په چوپه خوله شعر ولولي او فکر وکړي چې په هره کرښه	توره تخته

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
تورتخته	کې څو مطلبه پراته دي. - زده کوونکي شعر په چوپه خوله لولي او فکر وربانډې کوي. - ښوونکی پوښتنه کوي، څوک کولای شي د لومړۍ کرښې مطلب په نثر ووايي؟ - یو داوطلب زده کوونکی تختې ته ورځي او د شعر د لومړۍ کرښې مطلب په نثر وايي.	
	د ښوونکي له پاره ژبه عادت کړه په ښو خبرو یعنې: ژبه په ښو خبرو عادت کړه. - همدغسې له بېلا بېلو زده کوونکو څخه په نوبت سره غوښتنه کېږي چې د هرې کرښې د معنا او مطلب تجزیه وکړي. خبرې ښې دي، ښې تر شکرو یعنې: ښې خبرې تر شکرو ښې دي. د خوند مثال یې شکرې وایم یعنې: د ښو خبرو د خوند مثال د شکرو د خوند په شان دی قدر یې ډېر دی تر ملغلرو د ښو خبرو قدر (قیمت) د ملغلرو تر قیمت زیات دی.	
تورتخته	- زده کوونکي بحث، تبصرې سموې کوي. - ښوونکی تر بحث وروسته د شعر د هرې کرښې مطلب د چوکاټ د مثالونو په شان پر تخته لیکي او زده کوونکي یې خپلو کتابچو ته رسوي.	
	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي ترڅو په خپله خوښه راشي. د درس مطلب په خپله ژبه بیان کړي. هغه زده کوونکي د ې وغوښتل شي چې په ورځنیو فعالیتونو کې په خپله خوښه کمه برخه اخلي.	۴ ارزیابي

کار او زیار



د مکې د کفارو له ظلمه حضرت محمد صلی الله علیه و سلم او یارانو یې مدینې منورې ته هجرت وکړ. هلته په یوه ځای کې دېره شول. حضرت محمد صلی الله علیه و سلم وفرمایل چې که دا ځای په بیه واخلو او یو جومات په کې جوړ کړو نو ښه به وي.

هغه ځای د دوو یتیمانو و. هغوی او د کلي نورو مشرانو غوښتل چې مځکه وریا ورکړي. حضرت محمد صلی الله علیه و سلم د مځکې وریا اخیستل ښه ونه ګڼل، په بیه یې واخیسته. ډبرې یې ورته راوړې او د جومات په جوړولو یې پیل وکړ. لنډه دا چې حضرت محمد صلی الله علیه و سلم او یارانو یې د مدینې منورې جومات په خپلو لاسونو جوړ کړ. وروسته بیا حضرت عثمان رضی الله عنه هغه ډېر ښکلی کړ. دې جومات ته نبوي مسجد هم وایي.

یو ځل د کفارو یو لښکر له مکې څخه د مدینې په لوري روان شو. حضرت محمد صلی الله علیه و سلم چې خبر شو، د دې لپاره چې د کفارو لښکر ونه شي

٦٩

کولای د مدینې ښار ته ورننوزي، نو د ښار ګېرچاپېره یې د خندق په کېندلو یې لاس پورې کړ. درې زره مسلمانانو په کې شل شپې، شل ورځې کار وکړ. تر درې ورځو به ورته ډوډۍ نه رسېده. ګېډو پورې به یې تیږې تړلې وې. حضرت محمد صلی الله علیه و سلم په خپله هم کار کاوه او په نس پورې یې کاڼي تړلي وو.

وایي چې په خندق کې یو لوی ګټ راووت. اصحابو کوښښ وکړ چې مات یې کړي، خو زور یې ورباندې ونه رسېد؛ مګر حضرت محمد صلی الله علیه و سلم چې پرې ګوزارونه وکړل، نو هغه ګټ یې مات کړ.

خواري، کوښښ، کار او زیار د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم ډېر خوښ وو. کار کول سنت دي.

نوي لغتونه

وریا ګټ خواري زیار دېره

٧٠

دکتاب مخونه: ٦٩ – ٧٠

عنوان: کار او زیار

ددرسونو شمېر: ٣

هدفونه: زده کوونکي باید؛

- متن په روانه او سمه توګه ولولي.
- د متن په مفهوم پوه شي
- د لغتونو په معناوو پوه شي او په خپله ژبه یې وایي / ولیکي.
- دا سمونو مختلف قسمونه وپېژني.
- د کار او زیار په نتیجه پوه شي.
- هیڅ کار په ظلم او زور پر چا ونه کړي.
- پوه شي چې پیغمبرانو او زموږ مشرانو هم کار او زیار کړی دی.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ مخونه	- ښوونکی «کار او زیار» په تخته لیکي او پوښتنه کوي چې: کار او زیار څه ته وایي؟ زده کوونکي د خپلو تجربو له مخې معلومات ورکوي زده کوونکي خپل دلایل او نظریات وایي. څه فکر کوئ چې څوک کار او زیار نه کوي نورو خلکو ته څرنګه ښکاري؟ قسم قسم نظریات ورکول.	توره تخته

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>- که تاسو کار او زیار و نه کړئ څه مشکلات به پېښ شي ؟
یو، یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د کار او زیار د ګټو په باب خبرې کوي .</td><td></td></tr>
<tr><td>۲
په متن کارکول</td><td>- متن تر [دې جومات ته نبوي مسجد هم وایي] پورې د نورو تېرو درسونو په شان تدریس کړئ .</td><td>کتاب</td></tr>
<tr><td>۳
مشق او تمرین</td><td>- ښوونکی زده کوونکي په دوو ګروپونو ویشي .
- پر تخته باندې یو لست د متن د مفردو کلمو او بل لست د جمعې کلمو لیکي له یوه ګروپ څخه غواړي چې د مفردو کلمو مخې ته د هر یوه جمع ولیکي او بل ګروپ د جمعې کلمو له پاره د هغو مفردې کلمې ولیکي :
<table>
<tr><th colspan="2">لومړی ګروپ</th><th colspan="2">دویم ګروپ</th></tr>
<tr><th>جمع</th><th>مفرد</th><th>مفرد</th><th>جمع</th></tr>
<tr><td>کفار</td><td></td><td>ځای</td><td></td></tr>
<tr><td>یاران</td><td></td><td>جومات</td><td></td></tr>
<tr><td>یتیمان</td><td></td><td>کلی</td><td></td></tr>
<tr><td>مشران</td><td></td><td>محکمه</td><td></td></tr>
<tr><td>ډېرې</td><td></td><td>خبره</td><td></td></tr>
<tr><td>لاسونو</td><td></td><td>شکره</td><td></td></tr>
<tr><td>پوښتنې</td><td></td><td>جنت</td><td></td></tr>
<tr><td>شیان</td><td></td><td>آشپز</td><td></td></tr>
<tr><td>دنیاګانې</td><td></td><td>ژبه</td><td></td></tr>
<tr><td>ښکې</td><td></td><td>ورځ</td><td></td></tr>
<tr><td>جنتونه</td><td></td><td>پسه</td><td></td></tr>
</table>
- د تمرین په پای کې ، ښوونکی د ګروپونو له مشرانو څخه غوښتنه کوي چې په نوبت سره له خپلو کتابچو څخه د مفرد کلمې په مخکې د هغې جمع او د جمعې کلمې په مخکې د هغې مفرد ولیکي .
نور زده کوونکي بحث او سمونې کوي .</td><td>تور تخته</td></tr>
</table>

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ـ زده کوونکي د تختې کلمې خپلو کتابچو ته رسوي.	کتابچې
۴ ارزيابي	ـ حضرت محمد ص له کوم ځای څخه چیرته هجرت وکړ؟ ـ حضرت محمد ص یوازې و که څنګه؟ ـ هلته یې بیا څه شی آباد کړ؟ ـ د جومات ځای یې له یتیمانو څخه په څه رنګه واخیست؟ ـ جومات د چا په لاسونو آباد شو؟ ـ هغه جومات بیا وروسته چا ډېر ښکلی کړ؟ ـ هغه جومات اوس په کوم نوم یادیږي؟ زده کوونکي جوابونه وايي. کورنی کار: تاسو چې نن له خپل ښوونځي څخه کورته ځئ خپل شاوخواته وګورئ څه چې وینئ له هغو څخه یو شی انتخاب کړئ او په څو کرښو کې ولیکئ چې هغه شی له څه شي (شیانو) څخه د چا په واسطه او څنګه جوړ شوی دی. مثلاً، کور، باغ، موټر، لوړ، بوټ او داسې نور.	کتابچې

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ یو، یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او خپله کورنۍ وظیفه نوروته لولي، نور زده کوونکي یې له خپلو کتابچو سره ګوري. په دې وسیله به معلوماتونه تبادله شي. ـ پوښتنې: • څوک چې په خپلو سبقونو کې زیار باسي هغه همېشه کامیاب وي که ناکام؟ • څوک چې ډېر کار کوي هغه په خپل ژوند کې څه رنګه وي؟ خوشاله وي د ژوند ټولې اسانتیاوې ورته برابرې وي ... • څوک چې کار نه کوي هغه ته څه ویل کېږي؟ بې کاره، لټ	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	تنبل ، بې روزګاره	
۲ په متن کارکول	- د متن پاتې برخه په ۶۹ - ۷۰ مخونو کې د معمول په شان تدریس کړئ .	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی پر تخته باندې دا رنګه یو جدول جوړوي او د هغې په یو ستون کې مختلف نومونه لیکي . بیا یې په بل ستون کې د ځای نوم د شخص نوم ، د وخت او د یو شي نوم لیکي ، بیا وایي چې په دې نومونو کې هر نوم په خپل ستون کې ولیکئ . لکه : • ښوونکی یو ، یو زده کوونکي ته نوبت ورکوي چې یو ، یو نوم واخلي بل زده کوونکی یې په توره تخته په جدول کې لیکي . کله چې کار پوره شو نو بیا یې کتابچو ته نقلوي .	توره تخته توره تخته کتابچې
۴ ارزیابي	- یوځل د کفارو لښکر له کوم ځای څخه چیرته روان شو ؟ - حضرت محمد ص د کفارو د لښکرو د مخنیوي له پاره څه وکړل ؟ - څو ورځې او شپې یې کار وکړ ؟ - دوی ته یعنې حضرت محمد ص ته ډوډۍ رسېدله ؟ - حضرت محمد ص په خپله کار کاوه که څنګه ؟ - حضرت محمد ص په خپل نس پورې څه تړلي وو ؟ - د حضرت محمد ص کوم شیان ډېر خوښ وو ؟	

مکه ، حضرت محمد ص ، ورځ ، ګټې ، کابل ، بامیان ، ښار ، خندق ، شپه ، ډوډۍ ، مدینه				
د ځای نوم	د شخص نوم	د وخت نوم	د یو شي نوم	
مکه	حضرت محمد ص	شپه	کاڼي	
مدینه	حضرت عثمان رض	ورځ	ګټې	
کابل		سهار	ډوډۍ	
ښار	محمد ګل			
کندهار				
خندق				
سالنګ				
بامیان				

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	کورنی کار ، تاسو په خپله د جوماتـ دامام یاکوم بل عالم سره مشوره وکړئ اود کار او زیار په باب د هغوی نظریات په خپلو کتابچو کې ولیکئ .	کتابچې

درسي پلان : ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ څخونه	– یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او خپله کورنۍ وظیفه نوروته لولي . زده کوونکي بحث کوي . ښوونکی سموونې او لارښوونه کوي . د ښوونکي لارښوونه : تاسوته په نوبت سره څو صحیح او غلطې جملې وایم ، معلوم کړئ چې صحیح ده که غلطه . • حضرت محمّد له مکې نه مدینې ته هجرت وکړ . ص ، غ • په یوه ځای کې هم دېره نه شول . ص ، غ • د جومات له پاره یې له یتیمانو څخه ځمکه وړیا واخیسته . ص ، غ • دکلي خلکو د جومات ځای په بیه ورکاوه . ص ، غ • حضرت محمد ص او یارانو یې په جومات کې په ګډه کار کاوه . ص ، غ	کتابچې
	– ښوونکی زده کوونکوته چانس ورکوي چې د ټول متن څخه په نوبت سره یوه یوه برخه سرترپایه ولولي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	– ښوونکی د ۴ – ۵ زده کوونکو ګروپونه جوړوي . یو تن سرګروپ ټاکي . وایي چې نور زده کوونکي ورته د «کار او زیار» دګټوروتوب په باب جملې ووایي چې سرګروپ یې ولیکي . – ښوونکی په ټولګي کې ګرځي ، د ښوځوابونو او جملو د پیداکولو له پاره زده کوونکو سره مرسته کوي	تور تخته
۴ ارزیابي	– د مدینې جومات چا په خپلو لاسونو جوړ کړ ؟ – په خندق کې هغه لوی ګټ چا مات کړ ؟ – په خندق کې یې څو ورځې او شپې کار وکړ ؟ – هره ورځ ورته د ورځې رسېدله که څنګه ؟ – نبوي مسجد دکوم جومات نوم دی ؟ – حضرت محمّد ص او یارانو یې دچاځای د څه له پاره واخیست ؟	

کورنی کار : نشته .

طمع



یو سوداګر خپل زوی د سوداګرۍ لپاره بل ځای ته ولیږه . د سوداګر زوی په لاره کې یو ړوند شلې ګیدړه ولیده . هغه حیران شو او په فکر کې شو چې دا به څنګه روزي پیدا کوي .

په دې فکر کې و چې یو زمری راپیدا شو . زمري یوه هوسۍ په خوله کې نیولې وه او د ګیدړې خوا ته راغی .

سوداګر له ویرې څخه د یوې ونې شاته پټ کښیناست . سیل یې کاوه . زمري ګیدړې ته نژدې د هوسۍ په خوړلو پیل وکړ . کله چې موړ شو ، څه برخه یې پرېښوده او ولاړ .

ګیدړه د ښکار په زور ورو ښوییده او ځان یې موړ کړ .

د سوداګر زوی چې دا حال ولید ، تر پخوا یې زیات په خدای جل جلاله عقیده ټینګه شوه . له ځانه سره یې وویل : "هر کله چې روزي رسوونکی خدای جلجلاله دی

او هیڅوک بې روزۍ نه پرېږدي نو څه حاجت دی چې زه دومره تکلیفونه تېروم ."

له لارې بېرته راوګرځېد او دا ټوله قصه یې پلار ته وویله .

پلار یې ورته وویل : "د سترګو تورو ، د خدای جل جلاله په رزاقیت کې هیڅ شک نشته . زه غواړم چې ته د هغه زمري په شان شې چې نور یې ستا له لاسه وخوري . نه د هغې ګیدړې په شان چې د بل چا په طمع کښېني ."



نوي لغتونه

طمع هوسۍ ډېره رزاقیت عقیده تکلیفونه

دکتاب مخونه : ۷۱ - ۷۲

عنوان : طمع

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن سم او روان ولولي .
- د متن په مفهوم وپوهېږي .
- د متن مطلب په خپله ژبه ووایلای / ولیکلای شي .
- په خپل ځان باور پیدا کړي .
- په متن کې د فعل کارولو باندې پوه شي .

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ مخونه	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي : ـ آیا زموږ د ستر پیغمبر حضرت محمّد ص کار خوښ و ؟ ـ آیا کار کول سنّت دي ؟ ـ زده کوونکي لاسونه پورته کوي . د ښوونکي له خوا یو ، یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته رابلل کیږي او خپل نظریات بیانوي . ـ ښوونکی پوښتنه کوي : که چیرې خدای مکړه ، داسې یو زده کوونکی	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	غواړي چې ویې لولي. فکر وکړي او ضد یې پیدا کړي [پاک- ناپاک، پاکوالی، ناپاکي، روغتیا، ناروغي]	
۴ لنډیز ارزیابي	ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي. لومړی رسم څه ښیي؟ دویم رسم څه ښیي؟ زده کوونکي فکر کوي، ځواب وایي. ښوونکی څو کلمې [سوتره، شاوخوا، سوتره‌کی] لیکي. زده کوونکي یې مترادفې کلمې وایي. همدارنګه ځینې کلمې لیکي چې زده کوونکي یې ضد کلمې ووایي. کورنی کار: د درس د پاڼې برخې ۱۸ کرښې په کورکې ولولي او ګران لغتونه په نښه کړي.	تور تخته

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې هغه ګران لغتونه ووایي چې په کور کې یې په نښه کړي دي. ښوونکی/ زده کوونکی هغه په تور تخته لیکي. ښوونکی څو تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي تر څو د پاکوالي په باب څه ووایي. ښوونکی پوښتنې کوي: پاکوالی څه دی؟ الله (ج) کوم کسان خوښوي؟ او نور.	تور تخته
۲ په متن کارکول	- ښوونکی/ زده کوونکی د ۷ مخ د متن د لوستلو له لارښوونو سره سم ولولي او کار پرې وکړي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکي په دوو ګروپونو ویشي او وایي: د "الف" په ګروپ کې د هر زده کوونکي نوم چې په (م) پیل کیږي یو تن د ټولګي مخې ته راشي د "ب" له ګروپ څخه دې پوښتنې وکړي. همدارنګه د "ب" ګروپ یو تن چې نوم یې په (ع) سره پیل کیږي د "الف" له ګروپ څخه دې پوښتنې وکړي. د "الف" ګروپ پوښتنې د "ب" له ګروپ څخه:	


مسلمان د خدای بنده یم



د الله دي قدرتونه
بې حسابه صفتونه
مخکه، بوټي، کاڼي، غرونه
لمر، سپوږمۍ، آسمان، بحرونه
رنګ په رنګ یې انسان دي
په هوا کې یې مرغان دي
تودې، یخې هواګانې
رنګارنګه فضاګانې
کله وربېځې او باران وي
کله واوره یا توپان وي
څه چې ګورې په دنیا کې
یا یې ګورې شاوخوا کې
پیدا کړي پاک مولا دي
چې مشغول یې په ثنا دي

رب پالونکی د جهان دی
د هر څه روزي رسان دی

١



دا جهان د انسان کور دی
هم یې کور دی، هم یې ګور دی
دا جهان نه چې ودان وي
نه چې زموږ له لاسه وران وي
ربه، ما ته ښه خصلت را
مروت را، محبت را
چې د تا ښه بندګي کړم
له هر چا سره نېکي کړم
مسلمان یم، ستا بنده یم
درته پروت تل په سجده یم

رحیم وکریم، ذوالجلاله
غني خدایه، لایزاله



نوي لغتونه

فضا توپان مولا مشغول ثنا خصلت مروت ذوالجلال

لایزال

٢

دکتاب مخونه: ١ - ٢
عنوان: مسلمان د خدای بنده یم
د درسونو شمېر: ٣
هدفونه: زده کوونکي باید:

● متن په سمه توګه ولولي.
● د نویو لغتونو په معنی پوه شي.
● د متن په معنی او مطلب پوه شي.
● د ځینو نومونو مفرد او جمع وپېژني.
● له ځینو مفردو نومونو څخه جمع جوړه کړي.
● د متن ځینې برخې له یاده ولیکي.
● پوه شي چې هر څه خدای پیدا کړي دي.
● موږ د خدای بندګان یو.
● باید خپل وطن آباد کړو.


درسي پلان: ١

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
١ مخونه	• ښوونکی زده کوونکو ته وایي: خپل شا وخواته وګورئ، څه چې وینئ نومونه یې واخلئ. • زده کوونکي وار په وار د شیانو نومونه اخلي: مځکه، ونې، کاڼي، توپان او نور. • ښوونکی زده کوونکو ته وایي: د خپل بدن د غړو نومونه واخلئ لکه غوږونه، خوله، لاسونه...	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	وي چې هغه د آزموینې په ورځ په دې طمع وي چې د بل څخه نقل وکړي د هغه نتیجه به څه وي ؟ زده کوونکي ځواب وایي .	
۲ په متن کارکول	ـ ښوونکی / زده کوونکی د کتاب د ۷۱ مخ پر متن تر ۱٦ کرښې پورې د نورو د رسونو د لارښود د همدې برخې له اصولو سره سم کار وکړي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی پر تخته باندې د لاندنیو کلمو دوه جلا لستونه لیکي : ① سوداګر ◯ باور ② واستاوه ◯ شروع ③ روزي ◯ زحمت ④ ړبره ◯ روزي رسول ⑤ پیل ◯ تاجر ⑥ عقیده ◯ ګټې ⑦ رازق ◯ رزق ⑧ تکلیف ◯ وړیا ⑨ رزاقیت ◯ ولېږه ⑩ بې پیسو ◯ روزي رسوونکی ـ له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره تختې ته ولاړ شي ، د ۱ ستون د یوې کلمې همعنا کلمه د ۲ ستون په کلموکې پیدا کړي او د هم هغې کلمې شمېر دې په خواکې ورسره ولیکي ؛ مثال : ⑪ نصیحت ⑪ پند ـ په پای کې زده کوونکي د تختې مطلبونه خپلو کتابچو ته نقلوي .	تخته توره تخته تباشیر کتابچې
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي : ۱ـ سوداګر خپل زوی چېرته د څه له پاره ولېږه ؟ ۲ـ د سوداګر	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	زوی په لاره کې څه ولیدل ؟ ۳- د سوداګر زوی په څه فکر کې شو؟ شلې ګیدړې څه وکړل ؟ کورنی کار : - د متن پاتې برخه په کور کې ولولئ .	کتاب

درسي پلان : ۲


پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی په شفاهي توګه له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي : د سوداګر زوی چې دا حال ولید څه یې وویل ؟ زده کوونکي لاس پورته کوي ځواب وايي ښوونکی د زده کوونکی د خولې خبرې په تور تخته لیکي . - زده کوونکي دا جملې په خپلو کتابچو کې لیکي . - یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي .  	تور تخته کتابچې
۲ په متن کارکول	- ښوونکی / زده کوونکي دې د متن پر پاتې برخه کار وکړي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	- زده کوونکي د کیسې لنډ مطلب په خپله ژبه په کتابچو کې لیکي . - زده کوونکي په نوبت سره خپل لیکلي مطالب ټولګیوالو ته لولي . - زده کوونکی / ښوونکی بحث او سمونې کوي . - که ټول زده کوونکي ونه شي کولای خپل مطالب ولولي ، دغه تمرین ته دې د بل درس په همدې مرحله کې ادامه ورکړي .	کتابچې
۴ ارزیابي	- ښوونکی په تور تخته لیکي ، لاندې ناسمې جملې سمې ولیکئ . ۱- پخوانې تر زیاته عقیده ټینګه شوه په خدای جل جلاله	تور تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۲- توره د سترګو د خدای جل جلاله رزاقیت په کې هیڅ نشته شک . ۳- د هغه نه په شان ګیدړې چې په طمع د بل کښیني . کورنی کار : دې کیسې ته ورته یوه لنډه کیسه په خپلو کتابچوکې ولیکئ .	کتابچې

درسي پلان : ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- څو زده کوونکي په نوبت سره خپل کورنی کارونه د ټولګي په مخکې لولي . - ښوونکی / زده کوونکی غلطۍ سموي . - ښوونکی د لوستونکي ځینې غلطې جملې پر توره تخته لیکي او غوښتنه کوي چې نور زده کوونکي یې سمې کړي .	کتابچې توره تخته
۲ په متن کارکول	- زده کوونکي په نوبت سره یوه یوه کرښه لولي . زده کوونکي غوږ نیسي او غلطۍ سموي . - ټول زده کوونکي په لوستلو کې برخه اخلي . - په پای کې یو زده کوونکی د متن لومړۍ نیمه برخه او یو بل زده کوونکی وروستۍ نیمه برخه لولي . - هر زده کوونکی کیسه په خپله ژبه وایي . نور زده کوونکي په نوبت سره تبصرې / سمونې کوي .	کتاب کتاب
۳ مشق او تمرین	- د تېر درس تمرین ته ادامه ورکوله کېږي (وګورئ د مخکیني درسي پلان د مشق او تمرین برخه)	کتاب
۴ ارزیابي	- د ا فعل ګردان کړئ : زه درس [لولم] زه ، ته ، هغه ، هغوی ، موږ ، تاسې ، هلکان ، محمود ، نرپیشکی ، راحله ، ښوونکی .	

د غابښونو ساتنه



غاښونه د الله جل جلاله نعمتونه دي. د ټول بدن د روغتیا او سلامتیا د ساتلو لهپاره د غابښونو پاک ساتل ډېر ضرور دي.

د زیاتو خوږو خوړل او د غابښونو نه پاکول د غابښونو د خرابېدو، درد او نورو ناروغیو سبب ګرځي.

د ډوډۍ او نورو خوړو تر خوړلو وروسته د غابښونو پاکول او پرمینځل ډېر ضرور دي. ځکه که د خوړو پاتې شوې ټوټې تر ډېر وخت پورې په غابښونو کې پاتې شي، وروستېږي. خوله بدبویه کېږي. د غابښونو پر خرابېدو برسېره د معدې درد او ناروغي هم پیدا کوي.

ځینې خلک هغه لارښوونې چې د غابښونو د پاکوالي او ساتنې لهپاره لازم دي، په پام کې نه نیسي. نو یې د مرغلرو په شان سپین غابښونه خرابېږي.

په کار دي چې غابښونه په مسواک سره پاک کړو. ځکه چې مسواک وهل سنت دي. که غابښونه په برس، کریم، مالګه او سوډا سره پاک کړو، هم ډېره ګټه لري.

٧٣

څه رنګه چې غابښونه د خوړو په میده کولو او د بدن په روغتیا کې زیات ارزښت لري. باید د خوړو په ژوولو کې ډېر احتیاط وکړو. هډوکي، غوزان یا نور کلک شیان په غابښونو مات نه کړو.

باید غابښونه د شپې د ویده کېدو څخه مخکې او سهار له چای څخه مخکې پرمینځل شي.

دکتاب مخونه: ٧٣ - ٧٤

عنوان: د غابښونو ساتنه

ددرسونو شمېر: ٣

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن سم او روان ولولي.
- د متن په مفهوم او مطلب پوه شي، په ورځنۍ ژوندکې ورځنه کار واخلي.
- د سختو لغتونو په معنا پوه شي.
- دکلمو په ترتیب سره جملې ولیکي.
- د غابښونو د ساتنې په باب یو پرګراف ولیکي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی له یو، یو زده کوونکي څخه په نوبت پوښتنې کوي چې د بدن د یو، یو غړي نوم واخلي او د هغه کار او ضرورت هم وښیي. ښوونکی دې بحث ته دوام ورکوي. - که چیرې د دې غړو څخه یو هم ناروغ شي څه مشکلات به پېښ شي؟ - د دې اندامونو/غړو د روغ ساتلو له پاره څه په کار دي؟	

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>ـ د هغو شیانو نومونه واخلئ چې د شیانو په خوړلو، ژوولو کې مرسته کوي .
ـ تاسو ته د خوړلو په وخت کې د کوم غړي کار ډېر مهم ښکاري ؟
ـ د هغه غړي، شي نوم واخلئ چې له هډوکو څخه جوړ شوي دي او د خوړو په میده کولو، نیولو او ژوولو کې ډېره مرسته کوي .
ـ زده کوونکي جوابونه وايي ، بحثونه او تبصرې کوي . ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي .</td><td></td></tr>
<tr><td>۲
په متن کارکول</td><td>ـ په ۷۳ مخ کې متن تر [د معدې درد او ناروغۍ هم پیدا کوي] پورې د تېرو درسي پلانونو د دویم قدم په شان تدریس کړئ .</td><td>کتاب</td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرین</td><td>ـ ښوونکی په تورو تخته باندې خو جملې په ګډوډ شکل لیکي، زده کوونکو ته وايي چې په پټه خوله یې له ځانه سره ولولي . بیا چې ټولې جملې پوره شوې لارښوونه کوي چې لومړی یې کتابچو ته نقل کړي او بیا ور څخه د کلمو په ترتیب صحیح او سمې جملې جوړې کړي .

دي ټول د بدن روغتیا او ضرور ډېر سلامتیا د ساتلو دغابنونو له پاره ساتل پاک

خوړل د خوږو زیاتو او د نه پاکول غابنونو درد او ناروغیو ګرځي دغابنونو سبب نورو خرابېدو

د ووړیه او خوږو نورو تر وروسته خوړلو پاکول پرېمنځل او د غابنونو ضرور دي ډېر

کیزي بدبویه خوله

خرابېدو پر دغابنونو برسېره هم ناروغي او پیدا درد کوي دمعدې

ـ هر یو په انفرادي ډول سره کار وکړئ ، ښوونکی په ټولګي کې ګرځي ، د کار څارنه او له زده کوونکو سره مرسته کوي .
ـ کله چې کار خلاص شو یو، یو زده کوونکی یې په نوبت سره لولي .
نور زده کوونکي غوږ نیسي . سمونې او تبصرې کوي .</td><td>تور و تخته

کتابچې</td></tr>
</table>

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
کتابچې	- ښوونکی شفاهي پوښتنې کوي : - د ټول بدن د روغتیا او سلامتیا د ساتلو له پاره د څه شي پاک ساتل ضرور دي ؟ - د زیاتو خوږو خوړل او د غاښونو نه پاکول کوم ډول ناروغی پیدا کوي ؟ - غاښونه باید څه وخت پر برمنځل شي ؟ - خوله د څه شي په واسطه بدبویه کیږي ؟ - که د خوږو ځینې ټوټې په غاښونو کې پاتې شي ، څه تکلیف پیدا کوي ؟ زده کوونکي جوابونه وايي . کورنی کار : له خپل پلار یا نورو مشرانو سره مشورې وکړئ او د غاښونو د پاک ساتنې نورې طریقې ولیکئ .	۴ ارزیابي / لنډیز

درسي پلان : ۲

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
کتابچې تورتخته کتابچې	- څو زده کوونکي په نوبت سره خپل کورني کارونه لولي ، نور زده کوونکي یې له خپلو کورنیو کارونو سره مقایسه کوي . - ښوونکی ورڅخه ځینې مهمې جملې په تخته لیکي ، زده کوونکي کولای شي دا جملې په خپلو کتابچو کې ولیکي . - پوښتنې : - غاښونه د کومو شیانو په وسیله پاکیږي ؟ - که غاښونه پاک ونه ساتو نو په کومو ناروغیو به اخته شو ؟ - یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د غاښونو د پاک ساتلو کیسې بیانوي .	۱ هڅونه
کتاب	- په ۷۳ - ۷۴ مخونو کې د متن پاتې برخه د تېرو درسي پلانونو د دویم پړاو په شان تدریس کړئ .	۲ په متن کارکول

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۲ په متن کارکول	- ښوونکی څینې جملې په داسې ډول په تخته لیکي - زده کوونکو ته وایي چې له ځانه سره یې په پټه خوله ولولي او فکر وکړي چې د کومې کلمې په استعمال سره به جمله پوره او معنی داره شي. . په کاردي چې غاښونه په مسواک سره پاک ______ . مسواک وهل سنت ______ . که غاښونه په برس ، کریم ، مالګه اوسووا سره پاک ______ . هم ډېر ګټه ______ . باید غاښونه د شپې د ویده کېدو څخه مخکې او سهار له چای څخه مخکې پریمنځل ______ . غاښونه د خوړو په میده کولو کې زیات ارزښت ______ . غاښونه د بدن په روغتیاکې زیات ارزښت ______ . د مرغلرو په شان سپین غاښونه ______ کوي / شي / خرابیږي / توریږي / دي / لري / کړو - ښوونکی لاندې ښوونه کوي چې د چوکاټ کلمې هم ولولئ اوددې په مرسته جملې پوره کړئ. - زده کوونکي په نوبت سره تختې ته راځي یوه ، یوه جمله مکملوي. - ښوونکی هرځل د فعلونو په استعمال او اهمیت بحث کوي. - زده کوونکي که وغواړي جملې دې کتابچو ته نقل کړي.	توره تخته توره تخته کتابچې
۴ ارزیابي / لنډیز	- که غاښونه په خپل وخت پاک نه کړو ، نو بیا په غاښونو کې څه پاتې کیږي او بیا څه کیږي ؟ - غاښونه د کومو شیانو له پاره زیات ارزښت لري ؟ - د خوړو په ژوولو کې باید له څه شي څخه کار واخلو ؟ - په غاښونو باید کوم شیان مات نه کړو ؟ کورنۍ دنده : - له خپلو مشرانو سره مشورې وکړئ او د همغو شیانو په باب د همغوی معلومات ولیکئ چې غاښونو ته تاوان رسوي.	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ څو زده کوونکي په نوبت سره خپل کورنۍ کارونه نوروته لولي ، زده کوونکي ورته غوږ نیسي . ـ ښوونکی د زده کوونکو له کورنۍ کارونو څخه د هغو شیانو نومونه په توره تخته لیکي کوم چې غابښونه خرابوي . ـ زده کوونکي کولای شي په تختې لیکل شوي نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکي . ـ یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د غابښونو د پاک ساتلو په باب خبرې کوي .	کتابچې توره تخته کتابچې
۲ په متن کارکول	ـ زده کوونکي په نوبت سره د ټول متن څخه یوه ، یوه برخه لولي ، نور زده کوونکي یې هم په نوبت سره د هغې برخې لنډ مطلب بیانوي . ـ ښوونکی به دې مرحلې ته دوام ورکوي . ـ په پای کې یو یو زده کوونکی ټول متن لولي . او بل زده کوونکی د متن مطلب په خپله ژبه بیانوي . زده کوونکي بحث ، سموني او تبصرې پرې کوي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی په توره تخته باندې [د غابښونو ساتنه] لیکي . ـ له زده کوونکو څخه غواړي چې هر یو په نوبت سره یوه ، یوه جمله ووایي . ـ ښوونکی ، زده کوونکی ، جملې په توره تخته لیکي . ـ کله چې جملې پوره شوې زده کوونکي یې کتابچوته نقلوي .	توره تخته کتابچې
۴ ارزیابي لنډیز	ـ د غابښونو د پاکولو له پاره کوم شیان په کار دي ؟ ـ غابښونه باید څه وخت پریمنځل شي ؟ ـ که څوک خواږه بې ژوولو تېر کړي د څه شي په درد او ناروغۍ اخته کیږي ؟ ـ د خولې بدبویي له څه شي څخه پیدا کیږي ؟ ـ د غابښونو ژیړوالی له څه څخه پیدا کیږي ؟ کورنی کار : نشته .	

واده ته بلنه

محترم ورور هدایت الله خان !

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

د ... په ورځ د . . میاشتې په ... نېټه د ...

... بجو د ... واده ته ستاسو د راتلو په انتظار یو.

په درنه مینه

سید حبیب

پته : د چهارباغ اړه، جلال اباد ، د بهسود پلسنت ترڅنګ ، د سید حبیب کور

نوې لغتونه

سلامتیا احتیاط سودا

74

دکتاب مخ : ۷۴

عنوان : واده ته بلنه

د درسونو شمېر : ۱

هدفونه : زده کوونکي باید :

- رقعه ولوستلای شي.
- رقعه ولیکلای شي .

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	– ښوونکی دا رنګه د یو بحث لاره ښوونه کوي . – له هر زده کوونکي څخه پوښتنه کوي چې د جمعې په ورځ چېرې وړ وه او څه یې وکړل . – هر زده کوونکی په نوبت سره خپل کارونه بیانوي ، له پلار سره د قرآن شریف ختم ته تللی وم ، واده ته تللی وم ، ښار ته تللی وم . . . – تاسو چې د قرآن شریف ختم یا واده ته تللي وئ ، څنګه خبر شوئ چې د پلاني په کور کې ختم یا واده دی ؟ – زده کوونکي ځوابونه وایي . ښایي ووایي : مونږ یې غوښتي وو ، هغوی مونږ ته د ختم یا واده رقعه رالېږلې وه . – څنګه مو هغه ځای پیدا کړ ؟ (د ځای پته یا آدرس یې په	د ختم یا واده رقعې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	رقعه کې لیکلي و .) ـ نور خلك هم راغلي ووکه څنګه ؟ (هو ، ډېر خلك بې راغوښتي وو) ـ یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د واده د رقعې په باب خبرې کوي .	رقعه
۲ په متن کارکول	ـ په ۷۴ مخ کې د [واده بلنه] متن د تېرو درسي پلانونو د دویم پړاو په شان تدریس کړئ .	کتاب تخته
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی په تورو تخته باندې د متن هره جمله په بشپړه توګه په بې ترتیب ډول سره لیکي . ـ زده کوونکو ته وایي چې جملې له ځانه سره په پټه ولولي . بیا دې جملو په ترتیب [واده ته بلنه] یوه رقعه جوړه کړي او جملو ته لمبر ورکړي چې کومه اول ، دویمه ، دریمه ، څلورمه او پنځمه ... راځي . ـ کله چې یې کار خلاص کې ، بیا یې هر زده کوونکی له کتاب سره مقایسه او صحیح کوي . واده ته بلنه ۲ ـ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ۱ ـ محترم ورور هدایت الله خان ۴ ـ ستاسو د راتلو په انتظار یو ۳ ـ د ... ورځ د ... میاشتې په ... نېټه د ... بجو د ... واده ته ۶ ـ سیدحبیب ۵ ـ په ډېره مینه ۷ ـ پته ، د ننګرهار اېوه، جلال آباد ، دبرېښنا ریاست ترڅنګ د سید حبیب کور	کتاب توره تخته
۴ ارزیابي	ـ واده ته څوک راغوښتل شوي دي ؟ ـ د چا له خوا راغوښتل شوي دي ؟ ـ واده د چا په کورکې دی او د کور آدرس یې کوم دی ؟ ـ د ورځې ، میاشتې ، نېټې او بجې یادونه په کې شوې ده که څنګه ؟ کورنی کار : له خپلې خوا یوه د واده رقعه خپلو ملګرو ته ولیکئ . ورځ ، نېټه ، میاشت ، بجې او آدرس په کې ولیکئ .	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	څوک لیکلای شي [چټل] او مترادفه کلمه یې؟ [چاپېریال] [ناولی] د «ب» ګروپ پوښتنې د «الف» له ګروپ څخه: څوک لیکلای شي [ډک] او ضد کلمه یې؟ [ناروغه] [ګټه] [خوسا] - ښوونکی/ زده کوونکي دې دغه ډول نورې زیاتې کلمې په نښه او کار دې پرې وکړي. - زده کوونکي مترادف او ضد الفاظ له تورې تختې څخه په خپلو کتابچو کې لیکي	توره تخته
۴ ارزیابي	ښوونکی پر زده کوونکو د متن یوه یوه برخه لولي او بیا پوښتنې کوي: آیا پرته له اودس کولو او پاکوالي څخه لمونځ کېدای شي؟ څه شی د انسان بدن روغ ساتي؟ په کوم وخت کې کولای شو د کورنۍ دغړو، خپلوانو او کاونډیانو د نظافت په باب لارښوونه وکړو؟ کرکه د کور له پاره څه ګټه لري؟ - زده کوونکي فکر کوي او ځواب وايي. کورنی کار: نشته.	

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره د مخو کارونو په باب لنډ لنډ وغږېږي چې له خوبه تر پاڅېدو وروسته ښوونځي ته تر رسېدو پورې یې کړي دي. زده کوونکي جملې په تخته او په آخر کې په کتابچو کې لیکي.	توره تخته کتابچې

رحمٰن بابا

د عبدالرحمٰن بابا د پېژندنې له پاره دومره بس دی چې ټول خلک ورته بابا وايي. د پلار نوم يې عبدالستار دی. په ۱۰۴۲ قمري هجري کال کې د پېښور په بهادر کلي کې زېږېدلی دی. په قوم مومند و.



څه رنګه چې يو عالم او په خدای جل جلاله باندې مين شاعر، ځان په يوه ځای او قام پورې تړلی نه بولي، عبدالرحمٰن بابا هم د خپل ځان د پېژندنې په هکله داسې وايي:

زه عاشق يم سروکار مې دی له عشقه
نه خليل، نه داودزی يم، نه مومند

عبدالرحمٰن بابا د پښتو ژبې ډېر لوی شاعر و. دی د اشعارو يو ديوان لري چې خلک يې په ډېره مينه لولي. شعرونه يې تقريباً د هر چا ياد دي. خلک ورباندې ښه پوهېږي؛ ځکه هغه خوند چې د بابا په شعرونو کې شته، په نورو شاعرانو کې کم موندل کېږي.

عبدالرحمٰن بابا په ۱۱۲۸ قمري هجري کال کې وفات

شو. د پېښور په هزارخوانۍ کې خاورو ته وسپارل شو.

اوس يې پر قبر ګال په ګال مشاعره کېږي. ګڼ خلک يې زيارت ته ورځي او د قرآن شريف ختمونه کوي.

د بابا د شعر نمونه دا ده:

کړ د ګلو کره چې سيمه دې ګلزار شي
اغزي مه کره، په پښو کې دې خار شي
نه چې بل په غشو ولې، مسې پوه شه
چې هم دا غشی به ستا په لور ګوزار شي
آدمزاد په معنی واړه يو صورت دی
هر چې بل آزاروي هغه آزار شي

نوي لغتونه

سروکار ديوان مشاعره کر سيمه خار آدمزاد

دکتاب مخونه: ۷۵ - ۷۶

عنوان: رحمٰن بابا

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن روان او سم ولولي.
- د متن په مفهوم او مطلب پوه شي (رحمٰن بابا وپېژني)
- په متن کې د سختو لغتونو په معناوو پوه شي.
- د رحمن بابا (او خپلې سوانح) ولیکلی شي.
- د نظم ځینې برخې په خپله ساده ژبه وویلای او ولیکلای شي.
- د رحمٰن بابا د پند او نصیحت څخه په خپل ژوند کې ګټه واخلي.
- پوه شي چې موږ باید څانونه داسې تیار کړو چې نور خلک مو په ښه نامه یاد کړي.

لومړۍ درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ مخونه	- ښوونکی د يو بحث لاره ښوونه کوي. - ستاسو په کلي کې مشهور خلک څوک دي؟ هر يو زده کوونکی په خپل نوبت سره ځینې نومونه اخلي. - دا خلک ولې مشهور دي؟ زده کوونکي مختلف ځوابونه وايي لکه: عالم دی، د کلي مشر دی، ډاکتر دی، شاعر دی . . . - نن به يو ډېر مشهور سړی وپېژنو، هغه د پښتو ژبې شاعر و،	

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
	اوس مړ شوی دی ، خلک یې شعرونه ډېر خوښوي . په جوماتونو ، حجرو ، راډیو ، اخبارونو او مجلو کې یې شعرونه لیکل او ویل کیږي . ـ څه فکر کوئ چې دا به څوک وي ؟ ـ زده کوونکي د خپلو تجربو او معلوماتو په وسیله د ځینو خلکو نومونه اخلي . ـ ښوونکی هڅه کوي چې د زده کوونکو په واسطه د رحمٰن بابا نوم پیدا کړي . ـ یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د هغه د کارونو نومونه اخلي چې خلک ورباندې ښه شهرت پیدا کوي .	
کتاب	ـ د ۷۵ مخ متن تر [په نورو شاعرانو کې کم موندل کیږي] پورې د معمول په شان تدریس کړئ .	۲ په متن کار کول
کتابچې کتابچې	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې کتابچې را واخلي او په خپله د رحمٰن بابا په باب ځینې ضروري خبرې ولیکي . مثلاً : رحمٰن بابا د عبدالستار زوی و . په بهادر کلي کې زیږېدلی دی . د پښتو ژبې مشهور شاعر و . . . . ـ په دې وخت کې ښوونکی څارنه کوي ، هر زده کوونکی به خپل کار ته پرېږدي چې د رحمٰن بابا په باب څه ولیکي . لارښوونه کوي چې زده کوونکي د خپل څنګ ملګري سره کتابچې بدلې کړي او یو د بل معلومات ولولي ، غلطۍ اصلاح کړي .	۳ مشق او تمرین
	ـ رحمٰن بابا په کوم ځای کې زیږیدلی دی ؟ ـ د پلار نوم یې څه و ؟ ـ رحمٰن بابا د خپلې پېژندنې له پاره څه وایي ؟	۴ ارزیابي / لنډیز

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- رحمن بابا دکومې ژبې شاعر و ؟ - د شعرونو کوم کتاب لري که څنګه ؟ - په کوم کال زېږېدلی دی ؟ کورنی کار : په کورکې له خپل پلار یا ورور سره دادرس ولولئ او بیا د رحمن بابا په باب د هغوی نظریات ولیکئ .	کتابچې

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- یو ، یو زده کوونکی په نوبت سره د ټولګي مخې ته راځي او د پرون ورځې کورنی کار نورو ته لولي . - نور زده کوونکي یې له خپلو کتابچو سره مقایسه کوي ، په دې ډول به د معلوماتو تبادله هم وشي . - پوښتنې : - کله چې تاسو د خپلو مشرانو سره کښېنئ ، نصیحت در ته کوي که څنګه ؟ - زده کوونکي به ممکن په یو آواز ووايي چې « هو » - تاسو ته چې مشران نصیحت کوي هغه څرنګه وي ؟ یو ، یو زده کوونکی یو یو نصیحت وايي . - څه فکر کوئ چې دا نصیحتونه به تاسو ته ګټور وي که څنګه ؟ هر زده کوونکی خپله رایه څرګندوي . - که څوک د مشرانو نصیحت ونه مني څه مشکل به پېښ شي ؟ زده کوونکي جوابونه وايي .	کتابچې کتابچې
۲ په متن کار کول	- د متن د نثر پاتې برخه په ۷۵ - ۷۶ مخونو کې د معمول په شان تدریس کړئ.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- په یوه ، یوه پاڼه کاغذ کې هر یو خپلې سوانح ولیکئ . - ښوونکی به دا ډول نمونه د هغوی د زیاتې لار ښوونې اومرستې له	کتابچې

<table>
<tr><th>درسي مواد</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>پړاوونه</th></tr>
<tr><td>توره تخته</td><td>
پاڼه په تخته جوړوي.
- د زده کوونکو د کار په وخت کې به په ټولګي کې ګرځي د کار څارنه به کوي او د ضرورت په وخت کې به مرسته کوي.
- کله چې کار خلاص شو ځینې زده کوونکي یې د نمونې په ډول لولي.
- نور زده کوونکي / ښوونکی غوږ نیسي. تبصره او سمونې کوي.
<table>
<tr><th colspan="2">د سوانحو پاڼه</th></tr>
<tr><td>● نوم</td><td>●</td></tr>
<tr><td>● د پلار نوم</td><td>●</td></tr>
<tr><td>● قام</td><td>●</td></tr>
<tr><td>● د زیږیدو نیټه</td><td>●</td></tr>
<tr><td>● د زیږیدو ځای</td><td>●</td></tr>
<tr><td>● ولایت / ولسوالي</td><td>●</td></tr>
<tr><td>● د استوګنې اوسنی ځای</td><td>●</td></tr>
<tr><td>● د پلار کسب او کار</td><td>●</td></tr>
<tr><td>● ټولګی / ښوونځی</td><td>●</td></tr>
<tr><td>● د خوښې مضامین</td><td>●</td></tr>
<tr><td>● د خوښې کسبونه</td><td>●</td></tr>
<tr><td>● آینده کسب او کار</td><td>●</td></tr>
<tr><td>● په کور کې څه کارونه کوئ</td><td>●</td></tr>
</table>
</td><td></td></tr>
<tr><td></td><td>
- رحمن بابا په کوم کال کې زیږیدلی دی؟
- په کوم ځای کې زیږیدلی دی؟
- رحمن بابا په کوم کال وفات شو؟
- رحمن بابا په کوم ځای کې خاورو ته وسپارل شو؟
- پر قبر یې کوم مراسم اجرا کیږي؟
- تاسو ته د نني درس کومو خبرو زیات خوند درکړ او ولې؟
کورنی کار:
- د دې شعر د مطلب په باب څو کرښې ولیکئ چې وايي:

کر د ګلو کړه چې سيمه دې ګلزار شي
اغزي مه کره په پښو کې به دې خار شي
</td><td>۴
ارزیابي
/
لنډیز</td></tr>
</table>


راوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ یو، یو زده کوونکی په نوبت سره د ټولګي په وړاندې نورو زده کوونکو ته خپله کورنۍ وظیفه لولي. نور یې له خپلو کتابچو سره ګوري او خپل معلومات ورسره مقایسه کوي. ـ ښوونکی ددې لغتونو څخه یو، یو د زده کوونکو په واسطه په جملو کې استعمالوي. سروکار، دېوان، مشاعره، کړ، سیمه، خار، آدمزاد	کتابچې تورهتخته
۲ په متن کارکول	ـ ښوونکی په زده کوونکو باندې د ۷۶ مخ د شعر په متن باندې کارکوي. څو زده کوونکي په نوبت شعر لولي. ورپسې یو، یو زده کوونکي په نوبت پاڅیږي او د شعر یوه کرښه معنا کوي. زده کوونکي بحث کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ زده کوونکي د شعر مطلب په خپلو کتابچو کې په خپله ژبه لیکي. ـ زده کوونکي په نوبت سره خپل لیکلي مطالب د ټولګي په مخ کې لولي. ـ نور زده کوونکي سمونې او تبصرې کوي ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي. بیا څو تنه زده کوونکي د شعر مطلب په خپله ژبه وایي.	کتابچې
۴ ارزیابي / لنډیز	ـ د رحمٰن بابا له ویناوو څخه تاسو څه ګټه واخیسته؟ ـ د رحمٰن بابا د پیدا کېدو او وفات تاریخونه کوم دي؟ ـ رحمٰن بابا چیرته پیدا او بیا چیرته وفات او خاورو ته سپارل شوی دی؟	

پاک خواړه



د اسد پلار به هر وخت ویل: ژوند عقل په روغ بدن کې وي. که غواړئ چې روغ او خوشحاله ژوند وکړئ، کوښښ وکړئ چې د ناپاکو شیانو له خوړلو څخه ځانونه وساتئ، پاک خواړه وخورئ.

ورسې له پلار څخه پوښتنه وکړه: "پاک خواړه څه ګټه لري؟" پلار یې ورویل: ګټه یې دا ده چې که څوک پاک خواړه وخوري، روغ او جوړ وي، رنګ یې تازه وي، لوست ښه زده کولی شي، ژر نه په قهرېږي، د کور کارونه ښه کولی شي او خلک ورسره مینه لري."



د اسد پلار دا هم ورته وویل: "هڅه وکړئ چې خواړه له دوړو، خاورو او مچانو څخه پټ وساتئ. ځکه چې دوړې او خاورې ځینې مکروبونه لري. دا مکروبونه له خوړو سره یو ځای کېږي او ناروغي پیدا کوي. مچان په ناپاکو شیانو کښېني. د ناروغۍ

۷۷

مکروبونه له ځان سره راوړي. په خوړو باندې یې پرېږدي او ناروغي پیدا کوي."

اسد وویل: "پلاره، بې پاکو خوړو نور هم څه وایه."

پلار یې وویل: "خواړه باید تر پخولو د مخه ښه پرېمنځل شي. پاخه شوي خواړه دې په سړه او پاک ځای کې وساتل شي چې خراب نه شي. جالي دې په لوښي باندې وغوړول شي. خواړه دې په پتاسو یا مالګینو اوبو پرېمنځل شي. همدارنګه خواړه باید ښه پاخه شي."

د نفاق نښې نښانې:

دروغ ویل
وعده ماتول
امانت خیانت کول
د قهر او غصې پر وخت بدکنځلې کول

نوي لغتونه
پتاس دوړې

۷۸

دکتاب مخونه: ۷۷-۷۸
عنوان: پاک خواړه
د درسونو شمېر: ۳
هدفونه: زده کوونکي باید:
- ● متن په سمه او روانه توګه ولولي.
- ● دمتن مطلب په خپله ژبه وویلای شي.
- ● د سختو لغتونو په معنا پوه شي.
- ● په متن کې نومونه او فعلونه سره بېل کړای شي.
- ● د پاکو خوړو په ګټو پوه شي.
- ● پوه شي چې کوم شیان خواړه خرابوي.
- ● د متن د موضوع په اړه څه ولیکلای شي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- ښوونکی د پوښتنو په واسطه د بحث لار ښوونه کوي. - ستاسو پاک کالي یا جامې خوښېږي که چټل یا خیرن؟ - په پاک او سوتره ځای کې کښېناستل او اوسېدل موخوښ که په ناپاک ځای کې؟ - ډوډۍ خوړل په پاکو لوښو، پاکو لاسونو او پاک ځای کې خوند کوي که په ناپاک ځای کې؟	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- کله چې زده کوونکو خپل ځوابونه ورکړل نو بیا یو زده کوونکی چې د ښه پاک او نظافت یې ښه وي د ټولګي په مخکې د پاک خوړو په باب خبرې کوي، ښوونکی مرسته کوي. - نور زده کوونکي تبصرې کوي او خپل نظریات وایي.	
۲ په متن کارکول	- د ۷۷ مخ پر متن تر [خلك ورسره مينه لري] پورې د پخوانيو درسي پلانونو د دوهم پړاو په شان کار وکړی.	کتاب
۳ مشق او تمرين	- ښوونکی د ۴-۵ زده کوونکو ګروپونه جوړوي، د ښه ساک زده کوونکي يې د سرګروپ په ډول ټاکي. او بيا په تخته باندې په دې ډول دوه جملې ليکي. - ښوونکی وايي چې تختې ته وګورئ او دا جملې ولولئ. بيا دې يې سرګروپ په خپله کتابچه کې وليکي. **پاک خواړه** • ورځې له پلار څخه پوښتنه وکړه؟ • پلار يې وويل: - د ګروپ نور زده کوونکي د ورځې د پوښتنې جريان او د پلار ځوابونه سرګروپ ته په نوبت سره وايي هغه يې ليکي - ښوونکی د کار څارنه کوي. - هرګروپ د کار نتيجه د ټولګي په مخکې لولي. - ښوونکی يې په توره تخته ليکي او د ليک نښې نښانې په کې مراعات کوي، کله چې کار خلاص شو، زده کوونکي يې کتابچو ته نقلوي.	توره تخته کتابچې کتابچه توره تخته کتابچې
۴ ارزيابي / لنډيز	- داسد پلار به هروخت څه ويل؟ - که غواړئ چې روغ او خوشحاله ژوند وکړئ نو د څه کوښښ په کار دی؟ - ورځې له پلار څخه څه پوښتنه وکړه؟ - پلار يې څه وويل؟	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	کورنی کار : - په کورکې له خپلو مشرانو سره مشورې وکړئ او د پاک خوړو په باب د هغوی خبرې ولیکئ .	کتابچې

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- زده کوونکي خپل کورنی کارونه په نوبت سره لولي ، نور زده کوونکي یې له خپلو کتابچو سره مقایسه کوي . - ښوونکی ورځنۍ ډېرې مهمې خبرې / جملې په تخته لیکي / زده کوونکي کولای شي دا جملې په خپلو کتابچو کې ولیکي . - ښوونکی پوښتنه کوي ویلای شئ چې خواړه باید له کومو شیانو څخه پټ وساتل شي ؟ - یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د هغو شیانو په باب خبرې کوي چې د خوړلو په پاک ساتلو کې مرسته کوي .	کتابچې، تور تخته کتابچې
۲ په متن کارکول	- د ۷۷ - ۷۸ مخونو د متن پاتې برخه د تېرو درسي پلانونو د دویم پړاو په شان تدریس کړئ .	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی په تخته باندې دا دوه جملې لیکي : - نوم (اسم) هغه کلمه چې د یو شي یا یو ځای یا یو کس نوم وی ، لکه : اسد (د یو کس نوم) عقل (د یو شي نوم) بامیان (د یو ځای نوم) - فعل هغه کلمه ده چې د کوم کار د کولو / کېدلو معنا ولري ، لکه : ولاړ به شو ، کیږي ، ورځي ، کوي ، خورم ، ولاړو او داسې نور	تور تخته

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
کتاب کتابچې	ـ بیا زده کوونکي په ګروپونو ویشي او هر ګروپ ته وظیفه ورکوي چې د متن یوه برخه په ګډه سره ولولي او نومونه او فعلونه په نښه کړي او بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکي ، لکه : نوم — فعل اسد — ویل پلار — وي وخت — وساتئ ـ تر هغه وروسته د هر ګروپ مشر د خپل ګروپ د کار نتیجه ټولګیوالو ته لولي . نور زده کوونکي تبصرې / سمونې او ښوونکی مرسته کوي .	
کتابچې	ـ پوښتنې : ـ خواړه باید له کوموشیانو څخه پټ وساتل شي ؟ ـ په خاورو او دوړو کې کوم ډول مکروبونه شته که څنګه ؟ ـ خواړه باید تر پخولو مخکې څه رنګه شي ؟ ـ خواړه دې په کومو شیانو پرېمنځل شي ؟ ـ اسم او فعل څه توپیر لري ؟ کورنی کار : ـ دا درس په کورکې خپلې مور او خویندو ته ولولئ او د پاک خوړو په باب د هغوی نور معلومات او لارې چارې په کتابچوکې ولیکئ .	۴ ارزیابي / لنډیز

درسي پلان : ۳

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
کتابچې تور تخته کتابچې	ـ څو تنه زده کوونکي خپل کورنی کار د ټولګي زده کوونکو ته لولي . ـ ښوونکی و رڅخه ځینې مهمې جملې / خبرې په تخته لیکي . بیا یې زده کوونکي کتابچوته نقلوي . ـ تاسو د پاک او ناپاک خوړو په باب څه زده کړل .	۱ هڅونه


پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ـ اوس نوبه تخته باندې د پاکوخوړو په باب یوه ، یوه جمله ولیکئ چې بدن ته څه ګټه رسوي. ـ ښوونکی به له زده کوونکو سره مرسته کوي او هڅه کوي چې ډېرې جملې ولیکي ، بیا ور څخه ډېرې ښې جملې انتخابوي ، بیا یې زده کوونکي لولي اوکولای شي چې په کتابچو کې یې ولیکي .	تورې تخته کتابچې
۲ په متن کارکول	ـ ښوونکی/ زده کوونکی د پخوانۍ درسي پلانونو له اصولو سره ټول متن تکراروي. ـ څو زده کوونکي په نوبت سره د متن یوه، یوه برخه لولي ، نور زده کوونکي یې لنډ مطلب وایي ، په دې ډول به ټول متن ولوستل شي او مطالب به یې د زده کوونکو له خوا په لنډه توګه وویل شي. ښوونکی به مرسته کوي . زده کوونکي تبصرې کوي او خپلې نظرې بیانوي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی زده کوونکي په ګروپونو ویشي . هرګروپ ته وظیفه ورکوي چې د متن یوه برخه چې ورته ټاکل شوې ده ولولي او هغه کلمې چې نه اسم وي او نه فعل په نښه کړي اوپه خپلو کتابچو کې یې ولیکي، لکه : به ، هر ، په ، کې ، که ، چې ، او ، د له څخه اوداسې نور. ـ دهرګروپ مشرخپل دګروپ دکار نتیجه ټولګیوالوته لولي . ـ بیا ښوونکی پوښتنه کوي چې دغه کلمې څه وظایف اوکومې معناوې لري :. ـ ښوونکی یودوه مثاله ورته تشریح کوي او ورته وایي : [به] آینده زمانه ښیي . [او] « خوشحاله » له « روغ » سره نښلوي (وروستۍ کلمه	کتابچې کتابچې

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td>۲
په متن کارکول</td><td>ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب (۷) مخ پرانیزي او متن له موږ هرچیرته چې اوسیږو تر پایه پورې د ښوونیو درسونو په شان ولولي.</td><td>کتاب</td></tr>
<tr><td>۳
مشق او تمرین</td><td>ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې لاندې نیمګړې جملې د چوکاټ له کلمو څخه بشپړې کړي: موږ هرچیرته چې ... اوسیږو ... ده چې د کلي، کور، کوڅو، شاوخوا او چاپیریال ... صفايي ته پوره ... وکړو. پاکوالی د انسان بدن ... ساتي او د ماشي د ... تبه خپروي.

<table><tr><td>روغ</td><td>پاکوالی</td><td>ضروري</td><td>ملاریا</td><td>پام</td></tr></table>
ښوونکی/زده کوونکي پر دوو ګروپونو ویشي او په شفاهي ټوګه پوښتنې کوي. هرچا چې ښه ځوابونه وویل د بلې ورځې له پاره سرګروپ ټاکل کېږي.
د الف »ګروپ پوښتنې« — د »ب« ګروپ پوښتنې
د پاکوالی مترادفه کلمه کومه ده؟ (صفايي) — د روغ ضد کلمه کومه ده؟ (ناروغ)
د ملاریا ماشې چیرته پیدا کېږي؟ (په خوړو او بوګې) — هغه څه شی دی چې د خولې بوی ورک کوي؟ (مسواک)
دغسې نور سوالونه په مسلسله ټوګه یو له بل څخه کوي.</td><td>تور تخته</td></tr>
<tr><td>۴
ارزیابي</td><td>ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې نیمګړې کلمې د جدول له تورو څخه بشپړې کړي.
یو یو زده کوونکی دې یوه جوړه مترادفې یا متضادې کلمې پر تخته ولیکي نور زده کوونکي دې ور باندې بحث وکړي/غلطي سمې کړي او په کتابچو کې دې ولیکي.

کورني کار: ښوونکی غوښتنه کوي چې زده کوونکي د پاکوالي په باب په خپلو کتابچو کې څو-څو کرښې ولیکي.</td><td>تور تخته
کتابچې</td></tr>
</table>

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
	له وړو مېږو سره عطف کوي) ـ زده کوونکي چې خپل تمرینونه سرته ورسول ، د ګروپونو مشران یې په نوبت سره ټولګیوالو ته اوروي . ـ زده کوونکي بحث او تبصرې کوي . ښوونکی مرسته ، لارښوونه او سمونې کوي .	
	ـ د پاخه شویو خوړو له پاره څنګه ځای په کار دی ؟ ـ په هغه لوښي کې چې پاخه شوي خواړه پراته دي څه شی وربانډې غوړول په کار دي ؟ ـ څه شی په خوړو باندې مکروبونه پرېږدي ؟ ـ خواړه باید په کومو شیانو پریمنځل شي ؟ کورنی کار : نشته	۴ ارزیابي / لنډیز



ښه نيت

دوه ورونه وو. مشر ورور يې واده کړی و او څلور زامن يې لرل. کشر ورور يې واده نه و کړی. دوی خپله مځکه کرله. د مځکې پر حاصل به يې شپې، ورځې تېرولې. حاصل به يې له راټولولو څخه وروسته په خپل منځ کې وېشل. جلا، جلا درمند کول.

يوه شپه کشر ورور فکر وکړ چې مشر ورور يې د اولاد د نفقې له پاره ډېر اړ دی. مناسب نه دي چې زه او هغه يوه اندازه غنم واخلو. پرته له دې چې ورور مې خبر شي، په کار ده چې له خپل درمند څخه يو څه غنم د هغه په درمند واچوم. له نيمې شپې پاڅېد. يو څو ګېډۍ غنم يې د هغه په درمند واچول.

مشر ورور يې هم په همغه شپه له خوبه پاڅېد. له ځان سره يې وويل چې ورور مې ځوان دی. واده يې

نه دی کړی، ښه کار نه دی چې زه او هغه يوه اندازه غنم واخلو. دی هم ولاړ او څو ګېډۍ غنم يې له خپل درمند څخه د کشر ورور په درمند واچول.

سبا سهار دواړه ورونه خپلو درمندونو ته ولاړل. ګوري چې درمندونه زيات او کم شوي نه دي. دواړه حيران شول. بله شپه بيا هم دواړو ورونو له خپلو درمندونو څخه يو بل ته څو ګېډۍ غنم يووړل. سبا يې هم په درمندونو کې فرق نه و. په درېيمه شپه چې دواړو ورونو ګېډۍ پر شا يو بل ته غنم وړل، ناڅاپه سره مخامخ شول. يو د بل پر مهربانۍ، ورورولۍ، پېرزوينې او ښې نيتې باندې وپوهېدل.

د کلي خلکو د دې دواړو ورونو ستاينه وکړه. په هغه ځای يې جومات جوړ کړ او ورونو ته يې په بدل کې څه نوره مځکه ورکړه.

دا جومات د ښېګڼې په مسلمانانو کې تر اوسه شهرت لري او د اقصی د جومات په نامه يادېږي.

نوي لغتونه

نفقه نيت پېرزوينه ستاينه فرق

د کتاب مخونه: ۷۹ – ۸۰

عنوان: ښه نيت

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي بايد:

- متن سم او روان ولولي.
- د سختو لغتونو په معنا پوه شي.
- د متن په مفهوم او مطلب پوه شي.
- د متن مطلب په خپله ژبه وويلای شي.
- په جملو کې د فاعل او فعل په ارتباط پوه شي.
- د متن مطلب په خپله ژبه وليکلای شي.
- په يو بل باندې د پېرزوينې او رواداري حس پيدا کړي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	- ښوونکی پر تخته ليکي: ښه نيت او پوښتنې کوي: - څه فکر کوئ که د چا په کور کې خوشحالي راشي، موږ بايد خفه شو که خوشحاله؟ - که ستاسو ملګري / هم صنفيان بل لوړ ټولګي ته بريالي شي تاسو ته څه احساس پيدا کېږي؟	تور تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- که ستاسو په خپلوانو کې ځینې خلک په علم او کمال مشهور وي، دا ښه کار دی که بد؟ - دا چې دیوبل په خوشحالۍ، خوشحاله او په خفګان یې خفه شو، دې کار ته ښه نیت لرل وایي که بد؟ - هرچاته ښه نیت لرل څه فایده لري؟ - یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د ښه نیت په باب نور مثالونه، قصه او یا خبرې کوي.	
۲ په متن کارکول	- د ۷۹ مخ پر متن [د هغه په درمن واچول] پورې د تېرو درسي پلانونو د دویم پړاو په شان تدریس کړئ.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- زده کوونکو په تېرو درسونو کې «فعل» پېژندلی دی (ښوونکی کولای شي د فعل مفهوم پر زده کوونکو تکرار کړي). - ښوونکی زده کوونکي پر دوو ګروپونو ویشي. لومړي ګروپ ته وظیفه ورکوي چې لومړی پرګراف او دویم ګروپ دویم پرګراف ولولي او فعلونه په نښه کړي. بیا هغه کلمې پیدا کړي چې فعل د هغه په واسطه تر سره شوی دی چې «فاعل» ورته وایي. بیا د فاعل او فعل رابطې ته وګوري چې: **که فاعل مفرد وي، فعل د مفرد په شکل وي او که فاعل جمع وي فعل هم د جمعې په شکل وي.** مثال: بریالی چې څه ویني ــ دقوم مشران سره راغونډېږي بریالی: فاعل، مفرد ــ د قوم مشران: فاعل، جمع ویني: فعل، مفرد ــ راغونډېږي: فعل، جمع	کتاب
	- زده کوونکي د مثال په شان کارکوي او نتایج په خپلو کتابچو کې لیکي. - د ګروپونو مشران د خپل ګروپ کار د ټولګي په مخکې لولي. - زده کوونکي بحث کوي او خپلې غلطۍ سموي. ښوونکی لارښوونه مرسته کوي.	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۴ ارزیابي / لنډیز	- څو تنه زده کوونکي دې د ښه نیت د کیسې په باب خپل نظریات ووایي. کورنی کار: د ښه نیت کیسې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.	کتابچې

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- یو، یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او خپل کورني کارونه نورو ته لولي، نور زده کوونکي یې له خپلو کتابچو سره مقایسه کوي. - ښوونکی ورڅخه ډېرې مهمې خبرې/جملې په توره تخته لیکي، کله چې کار خلاص شو، بیا یې زده کوونکي کتابچو ته نقلوي. - ښوونکی پوښتنه کوي: تاسو د ښه نیت د قصې په باب نور څه فکر کوئ؟ - زده کوونکي خپل نظریات وایي/ بحث کوي. ښوونکی مرسته لارښوونه کوي.	کتابچې
۲ په متن کارکول	- د متن پاتې برخه په ۷۹ - ۸۰ مخونو کې د تېرو درسي پلانونو د دویم پړاو په شان تدریس کېږي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکي په دریو ګروپونو ویشي او ورڅخه غوښتنه کوي چې هرګروپ په ګډه سره د قصې لنډ مطلب په خپله ژبه ولیکي. ښوونکی مرسته او څارنه کوي. - د هرګروپ مشر په نوبت سره د خپل ګروپ د کار نتیجه لولي. زده کوونکي بحث او تبصره کوي. ښوونکی سمونې کوي. غلطې جملې پر تخته لیکي او پر هغو باندې د زده کوونکو نظر غواړي چې سمونې وکړي. زده کوونکي خپلې غلطۍ په خپلو کتابچو کې اصلاح کوي.	کتابچې توره تخته کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۴ ارزیابي لنډیز	- ښوونکی په نوبت سره له زده کوونکو څخه د هرې جملې د مطالبو پوښتنه کوي تر څو لیکلی کار یې د ویلو په واسطه تمرین شي. کورنی کار: زده کوونکي د نن ورځې د مشق او تمرین برخه په کورکې په ښه خط پاکنویس کوي.	کتابچې

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی ژر ژر د زیاترو زده کوونکو کورني کارونه ګوري. که په کې املایي غلطۍ وي، یا خطونه یې ډېر خراب وي پر توره تخته یې اصلاح کوي او پر زده کوونکو باندې پر توره تخته باندې د غلطو یا بد خطو کلمو او عبارتونو سم او ښکلي شکلونه د لیکلو تمرین کوي. - ښوونکی د ښه لیکلو د نظري او عملي جنبو په باب توضیحات ورکوي او پر زده کوونکو یې تمرینوي. - څلور ورونه وو، ټولو واده کړی و. ص - غ - دواړو ورونو به خپله مځکه کرله. ص - غ - دواړه یو بل ته بد نیته وو. ص - غ - یوه شپه دواړه ورونه سره مخامخ شول. ص - غ	کتابچې توره تخته
۲ په متن کارکول	- دا مرحله په دې درس کې نشته پر زده کوونکو باندې لاندېنی تمرین کېږي.	
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی ځینې جملې دا رنګه په توره تخته لیکي، لکه چې د څوکاټ دیوې یا دوه کلمو په واسطه یې مطلب پوره شي، هر زده کوونکي ته نوبت ورکوي چې تختې	توره تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ته راشي او یوه یوه جمله پوره کړي. فکر ځایه ورور خبر مناسب ورونه واده زامن محکمه حاصل راټولولو شپه • دوه ______ وو. • مشر ورور یې ______ کړی و. • څلور ______ یې لرل. • دوی خپله ______ کرله. • د ځمکې پر ______ به یې شپې، ورځې تېرولې. • حاصل به یې له ______ څخه وروسته په خپل منځ کې ویشل. • یوه ______ کشر ورور ______ وکړ. • ______ نه وي چې زه او هغه یوه اندازه غنم واخلو. • پرته له دې چې ______ مې ______ شي. • له خپله ______ پاڅېد.	
۴ ارزیابي / لنډیز	– کشر ورور ولې د غنمو ګېډۍ د مشر ورور په درمند واچولې؟ – دوی د چا محکمه کرله؟ – مشر ورور یې ولې د غنمو ګېډۍ د کشر ورور په درمند واچولې؟ – سبا سهار چې دواړه ورونه درمند ته راغلل څه پېښ شوي وو؟ – یوبل ته یې څه وویل؟ کورنی کار، نشته.	



جرګه

بریالی چې پر لارې یا ښوونځي کې څه ووینې، پلار ته یې وايي. پلار یې ورته شاباسی وايي او د هغو خبرو او شیانو په باره کې معلومات ورکوي.

بریالي یوه ورځ د احمد په دېره کې د کلي مشران ولیدل چې سره ناست وو او خبرې یې کولې. کشران یې خدمت ته ولاړ وو.

بریالي ماښام پلار ته د احمد په دېره کې د ناستو کسانو قصه وکړه. بیا یې پوښتنه ځنې وکړه چې دا خلک د څه له پاره راغونډ شوي وو؟ پلار یې ځواب ورکړ:

"زویه، یو خو د ښوونځي زیاتره کوټې خرابې شوې دي او بل دا چې دغه اوسني کوټې د ټولو ټولګیو له پاره کمې هم دي. نو ځکه د کلي مشران سره جرګه شوي وو چې د ښوونځي د کوټو د جوړولو لارې چارې ولټوي. زه هم

۸۱

ورغلی وم. جرګې پرېکړه وکړه چې د ښوونځي په جوړولو دې سمدلاسه پیل وشي. ځکه چې ژمی راروان دی. ټولو ژمنه وکړه چې له هېڅ ډول مرستې څخه به ډډه نه کوي. همدارنګه پرېکړه وشوه چې د کلي سړک دې هم جوړ شي."

بریالي بیا پوښتنه وکړه: "پلاره، جرګه څه ته وايي؟"
پلار یې ځواب ورکړ:

"جرګه د افغانانو ملي دود دی. کله چې کومه ستونزه پیدا شي، د قوم مشران سره راغونډېږي. خبرې اترې ورباندې کوي. هر څوک خپل نظر وايي. د هر چا خبرې اورېدل کېږي. تر ډېر فکر او غور وروسته داسې پرېکړې کېږي چې ټولو ته د منلو وړ وي.

د جرګې له پرېکړو څخه هېڅوک سر نه شي غړولای. که څوک یې وغړوي، ناغه کېږي. د جرګې پرېکړې ټول خلک مني. حکومتونه هم خپلې ستونزې په جرګو حلوي. د دوو کسانو، کورنیو، کلیو او قومونو تر منځ ستونزې او شخړې هم د جرګو له لارې هوارېږي."

نوي لغتونه

ډله بحث پرېکړه ژمنه ډډه ناغه شخړه

۸۲

د کتاب مخونه: ۸۱ - ۸۲
عنوان: جرګه
د درس شمېر: ۳
هدفونه: زده کوونکي باید،

- متن په روانه ژبه ولوستلای شي.
- د متن مفهوم په خپله ژبه بیان کړي او ویې لیکي.
- وپوهېږي چې جرګه د څه له پاره جوړېږي
- پرېکړه وپېژني او مفهوم یې واخلي.
- د جرګو په واسطه د ورځني ژوند د پرابلمونو په حلولو وپوهېږي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	– ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنې کوي: – ستاسو د کور مشر څوک دی؟ ستاسو د کور ضروریات څوک پوره کوي؟ – د کور او د کلي مسألې څوک فیصله کوي؟ د ښوونځي مسألې څوک حلوي؟ – د کلي مشران د مسألو د حل له پاره څه کوي؟	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- ښوونکی د زده‌کوونکو ځینې جملې په توره تخته لیکي. - زده‌کوونکي د تورې تختې جملې په خپلو کتابچو کې لیکي. دکور او کلي مسألې مشران فیصله کوي. مشران د مسألو د حل له پاره غونډه کوي.	توره تخته کتابچې
۲ په متن کارکول	- ښوونکی ، زده‌کوونکی د ۸۱ مخ متن د همدې مخ تر پایه پورې د تېرو درسي پلانونو له لارښوونو سره سم لولي.	
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی یوشمېر لغتونه پر تخته لیکي او زده‌کوونکي په دوو (یا زیاترو) گروپونو ویشي او ورڅخه غواړي چې هرگروپ په گډه سره هرلغت په یوه سمه جمله کې راوړي او په خپلو کتابچو کې یې ولیکي. لغتونه : نفقه ، عقل ، هڅه ، مکروب ، وړیا ، زیار ، اهمیت ، نهه ، هېواد ، سوله ، ستاینه ، درمند ، - له هرگروپ څخه یو زده‌کوونکی په نوبت سره خپلې جوړې کړې جملې ټولگیوالو ته لولي. - ښوونکی غلطې جملې پرتخته لیکي او له زده‌کوونکو څخه غواړي چې ناسموالی یې ومومي او تصحیح یې کړي. - نور زده‌کوونکي خپلې غلطې جملې په خپلو کتابچو کې سموي.	توره تخته کتابچې توره تخته کتابچې
۴ ارزیابي / لنډیز	- ښوونکی د متن یوه یوه برخه پر زده‌کوونکو لولي. د ځینو لغتونو د معناوو پوښتنه کوي. کورنی کار : د متن پاتې برخه ولولي.	کتاب

درسي پلان : ۲


پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	— ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي : (په شفاهي توګه) — بریالي خپل پلار ته څه وویل ؟ د کلي مشران د څه له پاره چیرته راغونډ شوي وو ؟ — په ښوونځي کې څه نیمګړتیاوې وې ؟ د کلي مشرانو څه فیصله وکړه ؟	
۲ په متن کار کول	— د مخکینیو درسونو په شان دې د ۸۲ مخ پر متن کار وشي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	— ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي . — زده کوونکي د جرګې د درس مفهوم او مطلب په نوبت سره په خپله ژبه بیانوي . — نور زده کوونکي بحث او سمونې کوي . — ښوونکی لارښوونه / مرسته کوي .	
۴ ارزیابي / لنډیز	— ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي چې د جرګو د اهمیت په باب خپل نظر ووایي . کورنی کار : زده کوونکي دې د هغو پرېکړو په باب څو کرښې ولیکي . — ستاسو په کلي کې په جرګو کومې ستونزې هوارې شوي دي ؟ د جوبات جوړول ، د ښوونځي جوړول ، د پله جوړول ، د مرورو کسانو پخلا کول او داسې نور .	کتابچې

درسي پلان : ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	— ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنې کوي : — ستاسو په کلي کې چې مشرانو د جرګې په واسطه کومې کړنې کړي	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- دي ؟ - زده کوونکي یو یو د ټولګي مخې ته راځي او خپلې لیکنې لولي . - ښوونکی د لوستونکو ځینې جملې په توره تخته لیکي . - ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي چې خپل کورني کارونه له خپلو کتابچو څخه ولولي . مثال : زموږ د کلي مشرانو جرګه اوپرېکړه وکړه چې : ١- جامع جومات ته دې فرش واخیستل شي. ٢- په ښوونځي کې دې دوې تحویلخانې جوړې شي . ٣- د احمد خان د کلا خوا ته پل دې جوړ شي . - نور زده کوونکي بحث او سموني کوي . - ښوونکی دې د نورو زده کوونکو کورني کارونه وګوري .	کتابچې توره تخته کتابچې
٢ په متن کارکول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب د ٨١ او ٨٢ مخونو متن دې برخه برخه په نوبت سره ولولي . - زده کوونکي/ ښوونکی غلطۍ سموي . - وروسته یو زده کوونکی ٨١ مخ او بل زده کوونکی ٨٢ مخ په مناسب لوړ آواز او په طبیعي لحن او آهنګ لولي . - ښوونکی هڅه کوي چې زیات شمېر زده کوونکي په لوستلو کې برخه واخلي . - په پای کې دوه نور زده کوونکي د ټول درس مطلب په خپله ژبه وايي نور زده کوونکي بحث ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي .	کتاب کتاب
٣ مشق او تمرین	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي تر څو د لاندې لغتونو ورته کلمې پیدا او ویې لیکي . ١ ٢ ٣ ۴ ۵ ۶ بحث ، پرېکړه ، ژمنه ، ډډه ، ناغه ، شخړه فیصله ، خبرې ، جریمه ، جګړه ، سرغړونه ، ذمه واری ، کوچنیان	
۴ ارزیابي لنډیز	- زده کوونکي په دوو ګروپونو ویشل کیږي الف - ب ګروپ د الف ګروپ په شفاهي توګه د ب له ګروپ څخه او بیا د ب ګروپ د الف له ګروپ څخه د موضوع په اړه پوښتنې کوي او دوی یو بل ته په نوبت سره جوابونه وايي . هر څوک چې د سوال جواب ووايي پوښتنه کوي . کورنی کار : د کتاب له رسم الخط سره سم ٨١ مخ په خپلو کتابچو کې په ښه خط ولیکئ .	کتابچې

وخت خوشې مه تېروئ



جمیل او اکرم د کوچنیوالي څخه ډېر خواږه ملګري وو. هر وخت به یې ګډې لوبې کولې. یوځای به ښوونځي ته تلل راتلل. په ټولګي کې به په یوه چوکۍ کېناستل. یو بل سره به یې د کتاب، قلم او پنسل مرسته کوله. د دوی مینه ورځ په ورځ زیاتېده. تر شلورم ټولګي پورې یې یوځای درس ووایه.

جمیل به درسونو کې ډېر کوښښ کاوه، هره ورځ یې درسونه یادول. کورنی کار یې هم لیکه. د یوې ورځې کار یې بلې ورځې ته نه پرېښوده. د هر کار لپاره یې وخت ټاکلی و او په خپل ټولګي کې اول نمبر و.



اکرم به کوښښ نه کاوه، درسونه یې نه یادول. کورنی کار یې نه لیکه، د نن کار یې سبا ته پرېښوده. څو ځله ناکام او بیا د ښوونځي څخه خارج شو. په نورو کسب او کار پسې هم ونه ګرځېد او هره خوا به خوشې ګرځېده.

جمیل خپل ښوونځي او درسونو ته دوام ورکړ. خپل درسونه یې ډېر تکرارول. د شپږم ټولګي څخه اول نمبر خلاص شو. د ښوونځي د ادارې له خوا ورته انعامونه هم ورکړل شول. ښوونکي، مور او پلار یې د ده په کوښښ او درس ویلو خوشحاله وو. په اوم ټولګي کې شامل شو. د دولسم ټولګي څخه هم اول نمبر خلاص شو او د طب پوهنځي کې شامل شو. ملته یې هم خپل درسونه ښه یادول. جمیل په آخر کې یو لایق ډاکټر شو. د ښار په روغتون کې یې کار کاوه. ماښام به یې په ښار کې نور مریضان کتل او په خپل کار بوخت و.



له یوې خوا یې خپل ژوند په ښه توګه پر مخ بیوه او له بلې خوا یې خپلو خلکو ته ښه خدمت کاوه. هر چا یې ډېر احترام کاوه او ډېر ښه ژوند یې درلود.

یوه ورځ یې ناڅاپه اکرم ولید، پوښتنه یې ورڅخه وکړه، "ولې داسې خوار وزار یې، څه کسب او کار کوې؟"

اکرم ځواب ورکړ، "هېڅ کار نه کوم، داسې کار نشته چې زه یې وکړم. په خوشې ګرځېدو ډېر تنګ یم، کسب او کار مې هم زده نه دی، ډېر بېوزلی یم، هېڅ راسره نشته چې خپلې ورځنۍ اړتیاوې پوره کړم، هېڅوک هم راسره مرسته

نه کوي. بې روزګاره یم."

جمیل ورته ووېل، "ته په خپله ملامت یې. دا ستا د خوشې ګرځېدو، د ښوونځي د پرېښودو او کار کسب د نه زده کولو نتیجه ده. تا ټول وخت خوشې تېر کړ، د خپل راتلونکي ژوند فکر دې ونه کړ. اوس تا سره هېڅوک مرسته نه شي کولی. ځکه چې تا خپل قیمتي وخت له لاسه ورکړی دی. لکه چې وایي: "وخت لکه سره زر دی" او ستا څخه دا زر د لاسه وتلي دي. اوس پښېماني هېڅ ګټه نه لري. زه او ته د یوه ټولګي ملګري وو، ما خپل وخت خوشې نه تېراوه او د وخت د هرې شیبې څخه مې ګټه اخیستله. او د وخت پېژندنې له امله ډېر آرام ژوند کوم."

وخت وایي

لکه باد مې روان یم زه له هیچا نه وېرېږم
چا ته کله ایسارېږم
در نه ځمه زه په وړاندې که ته ژاړې او که خاندې
کار په وخت باندې په کار دی هر بې وخته کار ناکار دی
هر بېکاره سړی خوار دی

نوې لغتونه

خوشې طب پوهنځی روغتون اړتیاوې بې روزګار

د کتاب مخونه: ۸ - ۱۰

عنوان: وخت خوشې مه تېروئ.

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن روان او سم ولولي.
- د نویو کلمو په معنی پوه شي او ویې لیکي.
- د متن معنی او مطلب په خپله ژبه بیان کړي.
- د وخت په ارزښت وپوهېږي.
- د وخت د ارزښت او قدر په باب څه ولیکلای شي.

سوله او وفا



په یوه ځنګله کې د ګیدړې او سپي سره جنګ و. د ځنګله پاچا، زمري فیصله وکړه چې دواړه دې له ځنګله څخه وایستل شي.

سپی او ګیدړه سرګردانه ګرځېدل. یوه شپونک په دښته کې رمه پوروله. په سپي او ګیدړې یې سترګې ولګېدې. پوښتنه یې ځنې وکړه: "ولې خپه او سرګردانه ګرځئ؟"

سپي او ګیدړې خپله کیسه ورته وکړه. د شپانه زړه پرې وسوځېد او کور ته یې بوتلل. د شپې یې ښه ماړه کړل. شپونه په خپل ځای، سپی د رمې او ګیدړه د چرګانو په خوا کې ویده شول. سپي ټوله شپه د رمې پیره وکړه.



کله چې شپه پخه شوه، ګیدړه د چرګانو خوا ته غلې غلې ورغله، یو چرګ یې وخوړ.

شپونک چې سهار له خوبه راپاڅېد، ویې لیدل چې یو غټ چرګ نشته. له سپي او ګیدړې څخه یې پوښتنه وکړه: "چرګ څه شو؟" سپي وویل: "ما

۸۲

ستا د نېکۍ په بدل کې د رمې پیره وکړه. د چرګانو خوا ته ګیدړه پرته وه." شپانه د چرګ پوښتنه له ګیدړې څخه وکړه. ګیدړه منکره شوه خو دې ته یې پام نه و چې د چرګ بڼکې یې خوا کې پرتې وې. شپانه وویل، د چرګ بڼکې د دې شاهدي وايي چې چرګ تا خوړلی دی.

سپي چې د شپانه دلیل واورېد، نو د ګیدړې د خیانت له امله یې پر غفې ورټوپ کړ. غوښتل یې چې سره یې کړي. شپانه وویل چې زه به سوله وکړم. سپی او ګیدړه دواړه کرار شول او فیصلې ته یې غوږ ونیو. شپانه وویل: سپي زما د نېکۍ په بدل کې وفاداري وښوده. دی به په کور کې وساتم. ګیدړې خیانت کړی، ځکه دې زما له کوره ووځي.



ګیدړه د بېدیا خوا ته روانه شوه. سپی له شپانه سره پاتې شو. د ګیدړې د خیانت له امله، سپی له ګیدړې سره مخالف شو. اوس یې چې هر چېرته قارې تر غوږه شي، ورپسې ځي او غاپي! په کلیو، کوروونو او آبادیو کې یې نه پرېږدي. یو متل دی چې: د نېکۍ سزا نېکي ده، د بدۍ سزا بدي.

نوې لغتونه

سوله شاهدي خیانت بېدیا دلیل

۸۴

دکتاب مخونه: ۸۳ - ۸۴

عنوان: سوله او وفا

د درسونو شمېر: ۴

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن په سمه توګه ولولي.
- د متن په معنی او مطلب پوه شي.
- د ځینو جملو په جوړولو وپوهېږي.
- د متن له معلوماتو څخه په استفاده ځینې پروګرامونه ولیکي.
- د جنګ، جګړې او خیانت په نتایجو پوه شي.
- پوه شي چې سوله او وفا څومره ګټه لري.
- پوه شي چې انسان باید له نورو سره ښه سلوک وکړي.
- پوه شي چې د احسان په مقابل کې څه په کار دي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکي ځوابونه وايي. - کله مو ځینې خلك په جنګ جګړه لیدلي دي؟ (زده کوونکي جوابونه وايي) - کله چې خلك جنګ جګړه کوي نو بیا چې نور خلك راشي د دوی تر منځ څه کوي؟ سوله، خلاصون، نصیحت ... - په سوله، خلاصون او نصیحت باندې جنګونه فیصله کېږي؟ (مختلف نظریات)	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	– څه فکر کوئ چې ژوند په سوله ښه تېرېږي که په جنګونو ؟ (بېلابېلې نظرېې)	
۲ په متن کارکول	– د ۸۳ مخ متن تر [یوچرګ یې وخوړ] پورې د نورو درسونو په شان تدریس کېږي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	– ښوونکی ځینې فعلونه او نا مکملې جملې په تخته لیکي . له ښوونه کوي چې زده کوونکي جملې او فعلونو ته ځیر شي او بیا وروسته تراجازه غوښتلو نا مکمله جمله د مناسب فعل په انتخابولو بشپړه کړې . لکه : زمري فیصله ____ . وکړم ، وکړو ، وکړه ، وکړئ دواړه دې له ځنګله څخه وایستل____ . شم ، شئ ، شي ، شو سپی او ګیدړه سرګردانه ____ . ګرځېدم ، ګرځېدئ ، ګرځېدل ، ګرځېدو په سپي او ګیدړې یې سترګې ____ . ولګېدو ، ولګېدې ، ولګېدم ته ولې خپه او سرګردانه ____ ؟ ګرځو ، ګرځې ، ګرځئ ، ګرځم سپي او ګیدړې خپله قصه ورته ____ . وکړو ، وکړم ، وکړه ، وکړي – ښوونکی د کتاب له بېلابېلو برخو څخه دغه ډول جملې او کلمې انتخابوي او مشق یې پر زده کوونکو تطبیقوي – زده کوونکي / ښوونکی هرځل د جملې په جوړښت بحث کوي ، په پای کې یې زده کوونکي کتابچو ته نقلوي .	تور ه تخته کتاب کتابچې
۴ ارزیابي	– ښوونکی له زده کوونکو څخه شفاهي پوښتنې کوي . – په ځنګله کې څوک په جنګ وو ؟ – زمري څه فیصله وکړه ؟ – څوک سرګردانه ګرځېدل او ولې ؟ – شپون چیرته او د سپي او پیشو څخه یې څه پوښتنه وکړه ؟ – د شپانه په کورکې سپي څه وکړل او ګیدړې څه ؟	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	کورنی کار : همدا درس په خپل کورکې له خپل پلار یا ورور سره ولولئ ، د هغوی څخه دا رنګه یوه قصه واورئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ .	کتاب کتابچې

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ پوښتنې او ځوابونه ـ که څوک تاسو سره نیکي وکړي نو تاسو به څه کوئ ؟ (د زده کوونکو ځوابونه) ـ څه فکر کوئ چې سپي بنه کار وکړ او که ګیدړې ؟ ــــــــــ ـ ویلای شئ چې شپون د چرګ پوښتنه له چا څخه وکړه ؟ ــــــــــ ـ څو تنه زده کوونکي په نوبت سره د ټولګي مخې ته راځي او خپله پرونۍ کورنۍ وظیفه نورو ته لولي .	کتابچې
۲ په متن کارکول	ـ د ۸۳ مخ متن له [شپون چې سهار له خوبه راپاڅېد] څخه د ۸۴ مخ تر [مړه یې کړي] پورې د پخوا په شان تدریس کړئ .	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی وایي چې تختې ته وګورئ ، زه څو نیمګړې جملې او کلمې لیکم . تاسو به یې د هغو کلمو په استعمالولو سره پوره کړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ . لکه : شپون چې سهار له خوبه ــــ ونې ــــ چې یو غټ ــــ نشته . له ــــ او ــــ څخه یې پوښتنه وکړه چې چرګ ــــ سپي ــــ ماستاد ــــ په بدل کې د ــــ پېره وکړه . د چرګانو خواته ــــ پرته وه . شپانه ــــ د چرګ ــــ دربانډې وایي .	تورہ تخته کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- کله چې جملې پوره شوې نو بیا ښوونکی یو ، یو زده کوونکي ته نوبت ورکوي چې تختې ته راشي او یوه ، یوه جمله له خپلې کتابچې څخه ولولي اوپر تخته باندې یې پوره کړي . کلمې ؛ شاهدي ، بڼکې ، وویل ، راپاڅېد ، منکره ، چرګ ، ګیدړې ، څه شو ، رمې ، ګیدړه ، پوښتنه . - نور زده کوونکي / ښوونکی سمون کوي .	تورتخته
۴ ارزیابي	- ښوونکی د پوښتنو په وسیله ځوابونه پیدا کوي . - شپون ولې له سپي او ګیدړې څخه پوښتنې وکړې؟ (یو غټ چرګ نه و.) - دشپانه د پوښتنې په ځواب کې سپي څه وویل ؟ - ګیدړې د شپون د پوښتنې په ځواب کې څه وویل ؟ - دګیدړې دروغ له څه شي څخه معلوم شول ؟ - سپي چې د شپانه دلیل واورېد نوبیایې څه وکړل ؟ کورنی کار ؛ - په خپل کورکې ددې درس ټول تصویرونه وګورئ اوڅه چې په کې وینئ هغه په خپلو کتابچو کې ولیکئ .	کتاب کتابچې

درسي پلان ؛ ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ مخونه	- یو ، یو زده کوونکی په خپل نوبت سره کورنی کار لولي . - خپل کتابونه پرانیزئ او تصویرونوته وګورئ . - په لومړي تصویر خبرې کول چې زده کوونکو په کې څه ولیدل . مثلاً : زه یو زمری وینم ، زه ډېرې ونې وینم . . . . - په دویم تصویر خبرې کول . . . . - په درېیم تصویر خبرې کول . . . . - اول ، دویم اودرېیم تصویرونه څه توپیر سره لري ؟	کتابچې ؛ کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- ښوونکی هڅه کوي چې د ډېرو زده کوونکو ته فرصت ورکړي چې خپلې نظریې ووايي.	
۲ په متن کارکول	- د متن پاتې برخه له [شپانه وويل چې زه به سوله وکړم] څخه شروع تر پایه پورې د معمول په شان تدریس کړئ.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی د ۴-۵ تنو ګروپونه جوړوي، لارښوونه کوي چې: «شپون وويل: زه به سوله وکړم» څخه را وروسته په سپي او ګیدړې څه وشول او ولې؟ لکه: سپی او ګیدړه دواړه کرار شول .... - زده کوونکي یوه، یوه جمله د کتاب له مخې ر په یاده سرګروپ ته وايي، سرګروپ یې لیکي، کله چې کار خلاص شو، بیا هر سرګروپ د کار نتیجه نورو زده کوونکو ته لولي.	کتاب کتابچې
۴ ارزیابي	- سپي او ګیدړې څه ته غوږ ونیو؟ د شپون فیصلې ته - شپون د سپي په باب څه فیصله وکړه؟ - سپي د نېکۍ په بدل کې څه کړي وو؟ - شپون د ګیدړې په باب څه فیصله وکړه او ولې؟ - ګیدړه چیرته لاړه او سپی چیرته؟ - د سپي د ګیدړې سره ولې دښمني شوه؟ کورنی کار: دا متل چې: «د نېکۍ سزا نېکي ده - د بدۍ سزا بدي» په خپل کورکې له خپلو مشرانو سره ولولئ او بیا له هغوی څخه هم معلومات واخلئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.	کتابچې

<table dir="rtl">
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td>۱
هڅونه</td><td>ـ د سپي او ګیدړې جنګ چیرته و ؟
ـ د ځنګله څخه یې دایستلو فیصله چا وکړه ؟
ـ څوک سرګردانه ګرځېدل او ولې ؟
ـ د سپي د وفا او د ګیدړې د خیانت نتیجه څنګه شوه ؟
ـ د سپي او ګیدړې تر منځ چا سوله وکړه ؟
ـ د سولې په نتیجه کې څه وشول ؟
ـ یو، یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او پروني کورنی کار لولي.
زده کوونکي / ښوونکی تبصرې، بحثونه او سمونې کوي.</td><td>کتابچې</td></tr>
<tr><td>۲
په متن کارکول</td><td>ـ ښوونکی ځینو زده کوونکو ته نوبت ورکوي چې د کتاب له مخې د ټول متن څو، څو کرښې ولولي . بیا له یوه زده کوونکي څخه غواړي چې نیمایي متن ولولي او بل زده کوونکی بله نیمایي .
ـ وروسته بیا له څو زده کوونکو څخه غواړي چې ټوله قصه په نوبت سره په خپله ژبه ووایي .</td><td>کتاب</td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرین</td><td>ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې کتابچې راواخلي او څو کرښې املا ولیکي
ـ ښوونکی متن تر (ولې خپه او سرګردانه ګرځئ) پورې په املایي شکل لولي ، کله چې د املا لیکل خلاص شو ، بیا ښوونکی لارښوونه کوي چې اوس یې له کتابونو سره وګورئ چې کوم ټکی غلط یا د رڅخه پاتې دی .
ـ ښوونکی د اطمینان له پاره د څو زده کوونکو املاګوري او د هغې ضروري اصلاحات یې پر تخته لیکي .
ـ ښوونکی د توري یو جدول په توره تخته جوړوي .
ـ زده کوونکو ته نوبت ورکوي چې تختې ته راشي او د تورو په کتنه د خپلې خوښې کلمې جوړې کړي .
<table dir="rtl">
<tr><td>س</td><td>ب</td><td>د</td><td>ش</td></tr>
<tr><td>و</td><td>ي</td><td>ل</td><td>پ</td></tr>
<tr><td>ل</td><td>ر</td><td>ي</td><td>و</td></tr>
<tr><td>ه</td><td>ه</td><td>ل</td><td>ن</td></tr>
</table>
<table dir="rtl">
<tr><td>سوله پیرو
دلیل شپون
ولی، پلو ، نل
سل ، شل ، لس
شور ، شپه
نور ، سور
ور ، رسول
لور ، سره</td></tr>
</table>
ـ کله چې دا مشق وشو نو بیا یې زده کوونکي کتابچوته نقلوي.</td><td>کتابچې
کتاب
توره تخته
کتابچې</td></tr>
<tr><td>۴
ارزیابي</td><td>ـ ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکي ځوابونه وایي ،
ـ بې وفایي څه ته وایي ؟
ـ سوله څه معنا لري ؟ ـ وفا او اخلاص څه مفهوم لري ؟
ـ د خیانت کولو څو مثالونه ووایي .
کورنی کار ، ښوونکی ووایي چې په بل درس کې د زده کوونکو د کورني کارونو کتابچې ګوري .</td><td></td></tr>
</table>

ناآشنا کلی

یوه کورنۍ له یوه لیرې ځای څخه یوه ناآشنا کلي ته ورغله. شپه وه او دغه کورنۍ له سیمې سره نابلده وه. د خلکو په ژبه نه پوهېده. حیرانه وه چې څه وکړي. شپه چېرته تېره کړي. آسمان وریځ و. نرۍ، نرۍ باران اورېده. خواړه هم ورسره نه وو.

د کورنۍ مشر له ځان سره وویل: «د دې نږدې کور ور به وټکوم. مرسته به ورڅخه وغواړم.» چې دروازه یې وټکوله، یو سړی راووت او ویې ویل: «ستړي مه شې، هر کله راشې!» ناآشنا سړي ځواب ورنه کړ! ځکه چې په ژبه نه پوهېده. د کور خاوند وپوهېده چې دا سړی د ده په خبرو نه پوهېږي. کوښښ یې وکړ چې ستونزه معلومه کړي.

مېلمه ورته په خپله ژبه وویل: «توره شپه ده، ناآشنا یم، له خپلې کورنۍ سره مسافر راغلی یم، د شپې تېرولو ځای راکړئ.» د کور خاوند وپوهېده او د هغه خبره یې ومنله. په خوښۍ سره یې چای او ډوډۍ ورکړل. ولوګیرنه یې ورکړه او ورته یې وویل: «دا ستاسو خپل کور دی، په آرام زړه ویده شئ.» سهار یې بیا ورته په ورین تندي چای او ډوډۍ ورکړل.

د کور د خاوند یو زوی و. په ښوونځي کې یې د

۸۵

خپل وطن د خلکو نورې ژبې زده کړې وې. په خبرو، خبرو کې وپوهېده چې دا خلک د کار او مزدورۍ له پاره راغلي دي. د کور مشر چې پوه شو، د خپلې مځکې دهقاني یې ورکړه. کور او خوراکي شیان یې ورکړل او ماشومان یې ورته په ښوونځي کې شامل کړل.

د کلي خلکو ورسره ښه رویه کوله. د هغوی د روغتیا او ناروغتیا پوښتنه یې کوله او ورته یې ویل: «موږ او تاسو د یوه وطن یو. ټول افغانان یو. یو د بل ورونه یو. غم او خوشحالي مو شریکه ده. واوه اوسئ. په خوشحالۍ او سوله خپل ژوند راسره تېر کړئ. له چا سره چې اوسېږئ، زموږ د کلي مشر او ښه سړی دی.»

ناآشنا کورنۍ د دوی د احسان تابع شوه! تکل یې وکړ چې هلته مېشته شي.

نوي لغتونه

ستونزه خوښی ورین واره احسان تابع تکل

۸٦

دکتاب مخونه : ۸۵ - ۸٦

عنوان : ناآشنا کلی

ددرسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

● متن سم او روان ولوستلای شي.

● د متن مطلب په خپله ژبه بیان کړای کړای او ویې لیکلای شي.

● له خلکو سره د همدردۍ او مهربانۍ روحیه ولري.

● همدا راز قصې ویلای او ولیکلای شي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی په شفاهي توګه له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي: - د تېر درس د قصې لنډیز څوک ویلای شي؟ - یو زده کوونکی قصه وایي. - نور زده کوونکي بحث او تبصرې کوي. - که چېرې آسمان وریځ او باران وي، یو څوک له تاسو څخه د ناستې مرسته وغواړي تاسو څه کولای شئ؟	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ـ ښوونکی د زده کوونکو کورنۍ کارونه ګوري .	کتابچې
۲ په متن کار کول	ـ ښوونکی / زده کوونکی د کتاب د ۸۵ پر متن باندې د تېرو درسي پلانونو له لارښوونو سره سم کار وکړي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی دالاندې پوښتنې په توره تخته باندې لیکي . ۱- کورنۍ څه وخت نا اشنا کلي ته ورغله ؟ ۲- هوا څرنګه وه ؟ ۳- د کورنۍ مشر څان سره څه وویل ؟ ۴ - د کور خاوند په څه وپوهېده ؟ ۵- مسافر سره یې څه مرسته وکړه ؟ ـ ښوونکی یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته را غواړي چې په مناسب لوړ آواز دا پوښتنې ولولي . ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي لومړنۍ پوښتنې ته څوک ځواب وایي ؟ ـ کله چې زده کوونکی ځواب ووایي همدغه زده کوونکی بله پوښتنه له بل زده کوونکي څخه کوي او دالړۍ دوام کوي . دویمه ، دریمه ، څلورمه ، پنځمه پوښتنه کېږي . ـ د زده کوونکو سوالونه او ځوابونه اورېدل کیږي د زده کوونکو ځینې جملې په توره تخته لیکل کېږي . ـ زده کوونکي یوبل سره بحث کوي . د یوبل ځوابونه اوري او تکمیلوي (مطلب ددې تمرین دادی چې زده کوونکي یو له بل سره بحث او مناظره وکړي (د خبروکولو مهارت یې تقویه شي)	توره تخته توره تخته
۴ ارزیابي لنډیز	ـ ښوونکی یو-یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته را غواړي . د بل زده کوونکي له خوا د متن څخه څو کلمې یا جملې داملا په توګه نوموړي زده کوونکي ته ویل کیږي او هغه یې په توره تخته لیکي . کورنۍ کار : د متن د پاتې برخې لوستل .	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی په شفاهي توګه له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي : ـ له مسافر سره څه کول په کار دي ؟ ـ هر زده کوونکی په دې برخه کې په وار سره صرف یو مطلب وايي او ښوونکی يې پر تخته لیکي . ـ زده کوونکي په پای کې پر ټولو مطالبو باندې تبصره او بحث او بحث کوي . ښوونکی لارښوونه / سمونې کوي . ـ زده کوونکي د تختې مطالب خپلو کتابچو ته نقلوي .	توره تخته کتابچې
۲ په متن کارکول	ـ ښوونکی / زده کوونکی دې د مخکښنیو درسونو په شان د ۸۶ مخ پر متن کار وکړي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی د غه لاندې فعلونه او نا مکملې جملې پر تخته لیکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې څلور لسیز ګروپونه جوړ کړي په خپلو کتابچو کې مناسب فعل له هرې جملې سره ولیکي . او هر ګروپ په ګډه سره کار وکړي . • يوه کورنۍ یوه نا اشنا کلي ته ـــــ . نه پوهېده • د کورنۍ مشر له ځان سره ـــــ . ورغله • د خلکو په ژبه ـــــ وه • کورنۍ حیرانه ـــــ چې څه وکړي . وغواړم • زه به ور څخه مرسته ـــــ . وټکوله • توره شپه ـــــ . یو • د کور د خاوند یو زوی ـــــ . د ه • چې دروازه يې ـــــ یو سړی راووت . کوله • د کلي خلکو ورسره ښه رویه ـــــ . وویل • موږ او تاسې د یوه وطن ـــــ . و ـ له هر ګروپ څخه یو یو زده کوونکی په نوبت سره یوه یوه بشپړه کړې جمله وايي . نور زده کوونکي غلطې جملې سموي او په خپلو کتابچو کې يې هم اصلاح کوي .	توره تخته کتابچې کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۴ ارزیابي / لنډیز	- ښوونکی دې په زده کوونکو د متن څو څو کرښې ولولي. هڅه دې وکړي ترڅو زده کوونکي په لوستلو کې په بشپړ اطمینان برخه واخلي. کورنی کار: لغتونه په مناسبو جملو کې وکاروئ: خوښي - تکل - ستونزه - وېرین - ډاډه.	کتاب کتابچې

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د زده کوونکو کورنی کارونه ګوري. ښوونکی/ زده کوونکی غلطۍ سموي. ښوونکی څو تنه زده کوونکي نوبت په نوبت د ټولګي مخې ته غواړي تر خوله کتابچو څخه کورنی کار ولولي. ښوونکی د زده کوونکو ځینې جملې په توره تخته لیکي	کتابچې توره تخته
۲ په متن کارکول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د [ناآشنا کلی متن] په تکراري توګه ولولي. • هر زده کوونکی د متن څو جملې په نوبت سره وایي او مطلب یې په خپله ژبه بیانوي. • په پای کې یو زده کوونکی د متن ټول مطلب په خپله ژبه بیانوي. • نور زده کوونکي بحث او تبصرې کوي.	
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی په توره تخته باندې لیکي: زده کوونکي یې ضد پیدا کوي ۱- ستونزه ۳- خوښي ۵- وېرین ۷- ډاډه ۹- احسان ۱۱- تابع ۱۳- تکل ۲- غم ۴- آسانه ٦- نامطمئن ۸- تریو ۱۰- بدي ۱۲- بې عزم ۱۴- نه منونکی. - ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي. لومړی کلمه په لوړ آواز لولي او وروسته ضد کلمه د کلمې مخې ته په توره تخته لیکي.	توره تخته توره تخته
۴ ارزیابي	- څو زده کوونکي د ټولګي مخې ته په نوبت سره د درس مطلب بیانوي.	


پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د زده کوونکو کورني کارونه ګوري. ښوونکی، زده کوونکي غلطۍ سموي. - ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د درس عنوان [وخت خوشې مه تېروئ] په پټه خوله ولولي او د [وخت] په معنی باندې فکر او د هغه د مفهوم په باب یو بل سره مشوره وکړي. بیا پوښتنه کوي؛ څوک پوهېږي چې [وخت] څه معنی لري ؟ زده کوونکي ځوابونه وایي. زده کوونکي، ښوونکي ځوابونه پر تخته باندې لیکي او بحث ورباندې کوي. زده کوونکي ګوندې دې نتیجې ته ورسیږي چې [وخت] زماني ته وایي چې ټول کارونه د هغه په ترڅ کې سرته رسیږي او هره پېښه پکې واقع کیږي. که وخت نه وي نه کوم کار کیږي او نه کومه حادثه پېښیږي. استاد د بحث لارښوونه کوي او دغې نتیجې ته ځان رسوي.	کتابچې کتاب توره تخته
۲ په متن کار کول	زده کوونکي د کتاب د ۸ مخ متن « خوشې ګرځېده » په پټه خوله ولولي. نوې کلمې په نښه کړي. ښوونکی، زده کوونکي نوې کلمې په توره تخته لیکي. ښوونکی، زده کوونکي نوې کلمې معنی کوي او معناوې د لغتونو سره یوځای پر تخته لیکي. ښوونکی، زده کوونکي متن په مناسب لوړ آواز لولي. نور زده کوونکي متن تعقیبوي او مفهوم یې خپل ذهن ته سپاري. څو تنه زده کوونکي په خپل وار متن یوه، یوه کرښه لولي. ښوونکی هڅه کوي چې زیات شمېر زده کوونکي په لوستلو کې برخه واخلي.	کتاب توره تخته
۳ مشق او تمرین	ښوونکی زده کوونکي پر دوه ګروپونو ویشي د هر ګروپ له پاره یو مشر ټاکي. د یوه ګروپ زده کوونکي د متن د لسو کلمو له پاره متضادې کلمې پیدا کوي او په کتابچو کې یې لیکي لکه؛ کامیاب - ناکام، خارج - داخل؛ ... د بل ګروپ زده کوونکي د متن یوه برخه چې د سرګروپ له خوا املا ورته ویل کیږي. په کتابچو کې لیکي.	کتاب کتابچې

احمدشاه بابا



اصلي نوم یې احمدخان دی او د ابدالي زمان خان زوی دی. احمدخان په ۱۱۳۵ هجري لمریز کال کې زېږېدلی دی. پلار یې د هرات مشر و.

احمدخان د نادر افشار په عسکرو کې یو زړور مشر و. کله چې نادر افشار له هند څخه راګرځېد، په لاره کې د خپلو عسکرو له خوا ووژل شو. احمدخان په ډېره مېړانه او پوره ایمانداری د ه‍۸۰ کورنی د دوی خپل وطن، ایران، ته ورسوله.



احمدخان د نادر افشار تر مرګ وروسته په ۱۱۶۰ هجري لمریز کال د قوم د مشرانو د لويې جرګې له خوا د افغانستان په پاچاهی وټاکل شو. په ډېره لږه موده کې یې یو قوي مرکزي حکومت جوړ کړ. احمدشاه بابا برسېره پر دې

۸۷

چې د جګړې په میدان کې توریالی و، د پښتو او دري شعرونه یې هم ویل. خپل هېواد پرې ډېر ګران و لکه چې وایي:

که هر څو مې د دنیا ملکونه ډېر شي
زما به هېر نه شي دا ستا ښکلي باغونه
د ډهلي تخت هېرومه چې رایاد کړم
زما د ښکلې پښتونخوا د غرو سرونه

احمدشاه بابا د ۲۶ کالو پاچاهي وروسته وفات شو او په کندهار کې خاورو ته وسپارل شو.

بد خوبونه
یو چې ډېر خوري سوګندونه
بل چې ډېر کاندي پوروونه
آشنایي ورسره مه کړه
دا بې پته دي خوبونه

نوي لغتونه

مېړانه ایمانداري ابدالي

۸۸

دکتاب مخونه: ۸۷ ـ ۸۸
عنوان: احمدشاه بابا
ددرسونو شمېر: ۳
هدفونه: زده کوونکي باید:

● متن په سمه توګه ولولي، په مطلب پوه شي.
● د متن مطلب په خپله ژبه ووايي او ويې لیکي.
● داحمدشاه بابا په کارنامو وپوهیږي.
● پوه شي چې احمدشاه بابا ادیب او پر وطن مین شخصیت و.
● د خپلو ملّي مشرانو د درناوی په مفهوم یې پوه شي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي. • مشر څه ته وايي؟ • ستاسو دکور مشر څوک دی؟ • ستاسو د کلي مشر څوک دی؟ • دخپل وطن د مشرانو او پاچاهانو یو څو نومونه واخلئ. ـ زده کوونکي یوه‌یو تن ځوابونه وايي. ښوونکی دملّي مشرانو	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	نومونه پر تورو تخته لیکي . (سلطان محمود غزنوي ، شهاب الدّین غوري ، میرویس نیکه ، احمدشاه بابا ، ...)	توره تخته
۲ په متن کارکول	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې دکتاب (۸۷) مخ پرانیزي . ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنه کوي په رسمونوکې څه وینئ ؟ ـ زده کوونکي دکتاب رسمونو ته ګوري ، له څنګ ملګري سره پرې بحث کوي . ـ زده کوونکي متن په پټه خوله له ځان سره لولي . سخت لغتونه يې په نښه کوي . ـ ښوونکی / زده کوونکی سخت لغتونه معنا کوي اوله لغتونو سره يو ځای معناوې په تورو تخته لیکي . ـ زده کوونکي په مناسب لوړ آواز دمتن وړې وړې برخې لولي . ـ ښوونکی په مناسب آواز ټول متن لولي هغه معنی او تشریح کوي . زده کوونکي غوږ نیسي . ـ څوتنه نور زده کوونکي بحث او سموني کوي . ښوونکی لارښوونه مرسته کوي .	کتاب کتاب توره تخته کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې هريو داحمدشاه بابا د ژوند د پېښو اوکارنامو مطلب په خپله ژبه پر تخته باندې ولیکي ، لکه : • داحمدشاه بابا نوم احمدخان دی . • احمدخان دنادرافشار په عسکروکې مشرو . • احمدخان دابدالی زمان خان زوی دی . :	توره تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۴ ارزیابي	- ښوونکی له زده کوونکو څخه د متن د ځینو لغتونو د معناوو پوښتنه کوي ، لکه ابدالي ، مېړانه او نور. کورنۍ کار : زده کوونکي د احمدشاه بابا شعرونه ، چې په متن کې راغلي دي ، یاد کړي .	

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنه کوي ؛ - احمدشاه بابا د چا زوی و؟ احمدشاه بابا د نادر افشار له لاکورنۍ سره څه مرسته وکړه ؟ - احمدشاه بابا د چا له خوا پا چاهي ته وټاکل شو ؟ احمدشاه بابا د هېواد په هکله څه ویلي دي ؟	
۲ په متن کارکول	- ښوونکی د احمدشاه بابا شعرونه ، چې په متن کې راغلي ، پر زده کوونکو باندې په نوبت سره لولي او ترې غواړي چې مطلبونه یې په خپله ژبه بیان کړي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی د [بد خویونه] بیتونه پر تخته باندې لیکي. - زده کوونکي په دوو ګروپونو ویشي . - له یوه ګروپ څخه غواړي چې د قسم خوړلو په باب په ګډه سره یوه مقاله ولیکي او په هغې کې د قسم خوړلو د دیني او دنیایي ضررونو په باب خپل نظریات ولیکي . - له بل ګروپ څخه غواړي چې د « ډېرو پورکولو » د ضررونو په برخه کې خپل نظریات ولیکي . - په پای کې د هر ګروپ استازی په نوبت سره د خپل ګروپي کار	تور تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	نتیجې د ټولګي په مخکې لولي. - زده کوونکي / ښوونکی غلطۍ سموي ، بحث او تبصرې ور باندې کوي ، او دهر مطلب د جملو سم او صحیح شکل پر تخته لیکي. - زده کوونکي په پای کې د تختې جملې خپلو کتابچو ته رسوي.	توره تخته کتابچې
۴ ارزیابي	- ښوونکی پر زده کوونکو د درس یوه یوه برخه لولي. کورنی کار: د ښه خوی په هکله څو کرښې مقاله ولیکئ.	کتاب

درسي پلان : ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د زده کوونکو کورنی کارونه ګوري څو تنه زده کوونکي د ټولګي په مخکې خپل کورني کارونه په نوبت لولي. - ښوونکی د ځینو زده کوونکو ځینې جملې پر تخته لیکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې ور باندې بحث وکړي.	توره تخته
۲ په متن کارکول	- ښوونکی / زده کوونکی دې متن د همدې مرحلې د تدریس له اصولو سره سم په تکرار سره ولولي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی ځینې کلمې په توره تخته لیکي یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته را غواړي او ورته وایي چې ویې لولئ او د کلمو د [ی ، ې ، ی] د تلفظونو توپیر دې د د کلمو په لوستلو کې عملاً مقایسه کړي او توپیرونه دې وښیي: ابدالي ، زوی ، هجري ، لمریز ، زېږیدلی،	توره تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	کې ، کورنه ، جرګې ، ایمانداره ، برسېره ، ښکلې ، ښکلې ، هېواد ، تقویٰ ، قوي ، میدان ، چې . - زده کوونکي د [ی] د شکلونو او تلفظونو د پېژندلو څخه وروسته کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي.	کتابچې
۴ ارزیابي	- لاندې صحیح ځواب په نښه کړئ : (✓) - په لویه جرګه کې پاچاهی ته انتخاب شو . الف : احمدشاه بابا - ب : تیمورشاه ، ج : احمدخان - هم توریالی و هم شاعر : میرویس نیکه - احمدشاه بابا ظاهرشاه - - نادر افشار (الف) هندوستانی و ، (ب) ایرانی و (ج) افغان و (د) تُرک و . - احمدشاه بابا (الف) یوازې پښتو شعرونه ویل (ب) یوازې دري شعرونه ویل (ج) پښتو او دري شعرونه ویل (د) شاعر نه و .	

عادل خلیفه

وایي چې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه به هر وخت د خپل رعیت احوال اخیست. د شپې له مخې به کوڅه په کوڅه گرزېده او د خلکو له حاله به یې ځان خبراوه.

یوه شپه پر یوه کوڅه تېرېده، ژړا یې تر غوږ شوه. خلیفه ودرېد او دروازې ته ورنږدې شو. په دې وخت کې یې د یوې بوډۍ بسخې غږ واورېد چې ویل یې:

"ای ربه، دا څنگه عدالت دی چې زوی مې له څلورو میاشتو راهیسې د حکومت په خدمت کې ورک دی او کور ته نه راځي. خلیفه دا فکر ولې نه کوي چې زما زوی کوږ لري، مور لري، ښځه لري او ماشومان لري؟"

خلیفه چې دا خبرې واورېدې، په سبا یې حکم وکړ، "چا چې درې میاشتې پرله‌پسې وظیفه اجرا کړې وي، د لسو ورځو له‌پاره دې خپلو کورونو ته ولاړ شي."

بله ورځ چې خلیفه بیا پر هغې کوڅې ورغی، خندا یې په کې واورېده. خلیفه د کور دروازه وروټکوله. د کور څښتن راووت. خلیفه ورته وویل:

"دا څه خبره ده چې پرون په دغه کور کې ژړا وه او نن خندا ده؟"

د کور څښتن ورته وویل:

۸۹

دکتاب مخ: ۸۹

عنوان: عادل خلیفه

د درسونو شمېر: ۲

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن روان او سم ولولي.
- د حضرت عمر فاروق (رض) په عدل و پوهیږي.
- د قصې مطلب په خپله ژبه بیان کړي او ويې لیکي.
- په خپلو کې د وروروگلوۍ، او خواخوږۍ روحیه پیاوړې کړي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي؛ څوک به د حضرت مُحَمَّد صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم د څلورو یارانو نومونه واخلئ؟ د حضرت مُحَمَّد (ص) په څلورو یارانو کوم یوه په عدل کې شهرت درلود؟ که چیرې د زده کوونکو ځواب د قناعت وړ نه و، ښوونکی یې په خپله ورته روایي. او بیا به پرتخته لیکي: حضرت عمر فاروق (رض)	تور تخته
۲ په متن کارکول	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې دکتاب د ۸۹ مخ پر متن تر [کورونو ته ولاړ شي] پورې کار وکړي (د نورو درسونو د همدې پړاو په شان.)	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۳ مشق او تمرین	املا: ښوونکی د ۸۹ مخ له متن څخه ۱۰ لومړنۍ کرښې زده کوونکو ته املا وايي چې په خپلو کتابچو کې يې ولیکي. داملا ویلو طریقه: - ښوونکی وايي کتابونه پټ کړئ. بیا په مناسب جګ آواز، ورو-ورو او کلمه په کلمه متن لولي اوله زده کوونکو څخه غواړي چې هغه په صحیح توګه او ښکلي خط په خپلو کتابچو کې ولیکي. - کله چې زده کوونکو متن ولیکه، ښوونکی همغه متن یو ځل بیا په عادي سرعت سره لولي او زده کوونکو ته وايي چې که څه ورڅخه پاتې وي بشپړ دې کړي. - بیا له زده کوونکو څخه غواړي چې خپلې کتابچې له څنګ ملګرو سره بدلې کړي او یو د بل لیکلي متنونه تصحیح کړي. - په پای کې ښوونکی څو کتابچې راټولوي هغه ګوري او غلطۍ يې پر تخته باندې سموي او شاګردان يې په خپلو کتابچو کې اصلاح کوي.	کتابچې توره تخته
۴ ارزیابي	- ښوونکی پر زده کوونکو د متن یوه یوه برخه په لوړ آواز لولي. کورنۍ کار: له خپلو ټولګیوالو سره د مهربانۍ او مرستې په هکله څو کرښې مقاله ولیکي.	کتاب کتابچې

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د زده کوونکو کورنۍ کارونه ګوري. ښوونکی د زده کوونکي غلطۍ سموي.	

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>
- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې یو یو تن د ټولګي مخې ته راشي او له کتابچو څخه کورنۍ کار ولولي .
- ښوونکی دلوستونکو ځینې کلمې په توره تخته لیکي .
زده کوونکي داشخاصو ، ځایونو ، وختونو ، دڅه له پاره ؟ خپل خیالات بیانوي ؛ ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې جدول خپلو کتابچو ته نقل کړي .
<table>
<tr><th>اشخاص</th><th>ځایونه</th><th>وختونه</th><th>دڅه له پاره</th></tr>
<tr><td>حضرت عمر فاروق رض
بوډۍ ښځه
دکورڅښتن</td><td>کوڅه</td><td>شپه</td><td>د خلکو احوال اخیستلو له پاره</td></tr>
</table>
</td><td>توره تخته

کتابچې</td></tr>
<tr><td>۲
په متن کارکول</td><td>
- ښوونکی / زده کوونکی دکتاب د ۸۹ پاڼې برخه او د ۹۹ څلور کرښې او متن له بله ورځ چې خلیفه - تر بېرته ولاړ پورې) د تېرو درسي پلانونو د همدې مرحلې د تدریس په شان کار وکړي .
</td><td>کتاب</td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرین</td><td>
- ښوونکی په توره تخته باندې لاندیني لغتونه لیکي .
- ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي چې په مناسب لوړ آواز لغتونه ولولي او معنی یې کړي
<table>
<tr><td>رعیت - خلک - احوال</td></tr>
<tr><td>عدالت - راهیسې - پرله پسې</td></tr>
<tr><td>دنده - کار - وظیفه - وټکوله</td></tr>
<tr><td>حکم - ژړا - فکر</td></tr>
</table>
- ښوونکی له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې یو یو تن د ټولګي مخې ته راشي لغتونه په توره تخته په جملو کې وکاروي .
- نور زده کوونکي سموې / تبصرې کوي . ښوونکی مرسته / لارښوونه کوي . زده کوونکي د تختې د مخ لغتونه او جملې په خپلو کتابچو کې لیکي .
</td><td>توره تخته

کتابچې</td></tr>
<tr><td>۴
ارزیابي</td><td>
- ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنې کوي ؛
حضرت عمر رض څوک و ؟ هغه دشپې د څه له پاره په کوڅو کې ګرځېده ؟
څه یې ترغوږ شوه ؟ بوډۍ ښځې څه ویل ؟ خلیفه څه وکړل ؟
دکورڅښتن چېرته و ؟ دکورڅښتن خلیفه ته څه وویل ؟
او نور . زده کوونکی جوابونه وایي سموي او بحث کوي .
</td><td></td></tr>
</table>

زه د حکومت په دنده لرې تللی وم . مور او ماشومان
مې راپسې خفه شوي وو ؛ خکه یې ژړل . اوس چې
راغلی یم .نو په کور کې مې خوشحالي ده .
خلیفه په خپل عمل ډېر خوښ شو او بېرته ولاړ .

اتفاق

راځئ مسلمانانو ، چې یو لاس او یو قوت شو
د پاکو ارزوگانو په خاطر ، واړه اوچت شو
الله ﷻ دي فرمایلي چې مومن د مومن ورور دی
عمل په قرآن وکړو چې خاوند د پت ، عزت شو
تازه به د عمر رض د خلافت وخت او زمان شي
که موږ ټول د یووالي ، عدالت ، تقوئ په نیت شو
اوچت به مو جهان کې مرتبه شي ، ښه به ژوند کړو
یوځای که د یووالي په نیت او عقیدت شو
لاس واخلو له نفاق او خانخانۍ ، دښمني پرېږدو
په خپلو کې یو بل سره په مینه ، محبت شو
ښه خوی او اتفاق د مسلمان زېب و زینت دی
راځئ چې ښایسته ټول په همدې زېب و زینت شو

نوي لغتونه

رعیت عدالت دنده تقویٰ عقیده خانخاني زېب زینت

۹۰

دکتاب مخ : ۹۰
عنوان : اتفاق
د درسونو شمېر : ۲
هدفونه : زده کوونکي باید :

- ● شعر روان او سم ولولي .
- ● د متن په مطلب وپوهېږي .
- ● د متن مطلب په خپله ژبه بیان کړي .
- ● د سولې او یووالی په مفهوم پوه شي .
- ● د سولې ، وروږگلوۍ ، ښه خوی په باب څه ولیکلای شي .

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ــ ښوونکی لاندنۍ جمله پر تخته باندې لیکي : جنګ او جنجال کول کوم تاوانونه لري ؟ ــ ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته را غواړي چې د دې سوال په باب خپل نظریات څرګند کړي . ــ ښوونکی کورنۍ کارونه ګوري . له څو زده کوونکو څخه غواړي چې خپل کورنۍ کارونه په نوبت سره له خپلو کتابچو څخه د ټولګي په مخکې ولولي . نور زده کوونکي بحث ، تبصرې ، سمونې کوي ښوونکی مرسته ، لارښوونه کوي .	تور و تخته کتابچې
۲ په متن کارکول	ــ ښوونکی ، زده کوونکی دکتاب د ۹۰ مخ پر شعر کار کوي . ــ زده کوونکي متن په پټه خوله له ځان سره لولي سخت لغتونه یې	کتاب

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	پړاوونه
تورهٔ تخته کتاب	په ننبه کوي . - ښوونکی زده کوونکی سخت لغتونه معنا کوي لغت او د هغه معنا په توره تخته ليکي . - ښوونکی متن په مناسب لوړ آواز لولي . - زده کوونکي د متن يوه يوه کرښه په لوړ مناسب آواز لولي . - ښوونکی / زده کوونکی د لوستونکي غلطۍ سموي . - زده کوونکي متن تعقيبوي او معنی يې ذهن ته سپاري .	
تورهٔ تخته	- ښوونکی لاندې کلمې پر تخته ليکي : قوت ، اوچت ، عزت ، نيّت ، عقيدت ، محبت ، زينت - له څو زده کوونکو څخه غواړي چې دغه کلمې نږله پسې په لوړ آواز ولولي . - بيا پوښتنه کوي چې دغه کلمې په تلفظ کې يوله بل سره څه ورته والی لري . - زده کوونکي فکر ، بحث کوي . ګوندې ووايي چې : ټول په يو ډول آهنګ تلفظ کيږي . - که زده کوونکي دا خبره و نشي کړای ، ښوونکی دې په خپله ورته ووايي . - ښوونکی وايي: دغه ډول کلمو ته چې د شعر د بيتونو په پای کې راشي او په يو ډول آهنګ تلفظ شي **قافيه** وايي .	۳ مشق او تمرين
تورهٔ تخته	بيا دغه لاندې کلمې پر تخته ليکي : خزانې ، مينې ، نښانې ، لالونه ، رنګينې ، صداقت ، زمانې ، بېرته ، مالونه ، ترانې ، حماقت ، حالونه ، چېرته ، زيادت . - بيا پوښتنه کوي چې په دغو کلمو کې کومې کومې له يو بل سره	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	زده‌کوونکي يو بل ته خپلې کتابچې ورکوي . څنګ په څنګ زده کوونکي د يو بل غلطۍ سموي. ښوونکی او سرګروپ د زده کوونکو کارونه ګوري او لازمې لارښوونې کوي . پرابلمونه حلوي .	کتابچې
۴ لنډيز ارزيابي	ښوونکی له څو تنو زده‌کوونکو څخه غواړي د متن يوه برخه ولولي. ښوونکی ځينې زده‌کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي چې د متن مطلب په خپله ژبه بيان کړي . يو زده کوونکی بل زده کوونکي ته کلمې وايي چې په توره تخته يې د املا په توګه وليکي . کورنی کار : له زده‌کوونکو څخه غوښتل کيږي چې د متن (۹) مخ پاتې برخه په کور کې ولولي اوګرانې کلمې په خپلو کتابچو کې وليکي .	توره تخته

درسي پلان : ۲


پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	• ښوونکی کورنی کار ګوري. • له زده‌کوونکو څخه غواړي چې يو يو تن ګرانې کلمې له خپلو کتابچو څخه پرتخته وليکي . • ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي لوستل شوی متن د کيسې خلص به څوک په خپله ژبه راته ووايي ؟ . • يو يو زده‌کوونکی د ټولګي مخې ته راځي ، د متن مطلب بيانوي ، بحث او خبرې پرې کوي (ښوونکی مرسته کوي)	کتابچې
۲ په متن کارکول	• په متن باندې د تېر درس د درسي پلان له لارښوونو سره سم کار کيږي . (متن ۹ مخ تر « ښه ژوند يې درلوده پورې »	کتاب توره تخته
۳ مشق او تمرين	• زده کوونکي په دووګروپونو ويشل کيږي د ګروپونو له پاره مشران ټاکل کيږي.	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	د تلفظ یو ډول آهنګ لري یعنې په یوې قافیې کې دي ؟ همقافیه کلمې پیداکړئ او په خپلو کتابچوکې یې د مثال په شان ولیکئ . مثال ، خزانې ، ښیانې (ښوونکی نور مثالونه هم ورته وایي) ـ زده کوونکي دغه تمرین سرته رسوي . ـ څوتنه زده کوونکي د خپل کار نتیجه ټولګیوالو ته لولي . نور زده کوونکي سمونې او ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي . ـ ښوونکی د همقافیه کلمو لست پر تخته لیکي او زده کوونکي یې خپلو کتابچو ته رسوي .	تور تخته کتابچې
ارزیابي	ـ ښوونکی په توره تخته لاندې لغتونه لیکي . تقوی ، عقیده ، ځانځاني ، زیب ، زینت . ـ زده کوونکي یو یو د ټولګي مخې ته راځي په لوړ آواز یې لولي . معناې لیکي او په ساده جملو کې یې په شفاهي توګه کاروي . کورنی کار : زده کوونکي دې دغه شعر یاد کړي .	توره تخته

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی له څو تنو زده کوونکو څخه غواړي چې د ' اتفاق ' شعر د ټولګیوالو په مخکې له یاده ولولي .	
۲ په متن کارکول	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب د ۹ مخ شعر په نوبت سره یوه یوه برخه په شعري آهنګ ولولي . ـ زده کوونکي یو یو د ټولګي مخې ته راځي متن په	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	مناسب لوړ آواز دوه دوه کرښې لولي. - ښوونکی / زده کوونکی غلطۍ سموي - ښوونکی هڅه کوي چې زیات شمېر زده کوونکي په لوستلو کې برخه واخلي. - ښوونکی له زده کوونکو غوښتنه کوي چې د شعرونو مطالب په خپله ژبه په نثر ووايي، نور زده کوونکي سمونې او تبصرې کوي، ښوونکی مرسته / لارښوونه کوي.	
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی لاندنۍ کلمې پر توره تخته لیکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره هره کلمه له متضادې کلمې سره ونښلوي. - زده کوونکي دې له مثال څخه پیروي وکړي. - زده کوونکي یو یو د ټولګي مخې ته راځي په مناسب لوړ آواز کلمې لولي - متضادې کلمې پیدا او بیایې ونښلوي. - وروسته بیا کلمې په دې توګه خپلو کتابچو ته نقلوي چې د هرې کلمې ضد د هغې مخې ته لیکي، لکه: اتفاق نفاق ښه خپه مینه کرغېړن اتفاق مړاوی خوشحال بد دوستي نفاق ښایسته ټيټ تازه بدرنګي ژوند دښمني	توره تخته کتابچې
۴ ارزیابي	- ښوونکی په زده کوونکو د متن یوه یوه برخه لولي. - ښوونکی د لوستونکو څخه د متن د مفهوم او مطلب پوښتنه کوي. کورنی کار: زده کوونکي دې شعر یاد کړي.	



راځئ چې سره یو شو

د یوه سیند غاړو ته دوه کلي پراته وو. په دې کلیو کې ډېر خلک اوسېدل. د دواړو کلیو اوسېدونکو د سیند پر غاړه ځمکې درلودې.

د یوه کلي خلک ډېر شتمن وو او ځمکو یې ښه فصلونه کول. ځکه چې د دې کلي خلکو په ګډه سره د سیند څخه یوه ویاله خپلو ځمکو ته ایستلې وه. هر کار به یې په مشوره او اتفاق سره کاوه او په خپل وار به یې ځمکې اوبه کولې.

کله چې به ویاله له خټو او شګو څخه ډکه شوه، په ګډه به د ویالې کیندلو ته ولاړل. د غرمې ډوډۍ یې هم د سیند پر غاړه پخوله او خوړله. د سیند مخې ته به یې ډېرې تیږې اچولې، چې ویالې ته ډېرې اوبه ورننوځي. د کلي نور کارونه یې هم په اتفاق سره کول. ځکه خو یې

ډېر حاصلات اخیستل او ښه ژوند یې کاوه.

د بل کلي خلک د ځمکو له حاصلاتو څخه بې برخې وو ځمکې یې زیاتره شاړې او للمې وې. هر یوه به ویل: "زما یو څو پټي دي، څه یې کوم، بل څوک دې ویاله وباسي." د غلې اخیستلو لپاره بل کلي ته تلل. دا خلک بېوزلي وو، ځکه چې بې اتفاقه وو.

یوه ورځ له دې کلي څخه څو تنه آباد کلي ته د غلې اخیستلو لپاره لاړل. د هغه کلي خلکو ورته وویل: "ولې غله په بیه اخلئ؟ خپلو ځمکو ته یوه ویاله وباسئ او خپلې ځمکې وکرئ." مشرانو ځواب ورکړ: "زموږ د بېوزلۍ او بربادۍ سبب بې اتفاقي ده. هلته څوک د اتحاد فکر نه کوي."

کله چې غله اخیستونکي خپل کلي ته راغلل، غږ یې وکړ: راځئ چې سره یو شو. اتفاق وکړو. خپلو ځمکو ته ویاله وباسو." د کلي خلکو په جومات کې وعده وکړه چې سر له سبا به په ګډه څو، ویاله به راباسو، چې ځمکې مو آبادې شي.

په نتیجه کې د دوی د اتفاق په برکت ویاله ورایستله شوه، ځمکو به یې ښه حاصلات کول. د دوی اړتیا یې هم پوره کوله او څه غله د خرڅلاو لپاره پاتې کېدله. د اتفاق او یووالي له برکته د نورو خلکو له احتیاج څخه خلاص شول.

نوي لغتونه

حاصلات بربادي نفاق وعده

دکتاب مخونه: ۹۱ - ۹۲

عنوان: راځئ چې سره یو شو.

ددرسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

● متن په سمه او روانه توګه ولولي.

● د سختو لغتونو په معنی پوه شي

● د متن مطلب په خپله ژبه وویلای او ولیکلای شي

● د ارتباط د تورو په واسطه جملې وتړي او د استعمال په طریقه یې پوه شي.

● د ځینو لغتونو د سر او آخر تورو په کارولو نور لغتونه جوړ کړي.

● د موضوع په باب څه وویلی شي.

● د اتفاق او ګډ کار په اهمیت او ګټو پوه شي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
هڅونه	- ښوونکی وایي چې خپل کتابونه پرانیزئ او تصویرونه په غور مطالعه کړئ. - زده کوونکي کتابونه پرانیزي، تصویرونه په غور مطالعه کوي او بیا د تصویرونو حالت تشریح کوي. - ښوونکی هڅه کوي چې ټولو زده کوونکو ته نوبت ورکړي،	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	یو، یو زده کوونکی به د تصویرونو په باب یوه جمله وایي. ـ ښوونکی د زده کوونکو په وسیله معلوموي چې یوه خوا ورانه ویجاړه او بله خوا آباده او سمسوره ښکاري. ـ ښوونکی پوښتنه کوي، څه فکر کوئ چې دا یوه خوا ولې آباده او بله خوا ورانه ویجاړه ښکاري. ـ زده کوونکي ځوابونه وایي، تبصرې کوي او نتیجې اخلي.	
۲ په متن کارکول	ـ د ۹۱ مخ متن تر [ډېر حاصلات اخیستل او ښه ژوندې کاوه] پورې د معمول په شان تدریس کړئ	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی په تخته باندې «راځئ چې سره یو شو» لیکي بیا زده کوونکو ته وایي چې ددې عنوان لاندې چې هره ولړئ یوه یوه جمله راته ووایئ چې زه یې ولیکم. ـ زده کوونکي تر ممکن حده پورې د موضوع په باب یوه یوه جمله وایي. او دا خبره تشریح کوي چې په کومو نورو چارو کې خلک په شریکه د خپل تباه شوي کلي، وطن د جوړولو او سمسورولو له پاره گټورې هلې ځلې کولای شي. ـ ښوونکی د زده کوونکو نظریې پر تخته لیکي. زده کوونکي ورباندې بحث کوي او په پای کې غوره شوې نظریات په خپلو کتابچو کې لیکي.	توره تخته توره تخته کتابچې
۴ ارزیابي	ـ د یوه کلي د خلکو ژوند ولې ښه و او د بل کلي ژوند ولې بد و؟ ـ د بل کلي خلکو څه وکړل چې ژوند یې ښه شو؟ کورنی کار: ـ دا درس په خپل کور کې له خپلو مشرانو سره ولولئ او بیا دهغوی معلومات په خپلو کتابچو کې ولیکئ.	کتابچې

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td>۱
هڅونه</td><td>ـ ښوونکی د یو بحث لارښوونه کوي .
ـ ستاسو پرونی درس د څه شي په باب کې و ؟
ـ زده کوونکي جوابونه وایي .
ـ ښوونکی له څو تنو زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې خپل کورني کارونه له خپلو کتابچو څخه د ټولګي په مخکې ولولي او بحث وربانديې وکړي . ښوونکی لارښوونه او مرسته کوي .</td><td>کتابچې</td></tr>
<tr><td>۲
په متن کارکول</td><td>ـ ښوونکی ، زده کوونکی د ۹۲ مخ پرمتن باندې د پخوانیو درسونو په طریقه کار کوي.</td><td>کتاب</td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرین</td><td>ـ ښوونکی وایي : تختې ته وګورئ ، زه څو جملې لیکم او په بله خواکې ورته دارتباط توري لیکم .
زه چې څه لیکم له ځان سره یې ولولئ :
<table><tr><td>لکه : یوه ورځ . . . دې کلي . . . څوتنه آبادکلي . . . . دغلې اخیستلو . . . . پاره لاړل .
د هغه کلي خلکو ورته وویل : « ولې غله . . . . بیه اخلئ خپلو مځکو . . . . یوه ویاله وباسئ . . . . خپلې مځکې وکرئ.
هغوی ځواب ورکړ : « زمونږ د بېوزلۍ . . . . بربادۍ سبب بې اتفاقي ده ، هلته څوک د اتحاد فکر نه کوي.</td><td>له څخه
ته په
او سره
چې په</td></tr></table>
ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې یو یو تن د مناسب ارتباطي ادات په واسطه یو خالي ځای ډک کړي .
ـ ښوونکی د غسې نورې جملې هم پر تخته لیکي چې ټولو زده کونکو ته نوبت ورسیږي . (کتابونه باید تړلي وي)</td><td>توره تخته

توره تخته</td></tr>
<tr><td>۴
ارزیابي</td><td>ـ د بل کلي خلک ولې له حاصلاتو څخه بې برخې وو ؟</td><td></td></tr>
</table>

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- مځکې یې ښنګه وې او هریوه به څه ویل ؟ - د غلې اخیستلو له پاره به چیرې تلل ؟ - د هغه آباد کلي خلکو ورته څه وویل او دوی په ځواب کې څه وویل ؟ - کله چې غله اخیستونکي خپل کلي ته ورغلل څه یې وکړل ؟ زده کوونکي په نوبت سره جوابونه وايي او بحث کوي . کورنی کار : - په خپل کورکې له خپل پلار یا ورور سره کښېنئ او د اتفاق په باب ورڅخه یوه قصه واورئ او په کتابچوکې یې ولیکئ .	کتابچې

درسي پلان : ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی له څوتنو زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې په نوبت سره د اتفاق او ولسي ګډ کار د ګټو په باب یوه یوه جمله د ټولګیوالو په مخکې ووايي . - ښوونکی د هغوی جملې پر تخته لیکي او بیانور زده کوونکي وربـاندې بحث کوي . - ښوونکی څوتنه زده کوونکي تختې ته نژدې غواړي چې خپل کورنی کارونه په نوبت سره ولولي . . .	توره تخته کتابچې
۲ په متن کار کول	- ښوونکی په زده کوونکو باندې د ټول متن یوه ، یوه برخه په نوبت سره لولي . - یو یا دوه زده کوونکي د متن مطلب په خپله ژبه وايي . نور زده کوونکي بحث ، تبصرې ، سموني، ښوونکی لارښوونه	کتاب

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>او مرسته کوي.</td><td></td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرین</td><td>- ښوونکی پر تخته باندې یو جدول جوړوي. بیا د جدول په سرکې یوه کلمه مثلاً «اتحاد» لیکي، لکه: د نمونې په توګه د دغې کلمې د پای له توري [د] څخه داسې یوه کلمه جوړوي مثلاً [دریم] چې د هغې کلمې په سرکې راشي.
<table>
<tr><th>اتحاد</th><th>د</th></tr>
<tr><td>دریم</td><td>م</td></tr>
<tr><td>مور</td><td>ر</td></tr>
<tr><td>راتګ</td><td>ګ</td></tr>
<tr><td>ګل</td><td>ل</td></tr>
<tr><td>لړم</td><td>م</td></tr>
<tr><td>مار</td><td>ر</td></tr>
<tr><td>روغ</td><td>غ</td></tr>
</table>
<table>
<tr><th>جومات</th><th>ت</th></tr>
<tr><td>تور</td><td>ر</td></tr>
<tr><td>رحیم</td><td>م</td></tr>
<tr><td>مریض</td><td>ض</td></tr>
<tr><td>ضعیف</td><td>ف</td></tr>
<tr><td>فاروق</td><td>ق</td></tr>
<tr><td>قلم</td><td>م</td></tr>
<tr><td>مشر</td><td>ر</td></tr>
<tr><td>راشه</td><td>ه</td></tr>
</table>
- زده کوونکي په خپله دغه کار ته په نوبت سره دوام ورکوي.
- زده کوونکي دغه جدولونه خپلو کتابچوته نقلوي.</td><td>تور تخته

کتابچې</td></tr>
<tr><td>۴
ارزیابي</td><td>- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره د بې اتفاقۍ د ضررونو په باب یوه یوه جمله په خپله ژبه ووایي او بل زده کوونکی هغه جمله پر تخته ولیکي.</td><td>تور تخته</td></tr>
</table>

د ملاریا تبه



د دینیات په ساعت کې کله چې ټول زده‌کوونکو ښوونکي ته غوږ نیولی و، د نسیم سترګې په اجمل ولګېدې، ګوري چې ژېړ دی.

نسیم خپل د څنګ ملګري اجمل څخه پوښتنه وکړه: "ورووره، ولې ژېړ دې؟" اجمل ځواب ورکړ: "نه پوهېږم."

کتل یې چې د اجمل ژېړ‌ېدل مخ په ډېرېدو دی. نسیم ښوونکي ته وویل: "معلم صاحب، څو شیبې کېږي چې اجمل ژېړ دی لکه چې ناروغ دی." ښوونکي د اجمل لاس ونیو، ویې کتل چې ډېر ګرم دی او پوښتنه یې ترې وکړه.

"اجمله، څه ناروغي لرې؟" اجمل ځواب ورکړ: "کله کله مې ټول ځان ژېړ دی، سر او ځان مې هم خوږېږي." ښوونکي وویل: "فکر کوم چې ستا ناروغي به ملاریا وي."



اجمل یې سرښوونکي ته بوت او قصه یې ورته وکړه. سرښوونکي اجمل ډاکټر ته ولېږه. ډاکټر یې د وینې معاینه وکړه او ویې ویل: "ستا ناروغي د ملاریا تبه ده." اجمل ته یې د ملاریا د تبې دارو ورکړل.

بله ورځ چې د دینیات ښوونکی ټولګي ته راغی، زده‌کوونکو ته یې وویل: "د اجمل ناروغي د ملاریا تبه وه." په دې وخت کې یو زده‌کوونکي پوښتنه وکړه: "معلم صاحب، د ملاریا تبه څه ډول ناروغي ده؟" ښوونکي وویل: "د ملاریا تبې ته نوبتي تبه یا سره‌لړزه تبه هم وایي. په دې تبه کې ناروغ ژېړ دی. دا تبه د ناروغ بدن ډېر کمزوری کوي. دا تبه د ملاریا د ماشو په واسطه د یو سړي څخه بل ته ځي، هغه ماشی چې د ملاریا په تبه اخته سړی وچیچي او بیا بل هر څوک وچیچي هغه په ملاریا اخته کېږي. په هغو ځایونو کې



چې ولاړې اوبه ډېرې وي، ماشي هم ډېر وي او دا تبه هم ډېرېږي. د دې ناروغۍ د مخنیوي لپاره باید خپلو کوڅو او چاپېریال ته مېړې وشندونه او ولاړې اوبه پرې‌نه‌ږدو. باید هغه ځایونه چې ماشي پکې پیدا کېږي، وخت په وخت دواپاشي شي. د کوټو کړکیو او دروازو ته باید جالۍ ونیول شي."

په یاد ولرئ چې په دې ډول تبو کې هرومرو باید وینه معاینه شي او د ډاکټر د لارښوونې سره سم دارو وخوړل شي.

نوي لغتونه

ژېړېدل معاینه دارو سره‌لړزه چاپېریال دواپاشي

دکتاب مخونه: ۹۳ - ۹۴

عنوان: د ملاریا تبه


ددرسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن روان او صحیح ولوستلای شي.
- د متن پر موضوع او مطلب پوه شي.
- دمتن مطلب په خپله ژبه وویلای شي.
- په جملوکې دفاعل اوفعل په مطابقت پوه شي.
- د ملاریا د مرض د پیدا کېدو په علت پوه شي.
- وپوهېږي چې دملاریا ماشي په ناپاکو اوبو اوچټل چاپېریال کې پیدا کېږي.
- پوه شي چې څنګه کولای شي له دغوناروغیو ځخه ځانونه وژغوري.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی پوښتنه کوي: - دکومو مرضونو نومونه موزده دي؟ - هر زده کوونکی په نوبت سره دیوه مرض نوم اخلي. - ښوونکی هغه پرتخته لیکي. - بیایې کوم زده کوونکی د «ملاریا» نوم واخلي. که چا دا نوم وانه خیست، ښوونکی دې مرسته وکړي.	تور تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	او د «ملاریا» کلمه دې پر تخته ولیکي. - د ملاریا کلمه دې پر تخته پرېږدي او نور نومونه دې پاک کړي او ودې وایي چې زموږ درس په همدې باره کې دی.	تور تخته
۲ په متن کارکول	- ښوونکی / زده کوونکی د کتاب ۹۳ مخ پر متن باندې د همدې مخ تر پایه د پخوانیو لارښوونو سره سم کار کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی لاندې جمله پر تخته لیکي: اجمل رېږدېده وروسته لاندې کلمه وایي: زه او له یو زده کوونکي څخه غواړي چې د [اجمل] پرځای [زه] په جمله کې راوړي.  - زده کوونکي وایي: زه رېږدېدم. په همدې توګه کله فاعل او کله فعل بدلوي او زده کوونکي مناسبې جملې داسې وایي چې فعل له فاعل سره مطابقت ولري. ښوونکی (ښ): موږ زده کوونکی (ز ۱): موږ رېږدېدو. ښ: تورپېکۍ ز ۲: تورپېکۍ رېږدېدله. ښ: تاسې ز ۳: تاسې رېږدېدئ: ښ: دوی ز ۴: دوی رېږدېدل.	تور تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ښ: اجمل او ملالی ز ۵: اجمل او ملالی ربړدېدل ښ: تورپېکۍ او ملالۍ ز ٦: تورپېکۍ او ملالۍ رېږدېدلې بیا د فعل (رېږدېدم) په ځای نور فعلونه وایي، لکه: وینسېدم، تلم او داسې نور او پورتنی مشق پر ټولو زده کوونکو په شفاهي توګه تکراروي. ښوونکی زده کوونکي ته متوجه کوي چې د فاعل او فعل تر منځ څنګه مطابقت موجود دی. زه رېږدېدم، موږ رېږدېدو، فاطمه رېږدېدله، دوی رېږدېدل....	
۴ ارزیابي	- ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنه کوي: اجمل ته څه پېښ شوي وو؟ اجمل سره چا مرسته وکړه؟ ډاکتر څه وکړل او اجمل ته یې څه وویل؟ کورنی کار: ۹۴ مخ متن په کورکې ولولئ.	کتاب

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی په شفاهي توګه له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي: - زده کوونکی لاس پورته کوي هر یو خپل خیالات بیانوي. - ګوندې کوم زده کوونکی ووایي: د ملاریا د ماشي تصویر دی (ښوونکی دې مرسته وکړي)	
۲ په متن کار کول	- زده کوونکی د ښوونکی دې د لومړنیو درسي پلانونو په شان د ۹۴ مخ پر متن کار وکړي.	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	• د یوه ګروپ غړي د متن د رسمونو په هکله خپلو کتابچو کې لیکنې کوي (هغه خلک چې په تصویرونو کې معلومیږي څه کوي) • د بل ګروپ غړي ځینې کلمې په مناسبو جملو کې راوړي ، لکه : وخت خوشې مه تیروئ . ټولګی ، چوکه ، په آخر کې : ، هیڅ ، هر ، کوښښ ، روغتون ، باد ، . . .	کتابچې
۴ لنډیز / ارزیابي	• ښوونکی څو تنه زده کوونکي نوبت په نوبت د ټولګي مخې ته غواړي چې د متن څو کرښې ولولي . • ښوونکی څو تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته غواړي چې د درس خلص مطلب په خپله ژبه ووايي . کورنی کار : زده کوونکي دې د متن پاتې برخه په خپلو کورونو کې مطالعه کړي . او ګران لغتونه په خپلو کتابچو کې ولیکي .	کتاب

درسي پلان ۳۰

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	• ښوونکی د زده کوونکو کورني کارونه ګوري . ښوونکی / زده کوونکي یې سموي . • ښوونکی له ځینو زده کوونکو څخه غواړي د پخواني لوست یوه ، یوه کرښه ولولي . • ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې هر یو د وخت د ارزښت په باب څه ووايي . • زده کوونکي یو بل سره مشوره کوي . لاسونه پورته کوي او په نوبت ځوابونه وايي . • ښوونکی د ټولګي څارنه کوي . ښوونکی / زده کوونکي مهمې جملې په توره تخته لیکي .	کتابچې کتاب توره تخته
۲ په متن کار کول	• ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب د (۹) او (۱۰) مخ پاتې برخه او متن په ښه خوله ولولي نوي یا سخت لغتونه په نښه کړي . ښوونکی / زده کوونکي سخت لغتونه معنی کوي او پر تخته یې لیکي	کتاب توره تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی لاندنۍ پوښتنې پرتخته باندې لیکي. ۱- ملاریا څه ډول ناروغي ده؟ ۲- د ملاریا مکروبونه په کومه حشره کې پیداکیږي او دغه حشره څنګه ورکیدای شي؟ ۳- د ملاریا د تبې معالجه څنګه کیدای شي؟ - بیا ټولګی پر درې ګروپونو ویشي. هرګروپ ته یو مشرټاکي. - هرګروپ ته وظیفه ورکوي چې دیوه سوال په موضوع باندې بحث وکړي. - د هرګروپ زده کوونکي پر موضوع بحث کوي، سوال ته جوابونه پیدا کوي. خپل نظریات او معلومات سره شریکوي او په خپلو کتابچوکې یې ولیکي. - ښوونکی د ګروپونو د کار څارنه، زده کوونکو ته لارښوونه او ورسره مرسته کوي. - په پای کې د هرګروپ مشر د خپل کار نتیجې نورو ټولګیوالو ته لولي. - زده کوونکي بحث او تبصرې / سمونې کوي. - ښوونکی د هرګروپ صحیح او غوره جملې پرتخته لیکي. - زده کوونکي هغه په خپلو کتابچوکې لیکي.	توره تخته کتابچې توره تخته کتابچې
۴ ارزیابي	- ښوونکی پر زده کوونکو د متن یوه یوه برخه په لوړ آواز لولي او د ځینو لغتونو د معنا پوښتنه کوي کورنۍ کار: ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې د کورنۍ مشر سره په دې هکله مرکه وکړي او دا پوښتنې ترې وکړي چې ملاریا څه ډول ناروغي ده؟ څنګه پیدا کیږي؟ او څرنګه یې مخنیوی کیږي؟	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ څخونه	ـ ښوونکی له ځینو زده کوونکو څخه غواړي چې که په کورکې یې د ملاریا په باب څه نوي معلومات ترلاسه کړي، وي، ټولګیوالو ته بیان کړي. ـ زده کوونکي / ښوونکی غوږ نیسي . بحث / تبصرې / سمونې کوي.	
۲ په متن کارکول	ـ په ټول متن باندې دې په تکراري توګه کار وشي	کتاب
۳ مشق او تمرین	املا : ـ ښوونکی دکتاب د ۹۳ مخ څخه ۶ـ۷ کرښې املا وایي چې زده کوونکي یې په خپلو کتابچوکې ولیکي (کتابونه تړلي وي) ـ ښوونکی هره جمله ورو ورو او په داسې توګه لولي چې زده کوونکي یې ښه واوري . هره جمله دوه ځلې وایي. ـ په پای کې ټوله برخه په عادي تېزوالي وایي چې که له زده کوونکو څخه څه شی پاتې وي بشپړیې کړي. ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې خپلې کتابچې له څنګ ملګري سره تبادله کړي چې د یوبل غلطۍ سمې کړي. ـ ښوونکی پر زده کوونکوګرځي او املايي غلطۍ پیدا کوي . پر تخته باندې غلطې کلمې لیکي او په څنګ کې یې د هغو درسته املا لیکي. ـ زده کوونکي خپلې غلطۍ د تختې له مخې سموي.	کتاب کتابچې تورتخته کتابچې
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی په توره تخته باندې لاندنۍ ناقصې جملې لیکي. زده کوونکي یې د چوکاټ له کلمو څخه بشپړوي . د ملاریا تبې ته .... تبه یا .... تبه هم وایي . په دې تبه کې .... رېږدي ـ د دې ناروغۍ د مخنیوي له پاره باید په خپلو کوټواو .... ته نږدې .... او ولاړې .... پرې نه ږدو .	تورهتخته

چاپېریال	ډنډونه	اوبه	نوبتي	ناروغ	سره لېږي

وزرماتی مرغه



یوه ورځ نورالله له خپلو ملګرو سره باغ ته ولاړ. دوی د ګلانو او شنو بوټو په لیدلو خوشحاله. مرغان یې لیدل چې د ونو په ښاخونو کښناستل. د باغ په یوه خوا کې یې ولیدل چې یو مرغه د شینکي دپاسه پروت دی او الوتی نه شي. مرغه یې ونیوه، ویې کتل چې یو وزر یې مات دی. احسان‌الله پوښتنه وکړه: "دا مرغه اوس څه کوې؟" نورالله ځواب ورکړ: "کور ته یې وړم او کوښښ کوم چې وزر یې جوړ شي." سالم ووېل: "زه به یو قفس درکړم."


نورالله چې کور ته ولاړ. مرغه یې خپلې مور ته وښوده. مور یې پوښتنه وکړه: "ولې دې کور ته راوړی؟" نورالله ځواب ورکړ: "مورجانې، دا مرغه ساتم چې وزر یې جوړ شي." د نورالله مور بیا پوښتنه وکړه: "قفس دې له کومه پیدا کړ؟" نورالله ځواب ورکړ: "د سالم څخه مې واخیست."



نورالله هره ورځ مرغه ته اوبه او دانه ورکوله. څو ورځې تېرې شوې. مرغه جوړ شو. داسې ښکارېده، چې مرغه خواري له قفس څخه وروزي. بیا یې

۹۵

پلار ته ووېل: "دا مرغه د دې له پاره کور ته راوړی دی چې وزر یې روغ شي او بیا یې خوشې کړم." پلار یې ووېل: "ښه فکر دی. څو ورځې یې نور هم وساته چې ښه روغ شي او بیا یې خوشې کړه."



دوه ورځې وروسته نورالله ولیدل چې مرغه ډېر ښه الوتی شي. له ځانه سره یې ووېل: "اوس باید دا مرغه خوشې کړم تر څو په آزاد ډول په هوا کې والوزي."

نورالله قفس خلاص کړ. مرغه والوت او په بام کېناست. څو شېبې د بام له سر نه د نورالله پر سر والوت راوالوت. داسې ښکارېده، چې مرغه په خپله آزادۍ خوشحال دی. نورالله سالم ته خپل قفس بېرته ورکړ او کوروداني یې ورته ووایه.

نوي لغتونه

شینکی خوشې خوښ

۹۶

د کتاب مخونه: ۹۵ - ۹۶ عنوان: وزرماتی مرغه د درسونو شمېر: ۳ هدفونه: زده کوونکي باید: ● متن صحیح ولولي او په مفهوم یې پوه شي او سم یې ولیکلای شي.	● د متن مفهوم په خپله ژبه وویلای او ولیکلای شي. ● د نقل قول (د چا د عینِ خبرو د لیکلو) د نښو: « » او د پوښتنې د نښې ؟ په مفهوم پوه شي. ● له حیواناتو (مرغانو) سره د ترحم په مفهوم پوه شي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی په شفاهي توګه له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي: - څو ډوله مرغان پېژنئ؟ - کوم ډول مرغان څه ګټې لري؟ - څوک په خپلو کورونو کې څه ډول مرغان لري؟ که یې لري څنګه یې ساتي؟ - دغه مرغان یې ولې ساتلي دي؟	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- که یې چرګان ساتلي وي او د غه چرګان ناجوړه شي څــه ور سره کوي ؟	
۲ په متن کار کول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب ۹۵ مخ رسمونو ته وګوري او د هغو په باب خپل نظر بیان کړي . - په لومړي رسم کې مرغه څنګه ښکاري ؟ وزر یې ځوړند/ مات دی ؛ - بیا د ۹۵ مخ پر متن باندې له زده کوونکو سره یو ځای تر « د سالم څخه یې واخیست » پورې د ټولو مرحلوله تطبیقولو سره کار کوي .	کتاب کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی پوښتنه کوي : څوک په خپــل کور کې ، یا د چا خپلوان ، د چرګانو د ساتلو فارم لري ؟ زده کوونکي لاسونه جګوي . - چا د غه ډول فارمونه لیدلي دي ؟ - ښوونکی له هر یوه څخه په نوبت غواړي چې د چرګانو د ساتلو په باب خپــل معلومات ووایي : (ښوونکی دې لارښوونه وکړي چې د غو سوالونو ته جواب وویل شي) - چرګان یې ولې ساتلي دي ؟ (د غوښې یا د هګیو په خاطر) - څنګه ځای یې ورته جوړ کړی دی ؟ (قصه دې مفصلاً ووایي) - څنګه دانې او اوبه ورکوي ؟ - څه شي ورکوي ؟ - که ناروغ شي څه ورسره کوي ؟ (ډاکتر غواړي ؟ حلالوي یې ؟ خرڅوي یې ؟) - له هګیو سره یې څه کوي ؟ - د غوښو له پاره ساتل شویو چرګانو سره څه کوي ؟ - او داسې نور . - نور زده کوونکي غوږ نیسي . بحث او تبصره کوي . - ښوونکی خپل معلومات د زده کوونکو له معلوماتو سره	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	شریکوي . ـ په پای کې د چرګانو د ساتلو او د هغو د اقتصادي ګټو په باب سره بحث وکړي . ـ ښوونکی دغه ګټې پر تخته لیکي او زده کوونکي يې خپلو کتابچو ته نقلوي .	
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی پر زده کوونکو د متن يوه يوه برخه په لوړ آواز لولي . کورنی کار : ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې د متن پاتې برخه ولولي .	کتاب کتاب

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنې کوي : ـ تاسو د څه په باب قصه ولوستله ؟ په دې قصه کې څه پېښه شوې وه ؟ ـ نورالله د څه له پاره مرغه کورته وړی و ؟ ـ له حیواناتو سره ښه کول او زړه سوی ورباندې لرل څه ګټه لري ؟ (ثواب) ـ زده کوونکي نوبت په نوبت ځوابونه وايي او له يو بل سره بحث کوي	
۲ په متن کارکول	ـ د مخکینیو درسي لارښوونو له اصولو سره سم د متن په پاتې برخه د (۹۶) مخ ترپایه پورې کار وشي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی زده کوونکي په څلورو ډلو ویشي او هرې ډلې ته يو مشق ټاکي . ـ لارښوونه کوي چې د هرې ډلې زده کوونکي دې په ګډه	

سره د « وزرماتي مرغه » ټول متن يې له ګڼه ګونه په شريکه ولولي او هغه ځايونه په نښه کړي چې د غه لاندنۍ نښې ولري.

: « . »

: « ؟ »

- د ګروپونو مشران په نوبت سره د غه ځايونه لولي او ښوونکی يې پر تخته ليکي. — لوڅه تخته

- ښوونکی پوښتنه کوي چې د دغو نښو په منځ کې څه ډول جملې ليکلې شوې دي؟ (هغه جملې چې د چا له خولې څخه نقل شوي دي.) ښوونکی مرسته کوي.

که د چا اصلي خبرې کټ مټ ولیکل شي ورته « نقل قول » وايي او داسې ليکلې کيږي: احسان الله پوښتنه وکړه: « دا مرغه اوس څه کوي؟ » نورالله ځواب ورکړ: « کورته يې وړم او کوښښ کوم چې وزر يې جوړ شي. »

- ښوونکی توضيح کوي چې د احسان الله پوښتنه او د نورالله ځواب کټ مټ د نښو په منځ کې ليکل شوي دي.
- همدغسې ښوونکی غوښتنه کوي چې دغه ؟ نښه په کومو ځايو کې ليکل شوي دي؟
- زده کوونکي هغه جملې چې دا ؟ نښه لري لولي. ښايي ووېلای شي چې د پوښتنو په پای کې. (ښوونکی مرسته کوي)

دا علامه، چې د پوښتنې نښه يې بولي ؟ د هغو جملو په پای کې کې ليکل کيږي چې پوښتنه شوي وي، لکه: ته څه کوې ؟ سالم څه وويل؟ دوی څه کوي ؟ »

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۴ ارزیابي	- ښوونکی لاندې لغتونه په توره تخته لیکي . - څو زده کوونکي د تختې مخې ته راغواړي هر یوه ته یوه د پوښتنې لپاره جمله او د نقل قول جمله وایي چې په سمه توګه یې پر تخته باندې له مناسبو نښو سره ولیکي . کورنۍ کار : ښوونکی لاندې لغتونه پر تخته لیکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې په جملو کې یې راوړي : مرغه ، قفس ، آزادي ، وزر ، چرګان .	توره تخته توره تخته 〃

درسي پلان : ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي : - "نقل قول" څنګه جملې ته وایي ؟ - پوښتنه څنګه جملې ته وایي ؟ - تاسو پرون څه ښېګڼه کړې ده ؟ یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي له خپل کورنۍ کار څخه یوه یا دوه دوه جملې په مناسب آواز لولي . - زده کوونکي جوابونه وایي . - ښوونکی کورني کارونه ګوري او غوښتنه کوي چې څو تنه زده کوونکي په نوبت سره خپل کورنۍ کارونه له خپلو کتابچو څخه د ټولګي په مخکې ولولي . - زده کوونکی / ښوونکی سمونې کوي .	کتابچې
۲ په متن کارکول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب ۹۵ - ۹٦ مخونو متن په نوبت سره یوه یوه جمله ولولي . - ښوونکی له یوه زده کوونکي څخه غواړي چې د درس نیمایي برخه ولولي او له بل زده کوونکي څخه هیله کوي چې بله نیمایي ولولي .	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- له یوه زده کوونکي څخه غواړي چې د متن مطلب په خپله ژبه ووایي. نور زده کوونکي غوږ نیسي. تبصرې او سمونې کوي.	
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی دغه لاندې کلمې پر تخته لیکي. کټ تیږه ستاینه زحمت جوړ صفت نړۍ روغ خوښ آزادول جومات معلوم کوښښ نېک نیتي لار خوشحال ښکاره سړک ډېره زیار خوشې کول حجره پېرزوینه مسجد خواري دنیا - بیا له یو یو زده کوونکي څخه په نوبت غواړي چې هره کلمه له یوې بلې کلمې په معنی کې نژدې وي د مثال په شان ونښلوي. - ورپسې زده کوونکي هر کلمه د مربوطې کلمې په څنګ کې (د مثال په شان) په خپلو کتابچو کې لیکي. خوشې کول پرېښودل	تور تخته کتابچې
۴ ارزیابي / لنډیز	- ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي او غوښتنه ترې کوي چې که په کور کې یې حیوانات یا مرغان موجود وي په خپله ژبه هغه ووایي، مثلاً: موږ په کور کې یو طوطي، پنځه چرګې او یوه غوا لرو. کورنی کار: د ۹۷ - ۹۸ مخونو متن دې په کور کې ولوستل شي.	کتاب

کاغذ



څومره کتابونه چې ګورو، دا ټول په کاغذ چاپېږي. که کاغذ نه وای کتابونه به هم نه وای. علم به نه خپرېدای. د تېر شویو وختونو خلکو له حالاتو څخه به نه خبرېدای. د نورو هېوادونو له حالاتو څخه به هم خبر نه وای. دنیا چې دومره ترقي کړې ده، دا ټوله د علم د خپرېدو په وجه ده.

علم د کاغذ په واسطه له یوه نسل څخه بل نسل ته او د یوه ځای څخه بل ځای ته خپرېږي.


په ډېرو زمانو کې چې کاغذ جوړ شوی نه و، د پاچاهانو خبرې او د ملکونو قصې او حالات به کاڼو او یا خاورینو تختو لیکل کېدل. کله چې خلکو لږ ترقي وکړه پر هډوکو، د ونو پر پوستکو او پاڼو به یې مهم شیان. ترڅو وروورو د حیواناتو په څرمنو لیکل شروع شول.

دوه زره کاله پخوا د مصر خلکو د کاغذ جوړولو نړۍ طریقه پیدا کړه. دوی د یو ډول ونې پوستکي پاک کړل او په هغو یې لیکل شروع کړل. په همغو وختونو کې د چین خلکو هم د سپېنسي، رخت او توتو څخه کاغذ جوړ کړ.

۹۷

په هغه ځای ترکیه د کاغذ جوړولو له پاره وخت په وخت په هر ځای کې راز راز کوښښونه وشول تر څو ننني کاغذ په اوسني شکل سره منځ ته راغی.

اوسنی کاغذ له یو قسم ګیاه او لرګو څخه جوړېږي. د لرګو توټې په یوه حوض کې واچوي او دا ګیاه چې "اسپارتو" نومېږي هم ورسره ګډ کړي. ځینې نور مواد هم ورسره اچوي. دا مواد، ګیاه او د لرګي توټې حلوي او یو ټینګ لعاب ورڅخه جوړېږي. بیا دا لعاب د ماشینونو په واسطه نری کړي



او د څه شي پر مخ یې خپروي چې وچ شي. بیا یې په مختلفو اندازو ټوټې تر څو کاغذ ورڅخه جوړ شي.

کاغذ یوازې د کتابونو، مجلو او ورځپاڼو په چاپولو کې نه استعمالېږي. له پرېږ کاغذ څخه د کتابونو پوښونه، د لوړګیت پوښ، کارتونونه، الماري او بکسونه جوړوي. همدارنګه لوترنه هم له یو ډول نري کاغذ څخه جوړېږي چې پر هغو باندې شیان اخلو او خرڅوو.

نوي لغتونه

وجه سپېنسی لعاب پرېږ کارتن

۹۸

دکتاب مخونه: ۹۷- ۹۸	او ولیکلای شي.
عنوان: کاغذ	● کاغذ وپېژني او په ارزښت یې وپوهېږي.
ددرسونو شمېر: ۳	● په دې وپوهېږي چې له کاغذ څخه څه کار اخیستل کېږي.
هدفونه: زده کوونکي باید:	
● متن صحیح ولوستلای او پرې وپوهېدلای شي.	
● د متن مطلب په خپله ژبه وویلای	

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي: - ستاسې کتابچې/کتابونه له څه شی څخه جوړ شوي دي؟ (کاغذ) - ګوندې زده کوونکي ووایي، له کاغذ څخه... - کاغذ له څه شي څخه جوړېږي؟ - له کاغذ څخه کومې استفادې کېږي؟	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۲ په متن کارکول	– زده کوونکي / ښوونکي دې د لومړنیو درسونو د لارښوونو له طریقو سره سم دکتاب د ۹۷ مخ پر متن باندې کار وکړي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	– ښوونکی زده کوونکي په بېلابېلو ګروپونو وېشي . د هرګروپ له پاره مشر ټاکي . دالف ګروپ زده کوونکي : که کاغذ نه وای کوم شیان به نه وو؟ تردې عنوان لاندې څوکرښې په خپلو کتابچو کې لیکي د ب ګروپ زده کوونکي : علم څرنګه پرمختګ وکړ؟ ..... – د هرګروپ زده کوونکي په خپلو کې سره صلاح او مشوره کوي – د هرګروپ مشر د ټولګي مخې ته راځي د خپل ګروپ کار لولي . – زده کوونکي بحث او سموونې کوي خپلې نظرېې سره شریکوي . ښوونکی مرسته / لارښوونه کوي .	کتابچې
۴ ارزیابي	– یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي د قیصې په بڼه درس بیانوي . – ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنې کوي : کاغذ څو کاله د مخه اختراع شو؟ دا طریقه د لومړي ځل له پاره چا پیدا کړه؟ آیا نورو خلکو هم په دې برخه کې اختراعګانې کړې وې؟ کورنی کار : د ۹۸ مخ متن په کورکې ولولئ .	کتاب

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	– ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي : – لومړی ځل کاغذ چیرته پیدا شو؟ څوکاله د مخه و؟	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	• ښوونکی متن په لوړ مناسب آواز لولي او مفهوم یې شاګردانو ته بیانوي. له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره د متن یوه یوه برخه په جګ آواز ولولي. • زده کوونکي متن تعقیبوي مطلب یې ذهن ته سپاري. زده کوونکي / ښوونکی غلطۍ سموي. • ښوونکی غواړي چې زده کوونکي د [وخت سره زردی] په متل باندې خپل نظریات ووایي او بحث وکړي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	• ښوونکی زده کوونکي پردرې ګروپونو ویشي. د هرګروپ له پاره مشر ټاکل کیږي؛ د الف ګروپ د متن لومړۍ برخه لولي او نومونه یې په کې نښه کوي او په کتابچوکې یې لیکي. د ب ګروپ د متن دویمه برخه لولي او نومونه په کې نښه کوي او خپلو کتابچوکې یې لیکي. د ج ګروپ د متن دریمه برخه لولي او نومونه په کې نښه کوي. کتابچوکې یې لیکي د هرګروپ مشر د خپل ګروپ کارونه ګوري او مرسته کوي. د هرګروپ مشر د خپل ګروپ کار د ټولګي مخکې ټولو زده کوونکو ته بیانوي او په تخته یې لیکي. • زده کوونکي د شعر مفهوم په خپله ژبه وایي او په خپلو کتابچوکې یې لیکي	کتابچې توره تخته
۴ لنډیز ارزیابي	• ښوونکی له یو یو زده کوونکي څخه غواړي چې یو یې یو مفرد نوم په تخته ولیکي او بل زده کوونکی د هغه جمع ووایي. کورنی کار: ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې په خپله خوښه دوه مفرد او دوه د جمعې نومونه په جملوکې راوړي او په خپلو کتابچوکې ولیکي.	توره تخته کتابچې توره تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- کاغذ څه ارزښت لري ؟ زده کوونکي فکر کوي ، بحث او مشوره کوي ځوابونه وايي . - اوسنی کاغذ له څه شي جوړېږي ؟ زده کوونکي ځوابونه وايي .	
۲ په متن کارکول	- زده کوونکي / ښوونکی د کتاب د ۹۸ مخ پرمتن کار کوي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی لاندنۍ جملې او کلمې پر تخته لیکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې نیمگړې جملې د چوکاټ له کلمو څخه بشپړې کړي او بیا یې پر تخته ولیکي . - د کاغذ په واسطه دیوه نسل څخه بل نسل ته خپرېږي . که کاغذ نه وای ــــ به هم نه وای ــــ کاله پخواد ــــ خلکو د جوړولو نوې ــــ پیدا کړه . د ــــ خلکو هم د ــــ ، رخت او نورو څخه کاغذ .... کړ . اوسنی کاغذ له یو قسم ــــ او لرگو څخه جوړېږي . (ښوونکی دې دغه ډول نورې جملې او کلمې هم ورکړي) کتابونه کاغذ علم دوه زره گیاه سپینسی چین مصر جوړ طریقه - زده کوونکي په پای کې کلمې او جملې په خپلو کتابچو کې لیکي .	تور تخته کتابچې
۴ ارزیابي	- ښوونکی پر زده کوونکو د متن ځینې برخې لولي . د ځینو لغتونو د معنا پوښتنې کوي . لکه : وجه ، سپینسی ، لعاب ، پړېږ ، کاربن ، او نور ... کورنی کار : نشته .	کتاب

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	پړاوونه
	ـ ښوونکی غوښتنه کوي ، د هغو شيانو نومونه واخلئ چې له کاغذ څخه جوړيږي . ـ زده کوونکي په نوبت سره ، هريو د يوه شي نوم اخلي .	۱ هڅونه
کتاب	ـ زده کوونکي / ښوونکي د «کاغذ» د عنوان پر ټول متن باندې له لارښود سره سم تکراري کار کوي .	۲ په متن کار کول
کتابچې	ـ زده کوونکي دې د کاغذ په باب د خپلو معلوماتو لنډ ويز په خپلو کتابچو کې وليکي . ـ څوتنه زده کوونکي په نوبت سره خپلې ليکنې لولي . نور زده کوونکي بحث / تبصرې او سمونې کوي . ـ ښوونکی مرسته / لارښوونه کوي .	۳ مشق او تمرين
کتاب کتابچې	ـ زده کوونکي د متن يوه يوه برخه پرلوړ مناسب آواز لولي او مطلب يې په خپله ژبه وايي . ښوونکی د ځينو لغتونو د معناوو پوښتنه کوي . زده کوونکي جوابونه وايي . کورنی کار : ـ زده کوونکي دې په کورکې له مشرانو څخه د « للو للو » ترانې زده کړي او په خپلو کتابچو کې دې وليکي .	۴ ارزيابي

زوی ته د مور وینا

مور دې در نه ځار شه ، سر دې وک دی له ځولو
آللو ـ للو بچیه ، آللو ـ للو

آللو ـ للو بچیه ، څمله په بستر
لوی چې شوې نو ولاړ شه خپل مکتب ته برابر
واخله خپل قلم او کاغذ . مه شه غیر حاضر
ښه یاد کړه درسونه ، که دنیا وي که پښتو

ښه یاد کړه درسونه زویه ، ته د سبا پلار یې
تا ته به سپارلی شي د دغه وطن چارې
څوک چې مور و پلار نه لري ، ته یې مور و پلار یې
رحم به کړې زویه په پردیو اولادو

رحم به کړې زویه ، چې ونه کړې ظلم زور
هر تن د دې خاورې به ته بولې خور او ورور
کړه په خپل همت دې دغه خپل وطن سمسور
دا وطن ګټلی ستا نیکه په قربانو

۹۹

دا وطن ګټلی ستا نیکه ، ته یې ګلزار کړه
ورک د دې وطن له ګلستانه خند و خار کړه
چا ته یې پرې نه ږدې ، خلک دې خپل ورته ملیار کړه
مه شرمېږه زویه ، د خپل باغ په خېشاوو

مه شرمېږه زویه ، ته په کار او په زحمت
تا ته سپارل شوی دا وطن دی سلامت
دا به آبادېږي ستا په مینه ، محبت
ګوره خجالت نه کړې خپل مړي په قبرو
آللو ـ للو بچیه ، اللو ـ للو

توکه

پور ورکوونکی ، درې میاشتې کېږي چې درته وایم زما پور راکړه .
پوروړی ، درې میاشتې کېږي چې درته وایم درې ورځې وخت راکړه .

نوي لغتونه

ځار چارې ږوله خار ملیار خېشاوو ګلستان خند

۱۰۰

دکتاب مخونه : ۹۹ ـ ۱۰۰ عنوان : زوی ته د مور وینا ددرسونو شمېر : ۳ مدفونه : زده کوونکي باید ؛ ● متن (شعر) په سمه توګه ولولي . ● د نویو کلمو په معنا پوه شي .	● د متن په مطلب او مفهوم وپوهېږي او په خپله ژبه یې بیان کړي . ● د مور د مقدسې کلمې په مفهوم پوه شي حقوق یې وپېژني . ● چمتو شي چې خپلو هېوادوالو او هېواد ته خدمت وکړي . ● د هېواد والو او وطن په هکله څه ولیکلای شي . ● شعر یاد کړي .

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ مخونه	ـ ښوونکی پوښتنه کوي : کله چې مور وغواړي ماشوم ویده کړي څه کوي . کوښښ کوي چې د زده کوونکو له خولې دا خبره وباسي : « للو للو » ورته وایي . ـ ښوونکی وایي چا کومه « للو للو » زده کړې او لیکلې ده ؟ ـ که د چا زده وي یا یې لیکلې وي ، لاسونه جګ کړي .	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- ښوونکی غوښتنه کوي چې په نوبت سره یې له یاده ووایي یا یې له خپلې کتابچې څخه ولولي. - نور زده کوونکي غوږ نیسي. بحث، سمونې او تبصرې کوي. ښوونکی مرسته، لارښوونه کوي.	کتابچې
۲ پرمتن کارکول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې هریو په نوبت سره د ۹۹ - ۱۰۰ مخونو له متن څخه په ترتیب سره یوه یوه کرښه په مناسب آهنګ او جګ بږغ ولولي. نور زده کوونکي غوږ نیسي. - زده کوونکي هغه کلمې، عبارتونه چې په معنی یې نه پوهیږي وایي. - ښوونکی یې پرتخته لیکي او معنی کوي یې. معنی یې ورسره په خوا کې لیکي. - کله چې ټول متن په دې توګه ولوستل شو، ښوونکی ټول متن په مناسب جګ آواز او د نظم د لوستلو طریقه لولي. زده کوونکي خپل استاذ تعقیبوي او نظم په پټه خوله د استاذ په پیروی لولي. - بیا وروسته، هر زده کوونکی په نوبت د نظم یو یو بند لولي. نور زده کوونکي/ښوونکی سمونې کوي. - کله چې ټولو زده کوونکو خپله ونډه ولوستله، ښوونکی پوښتنه کوي: - دا شعر د څه شي په باب ویل شوی؟ - څوک له چاسره ږغیږي؟ - په شعر کې څو مطلبونه او کوم مطلبونه ویل شوي دي؟ - زده کوونکو یو بل سره مرسته ښوونکی لارښوونه او سمونې کوي.	کتاب تورتخته کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکي پرګروپونو ویشي د هرګروپ له پاره مشق تیاکي. - دالف ګروپ د متن لومړی پروګراف او د ب ګروپ د متن دوهم	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	پروګراف مفهوم او مطلب په خپله ژبه په کتابچو کې لیکي. زده کوونکي یو بل ته د (ځنګ انځوال) ته کتابچې ورکوي، غلطۍ سموي وروسته د هرګروپ مشر د ټولګي مخې ته راځي او د خپل ګروپ کار لولي. – زده کوونکي یې په خپلو کتابچو کې لیکي.	کتابچې 〃
۴ ارزیابي	– زده کوونکي بېل بېل د متن یوه یوه برخه په لوړ آواز لولي. – ښوونکی د ځینو برخو د معنی پوښتنې کوي. یو زده کوونکی راغواړي چې د متن اصلي مطلب په خپله ژبه بیان کړي. کورنی کار: شعر په کورکې یاد کړي.	کتاب

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	– ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي: – د مور د احترام او د هغې د حقونو په باب څوک معلومات راکولای شي؟ – زده کوونکي لاسونه جګوي او په نوبت سره خپل نظریات وایي. – ښوونکی بیا پوښتنه کوي: – مور خپل زوی ته څه ویلي دي چې لوی شې څه وکړه؟ – زده کوونکي فکرکوي لاس پورته کوي ځوابونه وایي.	
۲ پرمتن کارکول	– زده کوونکي / ښوونکی پر متن باندې په تکراري توګه کار کوي. زده کوونکي په پای کې د شعر مطلبونه په خپله ژبه بیانوي. – ښوونکی غوښتنه کوي چا چې ټول شعر یا د شعر ځینې برخې یادې کړې دي، په نوبت سره دې له یاده ووایي.	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکي پر دوو ګروپونو ویشي د ګروپ مشر ټاکل کیږي. - د الف ګروپ هغه کلمې له متن څخه په خپلو کتابچو کې لیکي چې وروستی توری یې [و] او [ی] وي. - د ب ګروپ : هغه کلمې په خپلو کتابچو کې د کتاب له متن څخه لیکي چې وروستی توری یې په [ر] ، [ت] او [ه] ختم شوی وي. - د دواړو ګروپونو مشران د ټولګي مخې ته راځي ، هر یو د خپل ګروپ کلمې له کتابچو څخه په تور تخته لیکي. زده کوونکي یې کتابچو ته نقلوي.	کتاب کتابچې تور تخته کتابچې
۴ ارزیابي	- ښوونکی د متن ځینې جملې ګډې وډې په تور تخته لیکي. - ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته غواړي ترڅو جملې سمې په ترتیب سره ولیکي. تاته به شي سپارلې چارې د وطن د دغه - څوک چې نه لري پلار او مور ته یې پلاریې موریې به کړي رحم په پردیو زویه او لادو ښه یاد کړه زویه درسونه ، د سبایې پلار ته. - نورې د غسې جملې ښوونکی جوړوي د شعر د هرې مصرعې کلمې وړاندې وروسته کوي چې زده کوونکي یې ترتیب کړي. کورنی کار : زده کوونکي دې شعر یاد کړي.	تور تخته

درسي پلان : ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی زده کوونکي په نوبت سره د ټولګي مخې ته غواړي چې د شعر څومره برخه یې چې یاد کړې وي له یاده ووایي. - نور زده کوونکي غوږ نیسي او لازمې سمونې کوي -	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ښوونکی د کلمو د تلفظ او د شعر د ویلو غلطۍ سموي.	
۲ په متن کارکول	ـ زده کوونکي د ۱۰۰ مخ ټوکه لولي. ـ زده کوونکي نوبت په نوبت متن په مناسب د شعري لهجه لولي لوړ آواز لولي. ـ ښوونکی / زده کوونکی غلطۍ سموي. ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د ټولګي مخې ته ته راشي د درس مطلب او مفهوم په خپله ژبه بیان کړي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی زده کوونکو ته وایي چې د چوکاټ د کلمو له مخې لاندنی نیمګړې جملې بشپړې کړي: ښه یادکړه ....زویه ، نه د .... پلار یې. تاته به سپارلی شي ددغه .... چارې .... نه کړې زویه ، چې ونه کړې ظلم زور مرتن ددې .... به ته بولې خور او ورور کړه په خپل همت دې دغه .... وطن .... دا وطن .... ستا.. . په .... قربانو نیکه ګټلې خپل سمسور خاورې رحم وطن سبا درسونه	
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی پر زده کوونکو د متن یوه یوه برخه لولي. ښوونکی / زده کوونکی غلطۍ سموي. ـ زده کوونکي شعر له یاده وایي. کورنی کار: ـ په خپلو کتابچو کې یوه یوه ټوکه ولیکي.	کتاب کتابچې

ناکاره بوټی



زلمی او پلار یې د یوه پټي له څنګه تېرېدل. ډېر ښایسته بوټي یې ولیدل چې رنګارنګ ګلان یې کړي وو. زلمي نه پېژندل. حیران و. له پلار څخه یې پوښتنه وکړه چې دې بوټي ته څه وایي؟

پلار یې ځواب ورکړ: "دا ډېر ناکاره او خطرناک بوټی دی. دې ته کوکنار وایي. د دې بوټي غوزې او دانې ډېر زهرجن مواد لري. که څوک یې وخوري یا یې وڅکوي، د دنیا له کاره وځي. وېښته یې وچېږي. رنګ یې ژېړېږي. هیڅ کار یې له لاسه نه کېږي. د دې بوټي له شیرې څخه یو ډول پوډر هم جوړېږي چې زهرجن او خطرناک دی."



زلمي بیا پوښتنه وکړه: "پلاره، دا پوډر څه خطر لري؟"

پلار یې وویل: "زویه، ځینې ناپوه خلک دغه پوډر څکوي او

101

چې څوک یې یو ځل وڅکوي، عملي کېږي. تول هستي او شتمني یې بربادېږي. بیا نو د کور سامان خرڅوي. په غلا لاس پورې کوي چې د پوډرو د اخیستلو له پاره پیسې پیدا کړي. کور، کلي او اولاد ته یې شا شي. عزت او اعتبار له لاسه ورکړي او خلک ورڅخه کرکه کوي."

زلمي وویل: "پلاره، دا خو رښتیا هم ډېر خطرناک بوټی دی."

پلار یې وویل: "هو، ښه به دا وي چې څوک دغه بوټی هیڅ ونه کري. د هغه پر ځای غنم، جوار، وریجې کچالو، ګنې، د میوو ونې او نور وکري."

د نشه یي شیانو کرل او کارول د اسلام په سپېڅلي دین کې هم ناروا دي.

الله جل جلاله فرمایلي دي چې په نشه کې لمانځه ته مه نږدې کېږئ."

نوي لغتونه

تول هستي مواد زهرجن سپېڅلی

102

دکتاب مخونه: ۱۰۱ - ۱۰۲	● دکوکنارو بوټي وپېژني.
عنوان: ناکاره بوټی	● د نشه يي موادو په ضررونو وپوهېږي.
د درسونو شمېر: ۳	● پوه شي چې نشه کول په اسلام کې ناروا دي.
هدفونه: زده کوونکي باید:	● د نشه يي موادو په اړوند په خپله ژبه يې وويلای شي.
● متن په سمه او روانه توګه ولولي.	
● د معنی په مطلب پوه شي او په خپله ژبه څه ولیکلای شي.	

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ مخونه	- ښوونکی د خوتنو زده کوونکو کورني کارونه ګوري. ښوونکی / زده کوونکی غلطۍ سموي. - ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته غواړي چې خپل کورنی کار له کتابچو څخه ولولي. نوې کلمې یې په توره تخته ولیکي. ښوونکی / زده کوونکی د متن (ټوکه) نوې کلمې معنی او په توره تخته لیکي.	کتابچې: " توره‌تخته

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
کتاب توره تخته	زده کوونکي یې کتابچوته نقلوي. ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د ۱۰۱ مخ رسمونو ته وګوري او د هغوپه باب خپل نظریات ووايي. ـ زده کوونکي / ښوونکی د ناکاره بوټو نومونه پر تخته لیکي (کوکنار ، چرس)	
کتاب کتاب	ـ ښوونکی / زده کوونکی د کتاب د ۱۰۱ مخ پر متن باندې تر [زهرجن او خطرناک دي] پورې په پټه خوله لولي او ګران لغتونه په نښنه کوي. ـ ښوونکی / زده کوونکي نوي لغتونه معنا کوي او په توره تخته یې د لغتونو سره یوځای لیکي. ـ زده کوونکي په نوبت سره یوه یوه برخه په مناسب لوړ آواز لولي . زده کوونکي متن تعقیبوي غلطۍ سموي. ـ ښوونکی متن په مناسب جګ آواز لولي نور زده کوونکي متن تعقیبوي مفهوم یې ذهن ته سپاري. ـ څوتنه زده کوونکي نوبت په نوبت متن په مناسب لوړ آواز لولي. ـ څوتنه زده کوونکي د متن مطلب په خپله ژبه وايي . نور زده کوونکي بحث او تبصرې / سمونې کوي. ښوونکی لارښوونه / سمونې کوي.	۲ په متن کارکول
توره تخته کتابچې	ـ ښوونکی غوښتنه کوي چې زده کوونکي کتابونه وتړي. ـ بیا دغه لاندې کلمې او جملې پر تخته لیکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې له دغو کلمو څخه یوه مناسبه کلمه د هرې جملې په تش ځای کې په خپلو کتابچو کې ولیکي او جملې بشپړې کړي. ـ ښایسته ، حیران ، بوټي ، کوکنار ، غوزې ، کار ، وینه ، رنګ ، شیره ، پوډر ، خطرناکه ، وڅکوي. ـ زلمي ډېر ——— بوټي ولیدل .	۳ مشق او تمرین

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	______ یو ډېر خطرناک بوټی دی . ● که څوک د کوکنارو شیره وڅکوي ______ یې وخېږي . ● د کوکنارو له شیرې څخه جوړ شوی ______ ډېر خطرناک دي . ● د کوکنارو ______ ډېر زهرجن مواد لري . ● څوک چې پوډر وڅکوي ______ یې ژیړ وي . ● زلمی د ګلانو په لیدلو هک ______ شو . ● د کوکنارو ______ زهر لري . ● که څوک پوډر ______ د دین او دنیا له کاره وځي . ● د کوکنارو شیره ______ ډېره او زهرجنه ده . ● که څوک پوډر وڅکوي ټول بدن یې ______ کېږي . ● هیڅ ______ یې له لاسه نه کېږي .	
	- زده کوونکي خپله کتابچه له څنګ ملګري سره بدلوي . زده کوونکي د یوبل جملې تصحیح کوي .	کتابچې
	- هریو زده کوونکی خپل کار له خپلې کتابچې څخه لولي. زده کوونکي بحث او سمونې کوي .	"
	- ښوونکی هره جمله وروسته له بحث څخه په تخته باندې بشپړوي .	توره تخته
	- زده کوونکي خپلې جملې د تختې له رویه په خپلو کتابچو کې سموي .	کتابچې
۴ ارزیابي	- ښوونکی د متن یوه یوه برخه پر زده کوونکو لولي . د څینو لغتونو د معناوو پوښتنه کوي .	کتاب
	کورنی کار : نننی مشق په خپلو کتابچو کې پاکنویس کوي .	کتابچې

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی په شفاهي توګه له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي . ناکاره بوټي کوم دي ؟ انسان له پاره څه زیان لري ؟ - زده کوونکي فکر کوي ، لاس پورته کوي ، ځواب وایي .	

بشري ټولنه



انسانان نه شي کولای، په ځانګړې توګه د ژوند ټول ضرورتونه پوره کړي. له همدې امله یو د بل سره مرسته کوي او په ټولنه کې سره یوځای ژوند کوي. ټول هغه خلک چې په یوه ځای کې ژوند کوي او له یو بل سره نږدې اړیکې لري یوه ټولنه جوړوي. دغه خلک د ټولنې غړي دي.



په بشري ټولنه کې هر څوک د ښه ژوند کولو لپاره زیار باسي او کار کوي.

مالداران، پوهان، ډاکټران انجینران، سوداګران، بزګران، خټګران، پښان، ترکاڼان، ګندونکي او داسې نور په ګډه یو بل ته کار کوي او یو د بل د ژوند ضرورتونه پوره کوي. که چېرې خټګر نه وي، ترکاڼ کار نه شي کولای. د درملو ډاکټر ته ضرورت وي او درې واړه ګندونکي ته اړ دي.

۱۱



هر څومره چې د یوې ټولنې غړي اتفاق ولري، یو له بل سره خواخوږي ولري، مرسته سره وکړي، په سوله ژوند وکړي، په ګډه زحمت او زیار وباسي، په همغه اندازه ترقي کوي. د ښه او هوسا ژوند لپاره اسانتیاوې ورته برابرېږي. دغسې ټولنه په خپله هم په خوشحالۍ سره ژوند کوي او نورو ته یې هم ګټه رسېږي.

د ضروري کار رقعه

ښاغلی د . . . محترم مدیر صاحب!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

نن د یوه ضروري کار له امله نشم کولای چې ښوونځي ته درشم. هیله ده چې غیرحاضر نه شم.

په احترام .

نېټه: ....

اشرف د اکرم زوی

د څلورم الف ټولګي زده‌کوونکی

نوي لغتونه

بشري ځانګړې پښې ټولنه

۱۲

دکتاب مخونه : ۱۱ــ ۱۲

عنوان : بشري ټولنه

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن سم او روان ولولي .
- د سختو لغتونو په معنی وپوهېږي .
- د متن په معنی او مطلب وپوهېږي .
- په دې پوه شي چې یو انسان ټول کارونه نشي کولای . کارونه په شریکه ترسره کېږي .
- د لوست مطلب په خپله ژبه بیان کړي .
- فعل په متن کې وښيي .
- د متن د ځینو کلمو مفرد او جمع وپېژني .

درسي پلان : ۱

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی د څو تنو زده کوونکو کورني کارونه ګوري . ښوونکی/زده‌کوونکي غلطۍ سمويي . ښوونکی پوښتنه کوي : ټولنه څه ته وايي ؟ زده کوونکي فکر کوي ، بحث کوي او بېلابېل ځوابونه وايي . ښوونکی د بحث لاره ښوونه کوي ؛ ځوابونه پر تخته لیکي . د سم ځواب چا پېریال یو چوکاټ رسموي .	د کورني کار کتابچې تورتخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- استاد د زده کوونکو ځینې جملې په تور تخته لیکي. ښوونکی پوښتنه کوي: دا پوړر څه خطر لري ؟ هغه چاچې متن په کور کې لوستی وي ځواب وايي.	تورتخته
۲ په متن کارکول	- ښوونکی/ زده کوونکی د متن پرپاتې برخه تر پایه پورې کار کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکي پر دوو ګروپونو ویشي د هرګروپ له پاره مشر ټاکل کیږي. ښوونکی دواړو ګروپونو ته یو موضوع - لاربښوونه کوي ترڅو زده کوونکي تر دوو عنوانونو لاندې موضوع ولیکي د الف ګروپ: کوکنار څه شی دی او څه خطر لري ؟ د ب ګروپ: ناکاره بوټي کوم دي ؟ ولې خلک له پوړرو څخه کرکه کوي ؟ دواړو ګروپونو ته لس دقیقې وخت ورکول کیږي چې څوځو کړنې په خپلو کتابچوکې ولیکي. ښوونکی د ټولګي څارنه او که لازم وي مرسته کوي. د کار په پای کې د هرګروپ مشر د ټولګي مخې ته ځي او د خپل ګروپ د کار نتیجه نوروته لولي. - نور زده کوونکي غوږ نیسي. سموونې او تبصرې کوي، ښوونکی مرسته / سموونې کوي.	کتابچې کتابچې
۴ ارزیابي	- ښوونکی وايي: د چوکاټ د کلموله مخې لاندې جملې بشپړې کړئ. چې څوک یې یوځل وڅکوي عملي کیږي ټوله .... بربادیږي. په ..... لاس پورې کوي عزت او ..... له لاسه ورکوي. خلک ورڅخه .... کوي. هستي / شتمني / غلا / اعتبار / کرکه کورنی کار: - د نشه یي موادو په هکله د کور د مشر یاد جومات له امام څخه معلومات واخلئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.	تورتخته کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د څوتنو زده کوونکو کورنی کار ګوري غلطۍ یې پر توره تخته باندې سموي. - څوتنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راځي له کتابچو څخه کورنی کار لولي. - نور زده کوونکي غوږ نیسي. بحث، تبصرې، سمونې کوي. - ښوونکی له زده کوونکو څخه د نشه یي موادو د ضرر په هکله شفاهي پوښتنې کوي. - زده کوونکي فکر کوي او ځوابونه وايي. - ښوونکی د نشې په باب د اسلام د مقدس دین د لارښوونو په باب زده کوونکو ته معلومات ورکوي.	کتابچې توره تخته کتابچې
۲ په متن کارکول	- ښوونکی، زده کوونکي ټول متن په تکرار لولي. - څو زده کوونکي په نوبت سره د متن مطلب په خپله ژبه بیانوي. - نور زده کوونکي بحث او تبصرې کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- زده کوونکي د متن لنډ مطلب په خپله ژبه په کتابچو کې لیکي. - څوتنه زده کوونکي خپلې لیکنې لولي. نور زده کوونکي، ښوونکی یې غلطۍ سموي. - ښوونکی د زده کوونکو کتابچې په کور کې اصلاح کوي او په بل درس کې یې بېرته ورکوي او غلطۍ په تخته باندې سموي.	کتابچې توره تخته
۴ ارزیابي	- ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنې کوي: الله جَلَّ جَلَالَهُ د نشې په باب څه فرمایلي دي؟ د اسلام مقدس دین د نشه یي شیانو د کولو په باب موږ ته څه لارښوونه کوي. - څو زده کوونکي د نشه یي شیانو د ضرر په هکله خبرې کوي.	

د دروا‌غو نتیجه

له یوه سړي څخه یوه امیانۍ ورکه شوه چې څلور سوه افغانۍ په کې وې. ډېره یې ولټوله خو پیدا نه شوه. اعلان یې وکړ، "که زما امیانۍ چا راوړله نو دوه سوه روپۍ به انعام ورکړم."



امیانۍ یو غریب بزګر موندلې وه او ور یې کړه، کله چې انعام یې ترې وغوښت، نو ده دعوا یې هم پرې وکړه چې زما په دې امیانۍ کې دوه مرغلرې هم وې. هغه څه شوې!

بزګر وویل: "ما مرغلرې نه دي لیدلي. دغه امیانۍ مې چې څنګه موندلې، همغسې مې راوړې ده." د امیانۍ خاوند ورته وویل: "څه، ته انعام نه شې اخیستی. تا مرغلرې پټې کړې دي."

بزګر پوه شو چې سړیا د دوو سوو افغانیو نه ځان جوړ کړی ده او په څه چل را نه پیسې خوړل غواړي. نو ځي قاضي ته ولاړ.

قاضي د امیانۍ خاوند وغوښت او ورته یې وویل: "ته وایې چې زما په امیانۍ کې دوه مرغلرې هم وې." سړي ځواب ورکړ: هو، قاضي صاحب! دوه سوچه مرغلرې هم په کې وې. هغه دې راکړي چې انعام ورکړم." قاضي بزګر ته مخ واړاوه او ورېې ویل: "هلکه، په دې امیانۍ کې دوې مرغلرې پرتې وې؟"



بزګر ځواب ورکړ: زه قسم خورم چې په دې کې له څلورو سوو افغانیو پرته نور هیڅ هم نه وو."

قاضي د امیانۍ څښتن ته وویل: "ته وایې چې په امیانۍ کې دوه مرغلرې هم وې. نو معلومه ده چې دا امیانۍ ستا نه ده. دا له بل چا نه لوېدلې ده او دا د بزګر شوه. کوم وخت چې ستا امیانۍ پیدا شوه در وبه یې لېږم."

نوي لغتونه

اعلان انعام مرغلرې ځنځ سوچه امیانۍ

دکتاب مخونه: ۱۰۳ - ۱۰۴

عنوان: د دروا‌غو نتیجه

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن په سمه توګه ولولي.
- د متن مطلب په خپله ژبه وویلای شي.
- ځیني مؤنث نومونه وپېژني.
- د دروا‌غو په ضرر پوه شي.
- د دروا‌غو د ضرر په هکله څه ولیکلای شي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی پوښتنه کوي: هغه کوم شی دی چې انسان د خلکو په نظر بې باوره کوي. - زده کوونکي خپل نظریات وایي. - ښوونکی دې داسې زمینه برابره کړي چې زده کوونکي ووایي: [دروغ]	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۲ په متن کارکول	- ښوونکی/ زده کوونکي دې د کتاب د ۱۰۳ مخ پر متن کار وکړي.	کتاب
۳ مشق او تمرين	- ښوونکی زده کوونکي په دوو ګروپونو. د ګروپونو له پاره مشران وټاکي. - يو ګروپ ته وظيفه ورکوي چې متن ولولي او هغه جملې ورڅخه په خپلو کتابچو کې جلا جلا وليکي چې فعلونه يې ماضي او مؤنث وي او هغه نوم (اسم) پيدا کړي چې فعل ورسره مطابقت لري (يعنې مؤنث دی)، لکه: له يوه سړي څخه يوه اميانه ورکه شوه: فعل (ورکه شوه) ماضي مؤنث. هغه نوم چې دغه فعل ورسره مطابقت لري: اميانه. اميانه ورکه شوه. بل ګروپ ته وظيفه ورکوي چې له لوستل شوي متن څخه هغه جملې پيدا کړي چې ماضي فعلونه او مربوط نومونه دواړه په کې مذکر وي، لکه: انعام يې ترې وغوښت. فعل (وغوښت) ماضي، مذکر نوم (انعام) مذکر انعام يې وغوښت. - ښوونکی زده کوونکي څاري او که ضرورت وي مرسته ورسره کوي او توضيحات ورکوي. - د ګروپونو مشران په نوبت سره د ټولګي په مخ کې د خپلو کارونو نتيجه په نوبت سره بيانوي. نور زده کوونکي/ ښوونکی سموونه کوي. د ښوونکي له پاره: ځينې نورې جملې د مثال په توګه: - ... افغانۍ په کې وې. (نوم او فعل مؤنث) - ... مرغلرې هم وې (نوم او فعل مؤنث) - ... نوره دعوايي هم پرې وکړه (نوم: دعوا او فعل: وکړه مؤنث) - ... اعلان يې وکړ. (نوم: اعلان او فعل: وکړ مذکر) - ... بزګر پوه شو (نوم: بزګر او فعل: پوه شو مذکر)	کتاب کتابچې

درسي پلان ،

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	– په پای کې ښوونکی مؤنث نومونه (هغه نومونه چې مربوط فعلونه یې مؤنث وي) پر تخته باندې لیکي ؛ امیانۍ افغانۍ روپۍ دعوا مرغلره (جمع یې مرغلرې) خبره – ښوونکی دغه کلمې سره مقایسه کوي او سره بېلوي یې ؛ الف ؛ امیانۍ ، افغانۍ ، روپۍ ب ؛ دعوا ج ؛ مرغلره ، خبره – بیا زده کوونکوته توضیح کوي چې هغه نومونه چې د ساکښو ښیانو له پاره نه وي او د [ۍ ا ه] په توررو ختم شي مؤنث وي.	توره تخته
۴ ارزیابي	– ښوونکی د متن یوه، یوه برخه پر زده کوونکو په لوړ آواز لولي. د ځینو لغتونو د معناوو پوښتنه کوي . کورنی کار ؛ د متن پاتې برخه په کورونو کې ولولئ.	کتاب کتاب

درسي پلان ؛ ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	– ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي ؛ قصه د چا په هکله وه ؟ انعام یې څو و ؟ له چا نه څه ورک شوي وو ؟ چا پیدا کړې وه ؟ څه په کې وو ؟ د امیانۍ څښتن نوره څه دعوا کوله ؟ بزګر څنګه پوه شو ؟ – زده کوونکي فکر کوي لاس پورته کوي ځوابونه وایي .	
۲ په متن کار کول	– ښوونکی / زده کوونکي د ۱۰۴ مخ پر متن له لارښوونو سره سم مرحله په مرحله کار کوي .	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۳ مشق او تمرین	- له هر ګروپ څخه یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي هر یو په لوړ مناسب آواز د متن یو یو برخه د مسابقې په توګه لولي هر یو چې تر بل ښه ولوست یعنې لهجه یې سمه وه تلفظ یې سم و، او غلطۍ یې کمې وې مطلب یې په خپله ژبه سم ووایه هغه ښه لوستونکی بلل کیږي او ښوونکی یې نوم په توره تخته لیکي. دا تمرین د ګروپ تر آخري نفر پورې دوام مومي.	کتاب توره تخته
۴ ارزیابي	- ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي چې د چوکاټ د کلمو څخه لاندې نیمګړې جملې په شفاهي توګه بشپړې کړي. قاضي د امیانی ______ وغوښت. دوه سوچه ______ هم په کې وې. نوردوه سوه ______ په انعام ورکړم. امیانی یو غریب ______ موندلي وه. [انعام / بزګر / خاوند / مرغلرې] کورنی کار: - زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې یوه یوه لنډه قصه د درواغو د ضرر په باب ولیکي.	کتابچې

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د څو تنو زده کوونکو کورنی کارونه ګوري. - ښوونکی څو تنه زده کوونکي نوبت په نوبت د ټولګي مخې ته غواړي چې له خپلو کتابچو څخه کورنی کار ولولي. ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي چې په شفاهي توګه قصه بیان کړي. د قصې نوې کلمې د ښوونکي / زده کوونکي له خوا په توره تخته لیکل کیږي. زده کوونکي نوي لغتونه معنی کوي او په	کتابچې کتابچې توره تخته

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>خپلو کتابچوکې يې ليکي .</td><td></td></tr>
<tr><td>۲
په متن
کارکول</td><td>ـ ښوونکی / زده کوونکی ټول متن په تکراري توګه لولي . د ټولو مرحلو د اصولو رعايت کوي .</td><td>کتاب *</td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرين</td><td>ـ ښوونکی پر تخته باندې لاندنی جدول رسموي .
ـ زده کوونکي پر ۳ ګروپونو ويشي او ورته وايي چې هرګروپ دې ټول متن په ګډه ، ورو ورو چې شورماشورجوړ نه کړي، ولولي .
مثال :
لومړی ګروپ دې هغه نومونه له متن څخه وباسي چې دانسانانو نومونه وي اوپه خپل ستون کې يې په خپلو کتابچوکې وليکي .
<table>
<tr><th colspan="3">د نومونو ډولونه</th></tr>
<tr><th>۱
انسانان</th><th>۲
نور مشخص شيان</th><th>۳
مجرد شيان</th></tr>
<tr><td>سړی</td><td>افغانی</td><td>دعوا</td></tr>
<tr><td>بزګر</td><td>انعام</td><td></td></tr>
</table>
ـ همدغسې دويم اودريم ګروپونه دې هريو په همدې طريقه له متن څخه مناسب نومونه په مربوطو ستونونو کې وليکي .
ـ دکار په پای کې د هرګروپ مشر په نوبت سره د خپل کار نتيجه د ټولګي په مخکې لولي .</td><td>تورتخته
کتاب
کتابچې
کتاب
کتابچې
کتابچې</td></tr>
<tr><td>۴
ارزيابي</td><td>ـ زده کوونکي پر دوو ګروپونو ويشل کيږي . د يوه ګروپ غړي د بل ګروپ څخه د متن په اړوند په شفاهي توګه پوښتنې کوي او يو بل ته جوابونه وايي .</td><td></td></tr>
</table>

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۲ په متن کارکول	(د ښوونکي په لارښوونه) زده کوونکي د کتاب د ۱۱ مخ رسمونه ګوري، ورباندې فکر کوي. د رسمونو په باب خپل نظریات وايي بیا ښوونکی/ زده کوونکي د دې مخ پر متن تر آخره پورې کار کوي. (د متن د لوستلو له لارښوونو سره سم)	کتاب
۳ مشق او تمرین	ښوونکی زده کوونکي پر دوو ګروپونو ویشي د هر ګروپ له پاره مشر ټاکل کېږي. [د ښوونکي له پاره: فعل داسې کلمې ته وايي چې په تېره، اوسنۍ او راتلونکې زمانه کې د یو کار پېښېدل ښیي، لکه: خورم: کار (د خوړلو) په اوسنۍ زمانه کې.] د "الف" ګروپ د متن په لومړۍ نیمايي او د "ب" ګروپ د متن په وروستۍ نیمايي باندې داسې کار کوي: هر ګروپ په ګډه سره خپله برخه لولي او هر چېرته چې یوه داسې کلمه وي چې د یو کار کېدل، پېښېدل ښیي، د هغه له زمانې سره په نښه کړي او هغه کلمه په کتابچو کې ولیکي. مثال: د غه خلک د هټولنې غړي دي. [[illegible]] فعل، زمانه يې: اوس د ګروپ مشران په نوبت سره تختې ته ننوځي ورځي او د خپل ګروپ د کار نتیجې بیانوي. د بل ګروپ غړي پوښتنې کوي/ غلطۍ سموي. د ګزارش ورکوونکي ګروپ غړي جوابونه وايي/ دفاع کوي او پوښتونکي ته قناعت ورکوي. سم ځوابونه پر تخته لیکي. په پای کې زده کوونکي د تختې سم ځوابونه په خپلو کتابچو کې لیکي.	کتابچې تور تخته

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی زده کوونکو ته وايي چې له خپلو کتابچو څخه خپل کورني کارونه ولولي او پر تخته يې ولیکي. ښوونکی، زده کوونکي سختې کلمې معنا کوي او پر تخته يې لیکي زده کوونکي اول د ۱۱ مخ پر متن باندې کار کوي. بیا یو زده کوونکی ۱۱ مخ او بل زده کوونکی ۱۲ مخ لولي. نور زده کوونکي د لغاتو د معناوو پوښتنې ورڅخه کوي او توضیحات ورڅخه غواړي. لوستونکی ځوابونه وايي. زده کوونکي مرسته ورسره کوي. ښوونکی لارښوونې/ مرسته/ سمونه کوي.	کتابچې تور تخته کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۳ مشق او تمرین	ښوونکی د کلمو دغه لاندې جدولونه پر تخته لیکي: د الف ګروپ له پاره ـــــ د ب ګروپ له پاره انسانان ـــ وریځ پتلنې ـــ درس غرې ـــ کار پرسان ـــ څپله ترکانان ـــ غویی پلرونه ـــ غوا لاسونه ـــ اس پښتانه ـــ پښه ښوونکی غوښتنه کوي چې د الف ګروپ دې د خپلې برخې د هرې کلمې په څنګ کې د هغې مفرد ولیکي. او د ب ګروپ دې د خپلې برخې د کلمو جمعې ولیکي. بیا د ګروپونو مشران هر یو د خپل ګروپ د غړو کار بیانوي. - زده کوونکي یو بل سره بحث او سمونې کوي. - په پای کې بشپړ جدولونه په خپلو کتابچو کې نقلوي. - ښوونکی لارښوونه او مرسته کوي.	تورتخته کتابچې
۴ ارزیابي	- ښوونکی له متن څخه ځینې جملې پر زده کوونکو لولي. - ښوونکی له زده کوونکو څخه د متن په اړوند داسې پوښتنې کوي چې د متن مطلب په کې څرګند شي. - زده کوونکي یو بل ته یوه یوه کلمه وايي چې د املا په توګه یې په تور تخته ولیکي. کورنی کار: زده کوونکي له خپل کتاب څخه ۵ مفرد او ۵ د جمعې کلمې په خپلو کتابچو کې نقلوي.	کتاب تورتخته کتابچې

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د څرنګو زده کوونکو کورني کارونه کوري. - څو زده کوونکي خپل کورني کارونه له خپلو کتابچو څخه لولي.	د کورني کار کتابچې

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>• ښوونکی څو زده کوونکي د ټولګي مخې ته غواړي او نورو زده کوونکو ته وايي چې ورته وګوري او توپير يې وښيي. زده کوونکي له کتلو او مقايسې څخه وروسته بحث کوي. وايي چې د زده کوونکو څېرې، رنګونه، قد، ويښتان ... سره توپير لري.
• يو يو زده کوونکی د ټولګي مخې ته را غواړي او په دې خبرې کوي چې ټول خلك، ونې، بوټي يو ډول دي که څنګه.
زده کوونکي ځوابونه وايي، بحث کوي.</td><td></td></tr>
<tr><td>۲
په متن کار کول</td><td>له متن سره د کار کولو طريقه:
• ښوونکی وايي: کتابونه پرانيزئ او متن ته د هرڅه روزي رسان دی، پورې په پټه خوله ولولئ، سخت لغتونه په نښه کړئ.
• زده کوونکي متن لولي، سخت لغتونه نښه کوي، ښوونکی په ټولګي کې ګرځي او د لوستلو څارنه کوي.
• زده کوونکي يو يو سخت لغت وايي. ښوونکی يې په تخته ليکي.
• ښوونکی سخت لغتونه د زده کوونکو په واسطه معنی کوي. د ډېرو سختو لغتونو د معنی کولو له پاره مثالونه او اسانې جملې وايي لکه: مرغان په فضا کې الوزي، خدای لايزال دی، ... فضا = هوا؛ لايزال = زوال نه منونکی. معنی د لغت په څوا کې په تخته ليکي. بيا يې زده کوونکي لولي او کتابچو ته يې نقلوي.
• ښوونکی په خپل طبيعي او مناسب ږغ آواز متن لولي او زده کوونکي غوږ نيسي.
– زده کوونکي په نوبت سره د متن يوه ـ يوه برخه لولي.</td><td></td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرين</td><td>• ښوونکی مفرد او جمع نومونه په دې ډول په تخته ليکي:
• زده کوونکي وار په وار مفرد يا جمع نومونه پيدا کوي او په مقابل کې يې ورته ليکي.
• نور زده کوونکي هرځل د مفرد او جمع نومونو د لوستلو، ليکلو فرقونه بيانوي.
• زده کوونکي کولای شي چې په جملو کې يې هم استعمال کړي کله چې جدول پوره شو بيا يې زده کوونکي کتابچو ته نقلوي.
<table>
<tr><th>مفرد</th><th>جمع</th></tr>
<tr><td>غېږ</td><td>غېږونه</td></tr>
<tr><td>کاڼی</td><td></td></tr>
<tr><td></td><td>انسانان</td></tr>
<tr><td>هوا</td><td></td></tr>
<tr><td></td><td>توپانونه</td></tr>
<tr><td>وريځ</td><td></td></tr>
<tr><td></td><td>بنده ګان</td></tr>
<tr><td>ګوده</td><td></td></tr>
<tr><td></td><td>بوټي</td></tr>
</table></td><td>تور تخته</td></tr>
</table>

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td>۲
په متن کارکول</td><td>- ښوونکی د (بشري ټولنه) ټول متن یوه یوه جمله په نوبت سره په زده کوونکو وایي .
- زده کوونکي متن تعقیبوي او مفهوم یې ذهن ته سپاري. د کلمو په معنی چې و نه پوهېږي لاس پورته کوي . ښوونکی/زده کوونکي مرسته کوي. څو تنه زده کوونکي د متن مفهوم په خپله ژبه وایي .
زده کوونکي/ ښوونکی مرسته/ بحث کوي .</td><td>کتاب</td></tr>
<tr><td>۳
مشق او تمرین</td><td>ښوونکی زده کوونکي په دوو ګروپونو ویشي . له یوه ګروپ څخه غواړي چې په نوبت سره د الف د ستون کلمې د "ب" د ستون د جملو په خالي ځایونو کې په مناسبه توګه راوړي او بیا یې پر تخته ولیکي.

<table>
<tr><td>خوشحاله</td><td>تور</td></tr>
<tr><td>پاک</td><td>سپینه</td></tr>
<tr><td>لایق</td><td>رڼا</td></tr>
<tr><td>سترمانه</td><td>تیاره</td></tr>
<tr><td></td><td>تریخ</td></tr>
<tr><td></td><td>خوابه</td></tr>
</table>

علم ــــــ ده . مرچ ــــــ خوند لري
خټکی ــــــ دی . احمد په درسونو کې ــــــ دی
د احمد د کاکا بیره ــــــ ده . د زمری کالي ــــــ دي
پلوشه ــــــ نجلۍ ده . په ــــــ کې څوک څه نه وینې

ښوونکی بل ګروپ ته وظیفه ورکوي چې په متن کې تر فعلونو لاندې کرښې وباسي او هغه دې په توره تخته ولیکي . سرګروپان هر یو د خپل ګروپ کار بیانوي .</td><td>توره تخته

توره تخته</td></tr>
<tr><td>۴
ارزیابي</td><td>زده کوونکي په نوبت سره د کتاب یوه جمله لولي .
کورنی کار :
زده کوونکي دې [د ضروري کار رقعه ، ۱۲ مخ] ولولي .</td><td>کتاب</td></tr>
</table>



هر څومره چې د يوې ټولنې غړي اتفاق ولري ، يو له بل سره خواخوږي ولري ، مرسته سره وکړي، په سوله ژوند وکړي ، په ګډه زحمت او زيار وباسي ، په همغه اندازه ترقي کوي . د ښه او هوسا ژوند ټولو اسانتياوو ورته برابرېږي . داسې ټولنه په خپله هم په خوشحالۍ سره ژوند کوي او نورو ته يې هم ګټه رسېږي .

د ضروري کار رقعه

ښاغلی د محترم مدير صاحب !

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته

زه د يوه ضروري کار له امله نشم کولای چې ښوونځي ته درشم . هيله ده چې غيرحاضر نه شم .

په احترام .

نېټه : ....

اشرف د اکرم زوی

د څلورم الف ټولګي زده کوونکی

نوي لغتونه

بشري خانګړې ينې ټولنه

۱۲

دکتاب مخ : ۱۲

عنوان : دضروري کار رقعه

د درسونو شمېر : ۱

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- رقعه ولوستلای شي .
- په مفهوم يې پوه شي .
- ضروري رقعه وليکلای شي .

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	– ښوونکی پوښتنې کوي اوزده کوونکي ځوابونه وايي . • خليل ښوونځي ته ·راغلی دی ؟ زده کوونکي په ټولګي کې ويني چې خليل نه دی راغلی . • ښايي ځواب ورکړي چې پرون هم نه و راغلی او نن هم نه دی راغلی . • ولې نه دی راغلی ؟ ښايي ووايي چې نن يې دورود واده دی يا . . . • تاسوته څه معلومه شوه چې نن يې د . . . ؟ • ښايي يو يا څو زده کوونکي ځواب ورکړي چې پرون يې ماته د سرښوونکی/ښوونکی د خبرتيا له پاره رقعه راکړې وه . • تاته يې بياڅه وويل ؟ ښايي ووايي نن دضروري کار له امله ښوونځي • ته نه شي راتلای . • څه ضروري کار يې درلود ؟ راته يې وويل : « دورارهٔ واده مې دی»	

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>• یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او ښوونځي ته د رقعې لېږلو په باب خبرې کوي. نور زده کوونکي بحث کوي ښوونکی مرسته او لار ښوونه کوي.</td><td></td></tr>
<tr><td>۲
په متن
کار کول</td><td>– زده کوونکي/ ښوونکی د تېر درسي پلان د همدې پړاو په شان پر متن کار کوي.</td><td></td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرین</td><td>– ښوونکی ټولګی په دوو/ دریو ګروپونو ویشي. مشران ورته ټاکي.
– ښوونکی لاندنۍ پوښتنه پر تخته لیکي:
څه ډول کارونه او مشکلات چې څوک ولري ښوونځي ته نه شي راتلای؟
– بیا له ګروپونو څخه غواړي چې هر یو په خپلو کې سره بحث او مشوره وکړي او خپل ځوابونه په کتابچو کې ولیکي.
– د هر ګروپ مشر په نوبت سره د ټولګي مخې ته راځي او د خپل ګروپ ځوابونه لولي. نور شاګردان بحث کوي. ښوونکی مرسته کوي.
ګوندې په پای کې دې لاندې ځوابونو ته ورته یو جدول پر تخته جوړ شي:

– چې په کور کې څوک ناروغ وي او ماشوم ته اړتیا وي
– چې په کور کې د چا واده وي.
– چې ډېر مېلمانه راغلي وي.
– چې په کورنۍ کې یا له نږدې خپلوانو څخه څوک په حق رسېدلی وي.
– چې ماشوم په خپله ناروغ وي.
– چې په کور کې څوک نه وي پاتې او د کورنۍ غړي چېرته تللي وي.
– او داسې نور.

– ښوونکی/ زده کوونکي پر دغو ځوابونو غور کوي او دا نتیجه اخلي چې په رقعه کې دغه واقعي دلایل ښوونځي ته د نه راتګ له پاره ولیکي.
– زده کوونکي پر تخته پاندې ټول شوي دلایل په خپلو کتابچو کې لیکي.</td><td>تور تخته

کتابچې

تور تخته</td></tr>
</table>

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ـ ښوونکی / زده کوونکی د دلیلونو له مخې د رقعې یوه نمونه جوړوي : بناغلی د . . . د ښوونځي مدیر صاحب! نن مې درد / پلار / تبه / . . . مور ناروغ دی / ناروغه ده. نو ښوونځي ته نه شم درتلای . . . . په درناوی	
۴ لنډیز / ارزیابي	(تخته پاکېږي) ـ ښوونکی له ټولو زده کوونکو څخه غواړي چې ښوونځي ته د نه حاضرېدو هغه علتونه او دلایل ووایي چې باید په رقعه کې ولیکل شي. کورنی کار: زده کوونکي په کور کې یوه رقعه ولیکي او په کې دې د نه راتګ یو دلیل ولیکي.	

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه

حضرت عمر رضی‌الله‌عنه د اسلام دوهم خلیفه و. دی د حضرت ابوبکر صدیق رضی‌الله‌عنه څخه وروسته خلیفه وټاکل شو. اصلي نوم یې عمر او د پلار نوم یې خطاب دی. د حضرت محمد صلی‌الله‌علیه‌وسلم له خوا ورته د فاروق لقب ورکړ شوی دی. ځکه چې ډېر عادل و. په ۲۷ کلنۍ کې د اسلام په مبارک دین مشرف شو. د هغه په واسطه د اسلام دین ډېر زیات قوت او زور وموند. حضرت عمر رضی‌الله‌عنه د حضرت ابوبکر صدیق رضی‌الله‌عنه په شان خپل زیات وخت د حضرت محمد صلی الله‌علیه‌وسلم په خدمت او ملګرتیا کې تېر کړی دی. ډېرې غزاګانې یې کړې دي او خدای جل‌جلاله ورته زیات بریالیتوبونه ورکړي دي. حضرت عمر رضی‌الله‌عنه د خپل خلافت په دوره کې اسلام او انسانیت ته داسې ستر خدمتونه کړي دي چې په نړۍ کې ساری نه لري.

د هغه د خلافت په وخت کې په خلکو رخت وېشل کېده. حضرت عمر رضی‌الله‌عنه هم د نورو خلکو په شان خپله برخه واخیسته. کله یې چې د هغه رخت څخه جوړ شوی کمیس واغوستی و، پر منبر ولاړ او وعظ یې کاوه. د جومات له یوې برخې څخه یو سړي پرې غږ وکړ:

– "ستا خبرې نه اورو او ستا پیروي هم نه کوو."

کله چې حضرت عمر رضی‌الله‌عنه دا غږ واورېده، په ډېره نرمه ژبه او مهربانۍ سره یې وویل:

۱۳

– "ولې زما خبرې نه اورئ او ولې زما پیروي نه کوئ؟"

سړي ځواب ورکړ:

– "تا ډېر رخت اخیستی دی، ځکه ستا قد تر موږ لوړ دی، خو کمیس دې پر ځان برابر دی."

حضرت عمر رضی‌الله‌عنه پوه شو چې دې سړي شک کړی او باید قانع شي. نو له خپل زوی عبدالله څخه یې وغوښتل چې قناعت ورکړي.

عبدالله وویل:

– "ما خپل رخت خپل پلار ته ورکړ چې کمیس یې لنډ نه شي."

هغه سړي قناعت وکړ او عذر یې وغوښت.

پندونه

که دې زړه دی چې بد نه مومې له چا نه
اول ته پرېږده د بدو خصلتونه
د دنیا په مال د نېکو نوم حاصل کړه
تل جهان وچا ته نه پرېږدي مالونه
هغه کار چې په نرمۍ تر سره کېږي
څه حاجت چې رساوه شي تر جنګونه

نوي لغتونه

فاروق عادل مشرف وټاکل ساری پیروي قانع
وعظ

۱۴

دکتاب مخونه: ۱۳-۱۴
عنوان: حضرت عمر فاروق (رض)
د درسونو شمېر: ۳
هدفونه: زده کوونکي باید:
- متن سم او روان ولولي.
- د سختو لغتونو په معنا پوه شي، ویې لیکي.
- د متن په مفهوم او مطلب پوه شي،
- د حضرت عمر فاروق رض پر عدالت او په اسلام کې یې پر خدمتونو پوه شي.
- د نوموړي ځانګړي حالتونه وپېژني.
- د متن ځینې برخې ولیکي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
مخونه	- ښوونکی د څو تنو زده کوونکو کورني کارونه ګوري. ښوونکی/زده کوونکي غلطۍ سموي. - ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د تېر لوست ځینې برخې په لوړ آواز ولولي. - ښوونکی له یوه زده کوونکي څخه غواړي چې د درس عنوان ولولي. - زده کوونکی عنوان لولي. ښوونکی/ زده کوونکي یې پر تختهلیکي - ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې حضرت عمر فاروق رض	تورتخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	څوک و ؟ - زده کوونکي ځوابونه وايي .	
۲ په متن کارکول	د ۱۳ مخ پر متن تر « په نړۍ کې ساری نه لري » پورې د پخوانیو درسونو له لارښود سره سم کار کېږي .	کتاب
۳ مشق او تمرین	ښوونکی له زده کوونکو څخه په جلا جلا توګه غواړي چې یوه دا سې جمله پر تخته و لیکي چې یو « نوم » په کې کوم کار یې کړی وي . ښوونکی/ زده کوونکي غلطۍ سموي، مرسته کوي، لکه : حضرت عمر فاروق رض داسلام له پاره ډېر خدمتونه کړي دي . ښوونکی/ زده کوونکی بحث او مرسته کوي او دې نتیجې ته رسېږي چې « حضرت عمر فاروق رض » یو کار کړی دی : داسلام له پاره یې ډېر خدمتونه کړي دي . بیا ښوونکی هغه جملې یوه یوه پر تخته لیکي چې دغه نومونه په کې راغلي دي : حضرت عمر فاروق رض داسلام خلیفه و . ښوونکی پوښتنه کوي : حضرت عمر فاروق رض څه کار کاوه ؟ زده کوونکي ځواب وايي : داسلام خلیفه و . همدا رنګه نورې جملې : حضرت عمر فاروق رض اسلام او انسانیت ته ډېر خدمتونه کړي دي . حضرت عمر فاروق رض خپل زیات وخت د حضرت محمد ص په خدمت او ملګرتیا کې تېر کړي دي . ښوونکی : په دې ټولو جملو کې حضرت عمر فاروق رض څه کړي دي ؟ زده کوونکي ځواب وايي : [کار یې کړی دی] کله چې نوم کوم کار کړی وي یا یې وکړي « فاعل » یعنې عمل کوونکی بلل کېږي نو حضرت عمر فاروق رض په دې ټولو جملو کې فاعل دی .	تور تخته
۴ ارزیابي	ښوونکی په شفاهي ډول له زده کوونکو څخه د درس د مفهوم پوښتنه کوي لاندې لغتونه معنا او په جملو کې راوړي : فاروق ، عادل ، وتاکل شو ، پیروي . کورنی کار : زده کوونکي د متن پاتې برخه په کور کې لولي .	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي. - حضرت عمر فاروق رض د چا زوی و؟ حضرت عمر فاروق رض په څو کلنۍ کې مسلمان شو؟ د چا له خوا ورته د فاروق لقب ورکړ شو؟ - زده کوونکي ځوابونه وايي.	
۲ په متن کار کول	د ۱۳ مخ متن له [د هغه د خلافت په وخت کې] څخه د ۱۴ مخ تر شعر پورې د پخوانیو درسونو د لارښود سره سم لوستل کېږي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې لاندې نیمګړې جملې د چوکاټ له کلمو او جملو څخه بشپړې کړي: - په خلکو ــــــ ویشل کېده. حضرت عمر فاروق رض د نورو خلکو خپله برخه ــــــ د هغه رخت څخه یې ــــــ کمیس اغوستی و. پر منبر ولاړ او ــــــ یې کاوه. د جومات له یوې برخې څخه ــــــ پرې غږ وکړ. ستا خبرې ــــــ او ستا ــــــ هم نه کوو. په ډېره ــــــ او ــــــ سره یې وویل: [نه اورو، وعظ، واخیسته، پیروي، رخت، یو سړي، نرمه، مهرباني، جوړ کړی، په شان] کېدای شي ښوونکی دې تمرین ته د نورو جملو او کلمو په لیکلو دوام ورکړي. د تمرین په وخت کې باید کتابونه تړلي وي.	
۴ ارزیابي لنډیز	ښوونکی پر زده کوونکو د متن یوه یوه برخه لولي، د لغتونو د معنا پوښتنې کوي. ښوونکی شفاهي پوښتنې کوي: ولې هغه سړي وویل چې ستا خبرې نه اورو او ستا پیروي هم نه کوو؟ حضرت عمر فاروق رض هغه سړي ته څه وویل؟ کورنی کار: کوم کارونه انسان ته خیر او ګټه رسوي؟ په دې باب څلور کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکي.	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی د څو تنو زده کوونکو کورني کارونه ګوري. ښوونکی/ زده کوونکي غلطۍ سموي. څوک راته وايي چې حضرت عمر فاروق رض د خلکو له پاره کوم ښه خدمتونه کړي دي؟ زده کوونکی په نوبت سره ځواب وايي. ښوونکی پوښتنه کوي، چا چې عدل کړی وي هغه ته څه وايي؟ [عادل] - ښوونکی د عدل او عادل کلمې پر تخته ليکي. ښوونکی پوښتنه کوي: مونږ او تاسې ديوه هوسا او ارامه ژوند له پاره څه غواړو؟ - زده کوونکي: بيلا بيل ځوابونه وايي / بحث کوي. ښايي کوم زده کوونکی ووايي: امن، امنيت. ښوونکی/ زده کوونکی امن، امنيت په تور تخته ليکي.	تور تخته
۲ په متن کار کول	ښوونکی ټول متن تر پايه پر زده کوونکو يوه يوه جمله لولي. ښوونکی/ زده کوونکي غلطۍ سموي. ښوونکی غواړي چې زده کوونکی متن بيا ولولي او هغه فعلونه په نښه کړي چې په تېره زمانه کې واقع شوي دي.	کتاب
۳ مشق او تمرين	زده کوونکي د غه فعلونه پر تخته باندې ليکي. ښوونکی/ زده کوونکي مرسته کوي. خليفه و. وټاکل شو. ورکړی شوی دی. عادل و. مشرف شو. تېر کړی دی، کړي دي. ويشل کېده. واخيسته. اغوستی و. ولاړ و. وعظ يې کاوه. ماضي فعلونه هغه دي چې په تېره زمانه کې واقع شوي وي ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنې کوي. زده کوونکي ځوابونه وايي. حضرت عمر فاروق رض څه وخت خليفه وټاکل شو؟ څوک عادل و؟ څه شي زور ومومند؟ چاته د فاروق لقب ورکړی شوی دی؟ د فاروق لقب چا ورته ورکړی دی؟	تور تخته
۴ ارزيابي لنډيز	ښوونکی له زده کوونکي څخه شفاهي پوښتنه کوي. زده کوونکی يې ځواب وايي. ماضي فعل څه ته وايي؟ بيا غواړي چې زده کوونکی هر يو د ماضي فعل يو مثال ووايي. کورنی کار: عدالت - امنيت د هر يوه له پاره څو کرښې په کتابچو کې وليکي او د خپلو متالو مطلب په خپله ژبه ووايي.	

دکتاب مخ: ۱۴
عنوان: پندونه
د درسونو شمېر: ۱
هدفونه: زده کوونکي باید:
متن سم، روان او د شعر ویلو په طریقه ولولي.
د شعر په مطلب او معنی وپوهېږي.
مطلب په خپله ژبه ووایي.

- "ولې زما خبرې نه اورې او ولې زما پیروي نه کوې ؟"
سړي ځواب ورکړ :
- "تا ډېر رخت لګولی دی، ځکه ستا قد تر موږ لوړ دی، خو کمیس دې پر ځان برابر دی."
حضرت عمر رضی‌الله‌عنه پوه شو چې دې سړي شک کړی او باید قانع شي. نو له خپل زوی عبدالله څخه یې وغوښتل چې قناعت ورکړي.
عبدالله وویل :
- "ما خپل رخت خپل پلار ته ورکړ چې کمیس یې لنډ نه شي."
هغه سړي قناعت وکړ او عذر یې وغوښت.

پندونه

که دې زړه دی چې بد نه مومې له چا نه
اول ته پرېږده د بدو خصلتونه
د دنیا په مال د نېکو نوم حاصل کړه
تل جمع و چاته نه پرېږدې مالونه
هغه کار چې په نرمۍ تر سره کېږي
څه حاجت چې رسوا شې تر جنګونه


نوي لغتونه

فاروق عادل مشرف تاکل سماری پیروي قانع
وعظ

۱۴

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی پوښتنه کوي: - نصیحت څه ته وایي؟ - تاسو ته ښوونکی، پلار یا مور نصیحت کوي؟ څه درته وایي؟ زده کوونکی په نوبت سره جګېږي او ځوابونه وایي. بحث کوي. ښوونکی لارښوونه/ مرسته کوي.	
۲ په متن کارکول	د دې لارښود په معموله طریقه پر متن کار کېږي.	کتاب

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td>۳
ژبني شننونه</td><td>- ښوونکی دوه، دوه زده کوونکو ته وخت یا چانس ورکوي چې د کتاب له مخې یوه مصرع یو او بله مصرع بل زده کوونکی په مقابلوي ډول ولولي. دې مرحلې ته یو څه دوام ورکوي.
- ښوونکی په توره تخته خالي خانې جوړوي په هره یوه کې یوه، یوه مصرع لیکي. بیا وایي چې که هره یوه له بلې سره ارتباط ولري په پام کې یې ونیسي. بیا زده کوونکي د اتولې مصرعې په کرښه شکل کتابچو ته نقلوي. او ارتباطي مصرعې یو له بل سره د یوې کرښې په واسطه تړي، لکه:

</td><td>کتاب

توره تخته


کتابچه</td></tr>
<tr><td>۴
ارزیابي
لنډیز</td><td>- کوم خصلتونه پرېښودل پکار دي؟
- د دنیا په مال ښه نوم حاصلول ښه دي که بد؟
- یو کار په نرمۍ سره ترسره رسول ښه دی که په جنګونو؟
- بد خصلتونه کوم دي؟
زده کوونکی ځوابونه وایي، بحث کوي، یو د بل خبرې تکمیلوي، سوال ځواب کوي. ښوونکی لارښوونه/ مرسته کوي.</td><td></td></tr>
</table>

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۴ لنډيز ارزيابي	• ښوونکی پوښتنې کوي ، زده کوونکي ځوابونه وايي : • دا ټول جهان چا پيدا کړی دی ؟ • موږ څوک او د چا بنده ګان يو ؟ • د هرڅه روزي رسان څوک دی ؟ • د ځينې مفرد نومونو يادونه کوي او زده کوونکي يې جمع وايي ، لکر ، لاس ، تخته ، بحر ، فضا ، توپان ، اونور . کورنی کار : مځکه ، باران ، بوټی ، غر ، جمله ، جمع ، بنده د جمعي شکلونه په خپلو کتابچو کې وليکئ او بيايې په جملو کې استعمال کړئ .	

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	• ښوونکی زده کوونکو ته وايي چې په نوبت سره کورنی کار نورو زده کوونکو ته ولولي . • ښوونکی وايي : د ټولګي کوټې ته وګورئ ، د دروازو ، کړکيو ، دېوالونو، چت او نورو شيانو په باب خبرې وکړئ . • زده کوونکي د پورتنيو شيانو د رنګ ، جوړښت او شمېر په باب خبرې کوي . يو، يو زده کوونکی يو ، يو نظر ورکوي . • ښوونکی پوښتنه کوي ، دا ټول شيان يو شان او يو رنګ دي ؟ بنايي زده کوونکي ووايي چې نه، يو رنګ نه دي . • د خدای (ج) مخلوقات څه ډول دي ؟ بنايي ووايي چې رنګارنګ دي. (ښوونکی مرسته کوي) • يو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي . د ښوونکي په غوښتنه د کور، روغتون، ښوونځي او جومات د ودانولو په باب خبرې کوي . ښوونکی پوښتنه کوي : دا چا جوړ کړي دي ؟ زده کوونکي جوابونه وايي : بنايي ووايي چې خټګرانو ، نجارانو اومزدورانو جوړ کړي دي . ښوونکی پوښتنه کوي : آسمان ، مځکه ، غرونه ، بوټي ، حيوانات	

افغانستان



افغانستان زموږ ګران هېواد دی. موږ د افغانستان ټول اوسېدونکي د افغانانو په نوم یادېږو. هر افغان له خپل هېواد سره مینه لري. زموږ د ګران هېواد مرکز کابل دی. موږ، زموږ میندې پلرونه او نیکونه په هېواد کې زېږېدلي یو.

د هېواد په خاوره کې یې خاپوړې کړې دي.

زموږ د بدن ریښه د افغانستان له اوبو، هوا، غلو، دانو او مېوو څخه جوړه شوې ده.

زموږ هېواد د مور په شان په موږ باندې حق لري. همغسې چې خپلې مور ورزلي یو، د خپل هېواد په پراخه او ښایسته لمن کې لوی شوي یو.

د ژوند تر پایه پورې د افغانستان د آبادۍ له پاره موږ کوښښ کوو، تر څو هېواد مو آباد او سمسور، وطنوال مو هوسا او نیکمرغه په سوله کې ژوند وکړي.

افغانستان یو غرنی هېواد دی. همدا غرونه یې د

۱۵

ښایست او د ښې آب و هوا سبب شوي دي. له همدې غرونو څخه، چې زیاتره یې له واورو څخه ډک وي، سیندونو سرچینه اخیستې ده، چې د هېواد کروندې او باغونه خړوبوي. د افغانستان په غرونو، دښتونو، کروندو او باغونو کې راز راز بوټي، ونې، غلې، دانې، مېوې شنې کېږي او ډول ډول ښکاروي او حیوانات په کې روزل کېږي. موږ له دې ټولو څخه ګټه اخلو.

ختم ته بلنه

محترم ورور عبدالله!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

د روان کال د ... میاشتې په ... نېټه د ... ورځ د ... په ... بجو زموږ د کلي په لوی جومات کې د قرآن شریف په ختم کې د ګډون له پاره ستاسو راتلو ته سترګې په لار یو.

په ډېر درناوي

د سید علي اکبر له خوا

پته، جلال اباد، لومړی ناحیه، دریمه کوڅه، جامع جومات

نوي لغتونه

مرکز سمسور هوسا سوله سرچینه کروندې خړوبول

۱۶

دکتاب مخونه: ۱۵ - ۱۶

عنوان: افغانستان

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن سم او روان ولولي.
- د نویو کلمو په معنی پوه شي.
- د درس په مطلب او مفهوم پوه شي، نقشه وپېژني.
- د درس مطلب په خپله ژبه بیان کړي.
- خاص او عام نومونه وپېژني او په متن کې يې پیدا کړي.
- داسې وهڅول شي چې په راتلونکې کې د هېواد په آبادۍ کې عملاً برخه واخلي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د زده کوونکو کورني کارونه ګوري، ښوونکی / زده کوونکی غلطۍ سموي. - ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي: تاسې چېرته او سېږئ؟ چېرته زېږېدلي یاست؟ ستاسو مور او پلار چېرته زېږېدلي دي؟ - زده کوونکی لاس پورته کوي نوبت په نوبت ځوابونه وایي. زده کوونکي د کابل او نورو ولایتونو او ولسوالیو نومونه اخلي. ښوونکی غواړي چې	د کورني کار کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	زده کوونکي ځایونه په نقشه کې پیدا کړي.	د افغانستان نقشه
۲ په متن کار کول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب (۱۵) مخ پرانیزي. - ښوونکی له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې نقشې ته وګوري او خپل ولایت په کې پیدا کړي. - ښوونکی زده کوونکو ته وايي چې متن تر[سوله کې ژوند وکړئ] پورې په خوله ولولي. - سخت لغتونه یې په نښه کړي. ښوونکی / زده کوونکی سخت لغتونه معنی کوي او په تورو تخته یې لیکي. - ښوونکی / زده کوونکی متن په مناسب لوړ آواز لولي. زده کوونکي متن تعقیبوي او مفهوم یې ذهن ته سپاري. - زده کوونکي نوبت په نوبت په مناسب جګ آواز متن لولي. ښوونکی / زده کوونکی غلطۍ سموي.	کتاب نقشه توره تخته
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي: زموږ هېواد څه نومیږي؟ - زموږ د هېواد ټول اوسېدونکي په کوم نامه یادیږي؟ موږ چیرته خاپوړې کړي دي؟ - موږ په څه شي کې باید ژوند وکړو؟ ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي: ستاسې ولایت څه نومیږي؟ مرکز یې څه نومیږي؟ ستاسې ولسوالي څه نومیږي؟ ستاسې ښار، کلی، کوڅه څه نومیږي؟ زده کوونکي ځوابونه وايي. ښوونکی وايي دغه د ولایت، ولسوالۍ، ښار، کلي نومونه خاص نومونه دي بیا ښوونکی پر تخته لیکي: خاص نوم هغه دی چې د خاصو کسانو، ځایونو او نورو شیانو نومونه وي، لکه: هرات، قندهار کابل - اجمل - تورپېکۍ - افغانستان.	توره تخته
۴ ارزیابي	ښوونکی پر زده کوونکو د متن یوه یوه برخه لولي او د ځینو کلمو د معنی	

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	پړاوونه
	پوښتنه کوي. کورنۍ کار: زده کوونکي په کورکې له مور او پلار څخه دافغانستان په باب او ددوی دزېږ ېدو ځايونو پوښتنه کوي او دځايونو نومونه په کتابچوکې وليکي.	

درسي پلان: ۲

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	پړاوونه
دکورنۍ کار کتابچې توره تخته	- ښوونکی دزده کوونکو کورنۍ کارونه ګوري. ښوونکی / زده کوونکي غلطۍ سموي. - ښوونکی څو زده کوونکي د ټولګي مخې ته غواړي چې له کتابچو څخه خپل کورنۍ کارونه ولولي. - زده کوونکي د هېواد دولايتونو، ښارونو، ولسواليو او کليو نومونه اخلي. ښوونکی/ زده کوونکی ځينې نومونه په توره تخته ليکي.	۱ هڅونه
کتاب	- زده کوونکي/ ښوونکی دې ددې عنوان دلومړني درسي پلان دهمدې پړاو له لارښوونو سره سم په متن باندې له [افغانستان يوغرنی هېواد دی] څخه د ۱۶ مخ ترپايه کار وکړي.	۲ په متن کارکول
کتابچې توره تخته	- ښوونکی / زده کوونکي پرګروپونو ويشي. دهرګروپ له پاره مشر ټاکي د الف ګروپ: ووزلې، سمسور، هوسا، خړوبول، سوله په خپلو کتابچوکې معنی کوي او په جملوکې راوړي. د ب ګروپ: له متن څخه اودخپل مور او پلار د زېږ ېدو دځای خاص نومونه او يو څو عام نومونه اوله متن څخه ۱۲-۱۵ عام نومونه په خپلو کتابچوکې ليکي. که زده کوونکي عام نوم ونه پېژني هم ځنګ ملګری يا ښوونکی دې هغه ورته توضيح کړي. زده کوونکی / ښوونکی خاص نومونه او يو څو عام نومونه په توره تخته وليکي.	۳ مشق او تمرين

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد

خاص نوم: مشخص نومونه	عام نوم: د عامو او نامعلومو شيانو
لکه: افغانستان، افغان، افغانان، کابل، عبدالله، حضرت عمر رض (شينوار، لوګر، قندهار، واصل آباد، ګذرګاه، مزار شريف، کابل، هرات، مهترلام، بادغيس، شبرغان، باميان، .....)	نومونه لکه: هېواد، مرکز، مور، پلرونه، هوا، خاوره، مېوه، ژوند، غرونه، واوره، . . .

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	د هر ګروپ مشر د ټولګي مخې ته راځي، د خپل ګروپ کار لولي او په توره تخته يې ليکي. ـ زده کوونکي د تورې تختې ليکنې په خپلو کتابچو کې وليکي.	توره تخته کتابچې
۴ لنډيز / ارزيابي	ـ ښوونکی يو يو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي چې د درس مفهوم بيان کړي. د وطن د آبادۍ او سوله ييزوالي په باب خپل نظريات څرګند کړي. کورنی کار: زده کوونکي دې د افغانستان په باب څو کرښې مقاله وليکي.	

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی د زده کوونکو کورني کارونه ګوري. ښوونکی / زده کوونکي غلطۍ سموي. څو زده کوونکي يو يو د ټولګي مخې ته راځي خپل کورنی کار لولي. زده کوونکي / ښوونکی بحث او مذاکره کوي. ـ زموږ هېواد څه نوم لري؟ ـ زموږ د هېواد مرکز کوم ښار دی؟ ـ هېواد پر موږ څه حق لري؟ ـ زموږ هېواد کوم حاصلات لري؟ زده کوونکي ځوابونه وايي. ښوونکی / زده کوونکي غلطۍ سموي او مرسته کوي.	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۲ په متن کار کول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب ټول متن نوبت په نوبت یوه یوه برخه په لوړ او مناسب آواز لولي. ښوونکی / زده کوونکي غلطۍ سموي. - ښوونکی په متن کې د خاص نوم او عام نوم پوښتنه کوي. - زده کوونکي له متن څخه نومونه په خپلو کتابچو کې لیکي.	کتاب کتابچې
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکی پر ګروپونو ویشي د هر ګروپ له پاره مشر ټاکي. د الف ګروپ مشر د ګروپ غړو ته له متن څخه درې کرښې املا وايي. د ب ګروپ مشر د ګروپ غړو ته وايي « څنګه کولای شو خپل هېواد ته ښه خدمت وکړو؟ تر دغه عنوان لاندې درې کرښې متن ولیکئ. - زده کوونکي یو بل (د څنګ ملګري) ته کتابچې ورکوي. اصلاح کوي یې. - د هر ګروپ مشر د خپل ګروپ کار د ټولګي مخې ته بیانوي. زده کوونکي غلطۍ سموي، بحث کوي. - ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي.	کتابچې
۴ لنډیز / ارزیابي	- ښوونکی یو څو زده کوونکي په نوبت سره د ټولګي مخې ته راغواړي. نور زده کوونکي د کتاب له متن څخه یوه کرښه ورته املا وايي چې پر تخته یې ولیکي. - زده کوونکي د خپلو ملګرو غلطۍ سموي. ښوونکی مرسته کوي.	تور تخته
	کورنی کار: د وطن د آبادۍ په باب څلور کرښې متن ولیکي.	

ښایست او د ښې آب و هوا سبب شوي دي . له همدې غرونو څخه ، چې زیاتره یې له واورو څخه ډک وي ، سیندونو سرچینه اخیستې ده ، چې د هېواد کروندې او باغونه خړوبوي . د افغانستان په غرونو ، دښتونو ، کروندو او باغونو کې راز راز بوټي ، ونې ، غلې ، دانې ، مېوې شنې کېږي او ډول ډول ښکاري او حیوانات په کې روزل کېږي . موږ له دې ټولو څخه ګټه اخلو .

ختم ته بلنه

محترم ورور عبدالله !

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

د روان کال د . . . میاشتې په . . . نېټه د . . . ورځ د . . . په . . . بجو زموږ د کلي په لوی جومات کې د قرآن شریف په ختم کې د ګډون لپاره ستاسو راتلو ته سترګې په لار یو .

په ډېر درناوي

د سید علي اکبر له خوا

پته ، جلال اباد ، لومړۍ ناحیه ، دریمه کوڅه ، جامع جومات

نوې لغتونه

مرکز مسرور هوسا سوله سرچینه کروندګر خړوبول

۱۶

دکتاب مخ : ۱۶

عنوان : ختم ته بلنه

د درسونو شمېر : ۱

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن سم او روان ولولي .
- په معنی او مطلب یې پوه شي .
- مطلب یې په خپله ژبه بیان کړي .
- ختم ته د بلنې رقعه ولیکلای شي .

لومړی درسي پلان


پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ څرنګه	ښوونکی پوښتنې کوي ، زده کوونکي ځوابونه وايي : - نن د څه ورځ ده ؟ - د جمعې په ورځ موږ څه وکړل ؟ - تاسې کله ختم ته تللي وئ ؟ زده کوونکي ځوابونه وايي . ګوندي یو/څو تنه له زده کوونکو څخه ختم ته تللي وي ښوونکی له هغو څخه یو تن د ټولګي مخې ته غواړي چې د ختم په باره کې خپل معلومات او تجربه بیان کړي .	
۲ په متن کارکول	پر متن باندې د مخکنیو درسونو د همدې پړاو له لارښوونو سره سم کار کېږي .	
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی همدا متن ټول په تخته لیکي او د هر خالي ځای د ډکولو په باب هر ځل لارښوونه کوي او بیا یې ډکوي . د دې مطلب دا دی چې زده کوونکي د خالي ځایونو اهمیت وپېژني	تور تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ښوونکی مخه کوي چې خالي ځایونه پر زده کوونکو ډک کړي، تر څو بیا په خپله وکولای شي رقعه ولیکي. - زده کوونکي د «ختم ته بلنه» ټوله رقعه په خپله کتابچه کې ولیکي او ورسره ورسره په خالي ځایونو کې خپل نوم، آدرس او نور شیان لیکي. - ښوونکی په ټولګي کې ګرځي او د لیکلو څارنه کوي. - کله چې کار خلاص شو زده کوونکي له خپل اندیوال سره کتابچې بدلوي یو د بل غلطۍ اصلاح کوي. ښوونکی مرسته کوي.	کتابچې
۴ ارزیابي	ښوونکی د پوښتنو په وسیله د رقعې د مهمو ټکو/خبرو ځوابونه غواړي: - رقعه د چا له خوا لیکل شوې ده او ختم ته څوک راغوښتل شوي دي؟ - کال او میاشت په کې شته؟ - د ورځې، نېټې او بجو له پاره په کې ضرورت او ځای شته؟ - خلک چېرته او د څه له پاره راغوښتل شوي دي؟ - پته، آدرس په کې ضرور دی که څنګه؟ خپل دلایل ووایئ. - د دې پورتنیو ټولو شیانو لیکل ولې ضرور دي؟ مختلف نظریات ویل. کورنی کار: ختم ته د بلنې رقعه د خپل ځان له خوا لیکل، خپل نوم، آدرس، اټکلي نېټه او د بلل شوي سړي نوم او نور ضروري ټکي په کې ځایول (دکتاب د نمونې په شان، خو که ممکن وي په خپله ژبه).	

گاونډیتوب

ایمل له خپل پلار څخه پوښتنه وکړه ، "ګاونډی څوک وي؟" پلار یې ورته وویل ، "زویه ، څوک چې زموږ په شاوخوا کې اوسېږي ، ګاونډي بلل کېږي. ګاونډیان یو پر بل ډېر حقونه لري .

زموږ پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي ، "هغه څوک زموږ له ولې څخه نه دی چې په خپله موړ او ګاونډی یې وږی وي ."



موږ باید تل د ګاونډیانو درناوی وکړو . که ناروغ وي ، پوښتنه یې وکړو . که محتاج وي ، مرسته ورسره وکړو . په غم یې غمجن او په ښادۍ یې ښادمن شو ."



. یوه ورځ ایمل خپل پلار ته وویل ، "زموږ ګاونډی ، پیرمحمد کاکا ناروغ دی . زوی یې ، حمید چېرته تللی دی . څوک نشته چې ډاکټر ته یې ورولي ."

• د ایمل پلار سمدلاسه د پیرمحمد کاکا کور ته ورغی

۱۷

او هغه یې روغتون ته ورووست . پیرمحمد کاکا بستر شو . د ایمل پلار د هغه د معاینو او درو درملو پیسې ورکړې . هره ورځ به یې پوښتنې ته ورتللو . څو ورځې وروسته پیرمحمد کاکا روغ رمټ شو او خپل کور ته راغی .

څه موده وروسته چې حمید له سفر څخه راستون شو ، پلار یې ورته د ایمل د پلار د مرستو قصه وکړه . حمید ښځ د ایمل دوی کور ته ولاړ او د ایمل پلار ته یې کورودانۍ ووایه .

د ایمل پلار ورته وویل :

حمیده ، موږ او تاسې سره ګاونډیان یو او ګاونډیان یو پر بل ډېر حقونه لري . دا زما دیني او اخلاقي وظیفه وه چې ستا له پلار سره مرسته وکړم ."

نوې لغتونه

ښادي روغتون . درمل

۱۸

دکتاب مخونه : ۱۷ - ۱۸

عنوان : ګاونډیتوب

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن په سمه توګه ولولي .
- د نویو کلمو په معنی پوه شي .
- دمتن مفهوم اومطلب په خپله ژبه ووايي .
- دمتن اداتونه وپېژني .
- دګاونډي حقونه وپېژني .
- له ګاونډیو سره په سلوک وپوهېږي .

درسي پلان ۱ :

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ مخونه	- ښوونکی د یو شمېر زده کوونکو کورني کارونه ګوري . ښوونکی د زده کوونکي - غلطۍ سموي . - ښوونکی پوښتنه کوي : ګاونډی چاته ویل کېږي ؟ - زده کوونکي په حپلوکې بحث او مشوره کوي ، یودبل خبرې سموي . - څو تنه زده کوونکي نوبت په نوبت د ټولګي مخې ته راځي او د ګاونډي او له هغه سره د سلوک په باب خپل نظریات بیانوي .	دکورني کار کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- ښوونکی/ زده کوونکی مرسته کوي.	
۲ په متن کار کول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب ۱۷ مخ پرانیزي. رسمونو ته وګوري او خپل خیالات وروباندې څرګند کړي. - متن په پټه خوله تر [چې ډاکټر ته یې وروولي] له ځان سره ولولي. سخت لغتونه په نښه کړي. - ښوونکی/ زده کوونکی لغتونه په توره تخته باندې لیکي. - ښوونکی/ زده کوونکي لغتونه معنی کوي او د لغتونو په څنګ کې یې لیکي. - ښوونکی متن په لوړ مناسب آواز او په روانه توګه لولي. زده کوونکي یې په پټه خوله تعقیبوي. او مفهوم یې ذهن ته سپاري. - زده کوونکي په نوبت سره د متن یوه یوه جمله په مناسب لوړ آواز لولي. نور زده کوونکي غلطۍ سموي. - زده کوونکي متن یوه یوه برخه په لوړ آواز لولي نور زده کوونکي متن تعقیبوي مفهوم او مطلب یې ذهن ته سپاري.	کتاب توره تخته
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکي په څلورو ګروپونو ویشي او د هر ګروپ له پاره یو مشر ټاکي. - ښوونکی له هر ګروپ څخه غواړي چې متن ولولي او په متن کې د [له ، ته، چې ، په ، او ، پر ، د] اداتونه په کتابچو کې ولیکي. د هر ګروپ مشر خپل په نښه کړي شکلونه پر تخته باندې لیکي. ښوونکی وایي ، دغه ژبني شکلونه یوازې نه استعمالیږي په یوازې توګه یې معنا یې څرګندې نه وي. دغه ډول کلمونه (ادات) وایي. ښوونکی له ګروپونو څخه غواړي چې متن وګوري. یو ګروپ دا پیدا کړي چې له دغو اداتو څخه کوم کوم له کلمې څخه مخکې راغلي دي. له بل ګروپ څخه غواړي دا پیدا کړي چې کوم اداتونه له کلمو څخه وروسته راغلي دي. له دریم ګروپ څخه غواړي چې دا پیدا کړي کوم اداتونه د جملو یا عبارتونو په منځ کې راغلي دي. - ښوونکی مرسته کوي او د نمونې په توګه وایي وګورئ په [له خپل پلار څخه] کې [له] له [خپل] څخه مخکې او [څخه] له [پلار] څخه	کتاب کتابچې توره تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ـ وروسته راغلي دي. تاسو هم د نورو اداتونو ځایونه همدغسې پیداکړئ. ښوونکی په تخته باندې داسې یو جدول جوړوي	توره تخته

له کلمې څخه مخکې	له ، په ، پر ، د ، در	مخکیني
له کلمې څخه وروسته	څخه ، ته	وروستني
د کلمو ، جملو عبارتونو ترمنځ	او	ښوونکی

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ـ ښوونکی دګروپونو له مشرانو څخه غواړي چې خپل پیداکړي اداتونه په خپلو ځایو کې په جدول کې ولیکي. او اړوندې جملې یې په کتاب کې ولولي. او د اداتونو ځایونه وښیي چې له کلمې څخه مخکې دي. یا وروسته دي.	کتاب
۴ لنډیز اندیاېې	ـ ښوونکی داسې پوښتنې کوي: ـ ګاونډي څوک وي؟ ګاونډیان یو په بل باندې کوم حقونه لري؟ (هر زده کوونکی دې یو حق بیان کړي) ـ زده کوونکي ځوابونه وایي، بحث کوي. ښوونکی مرسته کوي. ـ له یو یو زده کوونکي څخه غوښتل کیږي چې لوستل شوی متن د مطالبو خلص ووایي. نور زده کوونکي غلطۍ سموي. بحث کوي.	
	کورنــی کار: ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د متن پاتې برخه په کور کې ولولي، سختې کلمې او اداتونه په نښه کړي.	

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې هر یو هغه اداتونه او سخت لغتونه ووایي (په تخته ولیکي) چې په متن کې یې په کور کې نښه کړي. ښوونکی غواړي چې زده کوونکی په نوبت سره یو ادات له تختې څخه وښیي او ووایي چې له کلمې څخه وروسته راځي که مخکې.	توره تخته

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
	او انسانان چا هست کړي دي ؟ زده کوونکي وايي : خدای تعالیٰ هست کړي دي . ښوونکی نتیجه ګیري کوي ، دا ټوله دنیا او څه چې په کې دي خدایٔ پیدا کړي دي .	
	• ښوونکی وايي چې کتابونه پرانیزئ . د متن پاتې برخه په پټه خوله ولولئ . سخت او نوي لغتونه نښه کړئ . • زده کوونکي د متن پاتې برخه لولي . سخت او نوي لغتونه نښه کوي . • ښوونکی په ټولګي کې ګرځي . د متن د لوستلو په وخت کې د زده کوونکو څارنه کوي . • ښوونکی هڅه کوي چې سخت یا نوي لغتونه د زده کوونکو په واسطه معنی کړي . د ډېرو سختو لغتونو د معنی کولو له پاره مثالونه یا آسانې جملې وايي معناوې د لغتونو په خوا کې پر تخته لیکي . بیا چې ټول پوره شول ، زده کوونکي یې کتابچوته نقلوي . • ښوونکی ، متن په خپل طبیعي مناسب جګ آواز لولي زده کوونکي غوږ نیسي . • زده کوونکي په نوبت سره د متن یوه برخه لولي .	۲ په متن کار کول
	• ښوونکی د « مسلمان » او انسان » لغتونه په تخته لیکي د [مسلمان په خوا کې مسلمانان او د انسان په خوا کې انسانان لیکي . په زده کوونکو یې لولي . بیا ښوونکی وايي چې په لوستلو او لیکلو کې یې څه فرق دی ؟ ډېرو زده کوونکو ته برخه ورکوي . • ښوونکی ځینې نور مفرد نومونه په تخته لیکي . ښوونکی د لغتونو مفرد او جمعې د لوستلو او لیکلو توپیر په زده کوونکو وايي . کله چې ټول پوره شول زده کوونکي یې وار په وار لولي . بیا یې کتابچوته نقلوي .	۳ مشق او تمرین

جمع	مفرد
کورونه	کور
	لاس
	بنده
	پروت
	سجده
	فضا
	یم
	پالونکی

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۲ په متن کارکول	ـ زده کوونکي / ښوونکی د متن په پاتې برخه باندې د ۱۷ مخ له وروستی کرښې څخه د ۱۸ مخ تر پایه پورې د مخکینۍ درسي پلان له لارښوونو سره سم کار کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی/ زده کوونکي ځینې جملې ګډې وډې په تور تخته لیکي. ـ زده کوونکی د ټولګي مخې ته ځي نامرتبې کلمې په لوړ آواز لولي یوه یوه سمه جمله لیکي. ـ ښوونکی/زده کوونکی ځینې کلمې ناسمې لیکي نور زده کوونکي يې سمې لیکي. ناسمه جمله — سمه جمله — ناسمې کلمې — سمې کلمې محمد کاکا پیرشو بستر — پیرمحمد کاکا بستر شو — ښادې ، خادي — ښادي دوغ کاکا پیرمحمد شورمتې — پیرمحمد کاکا روغ رمټ شو — خاخ ، شاخ — ښاخ ورځې څو وروسته — څو ورځې وروسته — قسه — قیصه ـ ښوونکی دې مشق ته دوخت له غوښتنې سره سم دوام ورکوي او نور مثالونه د جملو او کلمو له پاره له کتاب څخه انتخابوي. ـ زده کوونکي سمې جملې او سمې کلمې په خپلو کتابچو کې لیکي.	تور تخته
۴ ارزیابي	ـ ښوونکی څو تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي چې یوبل ته املا ووايي. ـ زده کوونکي ځینې جملې املا وايي او بل زده کوونکی يې په تور تخته لیکي. ـ د زده کوونکو له خوا لیکل شوې ناسمې کلمې یا جملې باید ژر پاکې نشي. سمه جمله دې د ناسمې جملې ترڅنګ ولیکل شي ، ترڅو زده کوونکي په خپله غلطۍ پوه شي. ـ کورنی کار : زده کوونکي دې د ګاونډیو سره د مرستې په باب څو کرښې مقاله ولیکي.	تور تخته

درسي پلان : ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ څو زده کوونکي په نوبت سره تختې ته نږدې ځي او خپل کورني کارونه لولي ، نور زده کوونکي بحث او سموني کوي.	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	– ښوونکی وایي چې نور زده کوونکي دې خپل کورني کار د خپل څنګ ملګري ته ورکړي ترڅو ټول زده کوونکي د يوبل کورني کارونه ولولي او اصلاحات په کې وکړي. او بيا يې بېرته يوبل ته ورکړي. – سختې کلمې ښوونکی/ زده کوونکی پر توره تخته ليکي. – زده کوونکي يې لولي، ليکي يې، بحث او مشوره پرې کوي او په کتابچوکې يې ليکي.	کتابچې توره تخته
۲ په متن کارکول	– ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب ۱۷ – ۱۸ مخونو ټول متن له سره ولولي. ښوونکی په ټولګي کې ګرځي راګرځي هغه زده کوونکي چې لاس پورته کړي په لوستلو یا معنی کولو کې ور سره مرسته کوي. – بيا يو/ دوه زده کوونکي په مناسب لوړ آواز او طبيعي لهجه ټول متن په نوبت سره لولي. – نور زده کوونکي/ ښوونکی يوه يوه برخه په لوړ او مناسب آواز لولي. ښوونکی/ زده کوونکي غلطۍ سموي. – ښوونکی هڅه کوي چې اکثره هغه زده کوونکي په لوستلو کې برخه واخلي چې د لوستلو جرأت نه کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرين	– ښوونکی/ زده کوونکی په توره تخته ليکي: ايمل کور ته راغی. هغه له پلار څخه پوښتنه وکړه. بيا پوښتنه کوي [هغه] د چا په ځای راغلی دی؟ زده کوونکي ځوابونه وايي. ښايي ووايي: د [ايمل] پر ځای، يعنې [ايمل پلار ته وويل] که زده کوونکي جواب پيدا نه کړ، ښوونکی دې دغه خبره توضيح کړي. – ښوونکی غواړي زده کوونکي د لاندې نومونو پر ځای اړوند ضميرونه په جملوکې وکاروي. ضميرونه :- زه، هغه، تا، موږ، ما، تاسې، څوک، چا، حميده، بريالی، تورپېکی، زمرک، ساری،	توره تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	حمیدې مېنه وخوړله . هغې مېنه وخوړله	
۴ لنډیز / ارزیابي	- ښوونکی پر زده کوونکو د متن یوه یوه برخه لولي. ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي لاندې ګډې وډې جملې په ترتیب سره خپلو کتابچو کې ولیکي او بیاسمې جملې ورڅخه جوړې کړي . په یې غم غمجن په یې ښادي ښادمن شو. - دا دیني زما او وظیفه وه اخلاقي چې له پلار سره مرسته ستا وکړم . کورنی کار ؛ زده کوونکي دې [ربښتیا ویل] له درس څخه په کورکې ۸ کرښې ولولي او ګران لغتونه دې په کتابچو کې ولیکي .	کتاب کتابچې

رښتیا ویل

یوه ورځ نسیم خپل باغ ته ننوت . په باغ کې هره خوا ګرځېده چې ناڅاپه یې پر یوه تېر سترګې ولګېدې . تبر یې راواخیست او د یوې وړې ښکلې ونې پوټکی یې پرې کړ .



بله ورځ نسیم له خپل پلار سره باغ ته ولاړ . ګوري چې د هغې ونې پاڼې ژېړې شوې دي . پلار یې ډېر خواشینی او په غصه شو او پوښتنه یې وکړه : "د دې ونې پوټکی چا پرې کړی دی ؟ که یې زه وپېژنم نو سخته سزا به ورکړم ."

نسیم په ژړا شو او پلار ته ویل : "د دې ونې پوټکی ما پرې کړی دی . زه نه پوهېدم چې د پوټکي په پرې کېدو سره به وچېږي ."

د نسیم پلار د خپل زوی په رښتیا ویلو خوشحاله شو او ورته یې وویل : "زویه ، تا ولې د دې ونې پوټکی پرې

١٩

کاوه ؟ د ونو پوټکي څوک نه پرې کوي . دا ونه وچه شوه . دا ونه ما په ډېر شوق سره ایښې وه . زما ډېره خوښه وه او په رښتیا سره ښایسته ونه هم وه . زه د دې ونې په وچېدو ډېر خفه شوم . خو له بلې خوا په رښتیا ویلو ډېر خوشحاله شوم . زه د رښتیا ویلو له پاره تا بخښم ، ځکه رښتیا ویل تر زر ونو څخه زیات ارزښت لري .

شعر

تل رښتیا وایه ، رښتیا وایه ، رښتیا
رښتیا وایي هر پښتون او هر دانا
وي رښتونی سړی هر چا ته عزیز
دروغجن وي مشهور په بد تمیز
چې رښتیا وایي نو تل به وي آباد
له غمونو ، اندېښنو به وي آزاد
چې رښتیا وایي نو وي به زړور
په رښتوني د الله پاک وي نظر
په رښتیا ویلو چې کوم سړی عادت شي
د هغه سړي پر هر څه برکت شي
هوښیار هغه دی چې تل وایي رښتیا
که وړوکی وي ، که ځوان وي ، که بوډا

نوي لغتونه

خواشینی سزا ارزښت پښتون عزیز بدتمیز اندېښنه برکت

٢٠

د کتاب مخ : ١٩ - ٢٠

عنوان : رښتیا ویل

د درسونو شمېر : ٣

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن په سمه توګه ولولي .
- د نویو لغتونو په معنی پوه شي ، ویې لیکي .
- د متن په مفهوم پوه شي .
- د متن مطلب په خپله ژبه ووایي .
- په متن کې [ا ، و ، ی] د توری غږونه وپېژني او سم یې تلفظ کړي .
- د رښتیا په مفهوم او د رښتیا ویلو په ګټه پوه شي .

درسي پلان : ١


پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
١ هڅونه	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د درس ګران لغتونه په نوبت سره ووایي او پر تخته یې ولیکي . - ښوونکی د تېر لوست د متن ځینې برخې پر زده کوونکو لولي . - ښوونکی د نوي لوست په هکله شفاهي پوښتنې کوي . - ښوونکی پوښتنه کوي : دا کیسه د چا په باب ده ؟ زده کوونکي ځوابونه وايي [ ]	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- ښوونکی پوښتنه کوي: د غه درس د څه شي په باره کې دی؟ - زده کوونکي ځواب وايي رښتیا وېل که چېرې زده کوونکو غوښتل چې د کیسې په باب څه ووايي، ښوونکی او نور زده کوونکي ورته په ځیر سره غوږ نیسي اوري یې.	
۲ په متن کار کول	ښوونکی د ۱۹ مخ متن «سزا به ورکړم» پورې د تېرو درسي پلانونو د دوهم پړاو له لاره ښوونځو سره سم ښيي. - په هره کلمه کې چې [ ] هغه دې په نښه کړي او تلفظ ته دې ځیر شي. - ښوونکی / زده کوونکي لغتونه معنی کوي او د لغتونو مخې ته یې په توره تخته لیکي. - ښوونکی / زده کوونکي متن په لوړ او مناسب آواز لولي. - زده کوونکي متن تعقیبوي مفهوم یې ذهن ته سپاري. - ښوونکی غواړي چې هر زده کوونکی دې له متن څخه یوه کلمه چې [د] ولري په نوبت سره پر تخته ولیکي. - زده کوونکي هره کلمه تلفظ کوي او له نورو کلمو سره یې مقایسه کوي چې د تلفظونو توپیرونه یې پیدا کړي.	کتابونه توره تخته
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی په تخته باندې لاندې سوالونه لیکي: نسیم چېرته ننوت؟ په باغ کې یې په څه شي سترګې ولګېدې؟ نسیم په باغ کې څه وکړل؟ د نسیم پلار ولې په غصه شو؟ نسیم پلار ته څه وویل؟ د نسیم پلار په څه خوشحاله شو؟ - له زده کوونکو څخه غواړي چې د غو سوالونو ته جوابونه پیدا کړي او په خپلو کتابچو کې یې ولیکي، ښوونکی څارنه کوي او په زده کوونکو کې ځینو / مرسته کوي. - زده کوونکي کتابچې بدلوي. د یو بل لیکونه سموي. ځیني زده کوونکي خپل جوابونه لولي. بحث پرې کوي.	توره تخته کتابچې
۴ ابتدايي لنډیز	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې یو یو تن د متن یوه یوه کرښه په لوړ آواز ولولي.	کتاب

درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	ـ ښوونکی د نويو لغتونو د معناوو پوښتنه کوي . ـ يو يو زده کوونکی د ټولګي مخې ته ځي يوه يوه کلمه چې بل زده کوونکی يې ورته وايي ليکي . ـ دوه تنه زده کوونکي د متن مطلب په خپله ژبه بيانوي . کورنی کار : ښوونکی زده کوونکو ته وايي چې : دا درس په کورکې له خپلو مشرانو سره ولولئ او د رښتيا ويلو په باب يوه قصه يا د مفوي خبرې په کتابچوکې وليکي .	توره تخته

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۱ مخونه	يو، يو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او خپل کورنی کار لولي ، نورټول له خپلو کتابچو سره مقايسه کوي. ـ ښوونکی زده کوونکو ته وايي چې په نوبت سره په تخته باندې يوه يا دوه داسې کلمې له متن څخه وليکي چې د [ی] کوم ډول په کې راغلی دی. بيا يوه له بلې سره مقايسه کوي او د تلفظ توپيرونه يې ښيي . ښوونکی مرسته کوي زده کوونکي بحث کوي يو د بل غلطۍ اصلاح کوي .	کتاب توره تخته
۲ په متن کار کول	ښوونکی د متن پاتې برخه په ۱۹-۲۰ مخونو کې د درسي پلانونو د دوهم پړاو په شان تدريسوي .	کتاب
۳ مشق او تمرين	ـ ښوونکی [ی ، ي ، ې] په تخته ليکي او د هغوی د برخې تمرين په تفصيل سره په ټولو زده کوونکو باندې اجرا کوي ، تر څو هغه [ی] يې په زده کوونکو تکراروي چې ټول يې ښه وپېژني ، لکه  	توره تخته کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۴ ارزيابي لنډيز	- ښوونکی څوتنه زده کوونکو څخه غواړي تر څو نوبت په نوبت دوې دوې کرښې متن ولولي. - ښوونکی له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي تر څو د شعر مطلب په خپله ژبه ووايي. - ښوونکی پوښتنه کوي څوک بايد رښتيا ووايي. الف ب ج د هـ وړوکی ، ځوان ، بوډا ، درې واړه ، يو هم نه کورنۍ کار: - ښوونکی زده کوونکوته وايي چې د شعر مطلب په خپله ژبه په کتابچو کې وليکي.	کتاب توره تخته

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د زده کوونکو کور. کارونه ګوري. ښوونکی / زده کوونکي غلطۍ اصلاح کوي. - ښوونکی يو يو تن زده کوونکی د ټولګي مخې ته را غواړي چې له خپلو کتابچو څخه دوې دوې کرښې متن ولولي. - ښوونکی د نوي لوست په باب پوښتنې کوي. - زده کوونکي ځوابونه وايي.	کتابچې
۲ په متن کارکول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې دکتاب ۲۰ مخ متن له [نسيم په ژړا شو] څخه د ۲۰ مخ تر [ارزښت لري] پورې له خپل ځان سره په پټه خوله ولولي. - نوي لغتونه او چيرته چې په متن کې [ی] ګانې راغلي وي په نښه کړي. ښوونکی / زده کوونکي سخت لغتونه په توره تخته ليکي. - ښوونکی / زده کوونکی لغتونه معنی کوي او د لغتونو مخې ته يې په توره تخته ليکي. - ښوونکی/زده کوونکی متن په مناسب لوړ آواز لولي. شعر د نظم په ډول په مناسبه طريقه لولي. - زده کوونکي متن تعقيبوي مطلب يې خپل ذهن ته سپاري	کتاب توره تخته

درسي پلان


پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۳ مشق او تمرین	- ښوونکي ، زده کوونکي پر څو ګروپونو باندې ویشي ، د هر ګروپ له پاره مشر ټاکل کیږي . - د الف ګروپ زده کوونکي لاندې ګډې وډې جملې په ترتیب سره لیکي . - ډېره زما وه خوښه په سره ربښتیا هم ونه وه ښایسته . په ویلو ربښتیا شوم خوشحاله ډېر . زه له پاره ربښتیا ویلو تا بخښم . - د ب ګروپ ، د شعر څلور کرښې د املا په توګه لیکي . زده کوونکي یو بل ته کتابچې ورکوي او یو د بل غلطۍ سموي . ښوونکي د ټولګي څارنه او مرسته کوي . - ښوونکي څرګنده کوي چې زده کوونکي په نوبت سره هغه [ی - ګانې] په کلمو کې تلفظ کړي چې په متن کې یې په نښه کړې دي . - ښوونکي له هغو کلمو څخه ځینې پر تخته باندې لیکي او تلفظ ګانې چې په متن کې راغلي ښه وپېژني او د تلفظونو توپیر یې وکړی شي . - ښوونکی په تخته باندې لاندنۍ کلمې لیکي او د [ی] ګانو د تلفظ توپیرونه پر زده کوونکو تمرینوي : ونې ، سپوږمۍ ، کوئ تېر تیر پیل نسیم نویه وپېژنم ښایسته ، او نور	کتابچې تور تخته

پړاوونه	دښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- بیا ښوونکی له متن څخه یوه ټوټه املا وایي او زده کوونکي یې په خپلو کتابچو کې لیکي. کتابچې سره بدلوي او د یو بل غلطۍ سموي. ښوونکی څارنه او مرسته کوي. - ښوونکی غوښتنه کوي چې زده کوونکي دې د متن ټوله کیسه په نوبت سره او په لنډه توګه ووایي. - ښوونکی پوښتنه کوي چې د کیسې اصلي مطلب څه دی؟ زده کوونکي د کیسې په مطلب باندې بحث او هر یو خپل ځوابونه وایي.	
۴ ارزیابي	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې یو یو تن د ټولګي مخې ته راشي د متن یوه یوه برخه په لوړ آواز ولولي. ښوونکی هڅه کوي هغه زده کوونکي راوغواړي چې په لوستلو کې یې برخه نه وي اخیستې. او هغه وهڅوي تر څو په خپل ذوق لوستل وکړي. - د شعر یوه یوه برخه یو زده کوونکی او بله برخه یې بل زده کوونکی لولي. د ساري په توګه جمیل دا برخه لولي: چې رښتیا وایي نو وي به نه وهر په رښتوني د الله پاک وي نظر **کورنی کار:** ښوونکی لارښوونه کوي چې دا شعرونه په کور کې ولولي او ستاسو چې کوم بیتونه خوښ شول د هغې مطلب په ساده او روانه ژبه ولیکي.	

صبر کول

احمد په شلورم ټولګي کې و. چې پلار یې ناروغ شو. د احمد پلار یوه میاشت په روغتون کې و. احمد به هر سهار وختي پاڅېده. تر اوداسه او لمانځه وروسته به روغتون ته او بیا به ښوونځي ته ولاړ.

د ښوونځي تر رخصتېدو وروسته به یې په کور کې د غرمې ډوډۍ وخوړه، اودس به یې وکړ، لمونځ به یې وکړ. د کور ضرورتونه او احتیاجونه به یې پوره کړل او بیا به یې په خپلو پټیو کې کار کاوه. ماښګر به بیا د پلار پوښتنې ته ولاړ. دارو او خواړه به یې وروړل. د کور او پټیو احوال به یې ورته ویل. هلته به یې د پلار خدمت کاوه. د شپې به یې خپل درسونه لوستل او کورنۍ دندې یې لیکلې.



یوه میاشت وروسته یې پلار روغ شو او کور ته ولاړ. احمد ته یې وویل: "زویه، آفرین! ته د لوی حوصلې او صبر خاوند یې. ټول کارونه دې په ډېر صبر سر ته رسولي دي.

زه به انشاءالله اوس ستا د ژوند ټولې ارتیاوې په پوره کامیابۍ سره پوره کړم.

انسان په ژوند کې له هر راز پېښو او ستونزو سره مخامخ کېږي. کله خوشحالي او کله غمونه وي. انسان باید په خپلو خوشحالیو کې هر څه هېر نه کړي. په غمونو کې هم دومره بې صبره نه شي چې زړه یې مات شي، لاس تر زنې حیران کښېني. انسان باید په هر وخت کې قوي زړه ولري. له پوره حوصلې او صبر څخه کار واخلي. د ژوند سړې، تودې پر ځان ومني. کوشش وکړي چې ستونزې له منځه یوسي، تر څو خوشحاله، بریالی او نېکمرغه وي."

په آخر کې یې پلار دا هم ورته وویل؛

"ګرانه زویه، که غواړې چې د خدای پاک مرسته درسره وي، نو پنځه وخته به خپل لمونځ اودس کوې او بې صبره کېږې به نه."

الله جل جلاله فرمایي؛

"د صبر او د لمانځه (په وسیله له الله جل جلاله څخه) مرسته وغواړئ. بېشکه چې الله (جل جلاله) له صبر کوونکو سره دی."

نوې لغتونه

قوي زړه　　سړې تودې　　زړه ماتول

دکتاب مخونه: ۲۱ - ۲۲
عنوان: صبر کول
د درسونو شمېر: ۳
هدفونه: زده کوونکي باید:
- متن روان او سم ولولي.
- د سختو کلمو په معنی پوه شي.
- د متن په مفهوم پوه شي.
- د صبر په ښېګڼو پوه شي او په لازم وخت کې دې ورڅخه کار واخلي.
- د متن مفهوم په خپله ژبه ووایي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ مخونه	- ښوونکی د زده کوونکو کورني کارونه ګوري. ښوونکی / زده کوونکي غلطۍ سموي. څو تنه زده کوونکي نوبت په نوبت د ټولګي مخې ته راځي، څو څو جملې له (کورني کار) څخه لولي. ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې: که له تاسو څخه یو تن په څلورنیم میاشتنۍ آزموینه کې په یوه مضمون کې ناکام شي باید څه وکړي؟ الف: وژاړي؟ ب: وخاندي ج: ټولګی پرېږدي د: د وروستنۍ	کتابچې تور ه تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۴ لنډیز ارزیابي	• په دې درس کې له خدای څخه څه غوښتل شوي دي؟ نوموړنه یې واخلئ (زده کوونکي ځوابونه وايي، بحث کوي) • دغه شیان ولې غوښتل شوي دي؟ زده کوونکي وايي چې: د خدای له بنده ګانو سره نیکي وشي او . . . • دا جهان باید څنګه وساتو؟ زده کوونکي وايي چې: باید جهان آباد وساتو، زموږ له لاسه باید وران نه شي . . . کورنی کار: دخپل کور شا و خوا شیانوته وګورئ. لومړی یې مفرد نومونه او بیا یې جمع نومونه په خپلو کتابچوکې ولیکئ.	

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	• ښوونکی وايي چې په نوبت سره کورنی کار نورو زده کوونکو ته ولولي. • د خدای د نورو قدرتونو نوموړنه واخلئ. یو ـ یو زده کوونکی یو یا دوه نوموړنه اخلي. لکه: باران کول، وربشې پیدا کول، واوره. . . . • په جهان کې کوم شیان لیدل کېږي؟ زده کوونکي په نوبت سره دیو، یو شي نوم اخلي، لکه: لمر، سپوږمۍ، مځکه آسمان . . . • دا ټول شیان چا پیدا کړي دي؟ زده کوونکي وايي چې خدای پیدا کړي دي. • یو، یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د ښوونځي او روغتون ګټې بیانوي.	
۲ په متن کار کول	• ښوونکی وايي چې کتابونه پرانیزئ. بیا دوه زده کوونکي پورته کوي. یو مصرع یو او بله مصرع بل زده کوونکی لولي. په دې ډول سره درس تر پایه پورې په نوبت سره لولي. • بیا دوه، دوه زده کوونکي پورته کېږي. لومړی زده کوونکی	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	آزموینې لهپاره درس ولولي او ځان چمتو کړي . که چیرې له تاسو څخه څوک په لومړۍ درجه بریالی شي هغه به څه وکړي. الف : هیڅ درس دې نه لولي. ب : زیاته خوشحالي دې وکړي . ج : ښوونځۍ دې پرېږدي. د : زیات کوښښ دې وکړي چې بل امتحان کې هم اوله درجه بریالی شي ؟ – زده کوونکي ځوابونه زايي ، بحث کوي. ښوونکی / زده کوونکي بحث داسې رهنمايي کوي چې د صبر مفهوم ته ځان ورسوي .	
۲ په متن کار کول	– ښوونکی / زده کوونکي په متن باندې په دې توګه کار کوي : – زده کوونکي د کتاب د ۲۱ مخ متن تر [دنده يې ليکله] پورې په پټه خوله لولي . نوې او سختې کلمې په نښه کوي . ښوونکی څارنه کوي . ښوونکی/ زده کوونکي سخت لغتونه په توره تخته ليکي او معناوې ورسره په څنګ کې ليکي – زده کوونکي چې متن خلاص کړي ، ښوونکی په خپله متن په لوړ طبيعي آواز او روانه توګه لولي او چيرته چې لازم وي توضيحات ورکوي . – زده کوونکي د ښوونکي لوستل په پټه خوله تعقيبوي او مفهوم يې ذهن ته سپاري . – زده کوونکي لغتونه او معناوې يې له تختې نه خپلو کتابچو ته نقلوي . – يو يا دوه/ درې زده کوونکي ټول ټاکلی متن په نوبت سره په جګ مناسب آواز او طبيعي آهنګ لولي . زده کوونکي/ ښوونکی سمونې کوي . – څو تنه زده کوونکي په نوبت سره د متن مفهوم په خپله ژبه بيانوي . نور زده کوونکي بحث او سمونې کوي . ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي .	کتاب توره تخته
۳ مشق او تمرين	– ښوونکی زده کوونکي په دوو ګروپونو ويشي . بيا د غه لاندينۍ کلمې پر تخته باندې په دې ډول ليکي .	توره تخته

درسي مواد	د ښوونكي او زده كوونكو فعاليتونه	پړاوونه

د مشق مثالونه

الف گروپ، قوي زړه — ب گروپ، انسان بايد د قوي زړه خاوند وي.

ب گروپ سړې تودې — الف گروپ: په هر انسان باندې سړې تودې راځي

الف گروپ، پتمن
ب گروپ، بدتميز
الف گروپ: اندېښنه
ب گروپ، بركت
الف گروپ، ښادي
ب گروپ، روغتون
الف گروپ، سمسور
ب گروپ: هوسا
الف گروپ: خړوب
ب گروپ، سوله او نور

ښوونكى غوښتنه كوي چې د الف گروپ له جدول څخه يوه كلمه ووايي. او د ب گروپ دې هغه د مثال په شان په شفاهي توگه په جمله كې استعمال كړي. بيا د الف گروپ يوه كلمه وايي چې د ب گروپ يې په جمله كې استعمال كړي.

(ښوونكى كولاى شي چې د كتاب له لوستل شوو متنونو څخه نورې كلمې هم په لست كې زياتې كړي)

زده كوونكي يو د بل غلطۍ سموي. كله چې د جملې په سموالي ټولو اتفاق وكړ، ښوونكى/ زده كوونكي يې په تخته ليكي.

د مشق په پاى كې زده كوونكي د تختې د مخ ليكنې خپلو كتابچو كې ليكي.

- ښوونكى په شفاهي توگه له زده كوونكو څخه پوښتنې كوي: صبر څه ته وايي؟ الله ج د صابرينو په هكله څه فرمايلي دي. همدا رنگه زده كوونكي ورته قيصې وايي د ښوونكي له خوا زده كوونكو ته د نده وركول كيږي چې په خپل كور كې د صبر په اړوند يوه وړه لنډه كيسه وليكي.

كورنى كار:

دا درس په كور كې له خپل پلار يا ورور سره ولولئ او د صبر كولو په باب د هغوى معلومات وليكئ.

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- څوتنه زده کوونکي په نوبت سره د ټولګي مخې ته راځي او په نوبت سره خپل کورني کارونه لولي. نور زده کوونکي بحث کوي او یو د بل غلطۍ سموي. ښوونکی دې هڅه وکړي چې زیاتره زده کوونکي خپل کورني کارونه وړاندې کړي. څوک چې پاتې کیږي خپل کورني کارونه به بل درس کې وړاندې کوي.	
۲ په متن کارکول	- زده کوونکي/ښوونکی د تېر درس په شان د ۲۱ مخ په متن باندې له [یوه میاشت...] څخه د ۲۲ مخ تر [نېکمرغه دي] پورې کار کوي.	
۳ مشق او تمرین	زده کوونکي خپل کتابونه تړي. - ښوونکی د کتاب د ۲۲ مخ له متن څخه (له [په آخر کې یې پلار] څخه تر پایه پورې) املا وایي چې زده کوونکي یې په کتابچو کې ولیکي. - زده کوونکي کتابچې سره بدلوي او یو د بل غلطۍ سموي. - وروسته بیا ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې خپل لیکونه د کتاب له متن سره مقایسه کړي او خپلې غلطۍ په خپله سمې کړي. ښوونکی د دغه تمرین څارنه کوي او ګوري چې ټول زده کوونکي په دې فعالیتونو کې برخه واخلي.	
۴ لنډیز ارزیابي	- ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنې کوي، له دې کیسې څخه مو څه نتیجه واخیسته؟ « څنګه کولای شو چې د ژوند ستونزې له منځه یوسو او د خوشحالۍ ژوند وکړو؟ : کورنی کار: ټول متن په کور کې ولولي او هغه کلمې په نښه کړي چې د یوشي نوم وي، لکه: صبر، لمونځ (لمانځه)، ځان، ژوند ستونزې او داسې نور.	تور تخته

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه
تور تخته	- ښوونکی د زده کوونکو د تېر درس ځینې کارونه ګوري وروسته هر زده کوونکی د تېر درس د متن څو څو کرښې لولي او هغه نومونه وايي چې لوستي يې وي نور زده کوونکي يې نیمګړتیا وې سمووي.	مخونه
کتاب تور تخته کتابچې	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د ۲۲ مخ متن له [په آخر کې يې] څخه تر آخره پورې ولولي او هغه کلمې په نښه کړي چې د شیانو نومونه وي. ښوونکی / زده کوونکي هغه کلمې پر تخته لیکي. احمد ، تولګی ، پلار ، میاشت ، روغتون او داسې ، ټولګي ، پلرونه ، میاشتې ، روغتونونه کارونه پښې ، ستونزې ، غمونه ، سړې ، ښوونځی ، پټی ، کور زړه ، او نور ، تودې - ښوونکی پوښتنه کوي چې دغه کلمې ولې نومونه دي؟ - زده کوونکي خپل دلایل هر یو د یوې کلمې په باب په نوبت سره وايي. نور زده کوونکي / ښوونکی غلطۍ سمووي. - ښوونکی په تخته باندې مفرد او جمعې کلمو ته اشاره کوي او له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې کور : کورونه غم : غمونه پټی : پټې ستونزه : ستونزې او داسې نورې کلمې (چې پر تخته لیکل شوي دي) په معنی کې څه توپیر لري (مفرد او جمع دي) زده کوونکي ذکر کوي یو له بل سره مشوره کوي او توپیرونه يې وايي. بنا يې د بحث په ترځ کې دوی وايي چې [کور] یوه ته او [کورونه] ډېرو وايي. که يې و نشوای ویلای ښوونکی مرسته کوي. ښوونکی وايي: نوم هغه کلمه ده چې د یو شي یا سړي یا ځای نوم وي. نوم یا مفرد وي یا جمع، کور - کورونه ؛ غم - غمونه او داسې نور. د انسانانو (لکه احمد، شېرزمان، فاطمه) ځایونو او نورو خاصو شیانو نومونه لکه (افغانستان، بامیان، فاریاب، بلخ، لغمان، هرات جمع نه لري. - زده کوونکي له تختې څخه د پاسني چوکاټ جملې په کتابچو کې لیکي.	۲ په متن کار کول ۳ مشق او تمرین
کتابچې	کورنی کار: ښوونکی دې له کتاب څخه ۵، کلمې وټاکي چې زده کوونکي دې په جملو کې استعمال کړي.	

زکات




د اسدالله پلار یو شتمن سړی و. ډیرې میږې یې درلودې. د رمې د شړ له پاره یې شپانه لرل. شپنو به کال کې دوه ځله له میږو څخه وړۍ اخیستې. د اسدالله پلار ما وړۍ په ښه قیمت خرڅولې.

یوه ورځ د اسدالله پلار په کور کې ناست و، او د وړیو د تجارت د گټې په باره کې یې له یوه سړي سره خبرې کولې. د اسدالله پلار دې سړي ته وویل: "زه غواړم د خپل مال زکات وباسم. زما د مال حساب وکړه تر څو هغه وکړم." کله چې هغه سړي کار خلاص کړ او ولاړ، اسدالله له خپل پلار څخه پوښتنه وکړه: "پلارجانه، تا له دې سړي سره د وړیو د تجارت او گټې په باره کې خبرې کولې. تا ورته وویل: غواړم چې د خپل مال زکات وباسم. زکات څه شی دی؟"



پلار یې ورویل: "ټول خلک یو شان نه دي. هم بډایان شته او هم بېوزلي. د دې له پاره چې له بېوزلو سره مرسته وشي، الله جل جلاله پر بډایو مسلمانانو زکات فرض کړی دی. نن مې د زکات پیسې معلومې کړې چې ورو یې کړم."

اسدالله پوښتنه وکړه: "پلارجانه، د زکات پیسې چا ته ورکوې؟" پلار یې ځواب ورکړ: "دا پیسې بېوزلو او اړو خلکو ته ورکوم، یا به یې د روغتون، ښوونځي، پُل، سړک او نورو هغو ځایونو د جوړولو له پاره ورکړم، چې گټه یې ټولو خلکو ته ورسېږي."



د اسدالله پلار د زکات په هکله له یوه دیني عالم څخه هم پوښتنه وکړه. هغه عالم ورته وویل: "د زکات له پیسو څخه زیاته برخه بېوزلو ته ورکړه او یا یې د خیر په کارونو کې لکه روغتون، ښوونځي، پُل او سړک په جوړولو کې مصرف کړه، چې ټولو مسلمانانو ته گټه ورسېږي. د زکات له پیسو څخه خاص ته څه مه پرېږده. د زکات په پیسو جومات مه آبادوئ. خپل پلار، نیکه، مور، زلاد، او مېرمنې ته زکات مه ورکوئ. همدارنگه مېړه ښځې ته او ښځه په مېړه ته زکات نه ورکوي. بني هاشمو ته هم زکات ورکول روا نه دي. د زکات په پیسو مړي ته کفن ورکول او د مړي قرض خلاصول هم روا نه دي."

نوې لغتونه

ځې بډای بېوزله خیر بني هاشم مصرف اړ

دکتاب مخونه: ۲۳ - ۲۴

عنوان: زکات

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- متن په سمه توگه ولولي.
- د نویو کلمو په معنی پوه شي.
- په زکات وپوهېږي چې د اسلام څلورم رکن دی.
- د متن څخه مفهوم او مطلب واخلي. په خپله ژبه یې بیان کړي.
- مذکر او مؤنث نومونه وپېژني. په متن کې یې وښیي.

درسي پلان: ۱

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ مخونه	ـ ښوونکی د زده کوونکو کورنی کار گوري. څو تنه زده کوونکي د خپل کورني کار څو جملې لولي زده کوونکي ر ښوونکی جملې سموي، مرسته کوي، غلطۍ نیسي، بحث کوي. ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي: د اسلام د مقدس دین پنځه بناوې کومې دي؟ هر یو شاگرد ځواب وایي. مثلاً جمیل وایي: کلمه شریف. نذیر وایي لمونځ. بصیر وایي: روژه احمد وایي: زکات. محمود وایي: حج. ښوونکی د احمد خبره زکات په	

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>توره تخته لیکي .
ـ ښوونکی د زکات په اړوند لنډې خبرې کوي .</td><td>توره تخته</td></tr>
<tr><td>۲
په متن کارکول</td><td>ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې دکتاب د ۲۳ مخ متن په پټه خوله ولولي. ګران لغتونه یې نښه کړي . ښوونکی د ټولګي نظارت کوي .
ښوونکی / زده کوونکی نوې کلمې په توره تخته لیکي او معنی کوي یې . د معنی له لیکلو څخه وروسته زده کوونکي هغه لولي او په خپلو کتابچو کې یې لیکي . ښوونکی / زده کوونکی متن په لوړ آواز لولي . هر یو زده کوونکی دوې دوې کرښې په لوړ آواز لولي ښوونکی / زده کوونکی دلوستونکی غلطۍ اصلاح کوي .</td><td>کتاب
توره تخته</td></tr>
<tr><td>۳
مشق او تمرین</td><td>ـ ښوونکی پوښتنه کوي ، زکات څه ته وایي ؟ زده کوونکي ځوابونه وایي (پاکوالی یعنې د مال پاکوالی) زکات څه دی ؟ زده کوونکي ځوابونه وایي (فرض) په چا باندې زکات فرض دی ؟ زده کوونکي : (په شتمن او مالداره) . چاته زکات ورکول کیږي . ښوونکی په توره تخته دا جملې لیکي او زده کوونکو ته وایي : د چوکاټ د کلمو له مخې لاندې نیمګړې جملې بشپړې کړئ : ۱- د اسد پلار یو ..... سړی و .
۲ ـ درېمې د څښ له پاره یې .... لرل . ۳- زما د مال .... وکړه
۴ـ زه غواړم د خپل مال .... وباسم . زکات .... دی ؟
۵ ـ د اسدالله پلار دا ..... په ښه قیمت خرڅولې .
<table><tr><td>شتمن</td></tr><tr><td>حساب</td></tr><tr><td>شپانه</td></tr><tr><td>وړی</td></tr><tr><td>څه شی</td></tr><tr><td>زکات</td></tr></table></td><td>توره تخته</td></tr>
<tr><td>۴
ارزیابي</td><td>ـ ښوونکی زده کوونکوته وایي : په خپلو کتابچو کې د لاندنیو مفردو کلمو جمع ولیکئ :
<table><tr><td>پوښتنه</td><td>سړی</td><td>رمه</td><td>خبره</td><td>شپون</td><td>بیډوای</td></tr><tr><td></td><td></td><td></td><td></td><td></td><td></td></tr></table>ـ ښوونکی / زده کوونکي په توره تخته مفردې او جمعې کلمې لیکي .
کورنی کار ، دادرس په کورکې له خپل پلار یا د جومات د امام سره ولولئ او د زکات په باب نورې خبرې په خپلو کتابچو کې ولیکي .</td><td>کتابچې
توره تخته</td></tr>
</table>

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ــ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره کورني کارونه ولولي نور یې له خپلو کتابچو سره مقایسه کوي ښوونکی یې مهمې جملې په تخته لیکي. ــ ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي، ستاسو په چاپېریال کې څوک شته چې زکات ورکړي؟ څوک باید زکات ورکړي؟ چاته باید زکات ورکړل شي؟ زده کوونکي ځوابونه وایي د یوبل غلطۍ سموي، بحث کوي، ښوونکی مرسته کوي.	کتابچې
۲ په متن کارکول	ــ د ۲۴ مخ متن د تېر درسي پلان د دویم پړاو په شان تدریس کړئ.	کتاب
۳ مشق او تمرین	ــ ښوونکی زده کوونکي پر دوو ګروپونو وېشي هرګروپ په لاندې کلمو کې هغه کلمې سره نښلوي چې په معنی کې سره نږدې وي. د الف ګروپ: یوشان – شته من؛ خړ – محتاج؛ بېوزله – قریش؛ بنی هاشم – غریب - نادار؛ بډای – یوړول؛ مصرف – پیسول؛ اړ – خرڅ - لګښت د ب ګروپ: ښکلی – رمه؛ ځله – مشکلات؛ کربښ – کلک؛ مېږې – ښایسته؛ قیمت – وار؛ ستونزې – بیه له هرګروپ څخه یوتن خپل کار په توره تخته لیکي زده کوونکي په کتابچو کې لیکي.	توره تخته کتابچې
۴ لنډیز / ارزیابي	ــ ښوونکی پوښتنه کوي، د خیر کارونه کوم دي؟	

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>ـ دزکات پیسې چاته نه ورکول کیږي ؟
ـ دوه تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راځي د متن د مفهوم نیمایي برخې بیانوي .</td><td></td></tr>
</table>

درسي پلان: ۳


<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td>۱
هڅونه</td><td>ـ ښوونکی د زده کوونکو کورنی کار ګوري ؛ څو تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راځي خپل کورنی کار لولي .
ـ ښوونکی د زده کوونکو د هڅونې له پاره د هر چا کار چې ترټولو غوره وي ، هغه د نن ورځې سرګروپ ټاکي . ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي ؛ زکات څه ته وايي ؟ څرنګه مال زکات ورکول کیږي ؟ پاک مال کوم دی ؟ حلال ـ حرام څه توپیر لري ؟
ـ ښوونکی دا جمله په توره تخته لیکي ؛ « د حلال مال پیدا کول عبادت دی »
له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې ددې خبرې تشریح وکړي . هر څوک خپل نظر وايي او بحث کوي .</td><td>توره تخته</td></tr>
<tr><td>۲
په متن کارکول</td><td>ـ ښوونکی په توره تخته دوه کتارونه جوړوي او د هر کتار په سر دا عنوانونه لیکي :
<table>
<tr><td>سړی</td><td>ښځه</td></tr>
<tr><td>پلار</td><td>مور</td></tr>
<tr><td>ورور</td><td>خور</td></tr>
<tr><td>وراره</td><td>وریره</td></tr>
<tr><td>نیکه</td><td>نیا</td></tr>
</table>
ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې هره کلمه په یوه جمله کې راوړي .
لومړی په شفاهي ډول او وروسته یې په خپلو کتابچو کې ولیکي .
په لاندې نومونو کې نارینه (مذکر) او مؤنث (ښځینه) وښایاست .
د نارینه نوم مخې ته [ن] او د ښځینه مخې ته [ښځ] ولیکئ
<table>
<tr><td>احمد</td><td>توریکه</td><td>مېړه</td><td>نیکه</td></tr>
<tr><td>اجمل</td><td>ځانګه</td><td>ښځه</td><td>مریې</td></tr>
<tr><td>وږمه</td><td>اسد</td><td>ښځې</td><td>ونه</td></tr>
<tr><td>زمری</td><td>غوټه</td><td>سړي</td><td>دوغ</td></tr>
</table></td><td>توره تخته

کتابچې</td></tr>
<tr><td>۳
مشق او تمرین</td><td>ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د چوکاټ له کلمو</td><td></td></tr>
</table>

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	څخه لاندې نیمگړې جملې بشپړې کړي . ښوونکی یوازې د چوکاټ کلمې په توره تخته لیکي . جملې د املا په شکل ویل کیږي یوازې د چوکاټ د کلمو ځایونه سپین پریښودل کیږي . (جومات / زکات / روا / پرېږده / مېړه) د زکات له پیسو ځان ته څه مه ...... ، د ...... په پیسو ..... مه آبادوئ . بني هاشمو ته هم زکات ورکول .... نه دي . او ښځه به ..... ته زکات نه ورکوي . زده کوونکي به د کتاب له مخې خپله غلطي اصلاح کوي .	توره تخته کتاب
۴ ارزیابي	٦ تنه زده کوونکي نوبت په نوبت د کتاب د ۲۴ مخ متن یوه یوه کرښه لولي . - ښوونکی کولای شي چې د کتاب نورې برخې هم په زده کوونکو ولولي. کورنی کار : زده کوونکي د زکات د متن مفهوم په لنډ ډول په خپلو کتابچو کې ولیکي .	کتاب

د شاتو مچۍ


د شاتو مچۍ ګټه او احتماعي ژوند لري . د شاتو مچۍ په خپله ځپل کورونه جوړوي چې ګبين بلل کېږي . د شاتو مچۍ په تودو او سمسورو موسمونو کې کار کوي او په خپلو خالو کې د ژمي لپاره توښه ذخيره کوي .



له ډېرو پخوا زمانو راهيسې د شنتو مچيو د دېوالونو او ونو په سوريو او چاودونو کې خنې جوړولې . نن سبا ورته يو ډول صندوقونه جوړېږي . د صندوق په دننه کې د موم تختې اينودل شوي وي . د تختو په منځ کې دومره خالي ځاى موجود وي چې په هرې تختې باندې د مچيو د کورونو جوړېدل او استوګنه اسانه وي .

د شاتو مچۍ په دې خونو کې هګۍ اچوي او يا په کې د ګلانو شيره او شات ټولوي . په يوه ځاله کې د شاتو د مچيو شمېر تقريباً ۷۰۰۰ ته رسېږي چې يوه په کې ملکه ، څو سوه نران او نور کارګران وي . مشري يې د ملکې په غاړه وي .

ملکه زياتره د حمل او ثور په مياشتو کې هره ورځ دومره ډېرې هګۍ اچوي چې شمېر يې ۳۰۰۰ ته رسېږي . له دغو



هګيو څخه د شاتو د مچيو نوی نسل راوزي . په نوي نسل کې ځينې وخت څو ملکې هم وي . د شاتو د مچيو فني کسان هڅه کوي چې يوه ملکه له نورو مچيو سره په جلا صندوق کې واچوي . په دې ډول د شاتو د مچيو صندوقونه زياتېږي .

بل ډول يې کارګرې مچۍ دي .

دا ډول يې ښځې وي او په ۲۱ ورځو کې غټېږي . کارګرې مچۍ د نوي نسل پالنه کوي او خپله ځاله هم جوړوي . د غذايي موادو لکه د ګلانو شيره او ګرده ، د خوږو شربتونو او اوبو راوړل ، د ځالې پاکول او په ژمي کې د کور تود ساتل هم د کارګرو مچيو دنده ده . کارګرې مچۍ د ګلانو د شيرې څخه شات جوړوي . بيا يې د خولې له لارې راباسي او د ګبينې په خانو کې يې ذخيره کوي .



نران د ځالې په جوړولو او توښې زېرمه کولو کې برخه نه اخلي او نيش هم نه لري . نران يوازې د نسل د پايښت او پيدايښت لپاره وي . د نرانو بدن په ۲۴ ورځو کې پوره کېږي او يوازې يو اوږ‌ه

ژوند کوي او بيا مري .

د شاتو مچيو ټول کارونه په خپلو کې وېشلي وي . ځينې يې خواړه او موم برابروي . ځينې يې د ملکې او د مچيو د وړو بچو خدمت کوي .

شات سپين ، ژېړ او سره رنګونه لري ځکه چې د ګلانو د بېلابېلو رنګونو څخه په لاس راځي .

په يو حديث شريف کې هم د شاتو يادونه شوې ده . شات د اسهال او نورو ډېرو ناروغيو لپاره ګټور دي .

تاسو به ليدلي وي چې نن سبا ځينې خلک د شاتو د مچيو د ساتلو په کار بوخت دي . ډېر شات ورڅخه لاس ته راوړي . يوه کيلو شات څو زره افغانۍ قيمت لري . د شاتو حاصلات د مچيو په خوړو او هوا پورې اړه لري . که هوا ښه او ګلان ډېر وي نو په کال کې پنځه ، شپږ ځلې ورڅخه شات اخيستل کېږي . خلک يې خرڅوي او ډېرې پيسې له دې لارې تر لاسه کوي .

نوي لغتونه

اجتماعي ګبين سمسور فني زېرمه

دکتاب مخونه : ۲۵ - ۲۶ - ۲۷

عنوان : د شاتو مچۍ

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي بايد :

- متن په سمه توګه ولولي .
- د نويو لغتونو په معنا پوه شي ، ويې ليکي .
- د متن په مفهوم او مطلب وپوهيږي .
- د متن مطلب په خپله ژبه بيان کړي .
- په متن کې [۵ ، ه] پيدا کړي په تلفظونو يې پوه شي .
- د شاتو په ګټه وپوهيږي .

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>دوه بیتونه او دریم زده کوونکی یې مطلب په ساده ژبه وایي .
ټول درس په همدې ډول پای ته رسوي .</td><td></td></tr>
<tr><td>۳
مشق
او
تمرین</td><td>- ښوونکی په تخته باندې د متن څخه یو شمېر مفرد او جمع نومونه لیکي . لارښوونه کوي چې تر هغه نوم کرښه چاپېره کړي چې له یو څخه زیات نه وي .
• یو، یو زده کوونکی راځي او په تخته باندې د یو، یو نوم څخه کرښه چاپېروي .
• بیا نور زده کوونکي په خپل نوبت تختې ته راځي او هغه نومونه په ترتیب سره په یوه ستون کې لیکي چې کرښه ور څخه چاپېره شوې ده . جمع یې ورسره په خوا کې لیکي بیا یې د ښوونکي له کتنې څخه وروسته کتابچوته نقلوي .

مځکې بوټي بحر هواګانې
غر فضا مځکه
کاڼي غرونه فضاګانې
هوا بحرونه بوټی
کاڼي</td><td></td></tr>
<tr><td>۴
لنډیز
/
ارزیابي</td><td>• د هغو شیانو نومونه واخلئ چې په درس کې مو ولوستل .
• د دریاب ماهیانو ، د هوا مرغانو او مېږیانو ته څوک روزي رسوي ؟
• موږ باید د خلکو سره څه وکړو ؟
• همېشه باید د چا ثناووایو ؟
کورنی کار :
له زده کوونکو څخه دې وغوښتل شي ، که یې وخت درلود ، راتلونکی درس په کورکې ولولي .</td><td></td></tr>
</table>

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ څخونه	- ښوونکی د زده کوونکو کورنۍ کارونه ګوري . ښوونکی ، زده کوونکی غلطۍ اصلاح کوي . - ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي . یو یو تن د ټولګي مخې ته راشي او د خپل کورنۍ کار څخه څو جملې ولولي . ښوونکی له زده کوونکو څخه د زکات په هکله شفاهي پوښتنې کوي ، زکات پرچا فرض دی ؟ چاته زکات ورکول کیږي . یو یو زده کوونکی د ښوونکي ځواب وایي یو بل سره بحث کوي . - ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي ، تاسې مچۍ پېژنئ ؟ - زده کوونکي لاس پورته کوي ، یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د مچۍ په هکله خبرې کوي .	کتابچې
۲ په متن کار کول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب (۲۵) مخ پرانیزي . متن په پټه خوله ولولي . - نوې کلمې ، سخت لغتونه او هغه کلمې چې [ه - هـ - ـه] لري په نښه کړي . - ښوونکی ، زده کوونکی سخت لغتونه په توره تخته لیکي . - ښوونکی ، زده کوونکی یې معنا کوي او له لغتو سره یوځای په توره تخته لیکي . - ښوونکی/زده کوونکی متن په مناسب جګ آواز لولي او په ضمن کې د هغو کلمو په تلفظ باندې بحث کیږي چې [ه - هـ - ـه] لري . - زده کوونکي متن تعقیبوي . معنا او مفهوم یې ذهن ته سپاري ، د [ه] په مختلفو تلفظونو باندې ځانونه پوه کوي . - یو یو زده کوونکی متن په لوړ آواز لولي . نور زده کوونکي یې تعقیبوي - ښوونکی د ټولګیوالو څارنه کوي ، غلطۍ سموي ، مرسته کوي .	کتاب توره تخته
۳ مشق او تمرین	- زده کوونکي په ګروپونو ویشل کیږي . د هر ګروپ له پاره (مشر) ټاکل کیږي - د الف ګروپ (مشر) د خپل ګروپ زده کوونکو ته وایي د چوکاټ د کلمو له مخې لاندې نیمګړې جملې بشپړې کړئ . د . . . . . په دې خونو کې . . . . . اچوي او یا په کې د ګلانو . . . . . او شات ټولوي . - د ب ګروپ (مشر) د خپل ګروپ پر زده کوونکو څو کرښې املا لیکي . - زده کوونکي یو بل ته (د خنګ ملګري) کتابچې ورکوي او غلطۍ سموي . هګه شاتو شیره	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۴ ارزیابي	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې یوه یوه کرښه متن په لوړ آواز ولولي . د نویو کلمو د معناو پوښتنه کوي . - ښوونکی زده کوونکو ته کورنی کار ورکوي چې د متن پاتې برخه په کورکې ولولي .	کتاب

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د زده کوونکو کورني کارونه ګوري ، ښوونکی ، زده کوونکي غلطۍ سموي . - ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي . - د شاتو مچۍ څه ډول ژوند لري ؟ د شاتو د مچیو کور څه بلل کیږي ؟ د شاتو مچیو پخوا چیرته ژوند کاوه ؟ او اوس چیرته اوسیږي ؟ - ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې یوتن د ټولګي مخې ته راشي د نوي متن د مطالبو په باب خبرې او بحث وکړي .	کتابچې
۲ په متن کارکول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب (۲۶) مخ پرانیزي . - متن له ځان سره په پټه خوله ولولي او نوي سخت لغتونه په نښه کړي . - ښوونکی ، زده کوونکی سخت لغتونه پر توره تخته لیکي . - ښوونکی ، زده کوونکی سخت لغتونه معنا کوي او له لغتونو سره یوځای یې پر توره تخته لیکي . - ښوونکی ، زده کوونکی په جګ او مناسب آواز متن لولي . - زده کوونکي متن تعقیبوي او مفهوم یې ذهن ته سپاري . - زده کوونکی یو یو تن د متن یوه یوه برخه لولي . - ښوونکی د ټولګي څارنه کوي او غلطۍ سموي .	کتاب توره تخته
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکي پر ګروپونو ویشي . د هر ګروپ دپاره سرګروپ ټاکل کیږي . - د یوه ګروپ زده کوونکی له متن څخه په کتابچو کې هغه کلمې لیکي چې په [۱] پیل شوې وي . - د بل ګروپ زده کوونکي له متن څخه هغه کلمې په کتابچو کې لیکي	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	چې په پای کې [۵] وي. - د دریم ګروپ زده کوونکي د متن څخه په کتابچو کې هغه کلمې لیکي چې په مینځ کې یې [ه] وي. - زده کوونکي یو بل ته (د ګڼګ ملګري) خپلې لیکنې د غلطۍ د سمون له پاره ورکوي. - ښوونکی د ټولګي مراقبت او څارنه کوي څینې وخت مرسته کوي.	
۴ لنډیز / ارزیابي	- ښوونکی د متن یوه یوه برخه پر زده کوونکو لولي. د لغتونو د معنی پوښتنې کوي. - څو تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي تر څو د متن مفهوم او مطلب بیان کړي. - د شاتو د مچیو په باب یو پره ګراف په خپله ژبه لیکل.	کتاب

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د زده کوونکو کورني کارونه ګوري، څو تنه زده کوونکي خپل کورني کارونه ټولګیوالو ته په لوړ آواز لولي ښوونکی، زده کوونکی بحث کوي، غلطۍ اصلاح کوي. - ښوونکی پر زده کوونکو د ۲۵ - ۲۶ - ۲۷ مخ د متن یوه یوه کرښه لولي - ښوونکی دوه تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي چې یو له بل څخه د متن د مطلب په اړوند پوښتنې وکړي. د مثال په توګه: د شاتو مچۍ په کوم وخت کې کار کوي؟ ملکه په کومو میاشتو کې هګۍ اچوي؟ شمېر یې څو ته رسیږي؟ کارګرې مچۍ څه د نده سرته رسوي؟ او داسې نور.	کتابچې کتاب
۲ په متن کار کول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب (۲۵) مخ پرانیزي. - ټول متن په پټه خوله ولولي. سخت لغتونه یې په نښه کړي. - زده کوونکی، ښوونکی سخت لغتونه په توره تخته لیکي. - ښوونکی، زده کوونکی لغتونه معنا کوي او له لغتونو سره یې یو ځای په توره تخته لیکي. - یو تن زده کوونکی متن په جګ او مناسب آواز لولي. - نور زده کوونکی متن تعقیبوي.	کتاب توره تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ـ زده کوونکي نوبت په نوبت د متن یوه یوه برخه لولي. ـ ښوونکي/زده کوونکي غلطۍ سموي ـ زده کوونکي په توره تخته لیکل شوي لغتونه په خپلو کتابچو کې لیکي. ـ ښوونکي څو تنه زده کوونکي نوبت په نوبت د ټولګي مخې ته راغواړي د متن مطلب بیان کړي. ـ نور زده کوونکي بحث کوي.	
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکي په توره تخته لیکي: [په خپله ، کودونه ، له پاره ، توښه ، ذخیره ، راهیسې ، هګۍ ، هڅه ، ګناه ، ګمراه ، سهار] ـ یو یو زده کوونکي د ټولګي مخې ته راځي او دا کلمې لولي. ـ ښوونکي پوښتنه کوي: د دې کلمو وروستی توري څه دي؟ ـ زده کوونکي لاس پورته کوي ځواب وایي [هـ ، ه] ـ زده کوونکي / ښوونکي په دغو کلمو کې د [ه] د تلفظ ډولونه بیانوي او نور مثالونه ورته پیدا کوي او په توره تخته یې لیکي. ـ زده کوونکي یې لولي او مثالونه یې په خپلو کتابچو کې لیکي. ـ ښوونکي زده کوونکوته د متن یوه برخه د املا په توګه وایي او زده کوونکي یې په خپلو کتابچو کې لیکي. ـ زده کوونکي خپلې کتابچې سره بدلوي او غلطۍ سموي. ښوونکي څارنه / مرسته کوي.	توره تخته کتابچې
۴ لنډیز ارزیابي	ـ ښوونکي زده کوونکي پر دوو ګروپونو ویشي. د الف ګروپ د ب له ګروپ څخه د متن د مطالبو په باب پوښتنې کوي د ب له ګروپ څخه ورته ځواب ورکول کیږي. بیا د ب ګروپ د الف له ګروپ څخه پوښتنې کوي چې جواب ووایي.	

واکسین کول

واکسین یو ډول مواد دي چې له غیرفعال مکروبونو څخه جوړېږي . د ناروغۍ د راتلو څخه مخکې د خولې یا ستن ټکولو په وسیله په بدن تطبیق کېږي . بدن د دې مکروبونو په مقابل کې یو ډول نور مواد برابروي . تر څو بدن د دې مکروبونو په مقابل کې معافیت پیدا کړي . کله چې ناروغي پر بدن حمله وکړي ، نو بدن معافیت پیدا کړی وي ، هغه ناروغي دفع کوي او پر بدن تاثیر نه شي کولای .

د مثال په توګه ، که یو ماشوم ته مخکې تر دې چې د "شري" مکروبونه یې بدن ته ننوځي ، د شري واکسین تطبیق شوي وي . بدن یې د دې ناروغۍ په مقابل کې یو ډول دفاعي مواد برابر کړي وي . بیا که چیرې بدن ته د شري فعال مکروبونه یا ناروغي هم ننوځي . په شري نه اخته کېږي .



ماشوم باید په وړوکتوب کې واکسین شي . واکسینونه هېڅکله ناروغي نه رامنځ ته کوي ، بلکې د ناروغیو مخه نیسي .

نری رنځ ، شری ، چیچک
شنه ټوخله ، خناق ، فلج ، محرقه



تیتانوس ، کولرا او داسې نور مرضونه هر یو ځانته خپل واکسین لري .

باید دغه واکسینونه ماشومانو ته تطبیق شي چې په مرضونو اخته نه شي .



دغه واکسینونه ، هر یو ، خپل ټاکلي وخت لري او په خپل وخت کې باید وشي . ځینې واکسینونه په څو دورو کې په نوبت سره کېږي .

پر ماشومانو دې تر زیږېدو وروسته سمدستي د خناق ، شنې ټوخلې ، تیتانوس ، شري او فلج د لولې دورې واکسینونه تطبیق شي .

واکسن باید د والګي یا تبې په وخت کې ونه شي .

نوې لغتونه

فعال تطبیق معافیت دفع والګی توګه

دکتاب مخونه : ۲۸ - ۲۹

عنوان : واکسین کول

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- واکسین وپېژني .
- ځینې ناروغۍ وپېژني .
- په دې پوه شي چې واکسین د کومو ناروغیو مخنیوی کوي .

- د متن مفهوم او مطلب په خپله ژبه ووایي .
- په متن کې د [و] د تلفظ (آواز درکولو) پر ډولونو و پوهېږي .
- د واکسین په ګټه پوه شي او ویې لیکي .

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ مخونه	ـ ښوونکی په شفاهي توګه له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي : ـ ښات له څه شي څخه لاس ته راځي ؟ او څه ګټې لري ؟ ـ زده کوونکي یو بل سره مشوره او بحث کوي ، لاس پورته کوي ، ځواب وایي . ښوونکی پوښتنې کوي ناروغي له څه شي څخه پیدا کېږي ؟ ـ د ناروغیو د مخنیوي له پاره باید څه وکړو ؟ زده کوونکي بیا هم له بحث او مشورې څخه وروسته ځوابونه وایي . ممکن یو زده کوونکی	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	وروايي: واکسين کول.	
۲ په متن کارکول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب (۲۸) مخ پرانيزي. - ښوونکی وايي: د سمونو ته وګورئ فکر وکړئ خپل خيالات څرګند کړئ. - بيا زده کوونکي متن تر [بلکې د ناروغيو مخه نيسي] پورې په پټه خوله لولي. - سخت لغتونه يې په نښه کړي. ښوونکی/ زده کوونکی لغتونه په توره تخته ليکي. - ښوونکی/ زده کوونکی لغتونه معنی کوي په توره تخته باندې معناوې له لغتونو سره يوځای ليکي. - ښوونکی ټول ټاکلی متن په مناسب آواز او لهجه لولي او مطلبونه يې تشريح کړي. - زده کوونکي نوبت په نوبت د متن يوه يوه برخه په لوړ مناسب آواز لولي. ښوونکی/ زده کوونکی غلطۍ سموي. - يو زده کوونکی د متن مطلب په خپله ژبه وايي. نور زده کوونکي اصلاحات او بحث کوي.	کتاب توره تخته توره تخته کتاب
۳ مشق او تمرين	- ښوونکی زده کوونکي پر ګروپونو ويشي د هر ګروپ له پاره مشر ټاکي. د الف ګروپ: په خپلو کتابچو د دغو پوښتنو ځوابونه ليکي: واکسين څه شی دی؟ څرنګه تطبيق کيږي. د څه له پاره تطبيق کيږي. څه ګټه يې ده؟ د ب ګروپ: لاندې لغتونه معنی کوي په جملو کې يې کاروي او په خپلو کتابچو کې يې وليکي: فعال - تطبيق، معافيت، دفع، د دواړو ګروپونو مشران په نوبت سره د ټولګي مخې ته راځي او د خپلو ګروپونو کار بيانوي او ليکي يې زده کوونکي يې په خپلو کتابچو کې ليکي. (د الف ګروپ د ب کار او د ب ګروپ د الف کار)	کتابچې
۴ لنډيز	- ښوونکی د متن بېله بېله برخه پر زده کوونکو لولي. او د ځينو لغتونو	کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	د معنی پوښتنه کوي . ــ په خپل کورکې له خپل پلار ، ورور یا مور سره مشوره وکړئ او ولیکئ چې واکسین څه ګټې لري . بیا هغه معلومات په خپلو کتابچو کې ولیکئ .	

درسي پلان : ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ــ ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنې کوي : واکسین مو ویږانده ؟ ــ څوک راته ویلی شي چې د شري واکسین څرنګه تطبیق کیږي ؟ ــ زده کوونکي په خپل منځ کې یو بل سره بحث او مذاکره کوي لاس پورته کوي د ټولګي مخې ته راځي او ځوابونه وایي . ښوونکی پوښتنه کوي ، کومې ناروغۍ واکسین لري ؟ زده کوونکي فکر کوي . لاس پورته کوي د ناروغیو نومونه اخلي . نور زده کوونکي تبصره او بحث کوي . ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي .	
۲ په متن کار کول	ــ زده کوونکي / ښوونکی د مخکیني درسي پلان په شان په متن باندې له [نرۍ رنځ ، شرۍ] ۲۸ مخ څخه د ۲۹ مخ تر پایه پورې کار کوي .	
۳ مشق او تمرین	ــ ښوونکی زده کوونکي پر ګروپونو ویشي د هر ګروپ له پاره مشر ټاکل کیږي . د الف ګروپ زده کوونکي د ب له ګروپ څخه پوښتنې کوي : د الف ګروپ ــ یو زده کوونکی په توره تخته دوې کلمې لیکي : وړوکتوب : ماشوم والی ــ د ب ګروپ یو غړی کلمې په لوړ آواز لولي او مخې ته یې نرۍ رنځ : سل مترادفې کلمې لیکي . ــ همدا راز د ب ګروپ یو زده کوونکی په توره تخته لیکي چیچک (رکوی) قلج ، ګوزڼ . ــ په همدغه ترتیب سره خناق ، محرقه ، والګی ، کولرا لیکل کیږي . ــ وروسته د دواړو ګروپونو زده کوونکي په توره تختې لیکل شوې کلمې په خپلو کتابچو کې لیکي . ښوونکی د زده کوونکو لیکونه په توره تخته او هم په کتابچو کې	توره تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	پاملرنه کوي.	
۴ لنډيز ارزيابي	- ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي. - واکسین په کوم وخت کې کیږي؟ د هغو ناروغیو نومونه واخلئ چې ځان ته خپل واکسین لري؟ په کوم وخت کې باید واکسین ونه شي؟ کورنی کار: د کور له مشرانو څخه د واکسین په باره کې پوښتنه وکړي؟ آیا ستاسو د کورنۍ کې ډاکټر شته دی؟ ستاسو په کور کې د کومو ناروغیو له پاره واکسین شوي دي؟ په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.	

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د یو شمېر زده کوونکو کورني کارونه ګوري. ښوونکی د زده کوونکي غلطۍ سموي. - ښوونکی یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته غواړي چې خپل کورني کار ولولي. - ښوونکی پوښتنې کوي: تاسو له چا څخه د واکسین په هکله معلومات واخیستل؟ - ستاسو د کور ماشومان د کومو ناروغیو د مخنیوي له پاره واکسین کړل شوي دي؟ - آیا کلینک په دې برخه کې مرسته کړې ده؟ ستاسو کور ته نژدې روغتون یا کلینک شته؟ - ښوونکی د زده کوونکو ځینې جملې په توره تخته لیکي: - زده کوونکي هم دغه جملې له تورې تختې څخه په خپلو کتابچو کې لیکي. زموږ د کور خواته نژدې کلینک دی. په دې کلینک کې هر وخت ماشومان او لویان معاینه کیږي. د ماشومانو له پاره د واکسین کولو وختونه ټاکل شوي دي. هر څوک په خپل وخت کلینک ته د واکسین له پاره ځي.	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۲ په متن کارکول	ـ د مخکیني درسي پلان په شان دې کړنه وشي. ـ ښوونکی د ټول متن یو، یو برخه په زده کوونکو لولي، کله چې یو زده کوونکی یوه برخه لولي، ورپسې یې بل زده کوونکی د همغې برخې لنډ مطلب په خپله وايي.	
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې متن په غور سره ولولي او په خپلو کتابچو کې د متن هغه کلمې ولیکي چې د کلمې په سر منځ او پای کې یې [و] راغلی وي. ـ زده کوونکي په نوبت سره واو ـ لرونکې کلمې له خپلو کتابچو څخه پر تخته ولیکي. واکسین، یو، ټول، مواد، مکروبونو، جوړېږي، ناروغۍ، راتلو، خوړلې، لګولو، وسیله، نور، برابروي، وکړي، نو، وي، کوي، کولای، ننوځي، او نورې. ـ ښوونکی زده کوونکي په ګروپونو ویشي او ورته وايي چې هر ګروپ دې هغه کلمې چې [و] یې کټ مټ یو ډول تلفظ کېږي په یوه کرښه کې پرله پسې ولیکي. ـ د ګروپونو مشران د خپل ګروپ کار په نوبت سره بیانوي نور زده کوونکي بحث او تبصرې کوي. ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي.	کتاب کتابچې تور تخته
۴ لنډیز ارزیابي	ـ ښوونکی د متن ځینې برخې پر زده کوونکو په لوړ آواز لولي. ـ له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره د هغو مرضونو نومونه واخلي چې واکسین یې مخنیوی کولای شي. ـ د دغو کلمو څخه یو، یو په جملو کې راوړي. تطبیق مواد مخکې لګولو	کتاب

همت

کوم کار چې درته ورانه شي، ملسې ورانه يې مه پرېږده
کوم کار چې درته ګران شي، ملسې ګرانه يې مه پرېږده
دنیا کې همت ښه دی، په هیڅ شان يې مه پرېږده
اتکل د هر يو کار شته، پر جهان يې بېه پرېږده
همت کړه، همت ! همت کړه، همت

دا لاره د ژوندون ده ډېره سخته، مخکې ځه
بدبخت به ولاړه خوري، نېکبخته، مخکې ځه
غورځيږي پاچاهان له تاج وتخته، مخکې ځه
په خپل وخت کې کار ونه، نه يې رخته، مخکې ځه
همت کړه، همت ! همت کړه، همت

همت د غره په سر کې سرګونه دې ايستلي
همت د غره په منځ کې تونلونه دې ايستلي
همت پورته فضا کې جهازونه دې ايستلي
همت کړه، همت ! همت کړه، همت

نوي لغتونه

تول اتکل ولاړه تونل

۳۰

دکتاب مخونه : ۳۰

عنوان : همت

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن (شعر) سم او روان ولولي.
- په شعر کې دقافيې په مفهوم پوه شي.
- د متن په مفهوم او مطلب وپوهيږي.
- د متن مفهوم او مطلب په خپله ژبه بيان کړي.
- وپوهيږي چې په ټينګ عزم او قصد سره بریالیتوب تر لاسه کولای شي.

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	– ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي ډول پوښتنه کوي : – واکسين د څه شي مخنيوی کوي ؟ په کوم وخت کې باید واکسين وکارول شي ؟ – آيا تاسو له خپلې کورنۍ يا ګاونډيانو سره د واکسين په باره کې خبرې کړې ؟ – څه مو ويلي دي ؟ زده کوونکي وار په وار د ښوونکي سوالونو ته ځوابونه وايي . – ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي آيا تاسو نن لوست په کور کې کتلی دی ؟ – زده کوونکي لاس پورته کوي د نوي لوست په باب خبرې کوي .	
۲ په متن کار کول	– زده کوونکي/ ښوونکی د تېر درس د همدې پړاو په شان دې د متن	

محمّد رسول الله صلی الله علیه وسلم

خدای چې ستا نور کړ پیدا — ترې پیدا شوه دا دنیا
ستا عمل او ستا وینا — ده پر حقه او رښتیا
ډېر یې ګران په پاک الله
محمّد رسول الله

یو ولاړ لاس په دعا — صدها ده زموږه دا
چې په دین او په دنیا — کړو حاصل د خدای رضا
په الله مو ده پناه
محمّد رسول الله

ته رهبر یې د بشر — د الله ستر پیغمبر
موږ دې خدای ساتي له شر — چې یو پاک او بې ضرر
توبه ګار یو له ګناه
محمّد رسول الله

نوي لغتونه

حق صدها پناه رهبر بشر ستر حاصل

۳

دکتاب مخ : ۳

عنوان : محمد رسول الله

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن سم او روان ولولي .
- د نويو کلمو په معنی پوه شي .
- د متن په مفهوم او مطلب وپوهېږي.
- د متن مفهوم او مطلب په خپله ژبه بیان کړي .
- د حضرت محمد (ص) په مقام او منزلت پوه شي .
- وپوهېږي چې موږ مسلمانان او د محمد صلی الله علیه وسلم امتیان یو.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي : - تاسو په درېیم ټولګي کې د حضرت محمد (ص) په باره کې څه یاد کړي دي ؟ - زموږ پیغمبر څوک دی ، نوم یې واخلئ . زده کوونکي ځواب وایي . - د حضرت محمد (ص) په باره کې تاسو نور څه معلومات لرئ ؟ یو زده کوونکی ځواب وایي .	
۲ په متن کارکول	ښوونکی وایي : تاسې به د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په باره کې نوی نظم واورئ. کتابونه وتړئ ، غوږ ونیسئ ! - ښوونکی نظم یوځل ورو ورو په ښه آواز د نعت په ډول وایي . - ښوونکی وایي : د کتاب ۳ مخ پرانیځئ ، د متن څلور کرښې تر (محمد رسول الله) پورې په پټه خوله ولولئ . - سخت لغتونه یې په نښه کړئ / زده کوونکي لغتونه په توره تخته لیکي . - زده کوونکي / ښوونکی لغتونه معنی کوي ، له لغتونو سره یوځای یې په توره تخته لیکي .	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	پر کرښو باندې کار وکړي . ـ ښوونکی دې پاملرنه وکړي چې زده کوونکي شعر په سمه توګه او په احساس سره ولولي . ـ ښوونکی دې په خپله شعر ورته ولولي او د زده کوونکو لهجه او آهنګ ورته اصلاح کړي .	کتاب تخته تباشیر
۳ مشق او تمرین	ـ زده کوونکي پر څو ګروپونو ویشل کیږي د هر ګروپ له پاره مشر ټاکل کیږي ـ د الف ګروپ زده کوونکي لومړی پنځه کرښې له ځان سره لولي . مطلب یې په خپلو کتابچو کې لیکي . ـ د ب ګروپ زده کوونکي د دویم پرګراف پنځه کرښې له ځان سره په پټه خوله لولي او مفهوم یې په خپلو کتابچو کې لیکي . ـ زده کوونکي یو بل ته کتابچې ورکوي د څنګ ملګري د یو بل غلطۍ اصلاح کوي . ـ د هر ګروپ مشر په نوبت سره د خپل ګروپ کار د ټولګي مخې کې بیانوي . ـ زده کوونکي بحث او تبصرې کوي . ښوونکی مرسته کوي .	کتاب کتابچې
۴ لنډیز ارزیابي کورنی کار	ـ ښوونکی پر زده کوونکو د متن یوه یوه کرښه یادوی دوې کرښې لولي او معنی کوي یې . ـ ښوونکی زده کوونکوته وایي چې د متن پاتې پنځه کرښې په کور کې ولولي . او مطلب یې بیان کړای شي . هغه لغتونه په خپلو کتابچو کې لست کړي چې په معنی یې نه پوهیږي .	کتاب

درسي پلان ۲۰

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره هغه کلمې پر تخته ولیکي چې په کور کې د متن لوستلو په ترڅ کې پرې پوهېدلي نه دي ـ بیا ورنه پوښتنه کوي ؛ د [همت] شعر د څه شي په باره کې دی ؟ ـ زده کوونکی لاس پورته کوي ، د ټولګي مخې ته راځي د شعر د مفهوم په	تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	باره کې خبرې کوي. ـ نور زده کوونکي غوږ نیسي، سموونې او تبصرې کوي. ښوونکی لارښوونه کوي.	
۲ په متن کارکول	ـ زده کوونکي/ ښوونکی د شعر په وروستي پنځو کرښو د تېر درس د همدې پړاو د لارښوونو سره سم کار کوي.	کتاب تخته
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې په درېو ګروپونو تقسیم شي. د هرګروپ له پاره یو مشر ټاکل کېږي. ـ د ج ګروپ زده کوونکي لومړی پرګراف له ځان سره لولي او مطلب یې کتابچو کې لیکي. ـ دالف ګروپ ددویم پرګراف مطلب او مفهوم په کتابچوکې لیکي. ـ د ب ګروپ زده کوونکی دریم پرګراف مفهوم او مطلب په کتابچوکې ولیکي. ـ زده کوونکي یوازې د څنګ ملګري ته کتابچې ورکوي غلطۍ سموي. ـ دهرګروپ مشر د ټولګي مخې ته راځي، د خپل ګروپ کار لولي. زده کوونکي په هرنوبت کې تبصرې او سموونې کوي. ـ ښوونکی د ټولګي څارنه کوي هڅه کوي چې ټول زده کوونکي پرفعالیتونو کې برخه واخلي. زده کوونکي په هرنوبت کې تبصرې او سموونې کوي.	کتاب کتابچې
۴ لنډیز ارزیابي کورنی کار	ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې لاندې نیمګړې جملې د چوکاټ له کلمو څخه بشپړې کړي. دنیاکې ... ښه دي، په هیڅ شان مه پرېږده. همت د غره په سرکې....دي ایستلي امکات د هریو کارشته، پرجهان یې .... همت پورته فضاکې .... ایستلي. جهازونه / سړکونه / مه پرېږده / همت ـ ښوونکی زده کوونکوته کورنۍ وظیفه ورکوي چې ټول متن په خپلو کتابچوکې ولیکي.	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ ښوونکی د زده کوونکو کورني کارونه ګوري. ښوونکی/ زده کوونکي غلطۍ سموي. ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې یو یو تن د ټولګي مخې ته راشي هغه څه یې چې په کتابچو کې لیکلي دوې دوې کرښې ولولي. ـ ښوونکی/ زده کوونکی غوږ نیسي. زده کوونکي ځینې بېتونه په توره تخته لیکي. د ساري په توګه: همت کوه، همت، همت کوه، همت.	کتابچې تخته
۲ په متن کار کول	ـ یو زده کوونکی د [همت] ټول شعر په سم او مناسب آواز او ښه لهجه لولي. ـ نور زده کوونکي یې لوستل په خپلو کتابونو کې تعقیبوي. ـ زده کوونکي/ ښوونکی غلطۍ سموي: ـ بیا هر زده کوونکی په نوبت سره یوه یوه کرښه لولي (ټول زده کوونکي باید برخه واخلي) ـ څو زده کوونکي په نوبت سره د ټول متن مهم مطلبونه په خپله ژبه بیانوي. نور زده کوونکي تبصرې او بحثونه کوي او څه چې پاتې وي په نوبت سره یې وایي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	ـ ښوونکی زده کوونکي پر درې ګروپونو ویشي. ـ د هرګروپ له پاره مشر ټاکي. ـ هرګروپ ته وایي چې له شعر څخه دې یو بند انتخاب کړي. ـ هرګروپ خپل بند، مثلاً: لومړی ګروپ لومړی بند (۵ کرښې)، دویم ګروپ دویم بند (۵ کرښې) اودریم ګروپ دریم بند (۴ کرښې) په غور سره ولولي. ـ هرګروپ دې په خپل ټاکلي متن کې لاندې شیان پیدا کړي او د ګروپ مشر دې هغه شیان په لاندې جدول کې چې ښوونکي پر تخته ایستلی دی په خپل ځای کې ولیکي. ۱ـ د هرګروپ په متن کې کوم عبارتونه کټ مټ یو شان دي؟ ۲ـ د هرګروپ په متن کې کومې کلمې یو ډول آهنګ او سره	کتاب تخته

درسي مواد	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	پړاوونه

ورته آواز لري ؟

- ښوونکی دې لارښوونه ، پوره توضیح او څه مرسته وکړي چې زده کوونکي دخپل تمرین په طریقه باندې ښه پوه شي .
- ښوونکی دې له زده کوونکو څخه وغواړي چې د [شان ، ګران ، وران] په شان دې په نوبت سره نورې کلمې ووايي او پر تخته دې ولیکي .

تخته

ـ ښوونکی دې توضیح کړي چې دغه ډول کلمو ته چې د بیتونو په آخرکې راځي «قافیه» وايي.

ګروپ او متن.	کټ مټ یو ډول عبارتونه	سره ورته آهنګ لرونکې کلمې
لومړی.	لې مه پرېږده، کوم کار چې همت کوه، همت ؛ همت کوه، همت	وران شان ګران جهان — قافیه
دویم	مخکې څه همت کوه، همت ؛ همت کوه، همت	بدبخته تخته نېکبخته وخته — قافیه
دریم	دې ایستلی همت کوه، همت ؛ همت کوه، همت	سرکونه تونلونه جهازونه — قافیه

۴ لنډیز ارزیابي

ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنې کوي :
ـ دلاندې لغتونو معنی ووایاست : همت ، توان ، تونل ، فضا
ـ ددې شعر مفهوم به څوک په خپله ژبه بیان کړي ، په خپل وخت کړه کارونه نه بې وخته مخکې څه .

کورنی کار : دهمت په باب په څلورو کرښو کې یوه مقاله ولیکئ .

میرویس نیکه

میرویس نیکه د ښالم خان زوی دی او د کندهار په ښار کې زېږېدلی دی. د ده په زمانه کې زموږ د هېواد پر ځینو برخو ایرانیانو حکومت کاوه او ګرګین یې حکمران و. میرویس نیکه د هېواد د خپلواکۍ د بېرته اخیستلو لپاره ډېر کوښښونه وکړل. لوړې یې افغانان د یووالي او ورورولۍ خوا ته راوبلل. غوښتل یې چې ټول افغانان سره یو موټی شي؛ خپل وطن آزاد کړي. په مینه او ورورولۍ کې ژوند وکړي. دی په دې کوښښ کې بریالی شو.



ګرګین ډېر ظالم حکمران و. میرویس خان ایران ته ولاړ او له ګرګین څخه یې د ایران پاچا ته شکایت وکړ، خو کومه ګټه یې ونه کړه.

میرویس خان د حج د ادا کولو لپاره بیت الله شریف ته ولاړ. د حج د فریضې تر ادا کولو وروسته بېرته کندهار ته راستون شو. له دیني عالمانو او د قبیلو له مشرانو سره یې وکتل. خلکو ته یې د خپلواکۍ د بېرته ګټلو لپاره د قیام بلنه ورکړه. ملي جرګه یې جوړه کړه

او ټولو قومي مشرانو د میرویس خان مشرۍ ته غاړه کېښوده. میرویس خان له خپل ولس سره یوځای په ډېر زړورتوب او هوښیارتیا له ګرګین څخه واک واخیست. هېواد یې د پردیو له لاسه خلاص کړ.

د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته یې د وطن په آبادولو پیل وکړ. کرونی جګړې یې ورکې کړې. خلک د ده تر مشرۍ لاندې سره یو موټی شول او آزاد ژوند یې پیل کړ.

میرویس خان اته کاله د ملي مشر په حیث خپله دنده سرته ورسوله. کله چې وفات شو، د خلکو له خوا په ډېر احترام او عزت د کندهار ښار په کوکران کې خاورو ته وسپارل شو.

سرېتوب

د ملوطیانو له وینا دا معلومېږي
چې خبرو باندې څوک نه سړی کېږي
سړی نه دی چې یې کار د سړو نه وي
په خبرو که هر څو مره ښه پوهېږي

نوي لغتونه

حکمران اداکول فریضه حیث ملي قبیله

دکتاب مخونه: ۳۱-۳۲

عنوان: میرویس نیکه

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده کوونکي باید:

- په متن کې ماضي فعلونه وپېژني او په جملو کې یې استعمال کړي.
- د میرویس نیکه او د هغه د خدمتونو په باره کې معلومات پیدا کړي.
- د متن مفهوم په خپله ساده ژبه بیان کړي.
- د یووالي، ورورولۍ وطن سره د مینې په ارزښت وپوهېږي.
- پوه شي چې په هر کار کې باید له مشورې څخه کار واخیستل شي.

درسي پلان: ۱

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د ۳/۴ زده کوونکو کورنی کار ګوري. یو دوه تنه زده کوونکي خپل کورنی کار ټولګیوالو ته لولي یا پر تورې تختې لیکي. نور زده کوونکي یا ښوونکی هغه اصلاح کوي. - ښوونکی پوښتنې کوي؛ دکور مشر مو څوک دی؟ هغه ستاسو لپاره کوم کارونه سرته رسوي؟ تاسو که دکور مشران شئ څه به کوئ؟ په خپله سیمه کې نور مشران پېژنئ؟ څوک دي؟ څه کارونه کوي؟	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	زموږ د هیواد پخواني مشران پېژنئ؟ نومونه یې واخلئ؟ .... تاسو په ټولګي کې خپل مشر څوک ټاکئ؟ ولې هغه د مشر په توګه ټاکئ؟ - ښوونکی پر توره تخته لیکي: میرویس نیکه یو څو زده کوونکي یې لولي.	توره تخته
۲ په متن کارکول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب ۳۱ مخ پرانیزي لومړی عنوان او بیا د متن لومړۍ ۱۴ کرښې په پټه خوله ولولي او ګرانې کلمې په نښه کړي. - زده کوونکي په نښه شوې ګرانې کلمې پر توره تخته لیکي. زده کوونکي وار په وار یوه یوه کلمه لولي معنا کوي / مفهوم یې بیانوي. - زده کوونکي که وغواړي د تورې تختې کلمې او معناګانې یې خپلو کتابچو ته رسوي. - ښوونکی ټاکلی متن پر طبیعي او مناسب لوړ آواز لولي. زده کوونکي یې تعقیبوي او خپلې غلطۍ سموي. زده کوونکي نوبت په نوبت یوه یوه جمله، بیا پرګراف په پرګراف او په پای کې پوره ټاکلی متن په مناسب لوړ آواز لولي. نور زده کوونکي یې په خپلو کتابونو کې تعقیبوي او خپلې غلطۍ سموي. - یو یا دوه زده کوونکي د متن موضوع / مفهوم په خپله ساده ژبه بیانوي / پرې تبصرې کوي.	کتاب توره تخته کتابچې
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکي پر څو ګروپونو ویشي. بیا پر توره تخته دا عنوانونه لیکي، د ټولګي مشر ، د ښوونځي مشر زده کوونکي یې لولي او هر ګروپ په خپله خوښه خپل عنوان ټاکي. - ښوونکی ګروپونو ته لارښوونه کوي چې د خپل عنوان (د ټولګي یا ښوونځي د مشر او د هغه د خصوصیتونو / صفتونو) لومړی بحث وکړي او بیا څو مناسبې جملې ولیکي. - د هر ګروپ استازی وار په وار خپلې جملې پر توره تخته لیکي. نور زده کوونکي خپل نظر څرګندوي / اصلاح کوي. - زده کوونکي که وغواړي د تورې تختې لیکنې خپلو کتابچو ته رسوي.	توره تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۴ لنډیز ارزیابي	- پر زده کوونکو د متن یوه یوه برخه لوستله کیږي. - ښوونکی د متن په اړوند پوښتنې کوي. لکه: میرویس نیکه د چا زوی دی؟ چیرته زیږېدلی دی؟ افغانانو یې څه له پاره بلل؟ کورنی کار: زده کوونکي دې له خپلو کورنیو غړو یا ګاونډیو یا نورو څخه د هېواد د پخوانیو مشرانو په برخه کې معلومات پیدا کړي او د هغوی نومونه دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.	کتابچې

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی په نوبت سره یو، یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راغواړي او خپلې کورنۍ وظیفې لوستل دي له خپلو کتابچو سره مقایسه کوي. - څوک ډېر ظالم حکمران و؟ - میرویس نیکه چاته شکایت وکړ؟ - د میرویس نیکه شکایت کومه ګټه وکړه که څنګه؟	کتابچې
۲ په متن کار کول	- ښوونکی/ زده کوونکی د دې عنوان د متن پر پاتې برخه باندې د مخکیني درسي پلان له لارښوونو سره سم کار کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی دغه لاندې جملې پر تخته لیکي او له څو زده کوونکو څخه غواړي چې ویې لولي. • میرویس نیکه ډېر کوښښونه وکړل. • افغانانو یې د ورور وله خواته راوبلل. • په دې کوښښ کې بریالی شو. - ښوونکی پوښتنه کوي: میرویس نیکه په کوم وخت/ زمان کې کوښښونه	تور تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	وکړل ، افغانان یې ورودولو خواته راوبلل ، بریالي شو؟ ـ زده کوونکي فکر کوي او ځوابونه وایي . بنایي ووایي : په تېرو وختو کې . او که ځواب ونه ویلای شي ، ښوونکی دې مرسته وکړي او ورته ودې وایي : په تېره زمانه کې ، په تېر وخت کې . ـ ښوونکی وایي ، هر عمل او کار او پېښه چې په تېره زمانه / تېر وخت کې سرته رسېدلی وي ، نو فعل ته یې « ماضي فعل » وایي . ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب له ۳۱ . مخ څخه ۱۲ لومړنۍ کرښې ولولي او د ماضي فعلونه دې نښه کړي . ـ ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره هغه جملې ووایي چې ماضي فعلونه په کې راغلي وي . نور زده کوونکي / ښوونکی بحث او سمونې کوي .	
۴ لنډیز ارزیابي	ـ ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکي ځوابونه وایي . • د میرویس نیکه په وخت کې زموږ په هېواد کې څه حالات وو ؟ • د خلکو ته د څه له پاره بلنه ورکړه ؟ • ملي جرګه یې د څه له پاره جوړه کړه ؟ • د خپلواکۍ ترګټلو وروسته یې په څه پیل وکړ ؟ کورنی کار : زده کوونکي دې د میرویس نیکه د کارونو په باب څو کرښې په خپله ژبه ولیکي .	

درسي پلان : ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ـ څو زده کوونکي د ټولګي مخې ته راځي او له خپل کورني کار څخه څو جملې نورو ته لولي . ـ نور زده کوونکي تبصرې او سمونې کوي . ښوونکی مرسته کوي . ـ که د میرویس نیکه کوم مهم فعالیت د دې څو تنو زده کوونکو په لیکونو	کتابچې

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	کې پاتې وي ، نور زده کوونکي یې په نوبت سره له خپلو کتابچو څخه لولي .	
۲ په متن کارکول	– ښوونکی غوښتنه کوي چې یو ، یو زده کوونکی په خپل نوبت سره ټول متن سرشپایه یوه ، یوه برخه ولولي. – نور زده کوونکي سموني کوي . ښوونکی مرسته او لارښوونه کوي . – ښوونکی له یوه زده کوونکي څخه غواړي چې د ټول متن مطالب په خپله ژبه ووایي . نور زده کوونکي بحث او تبصرې کوي او که څه شی ورڅخه پاتې وي هغه په خپل وار سره وایي .	
۳ مشق او تمرین	– ښوونکی د ۴ – ۵ تنو ګروپونه جوړوي . سرګروپونه پاکي اولارښوونه کوي چې د هرګروپ هرزده کوونکی په نوبت سره له متن څخه یوه جمله سرګروپ ته وایي ، سرګروپ یې پر تخته لیکي . کله چې کارخلاص شو. بیا هرګروپ د ټولګي مخې ته راځي او جملې لولي . نورزده کوونکي یې اوري. – ښوونکی په تخته باندې دغه جملې لیکي ؛ میرویس نیکه په دې کوښښ کې بریالی شو . غوښتل یې چې افغانان یو موټی شي . غوښتل یې چې په مینه او ورورولۍ ژوند وکړي . غوښتل یې چې خپل وطن آزاد کړي . خلکو سره یې مشورې وکړې . لویه جرګه یې جوړه کړه . – بیا پوښتنه کوي چې میرویس نیکه څنګه بریالی شو . – هر زده کوونکی د تختې یوه جمله وایي او نور ورته غوږ نیسي او جملې ورسره په پټه خوله تعقیبوي . – ښوونکی تخته پاکوي او له زده کوونکو څخه غواړي چې د هغو جملو مطلبونه په خپله ژبه ووایي/ بحث وکړي او نور	تور تخته
۴ لنډیز ارزیابي	– ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکي ځوابونه وایي . – ښالم خان څوک و ؟ • ګرګین د کوم ځای و ؟ • د میرویس نیکه پایتخت کوم ځای و ؟ • میرویس نیکه ولې لویه جرګه جوړه کړه ؟ • د ماضي فعل یو څو مثاله ووایي . کورنۍ دنده ؛ نشته	

او ټولو قومي مشرانو د میرویس خان مشرۍ ته غاړه کېښوده. میرویس خان له خپل ولس سره یوځای په ډېر زړورتوب او هوښیارتیا له ګرګین څخه واک واخیست. هېواد یې د پردیو له لاسه خلاص کړ.

د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته یې د وطن په آبادولو پیل وکړ. کورنۍ جګړې یې ورکې کړې. خلک د ده تر مشرۍ لاندې سره یو موټی شول او آزاد ژوند یې پیل کړ.

میرویس خان اته کاله د ملي مشر په حیث خپله دنده سرته ورسوله. کله چې وفات شو، د خلکو له خوا په ډېر احترام او عزت د کندهار ښار په کوکران کې خاورو ته وسپارل شو.

سرېټوب

د طوطیانو له وینا دا معلومېږي
چې خبرو باندې څوک نه سړی کېږي
سړی نه دی چې یې کار د سړو نه وي
په خبرو که هر څو سره ښه پوهېږي

نوې لغتونه

حکمران اداکول فرېضه حیث ملي قبیله

۳۲

د کتاب مخ: ۳۲
عنوان: سرېټوب
د درسونو شمېر: ۱
هدفونه:

- زده کوونکي شعر صحیح او روان ولوستلای شي.
- په مفهوم یې وپوهېدلای شي.
- مطلب یې په خپله ژبه بیان کړای شي
- مفهوم یې ولیکلای شي.

لومړی درسي پلان

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکی ځوابونه وايي: - طوطي مو لیدلی دی؟ ښايي ووايي چې: هو! - د طوطي په باب دې بحث رهنمايي کړل: طوطیان چیرته وي؟ - طوطي خبرې کولی شي؟ له زده کوونکو څخه معلومات اخیستل: ما یو طوطي ساتلی دی، ډېر ځنت یې وشو، او بس لږې لږې خبرې کوي. - طوطیان له چا نه خبرې زده کوي؟ - زموږ او د طوطیانو په خبرو کې څه فرق دی؟ یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د انسانانو او طوطیانو ترمنځ فرقونه بیانوي. - ښوونکی دې دا خبره توضیح کړي چې طوطي تقلیدي خبرې کوي. د خپلو	

<table>
<tr><th>پړاوونه</th><th>د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه</th><th>درسي مواد</th></tr>
<tr><td></td><td>- زده کوونکي د متن یوه برخه په لوړ مناسب آواز لولي، ښوونکی/زده‌کوونکي غلطۍ سموي.
- ښوونکی متن (نظم) په شعري مناسب لوړ آواز لولي، زده کوونکي متن تعقیبوي.
- ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي چې د یو یو بیت مطلب او مفهوم په خپله ژبه ووایي. نور زده کوونکي بحث او تبصرې کوي او خپل نظریات د بیتونو د مفهوم په باره کې وایي. ښوونکی مرسته/ لارښوونه کوي.</td><td></td></tr>
<tr><td>۳
مشق او تمرین</td><td>- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې لاندې جملې او کلمې په دې ډول پر تخته ولیکي:
<table>
<tr><td>خدای چې ستا ــــ کړ پیدا</td><td>پیدا</td></tr>
<tr><td>ترې شوه دا د نیا</td><td>عمل</td></tr>
<tr><td>ستا ــــ او ستا وینا</td><td>ګران</td></tr>
<tr><td>ده ــــ او رښتیا</td><td>رسول الله</td></tr>
<tr><td>د هرې ــــ په پاک الله</td><td>برحقه</td></tr>
<tr><td>محمد ــــ</td><td>نور</td></tr>
</table>
- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې پر تخته لیکل شوی متن دې په خپلو کتابچو کې نقل کړي.
- بیا له زده کوونکو څخه غواړي چې پر تخته باندې له لیکل شوو کلمو څخه یوه مناسبه کلمه انتخاب کړي او د هرې جملې په خالي ځای کې یې په خپلو کتابچو کې ولیکي چې جمله ورسره تکمیل شي (ښوونکی څارنه کوي چې څوک کتاب ونه ګوري).
- زده کوونکي خپلې کتابچې له څنګ ملګري سره بدلوي. دوی د یو بل جملې ګوري او که غلطۍ وي سموي یې. او خپلې کتابچې له یو بل څخه بېرته اخلي او سمې شوې جملې ګوري.
- که زده کوونکي د جملو په سمون قناعت ونه لري، په دوستانه توګه بحث کوي، سمه جمله جوړوي او یو بل قانع کوي.
- بیا ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي چې په نوبت سره هر یو</td><td>توره تخته</td></tr>
</table>

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	خبرو په معنی نه پوهېږي. طوطي په خبرو کولو انسان کېدای نشي.	
۲ پرمتن کارکول	- د معمول په شان دې وربانديې کار وشي	کتاب
۳ کرامري مشقونه	- ښوونکی پر تخته باندې دا بیت لیکي: {سړی نه دی چې يې کار د سړو نه وي {په خبرو که هر څو مره بنه پوهېږي - بیا د ۴ - ۵ زده کوونکو ګروپونه جوړوي او وايي چې د دې شعر په باب خپل نظریات په کتابچوکې و لیکي او هم دا واضح کړي چې د سړو کارونه کوم دي؟ - د ګروپ کارکوونکي خپل نظریات سرګروپ ته وايي هغه يې په نوبت سره لیکي. بیا چې ټول ګروپونه کار خلاص کړي. هر سرګروپ د کار نتیجه نورو زده کوونکو ته لولي. - ښوونکی پر تخته یو جدول جوړوي او بیا د دې شعر یوه یوه کلمه په کې په ګډوډ شکل لیکي، لکه: - زده کوونکي په نوبت سره راځي، په جدول کې کلمې لټوي او یوه یوه مصرع ورڅخه جوړوي. پر تخته يې لیکي. تر هغه پورې به دا مرحله دوام کوي چې ټول شعر پوره شي.	تور تخته کتابچې تور تخته

سرې	بلنډې	نه	څوک	چې	خبرو	طوطیان
نه	معلومېږي	له	دا	وینا	د	سړی
دی	نه	سړو	يې	د	کار	چې
کېږي	بنه	که	هر	په	خبرو	وي
					پوهېږي	څومره

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۴ ارزیابي	- د طوطیانو له وینا څه معلومېږي؟ - یوازې په خبرو کولو څوک سړی کېدای شي که څنګه؟ - چا ته سړی نه ویل کېږي؟ - د خبرو سره نور څه په کار دي؟ کورنی کار: دا شعر په کورکې له خپل پلار یا ورور سره ولولئ، بحث پرې وکړئ او د معلوماتو نتیجه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.	

روغتیا

خالد چې هیڅکله غیرحاضري نه وه کړې د څو ورځو راهیسې ټولګي ته نه راته. کله یې چې د غیرحاضرۍ پنځه ورځې پوره شوې، ښوونکی حیران شو. د ټولګي د زده‌کوونکو څخه یې پوښتنه وکړه چې تاسو ته د خالد په هکله څه معلومات شته؟

اکرم چې له خالد سره نږدې اوسېده،

ښوونکي ته ووېل:



"خالد ناروغ دی او توخېږي. ډاکټرانو ویلي دي چې هغه به روغ شي خو څو اوونۍ دارو او پرهېز ورته په کار دی."

ښوونکي چې د اکرم خبرې واورېدې،

ډېر خفه شو او ویې ویل:

"هو، ما هم کتل چې د هغه رنګ ژېړ و، دا هر څه ځکه وشول چې خالد خپلې روغتیا ته توجه نه لرله. روغ بدن د خدای جل جلاله یو ډېر لوی نعمت او امانت دی. خلک چې د دې نعمت په قدر پوه نه شي او خپلې روغتیا ته پام ونه کړي، په رنګ رنګ ناروغیو اخته کېږي."

اجمل له ښوونکي څخه پوښتنه وکړه:

"د خپلې روغتیا لپاره باید څه وکړو؟"

ښوونکي ووېل:

"د بدن د هر غړي د روغ ساتلو لپاره باید بېلا بېلو ټکو

ته پام وکړو. لکه: د ښه صحت لپاره د شپې ژر ویده کېدل او سهار وختي پاڅېدل ډېر ضرور دي. ځکه د سهار د لمانځه اداکول او تازه هوا تنفس کول د انسان روغتیا ته ګټه رسوي. د سهار په پاکه او تازه هوا کې که ورزش وشي، نوره فایده هم لري. انسان باید دومره ویده شي چې بدن یې آرام شي.



ځینې خلک هر وخت خوراک کوي. دا ډېر بد عادت دی. خواړه باید هغه وخت وخوړل شي چې سړی وږی شي. همدارنګه د اندازې څخه زیات خواړه هم ونه خوړل شي. ځکه روغتیا له معدې سره رابطه لري. معده چې روغه وي بدن هم ورسره روغ وي. ووړه په غاښونو ښه وژوئ. د غاښونو کار معدې ته مه سپارئ."

ښوونکي ورپسې زیاته کړه:

"خواړه باید ساده او داسې وي چې ژر هضم شي. کوښښ وکړئ چې ډوډۍ په خپل وخت وخورئ. همدارنګه د ډوډۍ خوړلو نه وروسته سخت کارونه مه کوئ. د سترګو ښه ساتنه هم ضرور ده. سترګې باید پاکې او صفا وساتل شي. د لوستلو او لیکلو په وخت کې باید رڼا ډېره زیاته یا کمه نه وي. شنو ونو او بوټو ته کتل سترګو ته ګټه رسوي.

غاښونه باید پاک وساتل شي. هغه خواړه چې په روغو او پاکو

غاښونو ژوول شوي وي ژر هضمېږي. تر هر ځل خوړلو وروسته د غاښونو مینځل غاښونه د درد او نورو ناروغیو څخه ساتي او په مسواک او برس پاکول ضرور دي.

زموږ پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هم د پاکۍ په باب داسې فرمایلي دي: "نظافت د ایمان جز دی."

د بدن د پاکوالي لپاره اودس او غسل کول د مسلمانانو دیني وظیفه ده. جامې، بستره، د کېناستلو ځای، د خوراک او څښاک لوښي باید ډېر پاک وي. د بدن او چاپېریال پاکوالی خوشحالي پیدا کوي او روح تازه کوي. د بدن پاکوالی روغتیا راولي، روغ سړی ښه او ډېر کار کولای شي. پوهانو ویلي دي چې روغ عقل د روغ سړي په بدن کې وي."

ناپاکي ناروغي راولي. خلک د چټل سړي څخه کرکه کوي او هیڅوک یې ځانته نږدې نه پرېږدي

په پای کې ښوونکي ووېل: "که چېرې خالد دغو شیانو ته پام کړی وای نو نه به ناروغه کېدای."

نوي لغتونه:

لوښي نعمت امانت رابطه ساده کرکه

د کتاب مخونه: ۲۳-۲۴-۲۵

عنوان: روغتیا

د درسونو شمېر: ۳

هدفونه: زده‌کوونکي باید:

- د متن نوې کلمې سم تلفظ کړي او په معنایې پوه شي.
- متن په سمه او روانه ژبه ولولي - په مطلب یې وپوهېږي او هغه په خپله ژبه بیان کړي.
- د متن په تصویرونو او د هغو په مفهوم پوه شي.
- د ی او ې نښو د استعمال په ځایونو پوه شي.
- د روغتیا په ګټو او ارزښت پوه شي.
- د ناروغتیا په عواملو او سببونو وپوهېږي.

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د دوه درېيو زده کوونکو کورنۍ کارګوري. دوه درې زده کوونکي خپل کورنی کار لولي / پر توره تخته ليکي. زده کوونکي پرې تبصرې کوي او بيا خپلې غلطۍ سموي. - ښوونکی له زده کوونکو څخه - پوښتنه کوي: د ميرويس نيکه کوم کارونه يا صفتونه ستاسو خوښ شو؟ زده کوونکي ځوابونه وايي تبصره کوي. - ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د کتاب ۳۳ مخ پرانيزي. تصوير وګوري او د هغې په برخه کې د خپل څنګ ملګري سره ۲ - ۳ دقيقې فکر / خبرې وکړي. - ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي چې ټولګيوالو ته د تصوير په برخه کې خبرې / تبصرې وکړي. - ښوونکی د زده کوونکو د خبرو / تبصرو په جريان کې د روغتيا کلمه د زده کوونکو له وينا څخه اخلي او پر توره تخته ليکي زده کوونکي يې لولي.	کتابچې تخته کتاب
۲ په متن کارکول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د همدې مخ متن د پای د دوو کرښو څخه پرته، ټول په پټه خوله ولولي او ګرانې کلمې يې په نښه کړي. - يو يو زده کوونکی سختې / ګرانې کلمې پر توره تخته ليکي. بيا بېل زده کوونکي يوه يوه کلمه لولي، معناکوي مفهوم يې بيانوي. - که زده کوونکي وغواړي د تورې تختې ليکنه خپلو کتابچو ته رسوي. - ښوونکی ټول ټاکلی متن په مناسبه لهجه او لوړ آواز لولي / زده کوونکي لوست تعقيبوي خپلې غلطۍ او تلفظ سموي. - بېل بېل زده کوونکی لوړې يوه يوه جمله، يا پرګراف په پرګراف او په پای کې ټول ټاکلی متن يوځايي په لوړ مناسب آواز لولي. نور زده کوونکي يې تعقيبوي / غلطۍ سموي. - دوه درې زده کوونکي د متن مفهوم په خپله ساده ژبه بيانوي، نور زده کوونکي پرې تبصرې کوي	کتاب تخته کتابچې
۳ مشق او تمرين	- ښوونکی دغه [« » او :] نښې په يوه فاصله کې پر توره تخته	تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	لیکي. بیا زده کوونکي پر دوو ګروپونو ویشي. یو ګروپ ته دنده ورکوي چې ددې ورځې په لوستل شوي متن کې لومړی د [« »] نښې پیدا او بیا له نښو سره د هغو د مینځ لیکي خپلو کتابچو ته ورسوي. او بیا دې ولیکي چې د هر [« »] نښې د مینځ وینا خبرې د چا دي. بل ګروپ ته دنده ورکوي چې لومړی په متن کې د [:] نښې پیدا او بیا ددې نښو د مخه دوه یا درې لیکلې شوې کلمې د [:] په زیاتولو سره ولیکي. او سوچ وکړي چې دا نښه څه معنا لري. - د زده کوونکو د هر ګروپ استازی په نوبت سره ټولګیوالو ته د خپل ګروپ د کار راپور ورکوي او سرته رسولې کارې په تور تخته لیکي. زده کوونکي / ښوونکی پرې تبصرې کوي او د نوموړو نښو په معنا او د استعمال په ځایونو ځان پوهوي.	کتابچې تخته
۴ لنډیز / ارزیابي	- پر بېلو بېلو زده کوونکو د متن یوه یوه جمله لوستل کېږي. - ښوونکی بېلو بېلو زده کوونکو ته په نوبت سره دا کلمې: پرهېز، نعمت، روغتیا وایي ترڅو پر توره تخته یې ولیکي. او بیا د هغې په باره کې یوه یوه جمله جوړه کړي. - ښوونکی د یو دوه زده کوونکو څخه غواړي چې د تصویر مفهوم بیان کړي - په خپلو کتابچو کې یې ولیکي. کورنی کار: ښوونکی دنده ورکوي ترڅو د لوستل شوي متن څخه هغه کلمې چې نوموړې وي، ولیکي.	کتاب تخته کتابچې

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- بېل بېل زده کوونکي تر هغه چې تکراري کلمې پر توره تخته و نه لیکل شي خپل کورنی کار پر توره تخته لیکي. زده کوونکي/ښوونکی یې غلطۍ سموي. - ښوونکی د دوه درې زده کوونکو څخه په نوبت غواړي چې د متن هغه برخه ولولي چې په هغه کې اکرم خپل ښوونکي ته د خالد په باره کې	کتابچې کتاب

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	یوځه ویلی دي. - ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د ۳۴ مخ تصویر وګوري او د خپل څنګ له ملګري سره د هغې په باره کې دوه درې دقیقې فکر/ خبرې وکړي. - ښوونکی له دوه دریو زده کوونکو څخه غواړي چې د تصویر په برخه کې خبرې وکړي/ نظر ورکړي. نور زده کوونکي ورسره مرسته کوي.	کتاب
۲ په متن کار کول	- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د ۳۳ مخ پاتې برخه او د ۳۴ مخ ټول متن، پرته د پای له جملې څخه ولولي او ګرانې کلمې په نښه کړي. - زده کوونکي په وارسره په نښه شوې ګرانې کلمې پر تورې تخته لیکي. بیا یو یو زده کوونکی یې لولي معنا کوي/ مفهوم یې بیانوي. نور زده کوونکي ښوونکی ورسره مرسته کوي. - زده کوونکي ګرانې کلمې او معناګانې یې له تختې څخه کتابچو ته رسوي. - بیل بیل زده کوونکي لومړی جمله په جمله بیا پرګراف په پرګراف او بیا ټول ټاکلی متن په مناسب لوړ آواز او لهجه لولي. زده کوونکي له ځان سره خپلې غلطۍ او تلفظ سموي. - دوه درې تنه زده کوونکي د متن مفهوم بیانوي. نور زده کوونکي پرې تبصره کوي.	کتاب تخته کتابچې
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی ګروپونو ته دنده ورکوي چې یو یې د ۳۳ او بل د ۳۴ مخ د تصویرونو په باره کې څو جملې ولیکي او که امکان ولري په خپله لیکنه کې د [« »] او [:] نښې هم وکاروي. - د هر ګروپ استازي په نوبت سره خپله لیکنه پر تورې تخته لیکي. نور زده کوونکي پرې پرې بحث کوي، غلطۍ سموي. ښوونکی لارښوونه او مرسته کوي او یوځل بیا د [« »] او [:] نښو د استعمال ځایونه پر زده کوونکو مشقوي. - ښوونکی پر تورې تخته دا کلمې، روغتیا، سهار، کوښښ، رڼا لاندې باندې لیکي او له بیلو بیلو زده کوونکو غواړي چې د هغوی ضد کلمه د هغې په مقابل کې ولیکي..	کتابچې تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	- پر ببلو زده کوونکو د متن یوه یوه برخه لوستل کیږي. - ښوونکی پوښتنې کوي، ورزش څه گټه لري؟ د اندازې څخه زیات خواړه څه تاوان لري. د سترگو ساتنه باید څنگه وشي. کورنی کار: له ۳۵ مخ څخه هغه حدیث/جمله ولیکئ چې حضرت محمد (ص) د پاکۍ په باره کې فرمایلي دي.	کتاب

درسي پلان: ۳

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی د څو زده کوونکو کورنی کار گوري. یو دوه زده کوونکي خپل کورنی کار په ښه خط پر تورې تخته لیکي، زده کوونکي یې غلطۍ سموي. - ښوونکی زده کوونکي پر دوو کتارونو ویشي او غوښتنه کوي چې د یو کتار زده کوونکي دې د ۳۴ مخ په اړوند پوښتنې کوي د بل گروپ زده کوونکي دې ځوابونه وايي. بیا دې ځواب ورکوونکی کتار پوښتنې وکړي او د بل کتار زده کوونکي دې ځوابونه ورکړي. ښوونکی د پوښتنو او ځوابونو جریان تعقیبوي او لازم ښوونه/مرسته کوي.	کتابچې کتاب
۲ په متن کار کول	- ښوونکی/زده کوونکي د ۳۴ مخ د وروستۍ کرښې او ۳۵ مخ په ټول متن باندې د مخکیني لوست د دوهمې مرحلې په شان کار کوي. - خو د دې مرحلې په پای کې درې زده کوونکي په نوبت سره یو یې ۳۳ بل یې ۳۴ او بل یې د ۳۵ مخ متن یو په بل پسې لولي. - یو یا دوه زده کوونکي د ټول متن (درې واړو مخونو) خلاصه/مفهوم په خپله ژبه بیانوي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	- ښوونکی زده کوونکي پر څو گروپونو ویشي. د هر گروپ له پاره مشر ټاکل کیږي. - د یوه گروپ زده کوونکي د غاښونو د پاک ساتلو په باب لومړی	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	بحث کوي او بیا څو جملې لیکي. ـ د بل ګروپ زده کوونکي د بدن د پاک ساتلو ...... ـ د بل 〃 〃 د ناپاکۍ د ضررونو .... ـ د هر ګروپ مشر په نوبت سره د خپل ګروپ د کار جریان ټولګیوالو ته بیانوي او بیا خپلې جملې پر تورو تخته لیکي. تر بحث او اصلاح وروسته د نورو ګروپونو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او لیکلې شوې جملې په لوړ او مناسب آواز لولي. ـ زده کوونکي که وغواړي هغه جملې د تورې تختې څخه خپلو کتابچو ته رسوي.	کتابچې تخته
۴ لنډیز ارزیابي	ـ ښوونکی بیا ټولګی پر دوو کتارونو ویشي او دنده ورکوي چې په نوبت سره د یوه ګروپ کتار زده کوونکي دې د بل کتار ګډون کوونکي ته یوه کلمه ووایي د مقابل لوري زده کوونکی به کلمه پر تورو تخته لیکي، معنا کوي او په جمله کې به یې استعمالوي. ـ که وخت و، پر زده کوونکو د متن یوه یوه برخه لوستل کیږي. کورنی کار: زده کوونکي دې هغه معلومات چې د روغتیا په برخه کې یې زده کړي / لوستلي دي، د کورنۍ غړو ته بیان کړي او په راتلونکي درسي ساعت کې ښوونکي ته خپل ګذارش ورکړي.	تخته کتاب

څلور فصلونه



یو کال څلور فصله دی. هر فصل درې میاشتې وي. د کال لومړی فصل پسرلی، دویم فصل اوړی، دریم فصل منی او څلورم فصل ژمی وي.

حمل، ثور، جوزا د پسرلي د فصل میاشتې دي. د پسرلي په فصل کې هوا ښه وي. ټول خلک په کار پیل کوي. زده‌کوونکي ښوونځي ته ځي. بزګران په خپلو ځمکو کې په کښت او کار بوخت وي. باغوانان خپلو باغونو ته ځي؛ نوي نیالګي ږدي؛ ځمکې په یوړې یا په بیل اړوي؛ د ضرورت په وخت کې د ونو بېخونو او ځمکو ته سره اچوي؛ د ونو خراب ښاخونه پرې کوي.



تر پسرلي وروسته اوړی راځي. د اوړي میاشتې سرطان اسد او سنبله دي. په اوړي کې هوا تودېږي. غنم، اوربشې او نورې غلې دانې رېبل کېږي. ځینې مېوې پخېږي. ځینې

خلک د ګرمۍ د تېرولو لپاره باغونو او سړو ځایونو ته ځي. ورو ورو سابه رسېږي. خلک یخې اوبه ډېرې څښي.



تر اوړي وروسته منی راځي. میزان، عقرب او قوس د مني میاشتې دي. په دې موسم کې ګرمي لږه لږه کمېږي. ورځې لنډې او شپې اوږدې وي. د مني یخ بادونه شروع کېږي. د ونو پاڼې ژېړېږي او تویېږي. د باغونو شینوالی له منځه ځي. ځینې مېوې لکه انار، انګور، مڼې، ځتکي او ناک ډېر وي. خلک د ژمي لپاره خواړه برابروي.

د کال څلورم فصل ژمی دی. د ژمي میاشتې جدي، دلو او حوت دي. په دې فصل کې هوا سړېږي. ونې او بوټي وده نه کوي. کښت او کار نه کېږي. په ځینو ځایونو کې واوره اورېږي.



واوره د اوبو د ډېروالي لپاره ډېره ښه ده. د اوبو ډېروالی د کښت او کار لپاره ډېره ګټه لري. ولس آباد او سیمې سمسورې.

نوي لغتونه

کښت پرې وده

دکتاب مخونه : ۳۶ - ۳۷

عنوان : څلورفصلونه

د درسونو شمېر : ۳

هدفونه : زده کوونکي باید :

- متن سم او روان ولولي .
- د سختو لغتونو په معنا وپوه شي .
- د میاشتو نومونه زده کړي .
- د کال فصلونه وپېژني ، په نومونو او په ترتیب یې پوه شي .
- په دې پوه شي چې د هرفصل پیداوار کوم دی .
- د متن مطلب په نبله ژبه بیان کړي او ویې لیکي .

درسي پلان : ۱

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
هڅونه	ښوونکی زده کوونکو کورنۍ کارکوري : څو تنه زده کوونکي په نوبت سره د ټولګي مخې ته راځي ، خپل کورني کارونه لولي . ښوونکی د زده کوونکو ځینې مطلبونه پر توره تخته لیکي . - ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي : نن هوا څنګه ده ؟ - زده کوونکي ځوابونه وایي . - څوک راته ویلای شي چې دا د کال کوم فصل دی ؟ ښوونکی پرتوره ده ولیکي .	کتابچې تخته

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۲ په متن کارکول	زده کوونکي/ ښوونکی د مخکېني پلان له لارښوونو سره سم پر متن باندې تر ۱۳ کرښې پورې کار کوي.	کتاب
۳ مشق او تمرین	ښوونکی زده کوونکي پر دوو ګروپونو ویشي. د هر ګروپ له پاره سرګروپ ټاکل کېږي. د «الف» ګروپ د «ب» له ګروپ څخه او د «ب» ګروپ د «الف» له ګروپ څخه د متن په اړوند پوښتنې کوي: یو کال څو فصله دی؟ د کال لومړی فصل کوم دی؟ زده کوونکي ځوابونه وايي او سم ځواب پر تخته لیکي. - ښوونکی پوښتنه کوي: د کال لومړي/ دويم/ دريم/ څلورم فصل د میاشتو نومونه واخلي. - زده کوونکي ځوابونه وايي، بحث کوي، سم ځوابونه پر تخته لیکي. زده کوونکي هغه په خپلو کتابچوکې لیکي.	تخته کتابچې
۴ لنډیز ارزیابی	- ښوونکی له زده کوونکو څخه په شفاهي توګه پوښتنه کوي: څوک د پسرلي په باب څه ویل غواړي؟ - زده کوونکي په نوبت سره زباني د یوبل معلومات تکمیلوي. کورنی کار: د دوبي په باب یوه لنډه مقاله ولیکئ.	

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي چې خپل کورني کارونه په نوبت سره ولولي. له ځینو نورو څخه غواړي چې د ټولګي مخې ته راشي او له کتابچو څخه دوې درې جملې ولولي. نورزده کوونکی بحث او تبصرې کوي. زده کوونکي صحیح او غوره جملې پر تخته لیکي.	کتابچې تخته
۲ پر متن کارکول	زده کوونکي/ ښوونکی د کتاب د ۳٦ مخ له ۱۴ کرښې څخه د ۳۷ مخ د ۳ کرښې تر پایه پورې د تېرو درسي پلانونو د همدې پړاو له لارښوونو سره سم	

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	ولولي او کار وربانديې وکړي.	کتاب
۳ مشق او تمرین کول	ښوونکی ماشومان پر درې ګروپونو ویشي. سرګروپونه ټاکي. له دې نه غواړي چې په دوبۍ کې خپل لیدلي حالات په خپله ژبه په لنډه توګه ولیکي. اول ګروپ؛ په دوبۍ کې خلک (بزګران، اولس، ښوونځي، کسبګر خلک) څه کوي؟ دویم ګروپ؛ د دوبۍ میاشتې کومې دي؟ په دوبۍ کې آب وهوا (موسم) څنګه وي؟ دریم ګروپ؛ په دوبۍ کې د میوو، حاصلاتو، باغونو وضعه څنګه وي؟ - سرګروپیان هریو په نوبت سره د خپل ګروپ کار د ټولګي مخې ته لولي. نور زده کوونکي په هماغه برخه کې بحثونه او تبصرې کوي. غوره او سمې جملې پر تخته لیکي. - زده کوونکي د تختې له مخې خپلې نیمګړتیاوې په کتابچو کې سموي.	کتابچې تخته
۴ لنډیز ارزیابي	- ښوونکی څو زده کوونکي د ټولګي مخې ته رابولي تر څو په خپله ژبه د هر فصل په باب خپل نظریات بیان کړي. کورنی کار: زده کوونکي دې د متن پاتې برخه په کور کې ولولي.	

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	- ښوونکی یوه پښتو دېوالي جنتري د ټولګي په داسې ځای کې ځړوي چې ټول ماشومان یې وګوري. - غوښتنه کوي چې ماشومان جنتري په غور سره وګوري. فصلونو او د هغو د میاشتو نومونو ته ځیر شي. - په جنتري کې د ۱۲ میاشتو نومونه او د فصلونو نومونه پیدا کړي او بیا دې یو یو زده کوونکی د یوه فصل د یوې میاشتې نوم ولولي.	جنتري

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	د تختې یوه جمله بشپړه کړي. نور زده کوونکي بحث او تبصرې کوي. - کله چې ټولې جملې سمې بشپړې شي، خپلې کتابچې ګوري او د تختې جملې د خپلو کتابچو له جملو سره مقایسه کوي او سمون پکې راولي. - په پای کې ښوونکی له یوه زده کوونکي څخه غواړي چې د متن د ځینو ټکو مطلب په خپله ژبه ووایي.	
۴ ارزیابي	ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنې کوي: - زموږ پیغمبر څوک دی؟ - موږ ته یې کوم کتاب راوړی دی؟ - د چا کړه وړه او وینا پرحقه ده؟ کورنی کار: ښوونکی غوښتنه کوي چې زده کوونکي د خپل کور د شیانو په هکله فکر وکړي او څو جملې ولیکي.	

درسي پلان: ۲

پړاوونه	د ښوونکي او زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
۱ هڅونه	ښوونکی د ټولو زده کوونکو کورني کارونه ګوري. ښوونکی/زده کوونکي غلطۍ سموي. ښوونکی په شفاهي توګه پوښتنې کوي. هر زده کوونکی په نوبت سره ځواب وایي: - د حضرت محمد (ص) وینا او عمل څنګه و؟ - حضرت محمد (ص) په چا ګران دی؟ - یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي، د حضرت محمد (ص) په باره کې خبرې کوي. ښوونکی/زده کوونکي مرسته کوي.	
۲ په متن کار کول	- ښوونکی غواړي زده کوونکي کتابونه پرانیزي. له یوه زده کوونکي څخه غواړي چې ورومبی درس ولولي، بیا له ټولو زده کوونکو څخه	کتاب

gtz
BEFARe

د ښوونکي لارښود

پښتو

د څلورم ټولګي له پاره



بیفیر

د افغان مهاجرو له پاره اساسي زده کړې

BEFARe

د ښوونکي لارښود

پښتو

د څلورم ټولګي له پاره

بيفير

د افغان مهاجرو له پاره اساسي زده کړې

TITLE OF THE BOOK:

Teacher's Guide

Pashto, Grade IV

PREPARED BY:

Prof. Dr. M. R. Elham

Abdul Malek Hemat

Abdul Hadi

CALLIGRAPHER:

Sayed M. S. Banoori

PUBLISHER:

GTZ - BEFARe

Production and Publication Section

No of Copies : 500

June, 2001

دکتاب نوم:

دښوونکي لارښود

پښتو، څلورم ټولګي له پاره

ليکونکي:

پوهاند ډاکټر محمد رحيم الهام

عبدالمالك همت

عبدالهادي

خطاط:

سيدمحمد صديق بنوري

ناشر:

جي ټي زيډ - بيفير

دتاليف او خپروني څانګه

تيراژ: ۵۰۰

سرطان ۱۳۸۰

بسم الله الرحمن الرحیم

سریزه

دا لارښود د څلورم ټولګي له ښوونکو سره د پښتو کتاب په ښه او اغېزمن تدریس کې مرسته کوي.

په دې لارښود کې د تدریس لپاره ۴ مرحلې په پام کې نیول شوې دي:

۱- د هڅونې مرحله:

الف - په دې مرحله کې هغه ټول مراسم او فعالیتونه، لکه سلام اچول، د زده کوونکو د احوال پوښتنه، د درس په پیل کې بسم الله الرحمن الرحیم ویل او نورې هغه خبرې او فعالیتونه شامل دي چې د ماشومانو ذهن او فکر هڅوي، ذهنونه یې تمرکز ورکوي او د زده کړې له پاره یې چمتو کوي.

دغه لومړني فعالیتونه په لارښود کې لیکل شوي نه دي. خو دا خبره د دې معنا نه لري چې ښوونکی دې ټولګي ته له ښوونو سره سم په تدریس پیل وکړي. ښوونکی مکلف دی چې د ټولګي فزیکي او روحي وضعې او د درس د موضوع له غوښتنې سره سم د دغو ذکر شویو فعالیتونو پر بشپړولو برسېره په خپل نوبت د خپل درسي پلان په لنډه خاکه کې چې حتماً یې جوړوي نور پول پول فعالیتونه پېش بیني او تطبیق کړي.

ب: وروسته بیا په همدې مرحله کې، کورنۍ کارونه کتل/ ارزیابي او تصحیح کېږي. په دغو فعالیتونو کې دې زده کوونکو ته ډېره ونډه ورکړه شي او ښوونکی باید ځان پوه کړي چې کوم زده کوونکو خپل کورني کارونه ترسره کړي او کومو نه دي کړي.

ښوونکی دې له ځان سره یوه کتابچه ولري چې په کې د ټولګي د زده کوونکو نومونه لیکل شوي وي. د هر زده کوونکي ټول فعالیتونه، لکه حاضري، د کورنیو کارونو سرته رسول، د زده کړې په فعالیتونو کې ونډه اخیستنه او نور ټول هغه ټکي چې د زده کوونکو د خصوصیاتو په پېژندنه کې مرسته کوي یادداشت کړي.

۲- په موضوع کارکول:

په دې مرحله کې په متن او موضوع کار کېږي.

- زده کوونکي باید په دې مرحله کې کلمې او متن صحیح او روان ولولي؛ د کرانو لغتونو په معنا و پوه شي، د متن په ټوله معنا او مطلب وپوهېږي او وتوانېږي چې د متن مطلب په خپله ژبه ووایي.

۳ مشق اوتمرين :

په دې مرحله کې د متن/ موضوع په اړوند یا نورو لغوي اوګرامري موضوعاتو املا ، انشاء ، د جملو جوړولو ، د مطلبونو/کیسو دلیکلو شقونه راغلي دي ، څو زده کوونکي يې(د ښوونکي په لارښوونه او مرسته) سرته ورسوي .

همدارنګه دوخت په پام کې نیولو سره ښوونکی کولای شي چې هر صفحه بل فعالیت ته په دې پړاو کې ځای ورکړي چې زده کوونکي ورسره مینه ولري او د ژبې د مهارتونو په پیاوړتیا کې مرستندوی ثابت شي.

۴- نتیجه او ارزیابي :

په دې مرحله کې ښوونکی د دې ارزیابي کوي چې آیا زده کوونکو د درس مطلب په زده کړې له هدفونو سره سم زده کړي دي او ښوونکی په خپله خپلو تعلیمي/ تربیتي تاکلو هدفونو ته رسیدلی دی ، که نه ؟

ښوونکی له زده کوونکو څخه په بېلابېلو طریقو د ورکړ شوي درس په اړوند پوښتنې کوي او زده کوونکي په لیکلې یا شفاهي بڼه ځوابونه وايي .

په همدې مرحله کې کورنی کار هم ورکول کېږي . ښوونکی باید زده کوونکو ته د هغوی د میڅ او استعداد سره سم د ورځو کورني کارونه ورکړي چې هغه سرته ورسولی شي . باید زده کوونکو کورني کارونه په راتلونکو درسونو کې حتماً وکتل شي . په زیاترو درسي پلانونو کې د کورني کار د کتلو او ارزیابي کولو میتود ښودل شوی دی .

د یادولو وړ خبره داده چې ښایي د هرې مرحلې فعالیتونه له ورکړل شوي وخت سره سمون و نه لري ، کله کله زیات یا کم شي .

ښوونکی دې پام ولري چې که په یوه مرحله کې فعالیتونه زیات او وخت کم وي ، ځینې غیر ضروري فعالیتونه/ مشقونه دې کم کړي . او که چیرې وخت زیات پاتې شي ، نور مشقونه او فعالیتونه دې د درس له هدفونو او د دې لارښود له میتود سره سم په خپل نوښت زیات کړي .

له ښوونکو څخه هیله کېږي چې هر درسي پلان د درسي ساعت له پیل څخه مخکې تر مخکې مطالعه او ځان د تدریس له پاره چمتو کړي . د درسي ساعت په جریان کې یو درسي پلان بشپړ مطالعه کول د ټولګي په نظم باندې ناوړه اغېزې څرګندوي .

ښوونکی باید په پوره مینه او علاقمندۍ وخت په وخت د پروژې نظارت کوونکو ته د ټولو هغو ستونزو په برخه کې معلومات او لیکلي پیشنهادونه وړاندې کړي ، چې دوی او زده کوونکي يې د درسونو په بهیر کې ورسره مخ شوي دي .

والسلام